نهاية العالم

د نړۍ پای

لیکوال

د عربي نړۍ نامتو عالم

دکتور **محمد بن عبد الرحمن** (العریفي)

استاذ معاصر ادیان ومذاهب ملک سعود یونیورستي ریاض

ژباړن

مولوي **نجم الرحمن** فضلي (پکتیاوال)

کتاب پېژندنه

نوم: (نهاية العالم) **د نړۍ پای**
مؤلف: دکتور محمد بن عبد الرحمن (العريفي)
ژباړن: مولوي نجم الرحمن فضلي (پکتیاوال)
کمپوز او ډیزاین: ژباړن په خپله
دویم چاپ: ۱۴۳۴ هق مطابق ۲۰۱۳ میلادي
د چاپ همکاران: حاجي علي احمد او حاجي جلک خان ځدراڼ
خپرندویه اداره: الفضل خپرندویه ټولنه
مسئول: مولوي نجم الرحمن فضلي (پکتیاوال)
د ترلاسه کیدو ځایونه: مکتبه فاروقیه محله جنگی پېښور
مسئول مولوي عبد الباري (منیب) لغماني (۰۳۰۰۹۰۰۷۵۵۰)
مدرسه عمریه ټل بجلی گهر کیمپ: مولوي شرف الدین (نقره کار) (۰۳۰۱۸۹۹۶۵۱۶)
روحاني بابا کتاب پلورنځی پکتیا گردیز خوست لین د جامع جومات ترڅنگ: گرځنده اړیکي شمیره: (۰۷۷۵۹۴۷۷۶۴)
انصاف کتاب پلورنځی اسحاق زی مارکیټ لاندنی پوړ جلال اباد اړیکې شمیرې ۰۷۹ - ۴۰۰٤۰۲۹ ------ ۰۷۷ - ٦٧٦٤٤٧۰
فریدیه کتب خانه خوست دوسرکه بازار (مسئول مولوي علاء الدین مطمئن) گرځنده شمیره ۰۷۷۶۲۶۳۵۸۹

توجه: د چاپ او ترجمې هر ډول حقوق یې له خپرندویه ټولنې سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه ١
منته ٣
د قیامت نښانو په باره کې د تالیف مقصد ۴
د قیامت نښانو په باره کې بنیادي اصول ٨
خلکو ته د هغوی له ذهن سره برابرې خبرې وکړی ١٣
د قیامت نښانو په نصوصو کې په مخته راغلیو واقعاتو باندې د تطبیق قواعد ١۴
د اشراط الساعة: : معنا او مفهوم ٢٢
د قیامت نښانو ډولونه ٢٣
اول قسم .... //
دویم قسم .... //
علامات صغری ٢۵
لومړنی قسم: هغه نښانې کومې چې واقع شوې دي .... //
(١) زمونږ د خواږه پیغمبر حضرت محمد ﷺ بعثت .... //
(٢) د رسول الله ﷺ وفات
(٣) د سپوږمۍ دوه ټوټې کیدل
(۴) د صحابه کرامو رضي الله عنهم د دور ختمیدل
(۵) د بیت المقدس فتح
(۶) د میګو په قعاص مرض د خلکو په کثرت سره مړه کیدل
(٧) په انواعو او اقسامو سره د فتنو ظهور
(٨) د ستیلائټ چینلونو ډیروالی
(٩) د نبي کریم ﷺ د جنګ سفین په باره کې پیشنګوئي
(١٠) د خوارجو ظهور

(۱۱) د دروغژنو مدعیانو ظهور.

(۱۲) د امن او خوشحالي کثرت.

(۱۳) د حجاز له علاقې څخه د یوه لوی اور ظهور.

(۱۴) له ترکو سره جنګ.

(۱۵) د دورو وهونکو ظالمو واکمنو ظهور.

(۱۶) د قتل او خونریزي کثرت.

(۱۷) د دیانتداري خاتمه.

(۱۸) د پخوانیو امتونو د طریقو پیروي. د غلام له خپلې باداري څخه پیدا کیدل.

(۱۹) د غلام له خپلې باداري څخه پیدا کیدل.

(۲۰) د داسې ښځو ظاهریدل کومې به چې د جامو له اغوستلو سره بیا هم لغړې وي.

(۲۱) لوڅ اوسیدل، لغړ بدن. د بزو او میږو څرونکیو تر مینځ د لوړو عمارتونو په جوړولو کې مقابله کول.

(۲۲) خاص خاص خلکو ته سلام کول.

(۲۳) د تجارت ډیر پر مخ تګ.

(۲۴) له میړه سره په تجارت کې د ښځې شراکت.

(۲۵) د ځیني تجارانو په ټول مارکیټ تسلط.

(۲۶) د دروغو ګواهي.

(۲۷) د ریښتوني ګواهي پټیدل

(۲۸) د جهالت خپریدل.

(۲۹) د نویو مرضونو او بخل کثرت.

ث

(۳۰) د صله رحمي له منځه تلل

(۳۱) له همسایه سره بد سلوک

(۳۲) د بې حیایي او فحاشي عام کیدل

(۳۳) امانتدار ته خاین وئیل او بد دیانتو ته د منصوبونو ورسپارل

(۳۴) د معززو خلکو وفات او د رذیلو خلکو کثرت

(۳۵) د مال په حلالوالي او حراموالي کې بې پروائي

(۳۶) د فی مال په اغنیاؤ او رؤساؤ کې تقسمیدل

(۳۷) امانت غنیمت بلل

(۳۸) په خوشحاله زړه د زکاة نه ورکول

(۳۹) د غیرالله لپاره د علم زده کړه

(۴۰) د ښځې تابعداري او د مور نافرماني

(۴۱) د دوستانو نږدې کول او د مور پلار لیری کول

(۴۲) په مساجدو کې د آوازونو پورته کیدل

(۴۳) د قبایلو قیادت د فساقو او فجارو لاس ته ورتلل

(۴۴) کم اصله خلک د قوم سردار جوړیدل

(۴۵) د یوه انسان عزت یواځې د هغه له شر څخه د ځان ساتلو لپاره کول

(۴۶) زنا حلال بلل

(۴۷) نارینه ؤ ته د وریښمو استعمال حلال بلل

(۴۸) شرابو ته حلال وئیل

(۴۹) د سندرو او د موسیقي د آلاتو استعمال جائز بلل

(۵۰) په خلکو کې د مرګ تمنا

(۵۱) د داسې حالاتو پيدا کيدل چې يو کس به سهار مؤمن وي او ماښام کافر.

(۵۲) په مساجدو کې د نقش او نګار کثرت او په هغه فخر کول.

(۵۳) د کورونو بې ځايه ښايست او آرايش.

(۵۴) د آسماني تندرونو کثرت.

(۵۵) د کتابت کثرت او اشاعت.

(۵۶) په دروغ وئيلو سره د مال ګټل او په تکليفي خبرو باندې فخر کول.

(۵۷) له قرآن څخه پرته د نورو کتابونو په کثرت سره خپريدل او ترويج.

(۵۸) د قاريانو کثرت. د علماؤ او فقهاؤ قلت.

(۵۹) له کم عمرو څخه د علم زده کړه.

(۶۰) د يو ناڅاپه مرګونو زياتيدل.

(۶۱) د بې وقوفو حکومت.

(۶۲) د زماني نږدې کيدل.

(۶۳) د خلکو د ترجماني په منصب د کم عقلو کاميابيدل.

(۶۴) له کم اصله خلکو سره د دولت کثرت.

(۶۵) له مساجدو څخه ګزرګاه جوړول.

(۶۶) د مهر مقدار اول ډير زيات او بيا ډير کميدل.

(۶۷) د آسونو په قيمت کې اول ډير اضافه والی او بيا ډير کموالی راتلل.

(۶۸) د تجارتي مراکزو تر مينځ د فاصلې کموالی.

(۶۹) د عالمي قومونو لخوا په اسلامي امت حمله کول.

(۷۰) د لمانځه له امامت څخه ځان ساتل.

(۷۱) د مؤمن د خوبونو رښتيا ثابت کيدل.

(۷۲) د دروغو ډيروالی.

(۷۳) د خلکو په مینځ کې د نفرت پیدا کیدل.

(۷۴) د زلزلو ډیروالی.

(۷۵) د ښځو ډیروالی.

(۷۶) د سړیو کمیدل.

(۷۷) د فحاشي او عریاني عام کیدل او په ښکاره بې ارتکاب.

(۷۸) د قرآن مجید په تلاوت اجرت اخیستل.

(۷۹) په خلکو کې غټوالی عام کیدل.

(۸۰) بې له غوښتنې ګواهي ته د خلکو تیاریدل.

(۸۱) د داسې خلکو ظاهریدل کوم به چې نذرونه مني مګر هغه به نه پوره کوي.

(۸۲) د طاقتورو لخوا د کمزورو خوړل.

(۸۳) د الله تعالی له لوري په نازل شوي شریعت باندې د فیصلو نه کول.

(۸۴) د رومیانو ډیروالی او د عربو کموالی.

دویم قسم: هغه نښانې کومې چې تر دا مهاله نه دي ښکاره شوې ۲۸

(۸۵) له خلکو سره د مال ډیروالی.

(۸۶) په زمکه کې خښې شوې خزانې د باندې راغورځول.

(۸۷) د خلکو د شکلونو مسخ کیدل.

(۸۸) په ځینې ځایونو کې د زمکې چاودل.

(۸۹) په ځینې خلکو باندې د کاڼو باران وردیدل.

(۹۰) د داسې باران وریدیل له کوم ځخه به چې هیڅ د ختو او ډبرو کوم کور بچ پاتې نشي.

(۹۱) له آسمان ځخه به باران راوریږي. مګر په هغه سره به نباتات نه راپورته کیږي.

(۹۲) د داسې فتنې ظهور کومه به چې ټول عرب هلاک کړي.

(۹۳) د مسلمانانو د مرستي لپاره د ونو خبري کول.

(۹۴) د مسلمانانو د نصرت لپاره د تيږو (ډبرو) خبري کول.

(۹۵) د مسلمانانو له يهوديانو سره جنګ کول.

(۹۶) د فرات سيند له مينځ څخه د سرو زرو د غره ظاهريدل.

(۹۷) کوم انسان چي فسق او فجور نه کوي هغه به عاجز بلل کيږي.

(۹۸) په جزيرة العرب کي دوباره د فصلونو او د نهرونو پيدا کيدل.

(۹۹) د محبت فتنې ظهور.

(۱۰۰) د خوشحالي فتنې ظهور.

(۱۰۱) دتوري او رندي فتنې ظهور.

(۱۰۲) د داسي زماني راتلل په کومه کي به چي يوه سجده له دنيا او په دنيا کي له ټولو خزانو څخه بهتره وي.

(۱۰۳) د اولي شپي مياشت به د معمول خلاف لويه تر سترګو کيږي.

(۱۰۴) د شام په لور د هجرت ډيروالی.

(۱۰۵) د مسلمانانو او روميانو تر مينځ د يوه لوی جنګ برپا کيدل.

(۱۰۶) د قسطنطنيه دوباره فتح کيدل.

(۱۰۷) د ميراث مال په ورثهؤ کي نه تقسيمول.

(۱۰۸) د خلکو په مال غنيمت سره نه خوشحاليدل.

(۱۰۹) د پخوانيو اسلحو او سورليو لور ته د خلکو بيرته راتګ.

(۱۱۰) د بيت المقدس په ابادي کي اضافه والی راتلل.

(۱۱۱) د مديني بې ابادي او هغه له اوسيدونکو او ذائرينو څخه تشه پاتي کيدل.

(۱۱۲) مدينه به د شريرو خلکو داسي ايستنه کوي لکه آهنګر چي له کوزي زنګ ليري کوي.

(۱۱۳) د غرونو له خپل ځای څخه بې ځايه کيدل.

(۱۱۴) له قحطان څخه د يوه سړی ظهور د کوم به چې خلک اطاعت کوي
(۱۱۵) د جهجاه نامي يوه سړي ظهور
(۱۱۶) د درندګانو او جماداتو خبرې کول
(۱۱۷) د دورې خبرې کول
(۱۱۸) د پیزار د تسمو خبرې کول
(۱۱۹) په کورونو کې د ظروفو خبرې کول. يعنې د کور ښځې ته به د کور حال وايي
(۱۲۰) له قيامت څخه د مخه د اسلام له دنيا څخه ورکيدل
(۱۲۱) له صحائفو او د قاريانو له سينو څخه د قرآن مجيد پورته تلل
(۱۲۲) په بيت الله باندې حمله کونکی ټول لښکر په زمکه کې ننوتل
(۱۲۳) د حج پريښودل
(۱۲۴) د ځينې قبايلي عربو لخوا دوباره د بت پرستي اختيارول
(۱۲۵) د قريش قبيلې په مکمل ډول له منځه تلل
(۱۲۶) د حبشي د يوه کس په لاس د کعبې ورانيدل
(۱۲۷) د مؤمنو روحونو د قبضولو لپاره د پاکې هوا چليدل
(۱۲۸) د مکې په ښار کې د لوړو عمارتونو دريدل
(۱۲۹) د امت د آخري زمانې خلکو لخوا په لومړنيو باندې لعنت کول
(۱۳۰) د نويو نويو سپرليو ايجاد
(۱۳۱) د امام مهدي تشريف راوړل
علامات صغری ۳۱
د قيامت وړې نښانې .... //
ضروري خبر ۳۲
(۱) زمونږ د خواږه پيغمبر ﷺ بعثت ....
(۲) د رسول الله ﷺ وفات ۳۳

(۳) د سپوږمۍ دوه ټوټې کیدل ۳۴
(۴) د صحابه کرامو ﷺ له دنیا څخه تلل ۳۵
(۵) د بیت المقدس فتح ۳۶
(۶) د میگو په قعاص مرض د خلکو په کثرت سره مرګ ۳۷
(۷) په انواعو او اقسامو سره د فتنو ظهور ۳۸
(۸) د سپلایټ چینلونو ډیروالی ۴۰
(۹) د رسول الله ﷺ د جنګ سپین په باره کې پیشنګوئي ۴۱
تنبیه ۴۲
(۱۰) د خوارجو ظهور ۴۳
د هغوی عقاید .... //
د خوارجو د ظهور اغاز ۴۴
مناظره ۴۵
(۱۱) د دروغژنو مدعیانو د نبوت ظهور ۵۱
یوه پوښتنه ۵۸
ځواب .... //
(۱۲) د امن او خوشحالي کثرت ۵۹
(۱۳) له حجاز څخه د یوه لوی اور ظهور ۶۰
(۱۴) له ترکو سره جنګ ۶۳
(۱۵) د دورو ورونکو ظالمو واکمنو ظهور ۶۴
(۱۶) د قتل او خونریزي زیاتوالی ۶۵
(۱۷) له انساني زړونو څخه د دیانتداري ورکیدل ۶۶
(۱۸) د پخوانیو امتونو د طریقو پیروي ۶۸
(۱۹) له مینځي څخه د خپل مالک زیږیدل ۷۰
(۲۰) د اغوستل شویو کالیو با وجود د لوڅو ښځو ظهور

(۲۱) لوځوالی. د لوږو میګو ځرونکو خلکو لخوا د لوړو بلډنګونو جوړول ۷۲
(۲۲) خاص خاص خلکو ته سلام کول ۷۴
(۲۳)، (۲۴)، (۲۵) د تجارت ډېروالی. له میړه سره په تجارت کې د ښځې شراکت او د ځینو تجارانو په مارکیټ باندې قبضه ۷۵
(۲۶) د دروغو ګواهي ۷۷
(۲۷) د ربښتونې ګواهي پټول ۷۹
(۲۸) د جهالت په کثرت سره خپریدل ۸۰
(۲۹)، (۳۰)، (۳۱) د لالچ او کنجوسي زیاتوالی. قطع صله رحمي او له همسایه سره بد چلند ۸۲
(۳۲) د فحاشي عام کیدل ۸۴
(۳۳) امانتدار ته خاین او خاین ته امانتدار ویل .... //
(۳۴) د ښو خلکو پنا کیدل او د بدو خلکو ښکاره کیدل ۸۵
(۳۵) د مال په حلالوالي او حراموالي کې بې پروایي ۸۶
(۳۶) په مال فی کې د خوښې تقسیم ۸۸
(۳۷) د امانت مال غنیمت بلل ۸۹
(۳۸) د ښځې فرمانبرداري او د مور نا فرماني ۸۹
(۳۹) په نه زړه د زکاة نه ورکول ۹۰
(۴۰) د غیر الله لپاره د علم زده کول .... //
(۴۱) له دوستانو سره نږدیوالی او له مور پلار څخه لیرې والی ۹۱
(۴۲) په مساجدو کې د آوازونو پورته کیدل ۹۲
(۴۳) د قبایلو قیادت به د فاسقانو په لاس کې شي .... //
(۴۴) تر ټولو رزیل سړی به د قوم مشر شي .... //

(۴۵) د یوه انسان له شر څخه د ځان ساتلو په خاطر به د هغه عزت کیږي ۹۳
(۴۶)، (۴۷)، (۴۸)، (۴۹) زنا. وریښم. شراب او د موسیقي آلات حلال ګڼل ۹۴
(۵۰) خلک به د مرګ غوښتنه کوي ۹۷
(۵۱) داسې وخت به راشي چې یو سړی به سهار مسلمان وي او ماښام کافر ۹۸
(۵۲) د مساجدو ارایش (ډول سینګار) او پر هغه فخر کول ۱۰۰
(۵۳) د کورونو تزیین او آرایش ۱۰۲
(۵۴) په کثرت سره د تندرونو غورځیدل .... //
(۵۵) د کتابت کثرت او اشاعت ۱۰۴
(۵۶) په ژبه مال ګټل او په خبرو باندې فخر کول ۱۰۶
(۵۷) له قرآن څخه پرته د نورو کتابونو په کثرت سره خپرول ۱۰۷
(۵۸) د قاریانو ډیروالی. د علماؤ او فقهاؤ کموالی ۱۰۸
(۵۹) له کم علمه (وړو) خلکو څخه د علم حاصلول ۱۱۰
(۶۰) د ناڅاپي مرګونو ډیروالی ۱۱۲
(۶۱) د بې وقوفو واکمني ۱۱۳
(۶۲) زماني به نږدې شي ۱۱۵
د زماني په نږدیوالي کې د علماء کرامو اقوال ۱۱۶
(۶۳) کم عقل خلک به د نورو ترجماني کوي ۱۱۷
(۶۴) احمق او جاهل به له ټولو زیات خوشحال وي ۱۱۸
(۶۵) مساجد (جوماتونه) به د لارو په څیر استعمالیږي ۱۱۹
(۶۶)، (۶۷) په حق مهر او د آسونو په قیمت کې به ډیر زیاتوالی او بیا به ډیر کم والی راشي ۱۲۰

(۶۸) د بازارونو نږدېوالی .... //
(۶۹) د عالمي قومونو لخوا په اسلامي امت يرغل ۱۲۲
(۷۰) خلک به د امامت له کولو تيښته کوي ۱۲۴
(۷۱) د مؤمن خوب رښتيا کيدل ۱۲۶
(۷۲) د دروغو ډېروالی ۱۲۹
(۷۳) د زلزلو کثرت (ډېروالی) ۱۳۰
(۷۴) د خلکو له يو بل سره نه پېژندګلوي ۱۳۱
(۷۵) (۷۶) د ښځو کثرت (زياتوالی) او د نارينه ؤ قلت (کموالی) ۱۳۲
(۷۷) د فحاشي او عرياني ظهور او په ښکاره يې ارتکاب ۱۳۳
(۷۸) د قرآن مجيد په تلاوت باندې اجرت اخيستل ۱۳۵
(۷۹) په خلکو کې د غټوالي زياتيدل ۱۳۶
(۸۰) (۸۱) د داسې خلکو ظهور کوم به چې له غوښتلو پرته ګواهي ورکوي او نذرونه به نه پوره کوي ۱۳۷
(۸۲) طاقتور به کمزوري خوري ۱۳۸
(۸۳) د الله تعالی له لوري په رالېږل شوي شريعت د فيصلو نه کول .... //
(۸۴) د روميانو ډېروالی او د عربو کموالی ۱۳۹
(۸۵) له خلکو سره د مال او دولت ډېروالی ۱۴۱
(۸۶) ځمکه به خپلې خزانې د باندې راوغورځوي ۱۴۳
(۸۷) (۸۸) (۸۹) د مسخ. خسف او قذف ښکاره کيدل ۱۴۴
(۹۰) داسې باران له کوم ځخه به چې هيڅ د ختو او ډبرو کور بچ پاتې نشي ۱۴۷
(۹۱) له آسمان ځخه به باران راوريږي. مګر په هغه سره به پيداوار نه کيږي ۱۴۸
(۹۲) داسې فتنه کومه به چې عام عرب هلاک کړي .... //

(۹۳) (۹۴) (۹۵) د مسلمانانو د نصرت لپاره د ونو او ډبرو خبرې کول او د مسلمانانو له يهودو سره جنګ کول ۱۵۰
(۹۶) د فرات له سيند څخه د سرو زرو د غره ښکاره کېدل ۱۵۲
(۹۷) کوم انسان چې فسق او فجور نه کوي هغه به عاجز ګڼل کيږي ۱۵۳
(۹۸) په جزيرة العرب کې د مالچر او نهرونو ظهور (ښکاره کېدل) ۱۵۵
(۹۹) (۱۰۰) (۱۰۱) د جنګ او جدال فتنې. د خوشحالي او پراخي فتنې او د يوې تورې فتنې ظهور (ښکاره کېدل) ۱۵۷
(۱۰۲) داسې زمانه په کومه کې به چې يوه سجده له دنيا او د دنيا له ټولو خزانو بهتره وي ۱۶۲
(۱۰۳) د لومړۍ شپې سپوږمۍ به غټه تر سترګو کيږي ۱۶۴
(۱۰۴) د ټولو خلکو د شام لور ته هجرت کول .... //
(۱۰۵) (۱۰۶) د مسلمانانو او روميانو تر مينځ يو لوی جنګ او د قسطنطنيه فتح ۱۶۶
(۱۰۷) (۱۰۸) ميراث به نه تقسيميږي او خلک به د غنيمت مال ته نه خوشحاليږي ۱۷۴
(۱۰۹) د خلکو پخوانيو اسلحو او سورليو ته بيرته راتګ .... //
(۱۱۰) (۱۱۱) د بيت المقدس ابادي. د مدينې منورې بربادي او د هغې له اوسيدونکو او زيارت کونکو څخه خالي والی ۱۷۵
(۱۱۲) مدينه به شرير خلک داسې وباسي لکه يو آهنګر چې له کوزې زنګ ليرې کوي ۱۷۷
(۱۱۳) د غرونو له خپل ځای څخه بې ځايه کېدل ۱۸۰
(۱۱۴) د يوه قحطاني ظهور د کوم به چې خلک اطاعت کوي ۱۸۱
(۱۱۵) د جهجاه نامي يوه سړي ظهور (ښکاره کېدل) ۱۸۲

ص

(۱۱۶)، (۱۱۷)، (۱۱۸)، (۱۱۹) د درنده ګانو. جماداتو. دورو او د پیزار د تسمو خبرې کول. د ظروفو لخوا د کور څښتن ته د کور حال ویل .... //
(۱۲۰)، (۱۲۱) له قیامت څخه د مخه له دنیا څخه د اسلام ورکیدل. د قرآن مجید له مصاحفو او سینو څخه پورته کیدل ۱۸۶
(۱۲۲) په بیت الله باندې د حمله کونکي لښکر په زمکه کې ننوتل ۱۸۸
(۱۲۳) د بیت الله حج به معطل کړی شي ۱۹۱
(۱۲۴) ځینې قبایلي عرب به دوباره د بتانو عبادت شروع کړي ۱۹۲
(۱۲۵) د قریش قبیلې په مکمل ډول ختمیدل ۱۹۳
(۱۲۶) د حبشې د یوه کس په لاس د کعبې بربادي ۱۹۴
یو اشکال ۱۹۵
پوښتنه ۱۹۶
ځواب .... //
(۱۲۷) د مؤمنانو د ارواحو قبضولو لپاره د پاکې هوا چلیدل ۱۹۸
(۱۲۸) په مکه کې لوړو عمارتونه ۱۹۹
(۱۲۹) د امت د آخیري خلکو په مخکنیو خلکو لعنت کول ۲۰۰
(۱۳۰) نوې سپرلۍ .... موټرې .... //
(۱۳۱) د امام مهدي ظهور ۲۰۱
✿ نوم او نسب ۲۰۲
✿ د مهدي د ظهور سبب ۲۰۳
✿ د مهدي صفات .... //
✿ د حضرت حسن بن علي له نسل څخه د مهدي په کیدلو کې حکمت ۲۰۴
✿ د مهدي د واکمنۍ موده ۲۰۵
✿ د مهدي ظهور به له کوم لوري وي؟ .... //

✿ د مهدي د ظهور وخت .... //
✿ د حديث تشريح ۲۰۶
✿ يوه پوښتنه او د هغې ځواب ۲۰۷
✿ ځواب .... //
✿ د مهدي په باره کې وارد احاديث ۲۰۹
✿ اول قسم .... //
✿ دويم قسم .... //
✿ هغه حديثونه کوم چې د مهدي په باره کې احتمالي دي ۲۱۶
✿ فايده ۲۲۰
✿ د مهدي په دعوه کوونکو باندې يو نظر ۲۲۳
✿ د مهدي له دعوه دارانو سره د معاملې قواعد او ضوابط ۲۲۸
✿ پوښتنه ۲۲۹
✿ ځواب .... //
✿ له مهدي څخه د منکرينو دلائل ۲۳۳
✿ ځواب ۲۳۴
✿ ځواب .... //
✿ د دغې موضوع آخيري خبر ۲۳۵

علامات کبری ۲۳۷

✿ (د قيامت غټې نښانې) .... //
✿ تمهيد .... //
✿ د مسيح دجال ظهور ۲۳۹
✿ دجال څوک دی؟ .... //
✿ د دجال په باره کې معلومات لرل ضروري دي .... //
✿ د هغه نوم مسيح دجال ولې دی؟ ۲۴۰

✿ د دجال دعوه به څه وي؟ .... //
✿ د ابن صياد قيصه ۲۴۱
✿ د ابن صياد په باره کې سم موقف ۲۴۵
✿ په قرآن کريم کې د دجال په نه ذکر کولو کې حکمت .... //
✿ له ټولو لويه فتنه ۲۴۸
✿ د دجال له راوتو د مخه راتلونکي واقعات ۲۴۹
✿ د دجال له راوتو د مخه مخته راتلونکي څو نور واقعات ۲۵۲
✿ يو څه اضافه واقعات ۲۵۳
✿ د دجال جسماني نښې .... //
✿ د دجال د ظاهريدلو ځاى ۲۵۴
✿ د جساسه قيصه او دجال ۲۵۵
✿ د برمودا مثلث حقيقت او د هغه له مسيح دجال سره تعلق ۲۵۹
✿ جغرافيايي موقعيت .... //
✿ په جزائر برمودا کې د مزاحمت ځايونه ۲۶۰
✿ په جزائر برمودا کې د ورکيدا اغاز .... //
✿ د طيارو د ورکيدا واقعات ۲۶۱
✿ د دجال له خروج څخه د مخه راتلونکي واقعات ۲۶۲
✿ د عربو قلت .... //
✿ سخت جنګ او د قسطنطنيه فتح ۲۶۳
✿ فتوحات .... //
✿ د باران او پيدا وار ورکيدل ۲۶۴
✿ د ديرشو دجالانو او کذابو خروج ۲۶۶
✿ دجال څنګه ظاهريږي؟ .... //
✿ د هغه د خروج سبب ۲۶۷

✿ پر زمکه د هغه رفتار .... //
✿ هغه ځايونه چيرته چې دجال راځي ۲۶۸
✿ د دجال فتنې ۲۷۲
✿ اور او اوبه .... //
✿ په جماداتو او حيواناتو باندې اثر ۲۷۳
✿ يوه بله فتنه ۲۷۴
✿ يوه بله فتنه .... //
✿ د دجال په سلسله کې يو شمير غلطې عقيدې .... //
✿ د دجال پيروان ۲۷۵
✿ يهود .... //
✿ يوه پوښتنه ۲۷۶
✿ ځواب .... //
✿ کفار او منافقين ۲۷۷
✿ جاهل کوچي ۲۷۸
✿ هغه خلک د کومو مخونه به چې د گردو ډالونو په څير وي .... //
✿ ښځې ۲۷۹
✿ د دجال د اوسيدو موده .... //
✿ د دجال له فتنې څخه نجات څنګه کيدای شي؟ ۲۸۰
✿ له هغه څخه ليرې اوسيدل .... //
✿ له الله تعالی څخه مرسته غوښتل ۲۸۱
✿ د الله تعالی د اسماؤ او صفاتو علم حاصول .... //
✿ د سورت کهف د اولنيو لسو اياتونو تلاوت .... //
✿ د ټول سورت کهف تلاوت ۲۸۴
✿ د لمانځه په اخير کې د دجال له فتنې څخه پناه غوښتل .... //

✿ د شریعت په علم ځان مسلح کول ۲۸۵
✿ له دجال سره د جنګ کولو لپاره دې اهل ایمان تیاري وکړي ۲۸۸
✿ له دجال سره د مخاخ کیدلو په صورت کې مسلمان ته څه کول پکار دي ۲۸۹
✿ په شام کې د دجال وژل ۲۹۰
✿ د دجال مرګ به د حضرت عیسی ابن مریم علیه السلام د لاسه وي .... //
✿ د دجال په مقابله کې تر ټولو ډیر سخت خلک ۲۹۳
✿ له خروج دجال څخه انکار کوونکي .... //
✿ شیخ محمد عبده ۲۹۴
✿ محمد فهیم ابو عیبه .... //
✿ د دجال متعلق آخیري پنځه مسئلې ۲۹۵

د حضرت عیسی علیه السلام نزول ۲۹۹

✿ د عیسی علیه السلام پیدا ایښت ۳۰۵
✿ عیسی علیه السلام په غیږ کې خبرې کولې ۳۰۷
✿ عیسی علیه السلام د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې زیری ورکړی ۳۱۰
✿ د حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته پورته کیدل ۳۱۲
✿ د مسیح وجه تسمیه ۳۱۵
✿ یهودو حضرت عیسی علیه السلام نه دی وژلی .... //
✿ یوه پوښتنه ۳۱۸
✿ ځواب .... //
✿ د عیسی علیه السلام د نزول په باره کې دلایل .... //
✿ له قرآن کریم څخه دلایل ۳۱۹
✿ له سنت څخه دلایل ۳۲۲
✿ د حدیث د معنا ګانو بیان ۳۲۴

✿ د خنزیر په باره کې اسلامي لار ښودنې ۳۲۵
✿ د خنزیر په باره کې یهودي لارښودنې ۳۲۶
✿ د خنزیر په باره کې عیسوي لارښودنې .... //
✿ د حضرت عیسی ﷺ د نزول حدیثونه متواتر دي ۳۳۰
✿ یوه پوښتنه ۳۳۱
✿ ځواب ۳۲۳
✿ د امام سفاریني قول .... //
✿ نواب صدیق حسن خان ویلي .... //
✿ شیخ احمد شاکر لیکلي .... //
✿ شیخ محمد ناصر الدین الباني بیان کوي ۳۳۳
✿ پوښتنه .... //
✿ ځواب .... //
✿ د عیسی ﷺ د نزول په باره کې د عیسایانو عقیدې ۳۳۴
✿ اهل کتاب د دوو مسیحیانو په اثبات باندې متفق دي ۳۳۵
✿ حضرت عیسی ﷺ به په کومو حالاتو کې نازلیږي؟ .... //
✿ عیسی ﷺ به څنګه او چیرته نازلیږي؟ ۳۳۸
✿ یو اشکال ۳۴۱
✿ ځواب .... //
✿ د حضرت عیسی ﷺ کار او د هغه د دور واقعات ۳۴۲
✿ د حضرت عیسی ﷺ د ملګریو مقام ۳۴۵
✿ په ټولو انبیاؤ علیهم السلام کې یواځې د عیسی ﷺ په نازلیدو کې حکمت .... //
✿ زمونږ نبي حضرت محمد ﷺ مونږ ته حکم کړی چې مونږ عیسی ﷺ ته د هغه ﷺ سلام ورسوو ۳۴۸

✿ له را نازلیدو وروسته به عیسی علیه السلام څومره موده په زمکه کې وي ۳۴۹
✿ حضرت عیسی علیه السلام به حج کوي ۳۵۰

د یاجوج ماجوج را وتل ۳۵۱

✿ ضروري خبره ...... //
✿ په یاجوج ماجوج باندې د جوړ شوي دیوال قیصه ۳۵۲
✿ یاجوج ماجوج څوک دي؟ ۳۵۵
✿ د هغوی جسماني کیفیت ۳۵۷
✿ هغوی دیوال څنګه سوری کوي؟ ۳۵۸
✿ له دې حدیث څخه دری خبرې ثابتیږي ۳۵۹
✿ د یاجوج ماجوج په باره کې قرآني آیاتونه ۳۶۰
✿ احادیث مبارکه ۳۶۲
✿ د یاجوج ماجوج په باره کې وارد یو ضعیف حدیث ۳۶۹
✿ د یاجوج ماجوج هلاکت ۳۷۰
✿ له یاجوج ماجوج وروسته به هیڅ کوم جنګ نه وي ۳۷۳
✿ له یاجوج ماجوج وروسته به حج باقي وي ۳۷۴
✿ دیاجوج ماجوج لپاره د ذوالقرنین لخوا جوړ شوی دیوال څوک لیدلای شي؟ یا یې د چا لپاره لیدل ممکن دي؟ ...... //
✿ آیا د سد ذوالقرنین د چین له دیوال سره څه تعلق شته؟ ۳۷۶
✿ مصنوعي سپوږمکۍ یاجوج ماجوج ولې نشي لیدلای؟ ۳۷۷
✿ آخیري خبر ۳۷۹

✿ آیا په مسلمانانو باندې د یاجوج ماجوج په مقابل کې جنګ فرض دی؟ .... //
✿ ځواب .... //
خسف ۳۸۱
✿ په زمکه کې د ننوتلو دری ېښې .... //
✿ د خسف په باره کې وارد احادیث .... //
✿ داسې حدیثونه په کومو کې چې په زمکه کې د ننوتو د واقعاتو ذکر راغلی کوم چې د ګناهونو د سزا په ډول دي ۳۸۲
✿ خلاصه ۳۸۵
د دود پورته کیدل .... //
✿ په آیت کې د ذکر شوي دخان په باره کې د علماؤ دوه قولونه ... ۳۸۶
✿ د دخان (دود) په باره کې وارد احادیث ۳۸۹
خروج دابه ۳۹۱
✿ (د عجیب الخلقت ځناور را وتل) .... //
✿ د دابه ذکر په قرآن مجید کې .... //
✿ لیکن مونږ چې د هغې کوم صفات پیژنو هغه دا دي ۳۹۲
✿ هغه به له کوم ځای څخه راووځي؟ .... //
✿ دابه به څه کوي؟ .... //
✿ هغه به خلک په اور سره داغي ۳۹۳
له مغرب څخه د لمر راختل ۳۹۵
✿ د لمر له مغرب څخه د راختو ذکر په قرآن کې .... //
✿ د لمر له مغرب څخه د راختو په باره کې احادیث ۳۹۶
✿ یو اشکال او د هغه ازاله ۳۹۸

۞ د قیامت له نښانو مخکې مخکې د نیکو اعمالو کولو حکم ۳۹
اور : کوم به چې خلک د میدان حشر لوري ته بیایي ۴۰۱
۞ د دغه اور په باره کې وارد احادیث .... //
۞ یو اشکال او د هغه ازاله ۴۰۳
۞ تنبیه ۴۰۴
۞ اور به خلک څنګه را پورته کړي .... //
۞ خاتمه ۴۰۶

مقدمة

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين، والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين، نبينا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين. افضل الصلوة وازكى التسليم، اما بعد:

په موجوده عصر کې وچ او لامده ټول سره ګډ وډ دي او نوبت تر دې رسيدلای چې په کتابونو او انټر نيټ باندې محض وهم، ګمان او له اندازې څخه د مستقبل هغه واقعات بيانيږي د کومو بنياد چې په هغو آيتونو او حديثونو باندې دی، په کومو کې چې د مستقبل هغو واقعاتو ته اشاره شوې کوم چې له قيامت سره تعلق لري.

څومره چې د اسلام او اسلامي ملت په مشکلاتو کې زياتوالی راځي، په هماغه انداز خلک له مهدي نا خوښو حالاتو څخه د وتلو لياري لټوي، کله د ظهور مهدي خبرې اوريدل کيږي، کله د يهودو او نصارىٰ په مقابل کې د هغه لوی جنګ خبرې کيږي د کوم ذکر چې په احاديثو کې راغلی او کله داسې خبرې کيږي چې په مشرق يا مغرب کې يو شمير خلک په زمکه کې غرق شوي او وغيره.

يو څه موده د مخه اتفاقي يوه افريقايي هيواد ته ولاړم نو ما وليدل چې هلته يو سړی را ښکاره شوی کوم چې دعوه کړې وه چې دی مسيح عيسى ابن مريم عليه السلام دی او له اسمان څخه را نازل شوی.

ما په هغو حالاتو کې ضرور دا سوچ وکړ چې د قيامت د نښانو سم تعبير او تشريح وشي او خلک د هغه له رښتوني معنا او مفهوم څخه خبر کړل شي، ستاسو سترګو ته غوړيدلی کتاب په همدې منظور وړاندې کيږي.

زه د هغو حضراتو شکريه اداء کول ضروري ګڼم کومو چې دا کتاب چاپ ته له تلو د مخه په پوره توجه سره مطالعه کړ او په خپلو قيمتي

ملاحضاتو او رايو سره يې ونازا وه، د همدغو حضراتو علماء کرامو په سر کې ډاکټر سلمان بن فهد العوده، شيخ ډاکټر عبد العزيز آل عبد الطيف، محدث عصر عبد العزيز الطريفي حفظه الله او ځينې نور شامل دي، د دې ټولو شخصياتو له ما سره شفقت او نيکه تګلاره د هيريدو نه ده، زه د الله تعالى په دربار کې دعا کوم چې دا کتاب د نفع باعث وګرځوي، خالص د خپلې رضا لپاره يې قبول کړي او يو داسې نفع بخش علم يې وګرځوي کوم چې په ورځ د قيامت زما په حق کې ګواهي ورکړي - آمين

دکتور محمد بن عبد الرحمن العريفي
استاذ عقيده ومعاصر اديان ومذاهب ملک سعود يونيورستي، رياض
رکن اعلى کميتي براى اسلامي ذرائع ابلاغ
محرم ۱۴۳۱ هجري ۲۰۱۰ ميلادي

مننه

الحمد لله رب العلمين، والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على خير خلقه محمد وعلى آله واصحابه اجمعين.

وبعد : يقينا په انسان باندې هر رنګه راتلونکي حالات د لوی متعال خدای ﷻ له لوري يو امتحان او ازمايښت دی، کله غم کله خوشحالي. کله راحت کله تنګي. کله غربت کله شتمني. دا ټول يوائې د دې لپاره وي تر څو انسان وازمويل شي چې څه کوي. آيا په غم کې صبر او په خوشحالي کې شکر وباسي او که نه؟ آيا په راحت او تنګي يو رنګه دی؟ آيا کله چې شتمن شي. دولت يې زيات شي نو له اسلام سره يې مينه او علاقه زياتيږي او که نه؟ دا يو سخت امتحان دی : دومره سخت چې ډير کم شمير خلک په دې امتحان کې کاميابيږي او وروسته په سپين مخ د خدای ﷻ حضور ته ورځي. الله تعالی ﷻ دې مونږ ټولو ته بری را په برخه کړي آمين.

لکه څرنګه چې د کتاب ليکل او ژباړل له صدقې جاريه څخه حسابيږي همدا ډول د کتاب چاپول هم د صدقې جاريه يوه برخه تشکيلوي او چاپ کونکي ته يې پس له مرګه هم اجرونه او ثوابونه رسيږي. له محترمو حاجي صاحبانو هر ب. محترم حاجي صاحب **علي احمد** د مرحوم حاجي صاحب حضرتُ ګل رحمه الله ځوی او محترم حاجي صاحب **دين ولي خان** د حاجي جلک خان ځدراڼ ځوی څخه يو جهان مننه کوم چې د دې کتاب لګښت يې په غاړه واخيست. الله تعالی دې د دوی دا قيمتي او تاريخي خدمت په خپل دربار کې ورته قبول او منظور کړي او الله تعالی دې له دوی څخه د داسې عام المنفعة کارونو سلسله زر تر زره نه پرې کوي.

آمين يارب العلمين

مولوي نجم الرحمن فضلي (پکتياوال)

د قيامت نښانو په باره کې د تاليف مقصد

کله هم چې د کومې معاملې په باره کې يو انسان خبرې کوي او له تحقيق څخه کار اخلي، نو ضروري ده چې د هغه تحقيق او عمل په نتيجه کې څه ثمرات او فوايد هم حاصل کړي.

پوښتنه: آيا د قيامت د نښانو په تحقيق او پيژندنه کې زمونږ په عملي زندګي کې په رښتيا څه فوايد شته؟ يا دا چې محض معلومات دي، کوم چې يو انسان په خپله علمي ذخيره کې د زياتوالي را وستو لپاره جمع کوي او د هغه په روزمره زندګي کې د هغه کوم خاص تاثير نه وي؟

ځواب: امر واقع دا دی چې په قرآن مجيد او سنت مطهره (حديثو) کې د قيامت د نښانو ذکر موجود دی او د انسان په عملي زندګي کې د هغه بې شميره فوايد او ثمرات شته، چې يو شمير يې په لاندې ډول دي:

(١) په ايمان بالغيب کې مضبوطوالی، چې د ايماني عقيدې له شپږم رکن څخه دی.

الله تعالى جل جلاله فرمايي:

﴿ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ ﴾ [1] هغه خلک کوم چې په غيبو باندې ايمان لري او لمونځ قايموي.

او له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله فإذا قالوا لا إله إلا الله عصموا مني دماءهم وأموالهم إلا بحقها وحسابهم على الله﴾ ([2]).

ژباړه: ما له خلکو سره د جنګ کولو حکم وركړی تر څو چې هغوی ګواهي وركړي چې له الله تعالى جل جلاله پرته بل معبود نشته او په ما باندې او زما

---

[1] - البقرة، آية: ٣.

[2] - صحيح مسلم، الايمان، حديث: ٢١.

لخوا په راوړل شوي شريعت باندې ايمان راوړي، کله چې هغوی داسې وکړي نو له ما څخه يې خپلې وينې او مال محفوظ کړل پرته د هغوی له حق او د هغوی حساب د الله په ذمه دی.

د ايمان بالغيب معنا دا ده چې په هر هغه شي باندې کامل ايمان او يقين وساتل شي د کومو په باره کې چې الله تعالی يا د هغه رسول ﷺ خبر ورکړی او هغه خبر په سمه توګه له رسول الله ﷺ څخه منقول وي، خوا د هغه مشاهده مونږ کړې وي او که مو نه وي کړې، مونږ ته په دې خبره يقين پکار دی چې دا خبره رښتيا او حق ده او له همدې خبرو څخه د قيامت نښانې هم دي، مثلاً: خروج دجال، نزول عيسی ابن مريم عليهما السلام، د ياجوج ماجوج راوتل، خروج دابه (د يوه عجيب الخلقت ځناور راوتل)، له مغرب څخه د لمر راختل او همدا شان نورې نښانې کومې چې په صحيحو دلايلو ثابتې دي.

(۲) د قيامت د نښانو په باره کې د پوهيدلو يوه لويه فايده دا هم ده چې يو انسان خپل نفس مسلسل د الله تعالی اطاعت ته اماده کړي او د قيامت ورځې لپاره خپل ځان تيار کړي، د هغه له ذکر څخه غافل خلک بيدار او توبې ته اماده شي، دا شی هغوی د دنيا لوري ته نه مايله کوي، امام الانبياء محمد مصطفی ﷺ په خپل ژوند مبارک کې د قيامت له نښانو چې کله هم کومه نښانه بيانوله نو خپل صحابه يې په هماغه انداز باندې تيار کړي وو، ام المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله عنها بيان کوي چې يو ځل رسول الله ﷺ د هغې خوا ته په ويريدونکي حالت کې راغی او وې فرمايل:

﴿وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدْ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ﴾ (١).

---

١ صحيح البخاري، احاديث الانبيا، حديث: ٣٣٤٦، وصحيح مسلم، الفتن، حديث: ٢٨٨٠.

ژباړه: د عربو لپاره له هغه شر او فتنې څخه تباهي ده کومه چې نږدې راتلونکې ده، یاجوج ماجوج په دیوال کې دومره سوری کړی. بیا نبي کریم ﷺ د شهادت او درمیانه ګوتې څخه حلقه جوړه کړه.

(۳) د قیامت په نښانو کې ډېر شرعي احکام او مسائل هم بیان شوي. د دجال په زمکه کې د ګرځېدلو په واقعه کې بیان شوي چې یوه ورځ به د کال براره وي او یوه ورځ به د میاشتې برابره وي نو صحابه کرامو ﷺ له نبي کریم ﷺ څخه د دجال د دغو اوږدو ورځو په باره کې وپوښتل: اې د الله رسوله! آیا په دې لویو ورځو کې په یوه ورځ کې پنځه لمونځونه کافي دي؟ نبي کریم ﷺ وویل: نه! بلکه تاسو به د وختونو اندازه وکړی او د عامو ورځو مطابق به د لمونځونو لپاره وختونه متعین کړی (١).

مونږ د نبي کریم ﷺ د دغه ارزښتناک فرمان څخه دا معلومه وو چې هغه مسلمانان کوم چې په داسې هیوادونو کې اوسیږي چېرته چې شپه او ورځ په څو میاشتو مشتملې وي، هغوی خپل لمنځونه څنګه اداء کړي؟.

(۴) نبي کریم ﷺ د قیامت د ټولو نښانو په باره کې امت اګاه کړی، سره له دې چې دا ټول امور غیبي دي. هغه په محض ظن او تخمین سره نشي معلومیدلای، همدا شان دا امور د نبي کریم ﷺ د نبوت او رسالت د صداقت دلیل هم دي، الله تعالی ﷻ فرمایي.

﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ﴿٢٧﴾﴾ (٢).

ژباړه: (الله) غالب دی پر غائبو (اشیاؤ) باندې نو نه خبروي په غیبو خپلو باندې هیڅوک مګر هغه څوک، چې راضي وي ترې (او غوره کړی یې وي په

---

١ صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ٢٩٣٧.
٢ الجن. آیة: ٢٦ - ٢٧.

اطلاع د غيبياتو) له رسول خپل څخه نو بيشکه هغه الله روانوي په مخ د هغه (رسول محمد) کې او وروسته له هغه ځينې ساتونکي څوکيداران له هر طرفه له ملائکو.

(۵) د قيامت نښانو په باره کې په معلوماتو حاصلولو کې يوه لويه فايده دا هم ده چې مونږ پوه شو چې له هغو واقعاتو سره د مخامخ کيدو شرعي طريقه څه ده او همدا شان بيا د معاملې د ګډ وډ والي امکان هم نه وي، مثلاً : مونږ ته د دجال په باره کې په تفصيل سره خبر راکړی شي تر دې چې د هغه له سترګو، د هغه له تندي او د هغو شيانو په باره کې هم کوم چې له هغه سره دي مونږ اګاه کړی شو چې هغه څنګه دی تر څو چې مونږ په کومه فتنه کې واقع نشو او دا وپيژنو چې دا دجال دی.

(۶) مونږ به په اينده کې د مخته راتلونکو واقعاتو لپاره په ذهني ډول اماده يو، ځکه که يو شی يو ناڅاپه مخته راشي نو انسان په فطري ډول وار خطا کيږي او د تعجب او حيرانتيا ښکار کيږي.

(۷) په دې نښانو باندې په علم حاصلولو سره زمونږ مخته يو ربنانه اميد دی، ځکه چې د قيامت په نښانو کې دا هم دي چې له قيامت، سره په نږدې وخت کې به اسلام غلبه تر لاسه کړي او په ټوله زمکه باندې به خپور شي او د يهودو او نصارئ ؤ دين به ختم شي، نبي کريم ﷺ زيری ورکړی چې اسلام به غلبه تر لاسه کړي او په ټولو دينونو باندې به بر لاسی شي، اګر که کافر هغه نه خوښوي.

(۸) په دې سره د انسان هغه فطري خواهش تسکين پيدا کوي چې هغه هر وخت د پټو شيانو متعلق د انکشافاتو او د اينده واقعاتو او حوادثو په باره کې د پوهيدا خواهش لري. شارع په دې سلسله کې مونږ ته ربنتوني خبرې ذکر کړې دي. اسلام د هغو ټولو دروغژنو دجالانو لار بنده کړې کوم چې په اينده واقعاتو د پوهيدا دعوه کوي، لکه نجومين، عاملان، کاهنان او د

همداسې نورو خلکو. مونږ د الهي وحې په ذريعه د مستقبل د هغو ډيرو واقعاتو په باره کې ويلای شو کومې چې د قيامت له نښانو څخه دي.
(٩) د قيامت په نښانو باندې په ايمان راړو سره د انسان عقيده مضبوطيږي او په ايمان او ايقان کې زياتوالی راځي، له دې پرته يو شمير نور ثمرات او فوايد هم د قيامت د نښانو په علم کې موجود دي کومې چې زمونږ په عملي زندگي باندې ژور اثرات مرتب کوي.

د قيامت نښانو په باره کې بنيادي اصول

په همدې موضوع باندې پخوانيو او نويو علماء کرامو ډير تصنيفونه کړي او دا سلسله لا پسې جاري او ساري ده. وخت په وخت په تيي وي چينلونو، راډيو ګانو او انټرنيټ باندې د قيامت نښانو په باره کې بحث او مباحثه کيږي. مګر په دې باره کې د واردو نصوصو په پيژندلو کې ځينې خلک په اضطراب کې مبتلا دي.

ما په همدې تناظر کې دا ضروري خيال کړی چې دقيامت نښانو او د هغو په باره کې د واردو نصوصو له تعامل سره متعلق يو شمير بنيادي اصول بيان کړم.
(١) د استدلال لپاره يواځې په قرآني آيتونو او صحيح حديثونو باندې انحصار کيږي. له دې امله چې دا دواړه داسې ذرائع دي په کومو سره چې د غيبي شيانو په باره کې سم خبر تر لاسه کيدلای شي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿٦٥﴾ ﴾ (١)

ژباړه: نه پوهيږي هغه څوک چې په اسمانو کې دي (له فرښتو او انسانانو نه په غيبي امورو باندې) مګر (عالم دی په غيبو) الله او نه پوهيږي دغه کفار چې کله به دوی ژوندي را پورته کړل شي دوی.

(١) النمل. آية: ٦٥.

همدا شان الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖۤ اَحَدًا ۝٢٦ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ﴾ ([1]).

ژباړه:

(الله) غالب دی پر غائبو (اشياؤ) باندې نو نه خبروي په غيبو خپلو باندې هيڅوک مګر هغه څوک چې راضي وي ترې (او غوره کړی يې وي په اطلاع د غيبياتو) له رسول خپل څخه.

الله تعالی د ديني مصلحتونو لپاره خپل نبي حضرت محمد ﷺ هم د غيبو له ځينو خبرو څخه خبر کړی، په کومو کې چې اشراط (د قيامت نښانې) هم دي او د هغوی تعلق له مستقبل سره دی.

که چيرته د قيامت نښانو د پيژندلو لپاره له اسرائيلي روايتونو يا له خوبونو کار واخيستل شي يا کوم سياسي واقعات پرته له کوم دليله د قيامت په نښانو کې شمار کړی شي، نو دا طرز العمل بالکل مناسب نه دی.

همدا شان دا خبره هم ډيره ضروري ده چې کوم نص تاسو د دليل په توګه وړاندې کوی هغه بايد په صحيح سند سره ثابت وي، خواه هغه نبي کريم ﷺ ته منسوب وي يا د هغه ﷺ په صحابه ؤ رضي الله عنهم کې کوم يوه ته منسوب وي.

نن صبا د قيامت نښانو موضوع په خلکو کې د جوش او خروش پيدا کولو، د کتابونو د تجارت کولو او د هغوی په لوستونکو کې د زياتوالي راوستلو په خاطر، غريب، شاذ او په اوهامو بنا خبرې کول رواج ګرځيدلې، د دغه نوعيت يو دلچسپ عبارت کوم چې ما لوستلی: دا دی: د ترکيه د استنبول په يوه کتابخانه (دارالکتب الاسلاميه) کې د دريمې هجري صدۍ په نايابو خطونو کې يو منفرد روايت بيان شوی وو چې حضرت ابو هريرة،

[1] - الجن، آية: ٢٦ - ٢٧.

ابن عباس او علي ابن ابی طالب رضي الله عنه بیان کړی وو او په روایت کې دي چې حضرت ابو هریرة رضي الله عنه د دې خبرې له بیانولو ځخه ویریده مګر کله چې د مرګ وخت راغی نو د علم پټولو له ګناه ځخه د بچ کیدا په خاطر هغه دا خبره بیان کړه او حاضرینو ته یې وویل: له ما سره په اخره زمانه کې د کیدونکو جنګونو په ځینو واقعاتو باندې بنا یو خبر شته. هغوی وویل: ضرور یې راته بیان کړه الله تعالی دې تا ته جزا خیر درکړي، نو هغه خپلې خبرې داسې شروع کړې!

د (۱۳۰۰ هجري) په پنځمه یا شپږمه عشره کې به په مصر کې یو ناصر نامی واکمن وي، عرب به هغه ته د یوه بهادر انسان خطاب کوي، لیکن الله تعالی به هغه پی در پی په جنګونو کې ذلیل او رسوا کړي او هیڅوک به د هغه مرستې ته را نشي، کله چې الله تعالی د مصر حقیقي مرسته کول وغواړي نو په دې محبوبو میاشتو کې به هغه فتح کړی شي، د مصر اوسیدونکي او عرب به په یوه غنم رنګي سړي باندې راضي شي، د کوم نام به چې سادات وي او د پلار نام به یې انور وي، مګر هغه به په غمزده ښار مسجد اقصی کې له غاصبو سره صلح وکړي.

په عراق کې به یو ظالم واکمن وي، د هغه په یوه سترګه کې به لږ ضعف وي. د هغه نام به صدام وي او هغه به له ده سره هر تکر کیدونکي سړي ته سخته صدمه رسوي، دنیا به د هغه لپاره په یوه وړه شانته کمین ګاه کې جمع کړی شي، هغه به په دې کې ور داخل شي او د هغه لپاره به یوائې په اسلام کې خیر وي، په هغه کې به خیر او شر دواړه وي او بربادي د هغه چا لپاره ده کوم چې له امانتدار مهدي سره خیانت وکړي.

په (۱۴۲۰ هجري یا ۱۴۳۰ هجري) کې به امانتدار مهدي ظاهر شي، هغه به له ټولې دنیا سره جنګ وکړي. د هغه په مقابله کې به ګمراه، د الهي غضب ښکار او منافقین له جبل مجدون سره نږدې په اسر او معراج زمکه کې جمع شي او د مکر ملکه زانیه به راووځي، د کومې نام چې امریکا ده.

هغه به دنیا په دې زمانه کې د ګمراهۍ او کفر لورې ته را بولي او یهود به په دې ورځ په اعلی مقام باندې فایز شي. هغه به د ټول بیت المقدس او مقدس ښار مالک شي، د هغوی قبضه به د سختو واورو وریدونکو سیمو او سختې ګرمۍ لرونکو سیمو بر سیره په هغو تمامو سیمو هم وي کومې چې په بحري یا هوائي لارو باندې راځي. مهدي به ووینې چې ټوله دنیا له بیکاره مکر سره د دده خلاف ده، د هغه به یقین وي چې د الله تدبیر تر ټولو سخت دی، ټول کائنات د الله تعالی دي، د هغه لورې ته د ټولو ور تلل دي، ټوله دنیا د هغه لپاره د یوې ونې په څیر ده او هغه د هغې د جرړ (ولو) او شاخونو مالک دی. الله تعالی به په هغوی بد ترین کاڼي (ډبرې) وو وروي، په هغوی باندې به زمکه، سمندر او آسمان اور شي. آسمان به په هغوی بد ترین باران وو وروي او ټول د زمکې اوسیدونکي به په کفر لعنت وايي: او الله تعالی به د هر رنګه کفر د زوال حکم وکړي [1].

نوټ: په دې باب کې د ثقه علماء کرامو لور ته رجوع وکړئ.

د هر سړي په زړه کې چې د قیامت نښانو په باره کې کوم خیال پیدا شي، د هغه لپاره واجب دي چې هغه د هغه له ښکاره کولو د مخه په دې معامله کې د اهل علمو په خدمت کې حاضر شي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۝﴾ [2].

ژباړه:

پس پوښتنه وکړئ له خاوندانو د ذکره (د کتابیانو له علماؤ څخه) که یې تاسي چې نه پوهیږئ.

همدا شان الله تعالی ﷻ فرمايي:

---

[1] کشف المکنون في الرد علی کتاب هرمجدون: ۵۸. همدا شان وګورئ: المهدي وفقه اشراط الساعة: ۲۳۲.

[2] - الانبیاء، آیة: ۷.

﴿وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ ۗ وَ
لَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٣﴾﴾ ([۱]).

ژباړه:

او که دوی ور رسولای (او پرېښې وای) دا خبر طرف د رسول د الله ته او طرف د حاکمانو خپلو ته له دوی څخه نو خامخا معلوم به وای (تدبیر) د دې کار هغو کسانو ته چې ایستلی (او بیلولی شي ښه له بدو) له دوی ځینې رسول الله او امراء، نو تحقیق به یې شوی وای او که نه وای فضل د الله پر تاسې (په اسلام) او رحمت د ده (په نزولِ د قران) نو هرو مرو به متابعت کړی ؤ تاسې د شیطان مګر متابعت به نه وو کړی له تاسې څخه لږو.

د امت د سلف صالحینو طریقه دا وه، د دې تایید له دې حدیث څخه هم کیږي د کوم روایت چې د رسول صحابي حضرت ابو طفیل رضي الله عنه کړي، هغه فرمایي: یو ځل زه په کوفه کې وم چې یو نا څاپه وویل شول دجال ظاهر شو، زه د حضرت خذیفه بن اسید په خدمت کې هغه وخت حاضر وم کله چې هغه حدیث بیانولو، ما وویل: دجال ظاهر شو، هغه وویل: کینه، زه کیناستم، په دې وخت کې د کومې قبیلې سردار هم راغی، هغه هم وویل: څه مو اوریدلي تاسو خلکو! دجال ظاهر شو او خلک هغه وژني. خذیفه هغه ته هم وویل: کینه، هغه هم کیناست. لږ وروسته دا اعلان وشو چې هیڅ دجال نه دی ظاهر شوی، دا ټول یو رنګ لرونکي دروغ دي. مونږ حضرت خذیفه ته عرض وکړ: ابو سریحه! تا خو مونږ د دې لپاره کینولي یو چې له تا سره د دجال په باره کې علم دی مونږ ته یو څه ووایه؟ هغه وویل: که چیرته دجال دستاسو په دور کې ظاهر شي نو د نن ورځې ماشومان به هغه په ډبرو (تیږو) ولي، دجال په هغه زمانه کې ظاهریږي کله چې د خلکو په خپل مینځ کې

---

[۱] النساء، آیة: ۸۳.

سره حسد او بغض وي، د هغوی ديني حالت به ډير کمزوری وي او په خپل مينځ کې به يې اختلاف وي، هغه به په اساني سره تر هرې چينې رسيږي .....الحديث ([1]).

خلکو ته د هغوی له ذهن سره برابرې خبرې وکړی

د قيامت نښانو په باره کې ځينې خبرې کوونکي خلک د عوام الناس يا د نويو مسلمان شويو په وړاندې داسې خبرې کوي کومې چې د هغوی له ذهن څخه پورته وي.

په دې سلسله کې مشهوره قاعده دا ده چې هره هغه خبر چې دستا په علم کې وي د بيانولو وړ نه ده او نه د هرې صحيح خبرې نشر کولو ته ضرورت شته، له دې امله چې عقلونه په هغې باندې له پوهيدو قاصر دي يا له دې امله چې هغوی له دې شيانو سره مناسبه رويه نه اختياره وي، يا له دې خبرې څخه کوم غلط مطلب اخلي.

د حضرت علي ﷺ قول دی : خلکو ته هغه خبره وکړی په کومې چې هغوی پوهيږي، آيا تاسو غواړی چې د الله او د هغه د رسول ﷺ تکذيب دې وشي ([2]).

د يوه بل روايت الفاظ داسې دي : اې خلکو ! ايا تاسو خوښوی چې الله او د هغه رسول ﷺ دروغژن وبلل شي؟ خلکو ته هغه خبر بيان کړی په کومه چې پوهيږي او هغه پريږدی کومه چې هغوی نه پيژني ([3]).

---

[1] المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۲۹.

[2] - صحيح البخاري. العلم. قبل الحديث: ۱۲۷. امام شاطبي د دغه حديث د مفهوم بيانولو په وخت کې ويلي : يعني د علم خپرول د خلکو له فهمونو سره مشروط شوي دي. لکه چې د يوې مسئلې بيانول د يوه قوم لپاره مناسب وي خو دا مسئله بيا د بل قوم لپاره مناسب نه وي

[3] صحيح مسلم. في مقدمة الصحيح: ۱/ ۷۶.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: كه چيرته تاسو د يوه قوم په وړاندې داسې يوه خبر ذكر كړى كومه چې د هغوى له ذهني سطحې پورته وي نو دا په هغوى كې د ځينو خلكو لپاره فتنه جوړېږي (١).

د قيامت نښانو په نصوصو كې په مخته راغليو واقعاتو باندې د تطبيق قواعد

په ماضي قريب او بعيد كې د ديني ضعف په زمانو كې د قيامت نښانو په احاديثو كې په مخته راغليو واقعاتو باندې د تطبيق كولو سعې او كوشش شوى، بلكه په ځينو وختونو كې د ځينو واقعاتو متعلق په پوره وثوق سره ويل شوي چې دا د قيامت له نښانو څخه دي، لهذا ما دامناسب وبلله چې د قيامت نښانو په باره كې په راغليو حديثونو كې په مخته راتلونكيو واقعاتو باندې د تطبيق كولو په باره كې يو شمير اصول او ضوابط بيان كړم

لومړى قاعده: له مونږ څخه د شريعت هيڅكله دا غوښتنه نه ده چې د قيامت نښانو په باره كې راغلي حديثونه په مخته راتلونكيو واقعاتو باندې ضرور تطبيق كړو، چونكه هر انسان په فطري ډول د خپلو ورځو او واقعاتو متعلق د ټولو حواسو په ذريعه د مخته راتلونكيو واقعاتو مشاهده كوي، لهذا دا واقعات چې څومره په دې انسان باندې اثر كوي، په نورو يې نه كوي، نور خلك د ماضي واقعات او حالات په خپلو حواسو او شعور كې په هغه ډول نه ساتي، لكه څرنګه يې چې هغه انسان ساتي كوم ته چې متعلقه واقعات مخته راغلي وي، دا چې انسان د نن ورځې واقعات هم پيژني، په همدې بنا د هغه لپاره د نن ورځې مصيبتونه هم د ماضي د دردناكو مصيبتونو په څير دي. لكه چې يو شاعر وايي:

---

١ صحيح مسلم، المقدمة، باب النهي عن الحديث بكل ما سمع.

يا زمانا بكيت منه
فلما صرت في غيره بكيت عليه

ژباړه:
زه د زماني له سختيو څخه ژاړم، ليکن کله چې زه په بله زمانه کې ور داخل شم نو بيا زه د هغې تيرې شوې زمانې په ياد کې ژاړم.

اهل علم، معرفت او تقوه لرونکو ته روا دي چې د قيامت نښانو او د هغو واقعاتو د تطبيق په باره کې اجتهاد وکړي، لکه څرنګه چې حضرت عمر ﷺ د ابن صياد په باره کې د رسول الله ﷺ په وړاندې په خپل اجتهاد سره وويل: چې دا دجال دی او نبي کريم ﷺ د عمر ﷺ په دې خبره هيڅ سوال ونکړ.

که چيرته د اجتهاد په نتيجه کې د امت مسلمه په صفونو کې انتشار او افتراق پيدا کيږي، يا د دغه اجتهاد په مقابل کې واضح شرعي دلايل موجود وي نو نه يوازې دا چې انسان له دې څخه منعه کړی شي بلکه په همدې باره کې زجر او توبيخ هم ورکړی شي، البته که کوم دليل ور سره وي بيا نه، د مثال په ډول: که چيرته د دغه اجتهاد په نتيجه کې خپل مينځي جنګونه شروع شي، يا کومه فتنه سر راپورته کړي، عزتونه پايمال شي يا د ستاسو اتحاد له منځه ولاړ شي نو داسې اجتهاد پرته له کوم شرعي دليله جايز نه دی.

د قيامت نښانو په باره کې واردو احاديثو ته کتونکي ځينې حضرات د ماضي او حال د ټولو واقعاتو او حالاتو جايزې اخستلو ته ډير ليوال دي او هغوی د داسې حديثونو په کومو کې چې د مستقبل لپاره پيشنګوئي شوې وي له موجوده واقعاتو او حالاتو سره د جوړ راوستلو په کوشش کې دي.

مثلاً: کله چې دا حديث د هغوی له نظر څخه تيريږي ﴿يوشک اهل العراق

ان لایجبی الیهم قفیز (١) ولا درهم﴾ نږدې ده چې د عراق خلکو ته به د عجمو له لوري هیڅ غله او نقدي نه رسیږي (٢).

نو دوی وایي: وګورئ! دا د قیامت له نښانو څخه ده او دا واقع شوې، کله چې په سنه (١٤١٠ هجري مطابق ١٩٩٠ عیسوي) کې امریکه د عجمو له لوري عراق په اقتصادي لحاظ محاصره کړ.

سره له دې چې قوي احتمال شته چې په حدیث کې د دغې واقعې لور ته اشاره وي، مګر د حدیث په داسې طریقه په وثوق سره په واقعاتو او حالاتو باندې تطبیق کول او بیا یې بالجزم بیانول صحیح نه دي.

له دې لویه غلطي هغه د ځینو اهل علمو له لوري د دنیا د عمر تعینول دي، ځینو ویلي: د دنیا عمر (٩٠٠) کاله باقي پاته دی او ځینو نورو ویلي: د دنیا عمر (١٠٠٠) کاله باقي پاته دی، دا خبرې چې د کومو علماؤ په قول مشهورې دي، په هغوی کې امام سیوطي، امام سخاوي او ځینې نور حضرات شامل دي.

خلاصه د خبرې دا ده چې د کومې نښانې په باره کې له ښکاره شرعي دلیل پرته په وثوق او اعتماد سره دا ویل چې دا واقعه د قیامت له نښانو څخه ده یا په فلاني کال کې دا واقع کیدونکې ده جایز نه دي، لکه چې ډیرو خلکو د مهدي احادیث په ځینو مشخصو خلکو باندې تطبیق کړي او

١- قفیز: د پیماني یو قسم دی، کوم چې د عراق خلکو استعمالوه، لکه مونږ چې نن ورځ کلوګرام وغیره استعمالوو.

٢- له ابو نضره څخه روایت دی چې مونږ له جابر بن عبد الله ﷺ سره وو چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: نږدې ده د عراق اوسیدونکو ته به غله او نقدي نه رسیږي، مونږ عرض وکړ دا پابندي به د چا له لوري وي؟ هغه وفرمایل: د دوی لپاره به دا پابندي د عجمو له لوري وي، بیا هغه وفرمایل: نږدې ده د شام اوسیدونکو ته به کومه غله او نقدي نه رسیږي، مونږ عرض وکړ: دا پابندي به د چا له لوري وي؟ هغه په ځواب کې وویل: د رومیانو له لوري (صحیح مسلم)

په پوره وثوق سره وايي چې فلانی سړی مهدي دی او بيا د دې دعوې په نتيجه کې ډيرې فتنې سر راپورته کړي، وينې توی شي او د واکمنو په مقابل کې بغاوت جوړ شي.

د کتاب (اسرار الساعة) مؤلف ليکي : دجال ته به په ايران کې د مهدي له ظهور وړاندې حکومت وسپارل شي. بيا وايي : دا دجال محمد خاتمي دی (مؤلف ده ته د آيت الله ګورباچوف نام ورکړی) [1].

يو بل مؤلف په خپل کتاب (المسيح الدجال) کې ليکلي : دا خبره په پوره وثوق سره کيدلای شي چې مهدي کوم ته چې امت په انتظار کې دی صدام حسين دی [2].

د کتاب (هرمجدن) مؤلف امين محمد جمال ليکلي : په ځينو حديثونو کې د سفياني نامې شخص ذکر راغلی. له هغه څخه مراد صدام حسين دی.

د کتاب (اشراط الساعة وهجوم الغرب) د مؤلف خيال دا دی چې له سفياني څخه مراد د اردن پخوانی واکمن شاه حسين دی [3].

په دغو دعوو کې په کومه يقين کول او بيا د هغې تعين کول او په پوره وثوق سره يې بيانول درست نه دي، که د مختنه راتلونکيو واقعاتو په باره کې کوم ښکاره دلايل او قرائن د هغه څه تصديق وکړي کوم چې په احاديثو کې د قيامت په نښانو کې ذکر شوي، نو هغه واقعات به بيا په مکمل ډول باندې د هغې مطابق وي او د قيامت په نښانه کيدو کې به يې بيا کوم شک او شبه پاتې نه وي او په داسې واقعاتو باندې بيا د قيامت د احاديثو په تطبيق کې کومه مضايقه نشته، سره له دې چې د دې امر امکان هميشه باقي دی چې

---

[1] - کتاب (اسرار الساعة) تاليف: فهد السالم.

[2] - صدام په سنه (۱۴۲۷ هجري د ذوالحجة په ۱۰ مطابق ۲۰۰۷ ميلادي کې ووژل شو) د (المسيح الدجال) د مؤلف نوم سعيد ايوب دی. مؤلف دا خبره د صدام د واکمنۍ پر مهال کړې وه.

[3] - د اردن بادشاه شاه حسين په سنه (۱۴۲۰ هجري مطابق ۱۹۹۹ عيسوي د فروري په ۷ وفات شوی) د (اشراط الساعة وهجوم الغرب) د مؤلف نام فهد سالم دی.

نور واقعات کوم چې له هغه سره مشابه یا له هغه څخه ډیر واضح وي په هغو باندې احادیث تطبیق کړی شي.

د دې ځینې مثالونه:

(۱) امام مسلم رحمه الله روایت کړی چې سیده اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنهما زوی عبد الله ابن زبیر رضی الله عنهما چې کله د حجاج بن یوسف ثقفي لښکر وواژه نو هغه د حجازو (کومو چې ابن زبیر شهید کړی وو د لښکر مشر ته) مخاطب شو او وې ویل: رسول الله ﷺ مونږ ته بیان کړی چې په قبیله ثقیف کې به یو کذاب او یو د وینو تویونکی ظالم پیدا شي، کذاب خو مونږ ولید او سفاک قاتل زما په ګمان له تا پرته بل څوک نه دی، حجاج چې دا خبره واوریده نو ولاړ او روان شو او د سیده اسماء خبرې ته یې هیڅ ځواب ورنکړ.[1]

امام نووي رحمه الله فرمایلي: سیده اسماء چې د کوم کذاب د لیدو خبره وکړه: له هغه څخه مراد مختار بن ابی عبید ثقفي دی کوم چې انتهائي دروغژن دی، د هغه بد ترین دروغ دا دي چې هغه دعوه کړې وه چې جبریل هغه ته راځي، د امت علماء په دې امر باندې متفق دي چې له کذاب څخه مراد مختار بن ابی عبید ثقفي دی او له (مبیر) یعنې سفاک قاتل څخه مراد حجاج بن یوسف ثقفي دی (والله اعلم).[2]

(۲) په صحیح مسلم کې حدیث دی، حضرت ابو هریرة رضي الله عنه یې راوي دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې د حجاز له زمکې یو اور را ښکاره نشي په کوم سره به چې په بصری[3] کې د اوښانو غاړې روښانه کړی شي.[4]

---

[1] صحیح مسلم، الفضائل، حدیث: ۲۵۱۵.

[2] شرح صحیح مسلم للنووي، فضائل الصحابة، حدیث: ۲۵۴۵.

[3] دا حوران ښار دی کوم چې نن ورځ ټول د شام ملک یو برخه ده.

[4] صحیح مسلم، الفتن، حدیث: ۲۹۰۲.

امام ابو شامه د دې واقعې د کیفیت بیانولو په وخت کې ویلي: په سنه (۶۵۴ هجري مطابق ۱۲۵۶ عیسوي د مې میاشتې په ۲۹ د چهارشنبه په شپه) په مدینه منوره کې یو دردناک آواز پورته شو. له هغه وروسته زلزله راغله. په کومې سره چې زمکه، دیوالونه، چتونه او دروازې ولړزیدې او د جمعې شپې پورې وقفه په وقفه روانه وه، بیا یو ناڅاپه د بنو قریضه ؤ سره نږدې د تورو ډبرو (تیږو) لرونکې زمکې څخه یو لوی اور ظاهر شو، کوم چې مونږ په خپلو ښارونو کې په خپلو کورونو کې د ناستې په حالت کې لیده، مونږ دا محسوسوله چې له دې اور څخه ټولې کندې ډکې دي او هغه په وادي شظا کې د اوبو تر تیریدونکې ځایه ورسید، له دغه اور څخه لوی لوی لمبې هم پورته راوتلې (۱).

امام نووي رحمه الله فرمایي: زمونږ په زمانه کې په سنه (۶۵۴ هجري) کې په مدینه منوره کې یو دردناک اور را ووت، د مدینې مشرقي لور ته د تورو ډبرو (تیږو) لرونکې زمکې له شا څخه ظاهریدونکی اور ډیر دردناک وو، د هغه د ظهور خبرې په تواتر سره بیان شوې دي (۲).

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: ما ته په ظاهره معلومه ده دا اور هغه دی کوم چې د مدینې شاو خوا ښکاره شوی دی او امام قرطبي او نور علماء کرام هم دا پیژني (۳).

(۳) امام احمد په خپل مسند کې د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه روایت نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: قیامت هغه وخت قایمیږي کله چې فتنې ښکاره شي، دروغ زیات شي، بازارونه سره نږدې شي (یعنې ډیر شي) زمانه

---

۱ وګورئ د امام قرطبي کتاب (التذکرة. ص: ۵۲۷).

۲ شرح صحیح مسلم للنووي، الفتن، حدیث: ۲۹۰۲.

۳ فتح الباري شرح صحیح البخاري، الفتن، حدیث: ۷۱۱۹.

نږدې شي او هرج ډیر زیات شي، پوښتنه وشوه: اې د الله رسوله! دا هرج څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وویل: قتل او خونریزي (١).

شیخ ابن باز رحمه الله په فتح الباري باندې په خپل تعلیق کې فرمایلي: په حدیث کې د مذکور تقارب ډیر مناسب تفسیر زمونږ په موجوده زمانه کې دا معلومیږي چې ښارونه او هیوادونه به له یوه بل سره نږدې شي او د هغوی تر مینځ به موجوده مسافه د هوائي جهازونو او موټرو په ذریعه په کمه موده کې طی کیږي (والله اعلم).

دویمه قاعده: د قیامت نښانې ډیره موده مخته هم واقع کیدلای شي:

اشراط قیامت هغه نښانې دي: کومې چې په قرب قیامت دلالت کوي، خواه هغه د قیامت له وقوع سره نږدې وي یا لیرې وي، د مثال په ډول د نبي کریم ﷺ فرمان دی:

﴿بعثت انا والساعة كهاتين، وقرن بين السبابة والوسطى﴾ (٢).

ژباړه: زه او قیامت یو ځای داسې را لیږل شوي یو، بیا نبي کریم ﷺ د شهادت او درمیانه ګوتې سره ملاقي کړې او صحابه کرامو ﷺ ته یې ور وښودلې.

له دې حدیث څخه معلومیږي چې د نبي کریم ﷺ بعثت او وفات د قرب قیامت له نښانو څخه دي، ګویا چې له دې وروسته واقع کیدونکې نښانې له قیامت سره ډیر نږدې تعلق لري.

مونږ د قیامت نښانو زمانه د وقوع په اعتبار په لاندې اقسامو کې تقسیموو:

(١) په هغوی کې یو شمیر داسې دي کومې چې په عین هغې طریقې واقع کیږي په کومه طریقه چې نبي کریم ﷺ د هغو په باره کې خبر ورکړی وي،

---

١ مسند أحمد: ٢/ ٥٢٠.

٢ صحیح البخاري. الطلاق. حدیث: ٥٢٠١. وصحیح مسلم. الفتن. حدیث: ٢٩٥١.

مثلاً: لکه د نبي کريم ﷺ بعث، وفات او همدا شان د دروغژنو نبيانو ظهور وغيره.

(۲) ځينې داسې دي چې د هغوی ابتدائي برخه واقع شي او د وخت په تيريدا سره د هغوی پاتې برخه هم واقع شي، لکه د بازارونو له يو بل سره نږدې والی، د کتابت عام کيدل او د قتل او خونريزي ډيروالی.

(۳) د قيامت يو شمير نښانې داسې دي کومې چې تر دا مهاله نه دي واقع شوې او په وروسته کې به واقع شي، لکه خروج دجال، خروج دابه وغيره.

دريمه قاعده: د قيامت نښانو په مخته راتلونکو واقعاتو باندې د غلط تطبيق نقصانات:

(۱) له دليل پرته بې سره او بې پښو خبرې:

کله چې تاسو په وثوق سره ووايې چې د قيامت فلانی نښانه په فلانې صورت کې واقع کيدونکې ده نو دا خبره ښکاره دليل يا شرعي قرينې يا استدلال ته محتاجه ده، حالانکه په دې باره کې هيڅ دليل يا قرينه موجوده نه وي، يوه رښتوني مؤمن ته د تحقيق او پلټنې حکم شوی دی، ښايست دا نه دی چې هغه د شريعت په امورو کې يا په شرعي خبرو کې له علم لرلو پرته خپلې ژبې خلاصې کړي.

(۲) د غير شرعي عمل ارتکاب يا د شرعي عمل پريښودل:

يو شمير خلک د داسې کتابونو مطالعه کوي په کومو کې چې د مهدي ذکر شوی وي او ځينې وخت د همدغو کتابونو مؤلفين په وثوق سره دا خبره کوي چې فلانی سړی مهدي دی نو د کتاب لوستونکي په لوی شدت سره انتظار شروع کړي او خپل روز مره معاملات تر مهدي پورې وتړي، حتی چې ځينې حضرات اسونه او تورې واخلي تر څو چې په راتلونکو ورځو کې له مهدي سره يو ځای شي او د باطل په مقابل کې په جنګ کې شرکت وکړي.

ځینې داسې هم دي چې خپل واده یا د کور تعمیر یواځې له دې امله پریږدي چې د خروج دجال زمانه د ده په سر ولاړه ده. لهذا دې شیانو ته څه ضرورت دی.

(۳) د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ تکذیب

که چیرته په حتمي توګه دا وویل شي چې فلانی سړی مهدي دی او په وروسته کې ثابته شي چې دا خبر غلطه ده نو د هغې نقصان دا دی چې خلک به بیا د مهدي په باره کې له واردو احادیثو څخه انکار وکړي، همدا شان د قیامت نورې نښانې هم که له تحقیق پرته په واقعاتو باندې تطبیق کړی شي نو په دې سره هم خلک د هغوی په باره کې له واردو احادیثو انکار کوي.

د اشراط الساعة؛ معنا او مفهوم

الاشراط : دا د شرط جمع ده او په معنا د نښانې سره ده، اشراط الساعة مطلب دا چې د قیامت نښانې او د هغه اسباب، یعنې دا هغه نښانې دي له کومو وروسته چې قیامت واقع کیدونکی دی [1].

الساعة : له دې څخه مراد هغه وخت دی په کوم کې چې قیامت واقع کیږي، د دغه نام (الساعة) یعنې ګړۍ ځکه ایښودل شوی چې دا ګړۍ به ناڅاپه د خلکو په سر باندې دریږي او ټول مخلوق به د یوه سخت آواز په ذریعه مړ کیږي [2].

---

[1] الصحاح للجوهری. مادة: شرط، والنهایة لابن الاثیر. مادة: شرط.

[2] النهایة لابن الاثیر مادة، سوع.

د قيامت نښانو ډولونه

د قيامت نښانې په دوو قسمونو کې تقسيم کړی شوې دي.

اول قسم

وړې نښانې او هغه په دوه ډوله دي.

اول

د قيامت له وقوع څخه ډيرې ليرې نښانې : دا هغه نښانې دي کومې چې ډيرې مخکې واقع شوې دي او د قيامت له واقع کيدا څخه د ډير ليرې والې له امله ورته وړې نښانې وئيل کيږي. لکه د نبي کريم ﷺ بعثت. د سپوږمۍ دوه ځايه کيدل او په مدينه کې د يوه دردناک اور ظاهريدل.

دوم

درميانه نښانې : دا داسې نښانې دي کومې چې ظاهرې شوې دي مګر تر اوسه لا ختمې شوې نه دي. بلکه په کثرت سره يکې زياتوالی راځي او دا نښانې ډيرې زياتې دي. دا علامات صغری. يعنې وړې نښانې دي، د کومو چې ذکر راتلونکی دی، په هغو کې ځينې دا دي. له خپلې مالکې څخه د غلام پيدا کيدل، لوڅ اوسيدل. لوڅ لغړ بدن. د بزو او ميږو څرونکيو تر منځ د لويو او لوړو عمارتونو په جوړولو کې له يوه بل څخه د مخته تلو کوشش کول او د ديرشو دجالي خلکو ظاهريدل چې د نبوت دعوه به يې په دروغو کړې وي.

دويم قسم

علامات کبری : دا هغه نښانې دي د کومو له ظاهريدو وروسته چې زر قيامت قايميږي. دا لس نښانې دي او تر اوسه يې يوه هم نه ده ظاهره شوې. حضرت حذيفة بن اسيد ﷺ بيان کړی چې مونږ يوه ورځ په خپل مينځ کې خبرې سره کولې چې نبي کريم ﷺ مونږ ته تشريف راووړ : نبي کريم ﷺ وفرمايل ! تاسو خلک په څه باره کې خبرې سره کوئ؟ مونږ عرض وکړ : د

الله رسوله ! مونږ د قیامت په باره کې خبرې سره کولې. نو رسول الله ﷺ وفرمایل ! واورئ ! قیامت تر هغه نه قایمیږي تر څو چې تاسو لس نښانې ونه وینئ. بیا حضور ﷺ د لاندې نښانو ذکر وکړ.

(١) دود (دخان)

(٢) دجال

(٣) خروج دابه (د عجیب الخلقت ځناور ظهور)

(۴) له مغرب څخه د لمر راختل

(۵) د عیسی علیه السلام نزول

(۶) خروج یاجوج ماجوج او درې ځایه به د زمکې د چاودلو واقعات مخته راځي

(٧) په مشرق کې د زمکې چاودل

(٨) په مغرب کې د زمکې چاودل

(٩) په جزیرة العرب کې د زمکې چاودل

(١٠) له ټولو څخه په آخیر کې چې کومه نښانه ښکاره کیږي هغه دا ده چې له یمن څخه به یو اور راووځي، هغه به خلک د میدان محشر په لور له شور (غال مغال) سره بیایي ([1]).

په ځینې نورو احادیثو کې د یو شمیر نورو نښانو ذکر هم راغلی، په هغو کې د مهدي ظاهریدل. د کعبې ورانیدل. د قرآن کریم له زمکې څخه پورته ختل شامل دي. د کوم چې په راتلونکو احادیثو کې ذکر راځي ([2]).

---

[1] - صحیح المسلم، الفتن، حدیث ۲۹۰۱. د دغو علامو ذکر په راتلونکې برخه (علامات کبری) کې راځي.

[2] - د همدغو علامو تفصیل په راتلونکیو صفحو کې د (علامات صغری) په بیان کې په ۱۲۱، ۱۲۲ او ۱۳۱ نمبر باندې راتلونکی دی.

علامات صغرى

لومړنی قسم: هغه نښانې کومې چې واقع شوې دي.

(۱) زمونږ د خواږه پیغمبر حضرت محمد ﷺ بعثت.

(۲) د رسول الله ﷺ وفات.

(۳) د سپوږمۍ دوه ټوټې کیدل.

(۴) د صحابه کرامو رضي الله عنهم د دور ختمیدل.

(۵) د بیت المقدس فتح.

(۶) د بزو په قعاص [۱] مرض د خلکو په کثرت سره مړه کیدل.

(۷) په انواعو او اقسامو سره د فتنو ظهور.

(۸) د ستیلائټ چینلونو ډیروالی.

(۹) د نبي کریم ﷺ د جنګ صفین په باره کې پیشنګوئي.

(۱۰) د خوارجو ظهور.

(۱۱) د دروغژنو مدعیانو ظهور.

(۱۲) د امن او خوشحالي ډیروالی.

(۱۳) د حجاز له علاقې څخه د یوه لوی اور ظهور.

(۱۴) له ترکو سره جنګ.

(۱۵) د دورو وهونکو ظالمو واکمنو ظهور.

(۱۶) د قتل او خونریزي ډیروالی.

(۱۷) د دیانتداري ورکیدل.

(۱۸) د پخوانیو امتونو د طریقو پیروي.

(۱۹) د غلام له خپلې باداري څخه پیدا کیدل.

---

[۱] قعاص د څناورو یو قسم مرض دی د کوم له امله به یې چې پوزه بهیږي او یو ناڅاپه به مړ کیږي (فتح الباری: ۲/ ۳۳۴).

(۲۰) د داسې ښځو ظاهريدل کومې به چې د جامو اغوستلو باوجود لغړې وي.
(۲۱) لوښ اوسيدل. لغړ بدن. د بزو او ميګو څرونکيو تر مينځ د لوړو عمارتونو په جوړولو کې مقابله کول.
(۲۲) خاص خاص خلکو ته سلام کول.
(۲۳) د تجارت ډير پر مخ تګ.
(۲۴) له ميړه سره په تجارت کې د ښځې شراکت.
(۲۵) د ځيني تجارانو په ټول مارکيټ تسلط.
(۲۶) د دروغو ګواهي
(۲۷) د رښتوني ګواهي پټيدل
(۲۸) د جهالت خپريدل.
(۲۹) د نويو مرضونو او بخل ډيروالی.
(۳۰) د صله رحمي له منځه تلل.
(۳۱) له همسايه سره بد سلوک.
(۳۲) د بې حيايي او فحاشي عام کيدل.
(۳۳) امانتدار ته خائن وئيل او بد ديانتو ته د منصوبونو سپارل.
(۳۴) د معززو خلکو وفات او د رذيلو خلکو ډيروالی.
(۳۵) د مال په حلالوالي او حراموالي کې بې پروائي.
(۳۶) د فی مال په اغنياؤ او رؤساؤ کې تقسيمدل.
(۳۷) امانت غنيمت بلل.
(۳۸) په خوشحاله زړه د زکاة نه ورکول.
(۳۹) د غير الله لپاره د علم زده کړه.
(۴۰) د ښځې تابعداري او د مور نافرماني.
(۴۱) د دوستانو نږدې کول او د مور پلار ليرې کول
(۴۲) په مساجدو کې د آوازونو پورته کيدل.
(۴۳) د قبايلو قيادت د فساقو او فجارو لاسونو ته ورتلل

(۴۴) کم اصله خلک د قوم سردار جوړیدل.
(۴۵) د یوه انسان عزت یواځې د هغه له شر څخه د ځان ساتلو لپاره کول.
(۴۶) زنا حلال ګڼل.
(۴۷) نارینه ؤ ته د وریښمو استعمال حلال بلل.
(۴۸) شرابو ته حلال وئیل.
(۴۹) د سندرو او د موسیقي د آلاتو استعمال جائز بلل.
(۵۰) په خلکو کې د مرګ تمنا.
(۵۱) د داسې حالاتو پیدا کیدل چې یو کس به سهار مؤمن وي او ماښام کافر.
(۵۲) په مساجدو کې د نقش او نګار ډیروالی او په هغه فخر کول.
(۵۳) د کورونو بې ځایه ښایست او آرایش.
(۵۴) د آسماني تندرونو ډیروالی.
(۵۵) د کتابت کثرت او اشاعت.
(۵۶) په دروغ وئیلو سره د مال ګټل او په تکلیفي خبرو باندې فخر کول.
(۵۷) له قرآن څخه پرته د نورو کتابونو په کثرت سره خپرول او ترویج.
(۵۸) د قاریانو ډیروالی، د علماؤ او فقهاؤ کموالی.
(۵۹) له کم عمرو څخه د علم زده کړه.
(۶۰) د یو ناڅاپه مرګونو زیاتیدل.
(۶۱) د بې وقوفو حکومت.
(۶۲) د زمانې نږدې کیدل.
(۶۳) د خلکو د ترجماني په منصب د کم عقلو کامیابیدل.
(۶۴) له کم اصله خلکو سره د دولت ډیروالی.
(۶۵) له مساجدو څخه د ګزرګاه جوړول.
(۶۶) د مهر مقدار اول ډیر زیات او بیا ډیر کمیدل.
(۶۷) د آسونو په قیمت کې اول ډیر زیات زیاتوالی او بیا ډیر کموالی راتلل.
(۶۸) د تجارتي مراکزو تر مینځ د فاصلې کموالی.

(۶۹) د عالمي قومونو لخوا په اسلامي امت حمله کول.
(۷۰) د لمانځه له امامت څخه ځان ساتل.
(۷۱) د مؤمن د خوبونو رښتیا ثابت کیدل.
(۷۲) د دروغو ډیروالی.
(۷۳) د خلکو په مینځ کې د نفرت پیدا کیدل.
(۷۴) د زلزلو ډیروالی.
(۷۵) د ښځو ډیروالی.
(۷۶) د نارینهؤ کموالی.
(۷۷) د فحاشي او عریاني عام کیدل او په ښکاره یې ارتکاب.
(۷۸) د قرآن مجید په تلاوت د اجرت اخیستل.
(۷۹) په خلکو کې غټوالی عام کیدل.
(۸۰) بې له غوښتنې ګواهي ته د خلکو تیاریدل.
(۸۱) د داسې خلکو ظاهریدل کوم به چې نذرونه مني مګر هغه به نه پوره کوي.
(۸۲) د طاقتورو لخوا د کمزورو خوړل.
(۸۳) د الله تعالی له لوري په نازل شوي شریعت باندې د فیصلو نه کول.
(۸۴) د رومیانو ډیروالی او د عربو کموالی.

دویم قسم: هغه نښانې کومې چې تر دا مهاله نه دي ښکاره شوې

(۸۵) له خلکو سره د مال ډیروالی.
(۸۶) په زمکه کې خښې شوې خزانې د باندې راغورځول.
(۸۷) د خلکو د شکلونو مسخ کیدل.
(۸۸) په ځینې ځایونو کې د زمکې چاودل.
(۸۹) په ځینې خلکو باندې د کاڼو باران اوریدل.
(۹۰) د داسې باران اوریدل له کوم څخه به چې د ختې او تیږې کوم کور بچ پاتې نشي.

(۹۱) له آسمان څخه به باران راوریږي. مګر په هغه سره به نباتات نه راپورته کیږي.
(۹۲) د داسې فتنې ظهور کومه به چې ټول عرب هلاک کړي.
(۹۳) د مسلمانانو د مرستې لپاره د ونو خبرې کول.
(۹۴) د مسلمانانو د نصرت لپاره د تیږو (ډبرو) خبرې کول.
(۹۵) د مسلمانانو له یهودیانو سره جنګ کول.
(۹۶) د فرات دریاب له مینځ څخه د سرو زرو د غره ظاهریدل.
(۹۷) کوم انسان چې فسق او فجور نه کوي هغه به عاجز بلل کیږي.
(۹۸) په جزیرة العرب کې دوباره د فصلونو او د نهرونو پیدا کیدل.
(۹۹) د محبت فتنې ظهور.
(۱۰۰) د خوشحالي فتنې ظهور.
(۱۰۱) دتورې او رندې فتنې ظهور.
(۱۰۲) د داسې زمانې راتلل په کومه کې به چې یوه سجده له دنیا او په دنیا کې له ټولو خزانو څخه بهتره وي.
(۱۰۳) د اولې شپې میاشت به د معمول خلاف لویه تر سترګو کیږي.
(۱۰۴) د شام په لور د هجرت ډیروالی.
(۱۰۵) د مسلمانانو او رومیانو تر مینځ د یوه لوی جنګ برپا کیدل.
(۱۰۶) د قسطنطنیه دوباره فتح کیدل.
(۱۰۷) د میراث مال په ورثهٔ کې نه تقسیمول.
(۱۰۸) د خلکو په مال غنیمت سره نه خوشحالیدل.
(۱۰۹) د پخوانیو اسلحو او سورلیو لور ته د خلکو بیرته راتګ.
(۱۱۰) د بیت المقدس په ابادي کې زیاتوالی راتلل.
(۱۱۱) د مدینې بې ابادي او هغه له اوسیدونکو او ذائرینو څخه تشه پاتې کیدل.

(۱۱۲) مدینه به د شریرو خلکو داسې ایستنه کوي لکه آهنګر چې له کوزې څخه زنګ لیرې کوي.
(۱۱۳) د غرونو له خپل ځای څخه بې ځایه کیدل.
(۱۱۴) له قحطان څخه د یوه سړي ظهور د کوم به چې خلک اطاعت کوي.
(۱۱۵) د جهجاه نامي یوه سړي ظهور.
(۱۱۶) د درندګانو او جماداتو خبرې کول.
(۱۱۷) د دورې خبرې کول.
(۱۱۸) د پیزار د تسمو خبرې کول.
(۱۱۹) په کورونو کې د ظروفو خبرې کول. یعنې د کور څښتن ته به د کور حال وایي.
(۱۲۰) له قیامت څخه د مخه د اسلام له دنیا څخه ورکیدل.
(۱۲۱) له صحائفو او د قاریانو له سینو څخه د قرآن مجید پورته تلل.
(۱۲۲) په بیت الله باندې حمله کونکی ټول لښکر په زمکه کې ننوتل.
(۱۲۳) د حج پریښودل.
(۱۲۴) د ځینې قبایلو عربو لخوا دوبارد د بت پرستې اختیارول.
(۱۲۵) د قریش قبیلې په مکمل ډول له منځه تلل.
(۱۲۶) د حبشې د یوه کس په لاس د کعبې ورانیدل.
(۱۲۷) د مؤمنو روحونو د قبضولو لپاره د پاکې هوا چلیدل.
(۱۲۸) د مکې په ښار کې د لوړو عمارتونو دریدل.
(۱۲۹) د امت د آخرې زمانې خلکو لخوا په لومړنیو باندې لعنت ویل.
(۱۳۰) د نویو نویو سپرلیو ایجاد.
(۱۳۱) د امام مهدي تشریف راوړل.

علامات صغرى

د قيامت وړې نښانې

ضروري خبر

دا خبر مخکې تیره شوه چې د قیامت نښانې په دوه قسمه دي: علامات صغری (وړې نښانې) او علامات کبری (غټې نښانې) او د دواړو په مینځ کې فرق دا دی: کله چې غټې نښانې واقع شي نو سمدستي له هغو وروسته قیامت واقع کیدونکی دی. د همدغو نښانو اثرات به خلک ډیر په شدت سره محسوس کړي. تر کومه چې د وړو نښانو تعلق دی نو هغه د قیامت له وقوع څخه کافي زمانه پخوا وقتا فوقتا په مختلفو سیمو کې ښکاره شوې دي. ځینې خلک په هغو خبر دي او ځینې ناخبره.

مونږ د قیامت د وړو نښانو له ذکر څخه خبر شروع کوو او په دې سلسله کې د کتاب الله او سنت دلایل هم ذکر کوو. زمونږ کوشش دا دی چې کوم احادیث دلته ذکر کوو د هغوی په انتخاب کې د دقت او صحت خیال وساتلی شي او همدا شان د صحابهؤ هغه اثار ذکر کوو د کومو چې صحیح سند ثابت دی.

﴿۱﴾ زمونږ د خواږه پیغمبر ﷺ بعثت

نبي کریم ﷺ خپل امت اګاه کړی چې زما بعثت د قرب قیامت دلیل او د قیامت نښانه ده. دا د قیامت په وړو نښانو کې تر ټولو اولینی نښانه ده. حضرت سهل بن سعد ﷺ ویلي دي چې ما نبي کریم ﷺ ولید چې هغه مبارک خپلې د شهادت ګوتې او درمیانه ګوتې لور ته اشاره وکړه او وې فرمایل: ﴿بُعِثْتُ وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ﴾ زه او قیامت دا شان سره رالیږل شوي یو لکه څنګه چې دا دواړه ګوتې له یوې او بلې سره یو ځای دي (۱).

هغه ﷺ دا هم وفرمایل چې زه د قیامت د اغاز لپاره رالیږل شوی یم (۲).

---

۱ صحیح البخاری. التفسیر. حدیث ۴۹۳۲. وصحیح المسلم. الفتن. حدیث: ۲۹۵۱.

۲ همداسې امام حاکم رحمه الله په الکنی کې روایت کړی. علامه البانی رحمه الله په سلسله صحیحه (حدیث ۸۰۸) کې دا حدیث صحیح بللی. په دغه حدیث کې مذکور الفاظ د (نسم الساعة) معنا د قیامت په شروع کې - د نسیم اصلي معنا د واړه شي ابتدائي برخه ده.

امام قرطبي رحمه الله فرمايلي : د قيامت لومړنی نښانه د نبي کريم ﷺ تشريف راوړل دي، ځکه چې نبي کريم ﷺ آخرالزمان پيغمبر دی او د ده ﷺ او د قيامت تر مينځ هيڅ نبي راتلونکی نه دی (١).

﴿۲﴾ د رسول الله ﷺ وفات

د نبي کريم ﷺ وفات د قيامت له ابتدائي نښانو څخه دی. حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه بيان کړی : زه د تبوک غزا په موقع د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم. هغه ﷺ د څرمنې په يوه خيمه کې تشريف درلود. هغه ﷺ وفرمايل : له قيامت څخه مخکې شپږ نښانې شمار کړی.

(١) زما وفات.

(٢) د بيت المقدس دوباره فتح.

(٣) بيا هغه قسم زورور مرګ کوم به چې په تاسو کې د بزو د قعاص مرض په شان خپور شي.

(۴) بيا د مال ډېروالی. حتی که يوه سړي ته سل دينار ورکړل شي هغه به بيا هم راضي نه وي. مطلب دا چې له خلکو سره به مال ډير شي او غنيان به شي، تر دې که يوه کس ته تر زرو دينارو کم شی ورکړل شي هغه به نه پرې خوشحاله کيږي.

(۵) بيا د يوې داسې فتنې ظهور کومه به چې د عربو هر کور ته ورداخله شي.

(۶) بيا به د ستاسو او بنواصفر (روم، يورپ او امريکه خلکو) تر مينځ صلح وشي. مګر هغوئ به له تاسو سره غداري وکړي او د ستاسو لور ته به تر اتيا بيرغونو لاندې جمع راشي او د هر بيرغ لاندې به دولس زره فوځ وي (٢).

---

[1] التذکرة للقرطبي ک٢ : ٣٠٩.

[2] صحيح البخاری، الجزية والموادعة. حديث: ٣١٧٦.

د رسول الله ﷺ وفات د اهل اسلام لپاره عظیم ترینه سحنه ده. کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو په مدینه منوره کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د سترګو مخته د پریشانیو. بدنصیبي. بې انتظامي. د ظلم او ستم او د مصیبتونو امبارونه پریوتل

د نبي کریم ﷺ په وفات سره له آسمانو څخه د وحې د راتلو سلسله قطع شوه او په امت مسلمه کې د فتنو سلسله شروع شوه. د ځینې قبایلو مرتد کیدل د همدغې سلسلې یوه کړۍ ده.

﴿۳﴾ د سپوګمۍ دوه ټوټې کیدل

الله تعالی په خپل مقدس کتاب قران مجید کې فرمایي ﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝ وَاِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝﴾ [۱].

ژباړه:

را نږدې شو قیامت او څیرې دوه ټوټې شوه سپوږمۍ. او که ويني دغه (کفار د قریشو) کوم دلیل د (قدرت) نو پر څنګ به شي دوی (مخ به واړوي) ترې او وايي به دوی (دغه) سحر کوډې دي قوي ځې له پخوا را هسې راځي.

حافظ ابن کثیر رحمه الله د دغه آیت کریمه په تفسیر کې ویلي چې د (انشقاق قمر) دا واقعه د نبي کریم ﷺ په ژوند مبارک کې مخته راغلې وه. کومه چې په صحیح سند سره ثابته او په متواتر حدیث کې د هغې ذکر موجود دی. د امت د علماؤ په دې خبره باندې اتفاق دی چې دا واقعه د نبي کریم ﷺ په ژوند مبارک کې مخته راغلې وه او دا د نبي کریم ﷺ له معجزو څخه یوه حیرانونکې معجزه ده [۲].

---

[۱] القمر: ۱: ۲

[۲] تفسیر ابت کثیر. القمر. ۱: ۲.

حضرت انس بن مالک ﷺ بیان کوي : چې د مکې خلکو له نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې هغه ﷺ ورته کومه نښانه ور ښکاره کړي نو نبي کریم ﷺ ورته سپوږمۍ په دوو ټوټو کېدلو سره وروښودله [۱].

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمایي : یو ځل مونږ په منا کې له نبي کریم ﷺ سره وو چې یو ناڅاپه سپوږمۍ وچاودله او په دوو ټوټو کې سره تقسیم شوه. یوه ټوټه یې د غره شاته او بله یې مخته وغورځیدله. رسول الله ﷺ مونږ ته وفرمایل : ګواه اوسئ [۲].

﴿۴﴾ د صحابه کرامو ﷺ له دنیا څخه تلل

د نبي کریم ﷺ له ذات ګرامي وروسته صحابه کرام ﷺ د دغه امت افضل ترین خلک دي، د حضرت ابوموسی اشعری ﷺ حدیث دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل : د آسمان ستوري د آسمان لپاره د امن او سلامتي ضمانت دی. کله چې ستوري ختم شي نو هغه قیامت به راځي د کوم چې وعده شوې ده او زه د صحابه کرامو ﷺ لپاره امن او سلامتي یم. کله چې زه لاړ شم نو په صحابه ؤ ﷺ باندې به هغه حالت راځي د کوم چې وعده شوې ده او زما صحابه د امت لپاره د امن او سلامتي ضامن دي. کله چې صحابه کرام ﷺ لاړ شي نو په امت کې به هغه اختلاف او انتشار مخته راشي د کوم چې له هغوی سره وعده شوې ده [۳].

له دې حدیث څخه معلومه شوه چې نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ له دنیا څخه تلل د قیامت له دوو نښانو سره یو ځای کړل او وې فرمایل : یو د نبي کریم ﷺ وفات او دویم د ستوریو ختمیدل او د شهابونو غورځیدل.

---

[۱] صحیح البخاری. المناقب. حدیث: ۳۶۳۷. وصحیح مسلم. صفات المنافقین. حدیث: ۲۸۰۲.
[۲] صحیح البخاري. المناقب. حدیث: ۳۶۳۶. وصحیح مسلم. صفات المنافقین. حدیث: ۲۸۰۰.
[۳] صحیح مسلم. فضائل الصحابه. حدیث: ۲۵۳۱.

له احاديثو څخه دا هم ثابته ده چې له دنيا څخه به نيک خلک يو يو ځي او بالاخر به په بدترينو خلکو باندې قيامت قايمېږي.

﴿۵﴾ د بيت المقدس فتح

کله چې د نبي کريم ﷺ بعثت وشو نو په دې وخت کې په بيت المقدس باندې د سلطنت روم د عيسايانو قبضه وه. سلطنت روم په دې وخت کې ډېر طاقتور او با اختياره حکومت ؤ. په هماغو حالاتو کې نبي کريم ﷺ د مسلمانانو په لاس د بيت المقدس د فتح خوشخبري واوروله او هغه يې د قيامت په نښانو کې شمار کړه. لکه څرنګه چې د عوف بن مالک ﷺ په حديث کې راغلي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: شپږ نښاني له قيامت څخه د مخه شمار کړی او په هغوی کې يوه نښانه حضور ﷺ د بيت المقدس فتح بيان کړه [1].

بيت المقدس د سيدنا حضرت عمر فاروق ﷺ په عهد خلافت کې په سنه (۱۶ هجري مطابق/ ۶۳۷ عيسوي) کې فتح شو. هغه بيت المقدس له کفر څخه پاک کړ او په هغه کې يې يو مسجد جوړ کړ.

بيت المقدس دوه ځلې فتح شوی. يو ځل د حضرت عمر فاروق ﷺ په عهد خلافت کې او دويم ځل د سلطان صلاح الدين ايوبي د حکومت په سنه (۵۸۳ هجري مطابق/ ۱۱۷۸ عيسوي) دور کې او يو ځل به بيا د الله تعالی ﷻ په حکم سره د يوه مسلمان ټولي په لاسونو فتح کيږي. حتی چې ونې او بوټي به هم خبرې کوي او وايي به اې مسلمانه! اې د الله بنده! دغه يو يهودي زما تر شا پټ شوی. راشه دغه زر قتل کړه [2].

[1] - صحيح البخاری. الجزية والموادعة. حديث ۳۱۷۲.
[2] - صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۲۱.

په راتلونکو صفحو کې به انشاء الله د بيت المقدس په سلسله کې د مسلمانانو او يهودو تر مينځ د کيدونکو ځينو جنګونو ذکر به راشي[١].

﴿۶﴾ د ميګو په قعاص مرض د خلکو په کثرت سره مرګ

دا هم د قيامت له نښانو څخه ده او په دغه حديث کې موجود يو لفظ (موتان) د مبالغې صيغه ده، د کومې چې معنا ده مرګ به په کثرت سره واقع کيږي. لکه څرنګه چې په وبائي مرضونو کې خلک د سيکړو او زرګونو په شمير کې د مرګ ښکار کيږي.

وئيل شوي چې دا نښانه به د طاعون عمواس [٢] په صورت کې واقع کيږي، طاعون يو وبائي مرض دی. په دې کې به سوزش د جسم په کومه برخه کې ښکاره شي او له هغه سره به مريض په ډير شديد درد او تکليف کې مبتلاء وي. دا مرض ډير متعدي او مهلک دی.

حضرت عوف بن مالک ﷺ روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: له قيامت څخه وړاندې شپږ شيان شمار کړی او هغه ﷺ په هغوی کې د ﴿مُوْتَانٌ كَقُعَاصِ الْغَنَمِ﴾ [٣] يعنې په وبايي امراضو سره د زياتو مرګونو ذکر يې هم وکړ لکه څرنګه چې د ميګو رمه د متعدي امراضو ښکار کيږي همدا شان به د انسانانو مرګ هم وي.

په اسلامي امت کې دا واقعه د حضرت سيدنا عمربن الخطاب ﷺ په عهد خلافت کې د بيت المقدس له فتحې له ۱۶ هجري کال وروسته په ۱۸ هجري کې منځته راغلې وه. کله چې د شام په زمکه

---

[١] - وګورئ: په علامات صغری کې ۹۵ نمبر علامه.

[٢] - عمواس له بيت المقدس سره نږدې په فلسطين کې د يوه کلي نوم دی. وګورئ: معجم البلدان. مادة. عمواس.

[٣] - صحيح البخاری. الجزية والموادعة. حديث ۳۱۷۶.

د طاعون مرض خپور شو او د الله تعالی مخلوق یې په لوی شمیر کې د مرګ تر خولې ور تیر کړ چې پنځه ویشت زره مسلمانان هم د دغه وبا ښکار شول.

په دغه وبا کې ډیر جلیل القدر صحابه کرام ﷺ هم له دې فاني دنیا څخه رخصت شول. په هغوی کې سیدنا معاذ بن جبل. ابو عبیده، شرحبیل بن حسنه. فضل بن عباس بن عبد المطلب ﷺ او ځینې نور حضرات هم شامل دي.

﴿کَقُعاصِ الْغَنَمِ﴾ یو مرض دی. چې کوم څناور ونیسي، نو د هغه له پوزې څخه یوه ماده خارجیږي او هغه اناً فاناً مړ کیږي. نبي کریم ﷺ د مرګ کثرت له ﴿کَقُعَاصِ الْغَنَمِ﴾ سره له دې امله مشابه کړ چې په طاعون کې به هم په بدن یو داسې زخم وي. له کوم نه به چې یوه سیال ماده خارجیږي او مریض به د هغې له وجهې د مرګ تر خولې رسیږي.

﴿۷﴾ په انواعو او اقسامو سره د فتنو ظهور

دا داسې نښانه ده کومه چې په عصر حاضر کې ښکاره شوې او انسان په ډول ډول فتنو کې بیکاره ژوند تیره وي. په دغو فتنو باندې په یو نظر اچولو سره کوم څه چې مخته راځي په هغوی کې ځینې په لاندې ډول دي.

د بد نظرې فتنه په دې دور کې ښه په زور سره روانه ده. سټلایټ ټي وي چینلونه. فحش میګزین. د انټرنیټ بې حیا ویب سایټونه. ویډیو. د موبایل او کمپیوټري سیډیانو په ذریعه د فحش تصویرونو او فلمونو یوه بل ته لیږل. دا او دا ډول نورې بیشماره فتنې. کوم کس چې د الله تعالی ویره او د هغه تعظیم په ځای راوړي نو هغه دې دا پریږدي او ځان دې ترینه وساتي تر څو چې الله تعالی د ایمان حلوت ورته نصیب کړي.

همدا شان د حرام مال فتنه. سود. رشوت. د نشې خرڅون او د حرام لباس په تجارت سره چې کومې روپۍ ګټل کیږي. دا ټولې د همدې دور

فتنې دي. د حرام مال خوړونکي دعا الله تعالی نه قبلوي او داسې خلکو ته يې ډېر سخت وعيد اورولی دی. همدا شان حرام لباس فتنه ده خواه که په نرانو کې وي او که په ښځو کې. له دې څخه ځان ساتل ډېر ضروري دي. په ننی زمانه کې فتنو داسې په کثرت سره زور کړی که چيرته کوم متقي انسان د پاک اوسيدلو کوشش وکړي نو هغه په خلکو کې اجنبي تر سترګو کيږي.

(الفتن) د فتنة جمع ده، په معنا د امتحان او ازمايښت سره ده. د هر مکروه او ناخوښ شي لپاره دا لفظ استعماليدلای شي، نبي کريم ﷺ له ډيرو داسې دردناکو فتنو څخه خبر ورکړی په کومو کې به چې په بوه مسلمان باندې حق ګډ وډ کړی شي. کله چې کومه يوه ظاهره شي نو مؤمن به وايي: دا فتنه زما د هلاکت باعث ده. بيا چې کله دا فتنه ورکه شي نو د هغې په ځای به بله دويمه فتنه راشي.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل:

﴿قال بادروا بالأعمال فتنا كقطع الليل المظلم يصبح الرجل مؤمنا ويمسي كافرا أو يمسي مؤمنا ويصبح كافرا يبيع دينه بعرض من الدنيا﴾

ژباړه:

د تورې شپې د فتنو له سيلابونو څخه وړاندې نيک اعمال وکړئ. يو سړی به د صبا په وخت کې مؤمن وي مګر له ماښام کيدو مخکې به کافرشي يا به د ماښام په وخت کې مؤمن وي مګر له صبا کيدو مخکې به کافر شي. انسان به د معمولي دنيوي فايدې په عوض کې خپل دين خرڅوي (١).

---

(١) صحيح مسلم. الايمان. حديث: ١١٨.

د حديث معنا:

په دې حديث کې ترغيب دی چې د داسې وخت له راتلو مخکې په کوم کې چې نيک عمل کول بې حده ډير مشکل دي. نيک عمل وکړی. د پيوسته ظاهريدونکو او د مشغوليدونکو فتنو له دور څخه وړاندې کومې چې د تورې تيارې شپې په څير دي او سپوږمۍ په هغه کې نه تر سترګو کيږي، نيک اعمال په ځای راوړئ.

نبي کريم ﷺ د همدغو فتنو د شدت احساس په دې طريقه بيان کړی چې يو انسان به د ماښام په وخت کې مؤمن وي او له صبا کيدو د مخه به کافر شي. يا دا چې د صبا په وخت کې به مؤمن وي مګر له ماښام کيدو د مخه به کافر شي. دا به له دې امله کيږي چې فتنې به ډيرې غټې او دردناکې وي. د هغوی له امله به په انسان کې په يوه ورځ کې دا بدلونونه ظاهريږي.

﴿٨﴾ د سټلايټ چينلونو ډيروالی

نن ورځ کم از کم ديارلس زره سټلايټ چينلونه له فضاء څخه نشريات کوي، کوم چې د فتنو او بدو کارونو د نشرولو ذريعه جوړه شوې. په تير شوي حديث کې د همدغو فتنو لور ته عمومي اشاره موجوده ده په کوم کې چې نبي کريم ﷺ فرمايلي ؤ ﴿بادروا بالأعمال فتنا كقطع الليل﴾ ليکن په ځينې نورو احاديثو کې د همدغو چينلونو او د هغوی د بيکاريو لور ته نسبتا واضح اشاره هم پيدا شوې. امام ابن ابی شيبة په خپل مصنف کې په صحيح سند سره له حضرت حذيفة بن يمان ﷺ څخه روايت ذکر کړی چې هغه فرمايلي ﴿ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يُصَبَّ عَلَيْكُمَ الشَّرُّ من السَّمَاءِ حَتَّى يَبْلُغَ الْفَيَافِيَ﴾ (١) له ما سره ويره ده چې پر تاسو باندې له آسمان څخه شر نازل شي کوم به چې

---

(١) المصنف لابن ابی شيبة: ١٥/ ١١٠.

تر (فیافي) پورې ورسیږي. وی وئیل ابو عبد الله: دا (فیافي) څه شی دی؟ هغه ورته وویل: شاړې او بې خبره زمکې.

د عربو په لغت کې د (السماء) لفظ د هر هغه شي لپاره ویل کیږي کوم چې پر انسان له پاسه وي، د لغت په مشهور کتاب (لسان العرب) کې دي: سماء هر هغه شي ته ویل کیږي کوم چې بلند وي او پر تاسو بې سیوری کړی وي[1].

تې وي د هر هغې فتنې. ناوړه اخلاقو او د لهو لعب استقبال کوي کوم چې له مصنوعي سیارې نه تې وي ته رارسیږي حتی چې نن صبا خو په ځنګلونو او سحراؤ کې خیمې هم له همدغې فتنې څخه محفوظې نه دي.

﴿٩﴾ د رسول الله ﷺ د جنګ سفین په باره کې پیشنګوئي

د قیامت په نښانو کې هغه جنګونه او معرکې هم شاملې دي د کومو په باره کې چې نبي کریم ﷺ خبر ورکړی. خواه دغه جنګونه د مسلمانانو او کافرانو تر مینځ وي یا په خپله د مسلمانانو په مینځ کې وي، د مسلمانانو په مینځ کې له جنګونو څخه یو جنګ سفین هم دی. کوم چې د حضرت عثمان رضي الله عنه له شهادت څخه وروسته د حضرت علي او حضرت معاویه رضي الله عنهما فوځونو په مینځ کې په سنه (٣٦ هجري) کې وشو.

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه بیان کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: ﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ يَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ وَدَعْوَتُهُمَا وَاحِدَةٌ﴾.

ژباړه: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې دوه غټې ډلې په خپل مینځ کې جنګ سره ونکړي. د دوی په مینځ کې به د قتل او خونریزي یوه لویه معرکه برپا کیږي. سره له دې چې د دواړو ډلو دعوه به هم یوه وي[2].

---

[1] لسان العرب. مادة: سما.

[2] صحیح البخاری. الفتن. حدیث: ٧١٢١. صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ١٥٧. بعد الحدیث: ٢٨٨٨.

تنبیه: د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مینځ کې د پیدا شوې فتنې په باره کې د اهل السنت موقف.

د نبي کریم ﷺ صحابه عام بشر دي. له هغوی رضی الله عنهم څخه هم هغه کارونه کیدلای شي کوم چې له عامو انسانانو څخه صادریږي. هغوی اجتهاد هم کوي. خطائي هم پکې واقع کیږي. د هغوی په مینځ کې تکرار هم کیږي او کله کله خبره تر جنګ هم رسیږي. د ټولو اهل السنت په دې خبره اتفاق دی چې صحابه کرام رضی الله عنهم له تمام مخلوق څخه نیک، صالح او د نبي کریم ﷺ سیرت او سنت ته ډیر نږدې دي. د صحابه کرامو رضی الله عنهم تر مینځ چې کوم اختلافات واقع شوي. د هغوی په باره کې د اهل السنت متفقه موقف دا دی چې په مشاجرات صحابه ؤ باندې مکمل خاموشي اختیار کړل شي. په هغوی کې د هیڅ کوم صحابي په باره کې باید څه ونه وئیل شي. د هغوی تر مینځ د جنګونو موضوع باید د ځانونو لپاره بحث جوړ نه کړل شي. بیا ځې باید هغوی ته نظر وکړل شي نشر او اشاعت یې ونه شي. د هغوی جنګونه د عوام الناس په مینځ کې د پورته کیدو او د امت په مینځ کې د فتنو د سر راپورته کیدلو باعث جوړیږي او د خلکو په زړونو کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کې سوء ظن پیدا کیږي.

د نجات موندونکې ډلې اهل السنت مسلک دا دی چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کې ژبې بندې کړل شي او د ټولو احترام وکړل شي.

﴿۱۰﴾ د خوارجو ظهور

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې په امت کې به د نبي کریم ﷺ او د صحابه کرامو رضی الله عنهم له منهج او طریقو څخه مخالفې څه ډلې (فرقې) به پیدا شي. له هغوی څخه یوه فرقه خوارج هم دي. دا د حضرت علي رضی الله عنه د ډلې خلک دي کوم چې له هغه سره یو ځای په جنګونو کې شریک شوي ؤ. کوم

وخت چې د حضرت علي ﷺ او د حضرت امیر معاویه ﷺ تر مینځ د (تحکیم) معامله منځته راغله نو دوی له حضرت علي ﷺ څخه منحرف شول او کوفې ته نږدې په (حروراء) نامي کلي کې اباد شول.

د هغوی عقاید:

(۱) هغوی هغه خلک چې د کبیره ګناه کوونکي وي لکه زنا کونکي او شراب څښونکي ټول کافر او دائمي جهنمیان بولي. د دوی دا عقیده ښکاره ګمراهي ده، ځکه چې حق خبره دا ده که یو مسلمان کبیره ګناه وکړي نو هغه ته کافر نه وئیل کیږي. بلکه هغه ته د دغې ګناه له امله نافرمان او فاسق ویل شوي دي او په هغه باندې لازمي ده چې توبه وکړي او له دا رنګه ګناهونو څخه را وګرځي.

(۲) هغوی حضرت علي ﷺ او حضرت امیر معاویه ﷺ دواړه کافر بولي او د هغو صحابه کرامو ﷺ لوی شمیر کوم چې د تحکیم په فیصلې راضي ؤ د دوی په نزد هغه ټول کافر دي.

(۳) هغوی له فاسق واکمن سره جنګ کول ضروري بولي، خواه هغه د کفر ارتکاب کړی وي او که نه.

هغوی ځانونه اهل علم بولي، په عباداتو کې ډیر سخت مشقت کوي. د هغوی یو لوی شخص (ذوالخویصره) [1] دی د کوم په باره کې چې نبي کریم

[1] - حضرت ابو سعید خدري ﷺ بیان کوي چې یو ځلې مونږ د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر ؤ. نبي کریم ﷺ په خلکو کې مال تقسیمولو. په دې موقع کې له بنو تمیم سره تعلق لرونکی یو شخص د کوم نام چې (ذوالخویصره) ده راغی او وی ویل: اې محمد ! دا مال په انصاف سره تقسیم کړه. نبي کریم ﷺ وفرمایل: ته تباه شوی ! دا ووایه که چیرته زه عدل ونه کړم نو بیا به څوک عدل کوي. که چیرته زه د الله رسول یم او عدل ونه کړم نو زه به ناکام او نامراد شم. دا بې چې ولیدل نو سیدنا عمر ﷺ وویل: اې د الله رسول ! ما ته اجازه وکړه چې زه د دغه سړي غاړه والوزوم. نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا وپیږنی. د ده یو شمیر داسې ملګري دي چې په تاسو کې به یو شخص د هغوی په مقابله کې خپل لمانځه باندې معمولي خیال وکړی او په خپله روژه باندې به د هغوی د روژو په مقابل کې د کم سختي ګومان وکړی. دا خلک د قرآن تلاوت

ﷺ فرمایلي: ﴿يَمْرُقُونَ مِنْ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنْ الرَّمِيَّةِ﴾ دا خلک به له دین څخه داسې وځي لکه څنګه چې یو تیز غیشی له ښکار څخه صاف ستره د باندې ووځي.

د خوارجو د ظهور اغاز:

کله چې جنګ سفین ختم شو او اهل شام او اهل عراق دواړو ډلو په تحکیم باندې اتفاق وکړ او حضرت علي ﷺ د کوفې په لور روان شو نو خوارجو په لار کې له هغه څخه جدایي اختیار کړه. په لښکر کې د هغوی شمیر اته (۸۰۰۰) زره ؤ او د ځینې روایتونو مطابق د هغوی شمیر شپاړس (۱۶۰۰۰) زره ؤ. دا خلک په حروراء کې پاتې شول. حضرت علي ﷺ د هغوی د پوهیدو لپاره حضرت عبد الله بن عباس ﷺ ولیږه. هغه له دغو منحرفینو سره مناظره وکړه.

ډیر کوي. مګر قران د دوی له ستوني څخه د دوی زړونو ته ښکته نه ورکوزیږي. دا به له دین څخه داسې ووځي لکه څرنګه چې یو تیز غشی له ښکار څخه د باندې ووځي. د هغه غیشي چې سر وکتل شي نو هیڅ به پرې نه وي. بیا چې د هغه بیخ وکتل شي نو هلته به هم هیڅ نه وي. بیا چې د هغه لرګی وکتل شي هلته به هم هیڅ نه وي. بیا چې د هغه (پرکو) وکتل شي نو هلته به هم هیڅ شی نه وي. هغه به له خوښو او وینو څخه ډیر په تیزۍ سره وتلی وي. مطلب دا چې د دغو خلکو ته به هیڅ معلومه نشي او دوی به د خپلو سرکشیو له امله له اسلام څخه وتلي (خارج) وي. لکه څرنګه چې یو ښکاري د هوسۍ ښکار کوي او د هغه غشی د ځناور په جسم کې داخل شي او هغه بل لور ته ځینې ووځي. ښکاري داسې ګمان وکړي چې غشی بې په ځناور نه دی لګیدلی. سره له دې چې هغه د ځناور له جسم څخه د باندې وتلی وي. د هغوی نښه یو تور رنګی شخص دی. د هغه د بازو او ولیو د مینځ برخه به د ښځو د سینې په څیر وي. غوښه به یې د هغې ټوټې په څیر وي کومه چې مضطرب او متحرک اوسي. دا ډله هغه وخت ظاهریږي کله چې به خلکو کې اختلاف ظاهره شي. (صحیح البخاری. المناقب. حدیث: ۳۶۱۰. وصحیح مسلم. الزکاة. حدیث: ۱۰۶۴.

مناظره: ابن عباس ﷺ وايي: کله چې خوارج له لښکر څخه جدا شول نو دوی په يوه کور کې سره جمع شول. د هغوی شمير شپږ زره ؤ. هغوی په خپل مينځ کې مشوره وکړه او په دې خبره سره متفق شول چې دوی به د حضرت علي ﷺ په مقابل کې د جنګ کولو لپاره راووځي.

خلک حضرت علي ﷺ ته مسلسل راتلل او خبر يې ورکاوه چې خوارج د هغه په خلاف د جنګ کولو لپاره تياری کوي.

حضرت علي ﷺ وويل: هغوی پريږدی. تر څو چې هغوی زما په مقابل کې جنګ شروع نه کړي تر هغه زه هم هغوی ته څه ويل نه غواړم. مګر هغوی به ضرور راووځي او جنګ به کوي. يوه ورځ زه د ماسپښين لمانځه په وخت کې د حضرت علي ﷺ په حضور کې حاضر شوم او عرض مې وکړ: اې اميرالمومنين! نن د ماسپښين لمونځ لږ يخ کړه او په تاخير سره يې اداء کړه. کېدلای شي زه نن د خوارجو لور ته ولاړ شم او د هغوی د پوهيدو کوشش وکړم.

هغه راته وويل: له ما سره انديښنه ده هسې نه چې هغوی تا ته کوم ضرر ورسوي.

ما عرض وکړ: که الله ته خوښه وي نو داسې به هيڅکله نه کوي.

زه چونکه خوش اخلاقه ؤم او هيچا ته مې کوم ضرر نه ؤ رسولی. نو ځکه اميرالمومنين ما ته اجازت راکړ. ما يو بهترين يمني لباس په تن کړ او ځان مې ښه برابر جوړ کړ او د ماسپښين په وخت کې هغوی ته ور ورسيدم.

زه د داسې خلکو لوري ته ورغلم چې ما له دوی څخه ډير عبادت کونکي نه ؤ ليدلي. د هغوی تندي د سجدو په نښانو ښايسته وي. د زيات عبادت له امله د هغوی لاسونه د اوښ د هغې برخې په څير سخت شوي وو کومه چې پر زمکه باندې د لګولو له امله سخته شوې وي. هغوی صاف سترد قميصونه اغوستي ؤ. د هغوی مخونه د هغوی د شپې تيرولو شاهدان ؤ.

ما په هغوی باندې سلام واچاوه.

هغوی وویل: مرحبا. ابن عباس: څنګه راغلې؟

ابن عباس: زه تاسو ته د انصارو او مهاجرینو او د رسول الله ﷺ د تره زوی علی ابن ابی طالب ﷺ له لوري نماینده راغلی یم. واورئ! د همدغو خلکو په موجودګي کې قرآن نازل شوی او هغوی د هغه په تفسیر او تاویل کې له تاسو څخه ډیر علم لري.

په هغوی کې یوې ډلې وویل: مونږ له قریشو سره جنګ نه کوو. الله تعالی فرمایلي ﴿بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ﴾ (١) هغه په خپله جګړه مار خلک دي.

په هغوی کې دوو یا دریو کسانو وویل: مونږ له ده سره خبرې کوو.

ابن عباس: تاسو چې د نبي کریم ﷺ د تره په زوی، په مهاجرینو او انصارو چې کوم اعتراضونه لری را وړاندې شئ هغه وړاندې کړی. په هغوی باندې قرآن نازل شوی. په تاسو کې هیڅوک داسې نشته کوم چې له هغوی څخه په قرآن ډیر عالم وي.

خوارج: زمونږ په هغه درې اعتراضونه دي.

ابن عباس: بیان یې کړی؟

خوارج: اولین اعتراض دا دی چې هغه د الله تعالی د حکم په مقابل کې انسانان منصف جوړ کړي. سره له دې چې د الله تعالی فرمان په قرآن کې موجود دی چې ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ (٢) حکم له الله تعالی څخه پرته هیچا لره نشته. اوس نو د الله تعالی له دغه فرمان څخه وروسته انسانانو ته څه حق حاصل دی چې هغه د یو چا لپاره حکم جوړ شي.

ابن عباس: دا خو یوه خبره شوه بله کومه یوه ده؟

---

(١) الزخرف. آیة ٥٨

(٢) لانعام، آیة ٥٧

خوارج: هغه له یوې ډلې سره جنګ وکړ. د هغې ډلې څه خلک یې قتل هم کړل. لیکن نه یې ښوک بندیان کړل او نه یې غنیمت جمع کړ. که چیرته هغوی مسلمانان وو نو زمونږ لپاره له هغوی سره د جنګ کول څنګه جائز شول او په هغوی کې مو ښوک بندیان هم نه کړل؟

ابن عباس: دریمه خبر بیان کړئ؟

خوارج: هغه د صلح د معاهدې لیکلو په وخت کې له خپل نامه څخه د امیرالمومنین لفظ رنګ کړ. که چیرته هغه امیرالمؤمنین نه وي نو آیا هغه بیا امیرالکافرین دی؟

ابن عباس: نور څه؟

خوارج: بس همدومره خبرې کافي دي.

ابن عباس: تر کومه ځایه چې د ستاسو دا خبره ده چې هغه د الله تعالی د شریعت په معامله کې انسان حکم جوړ کړ زه به د الله تعالی د کتاب څو آیتونه تلاوت کړم کوم به چې د ستاسو د خبرې تردید کوي. که چیرته داسې وشول نو آیا تاسو بیا له خپل موقف څخه تیریږئ؟

خوارج: هو! بالکل.

ابن عباس: الله تعالی د یوه خرګوش په معامله کې د کوم قیمت چې د درهم له څلورمې برخې څخه زیات نه دی له خپل حکم څخه فیصله اړولې او انسان ته یې سپارلې. ما دغه آیة کریمه تلاوت کړ ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ ۚ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ﴾ (١).

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعني اې مؤمنانو) مه وژنئ تاسې ښکار حال دا چې تاسې محرمان اوسئ: او هر هغه څوک چې

---

(١) المائدة، آية: ٩٥.

ووژني دا (ښکار) له تاسې څخه په قصد سره نو (پرې) بدل دی په مثل د هغه چې وژلی (یې) دی له چارپایانو څخه چې حکم به کوي په هغه سره دوه خاوندان د عدل (انصاف) له تاسې (مسلمانانو) څنې.

د ښځې او سړي په معامله کې د خدای تعالی ﷻ فرمان دی: ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا﴾ (۱).

ژباړه:

او که ویرېږئ تاسې له مخالفت څخه په مېنځ د مېړه او ښځې کې نو ور ولیږئ (مقرر کړئ تاسې) یو منصف له خپلوانو د دې سړي او بل منصف له خپلوانو د دې ښځې نه.

زه تاسو ته د الله تعالی قسم درکوم او در څخه پوښتم آیا د انسانانو تحکیم د یوه خرګوش په قتل او د یوې ښځې په معامله کې افضل دی یا د مسلمانانو تر مېنځ د معاملاتو په درستوالي او د هغوی تر مېنځ د خونریزي په بندولو کې افضل دی؟

خوارج: بلکه همدغه افضل دی.

ابن عباس: دا خبره ختمه شوه؟

خوارج: هو! ختمه شوه.

ابن عباس: تر کومه ځایه چې د ستاسو دا وئیل دي چې هغه جنګ وکړ او مخالفین یې بندیان نه کړل او نه یې د غنیمت په مال باندې قبضه وکړه نو تاسو ما ته دا ووایې آیا تاسو د خپلې مور ام المؤمنین عائشة رضي الله عنها بندي کولو ته تیار یاست؟ په الله تعالی قسم! که چیرته تاسو دا ووایاست چې هغه زمونږ مور نه ده نو تاسو له اسلام څخه وځی او که چیرته تاسو دا ووایاست چې هو! مونږ د هغې بندي کولو ته او له هغې سره د مریې په څیر سلوک

---

(۱) النساء آیة: ۳۵.

کولو ته تيار يو نو بيا هم تاسو له اسلام څخه خارجيږئ. تاسې په دواړو صورتونو کې د گمراهي ښکار کيږئ. ځکه چې د الله تعالی فرمان دی:

﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ﴾ (١).

ژباړه:

(محمد الله) نبي ډير وړ دی له مؤمنانو سره له نفسونو د دوی (د احکامو په انجام) او ښځې د دغه (نبي الله) ميندې د دوی دي (تعظيماً او تحريماً)

ابن عباس: څنگه دا خبره تاسو منئ؟

خوارج: هو! منو يې

ابن عباس: تر کومه ځايه چې د ستاسو د هغې خبرې تعلق دی چې حضرت علي رضي الله عنه له خپل نامه څخه د امير المومنين لفظ رنگ کړ نو تاسو ښه پوهيږئ چې د الله تعالی رسول ﷺ چې د حديبيه په ورځ د مشرکينو له نماينده گانو ابوسفيان بن حرب او سهيل بن عمرو سره صلح نامه ليکله. نو نبي کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته حکم وکړ چې هغه د صلح شرائط وليکي، حضرت علي رضي الله عنه وليکل! د دغه تحرير له مخې محمد رسول الله د مکې له قريشو سره صلح وکړه. مشرکينو وويل: په الله قسم! مونږ نه يو پوهيدلي چې ته د الله رسول يې. که چيرته مونږ پوهيدلي وای چې ته د الله رسول يې نو هيڅکله به مو جنگ نه ؤ کړی. بيا نبي کريم ﷺ وويل. اې الله! ته ښه پوهيږې چې زه رسول الله يم. اې علي! دا رنگ کړه او داسې وليکه دا هغه معاهده ده د کومې مطابق چې محمد بن عبد الله صلح کړې. په الله قسم! رسول الله ﷺ له حضرت علي رضي الله عنه څخه ډير زيات افضل او بهتر دی او که چيرته هغه د صلح په خاطر له خپل نام څخه رسول الله رنگ کړی وي نو د حضرت علي رضي الله عنه لپاره د داسې کار کول بيا څنگه ناجائز کيدلای شي؟

---

(١) الاحزاب، آيه: ٦.

د حضرت عبد الله ابن عباس ﷺ له دلایلو څخه لا ځواب شول. دوه زرد توبه کونکي شول او باقي نور ټول د جنګ کولو لپاره ووتل. مګر ټول قتل کړی شول (۱).

د دغه بحث او مناظرې په نتیجه کې ځینو خوارجو د خلیفة المسلمین حضرت علي ﷺ اطاعت دوباره قبول کړ او ځیني نور په خپله ګمراهي باندې قایم پاتي شول. حضرت علي ﷺ د کوفې په مسجد کې هغوی ته خطاب کاوه نو هغوی د مسجد له دریچو څخه وئیل (لاحکم الا لله) هغوی دا هم وئیل: ته د شرک مرتکب شوی یې. ځکه چې تا خلک حکم جوړ کړي. مګر کتاب دې حکم نه دی جوړ کړی.

سیدنا علي ﷺ د هغوی په ځواب کې وویل: زه له تاسو سره د دریو خبرو وعده کوم.

(۱) زه تاسو مسجدونو ته له راتلو نه منع کوم.
(۲) زه د فی په مال کې د ستاسو برخه نه ورکوم.
(۳) زه له تاسو سره د جنګ په کولو کې لومړیتوب نه کوم. په دې شرط چې تاسو په خپله شر فساد شروع نه کړی.

له دې وروسته هغوی په یوه ځای کې کمین ګاه جوړه کړه او چې کله به هم کوم مسلمان دوی ته نږدې تیریده نو هغه به یې ونیو او قتل به یې کړ. د دوی دغه لاس اوږدونه دې حد ته را ورسیده چې دوی جلیل القدر صحابي حضرت عبد الله بن حباب بن ارت ﷺ هم قتل کړ او د هغه د اهلیه محترمې خیټه یې ور څیرې کړه. حضرت علي ﷺ هغوی ته پیغام ور ولیږه تر څو هغوی ورته ووایي چې دا چا قتل کړل؟ په ځواب کې خوارجو وویل: مونږ ټولو هغه قتل کړ. حضرت علي ﷺ د

---

(۱) المصنف لعبدالرزاق: ۱۰/ ۱۵۷. والمستدرک للحاکم: ۲/ ۱۵۰ او دا امام حاکم د بخاري او مسلم د شرائطو مطابق صحیح بللی

جنګ لپاره تیاری وکړ او د نهروان په مقام کې یې د یوه سخت جنګ په نتیجه کې هغوی ته یو په خلوره بدترین شکست ورکړ.

﴿ ١١ ﴾ د دروغژنو مدعیانو د نبوت ظهور

د قیامت له نښانو څخه د داسې دجالي او دروغژنو خلکو ظهور هم دی کوم چې د نبوت دعوه کوي او د خپلو خرافاتو او باطلو خبرو په ذریعه فتنه پیدا کوي. نبي کریم ﷺ امت ته خبر ورکړی چې د همدغو دروغژنو مدعیانو شمیر دیرش (٣٠) ته نږدې دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبًا مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ﴾

ژباړه:

قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې دیرشو ته نږدې دروغژن دجالان پیدا نشي. په هغوی کې به هر یو دا دعوه کوي چې دی د الله رسول دی (١).

دا نښانه هم ظاهره شوې، په پخوانۍ او اوسنۍ زمانه کې دنبوت ډیر دروغژن مدعیان مخته راغلي. هیڅ بعیده نه ده چې له لوی دجال (الله تعالی دې مونږ ټول د هغه له شر څخه وساتي) څخه مخکې مخکې د نبوت یو څه دعواداران راشي. رسول الله ﷺ یوه ورځ خطبه وئیله وې فرمایل: په الله قسم! قیامت نه قایمیږي تر څو چې دیرش دروغژن دجال ظاهر نشي. په دې سلسله کې آخیري کړۍ د مسیح دجال ده (٢).

حضرت ثوبان ﷺ روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې زما د امت یو شمیر قبایل دوباره له مشرکینو سره یو ځای نشي او هغوی د بتانو عبادت ونه کړي. زما په امت کې به دیرش

---

١. صحیح البخاري، المناقب، حدیث ٣٢٠٦
٢. مسند احمد: ٥/ ١٢.

دروغژن ظاهر شي او په هغوی کې به هر یو ګمان کوي چې نبي دی. حالانکه زه خاتم النبیین یم، له ما وروسته هیڅ نبي نشته (١).

همدا شان په یوه بل حدیث کې نبي کریم ﷺ د اوه ویشتو (٢٧) د نبوت د دروغژنو مدعیانو خبر ورکړی. په هغوی کې به څلور ښځې وي، په هغوی کې به هر یو دعوه کوي چې هغه د الله رسول دی.

سیدنا حذیفة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما په امت کې به اوه ویشت دروغژن دجال. د نبوت مدعیان به پیدا شي. په هغوی کې به څلور ښځې وي، زه خاتم النبیین یم. له ما وروسته هیڅ نبي نشته (٢).

د دغو خلکو لوی شمیر په ماضي کې ظاهر شوی.

(١) د رسول الله ﷺ د ژوند مبارک په آخیري ورځو کې په یمن کې اسود عنسي له اسلام څخه مرتد شو او د خپل ځان د نبي کیدو اعلان یې وکړ. د ده ارتداد په عهد رسالت کې واقع کیدونکی تر ټولو اولین ارتداد دی. د هغه جنګي منګرو په دریو یا څلورو میاشتو کې پیش قدمي وکړه او د یمن په ټولو سیمو یې قبضه وکړه. نبي کریم ﷺ د یمن مخلصو مسلمانانو ته پیغام ولیږه چې دغه دروغژن دجال قتل کړي، هغوی د نبي کریم ﷺ حکم ته لبیک وویل او د هغه د ښځې په مرسته یې هغه وواژه. د هغه ښځې پر الله تعالی او د هغه پر رسول ﷺ ایمان درلود. اسود د همدغې ښځې میړه قتل کړ او په زور یې له هغې سره واده وکړ. د هغه له قتل سره سم په یمن کې اسلام او اهل اسلام په غلبه کې شول. د یمن مسلمانانو دغه ټول روداد نبي کریم ﷺ ته لیکلي ور ولیږل مګر الله تعالی هغه ته د شپې د وحي په ذریعه خبر ورکړ او نبي کریم ﷺ یې سره له ټولو صحابه ؤ رضي الله عنهم له ټول

---

١ سنن ابی داؤد، الفتن والملاحم. حدیث: ۴۲۵۲. وجامع الترمذی. الفتن. حدیث: ۲۲۱۹. وهو حدیث صحیح

٢ مسند احمد: ۵/ ۳۹۲. والطبرانی فی المعجم الکبیر: ۳ ۱۷۰.

صورت حال څخه خبر کړل. د دغه دروغژن سړي د نبوت زمانه یو اځې دری یا څلور میاشتې وه.

(۲) د نبوت په دروغژنو مدعیانو کې یو طلیحه بن خویلد اسدي هم دی. مسلمانانو له هغه سره ډیر جنګونه وکړل او بالاخر هغه د زړه په صدق سره مسلمان شو او په اسلامي لښکر کې ور داخل شو. وروسته هغه د الله تعالی په لار کې د کفر په مقابل کې په ډیرو جنګونو کې په لویه ځوانمردي برخه واخیسته او بالاخر د نهاوند په جنګ کې د شهادت په مرګ سرفراز شو.

(۳) د همدغو دروغژنو له جملې څخه یو مسیلمه کذاب هم دی. د ده دعوه دا وه چې یو اځې د شپې په تیاره کې وحې پرې راځي. اولین خلیفه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د مسیلمه کذاب د سرکوبي لپاره یو لښکر د حضرت خالد بن ولید ﷺ، عکرمه بن ابی جهل ﷺ او د شرحبیل بن حسنه ﷺ تر سرپرستۍ لاندې ولیږه، مسیلمه کذاب له اسلامي لښکر سره د څلویښت زره جنګیالیو په ملتیا مقابله وکړه. د دواړو لښکرو تر مینځ ډیر خونریز جنګونه وشول او بالاخر شکست د مسیلمه کذاب او د هغه د لښکر په برخه شو. مسیلمه کذاب د وحشي بن حرب ﷺ په لاس قتل او د جهنم واصل شو. د حق فتح په نصیب شوه او د توحید بیرغ هسک شو.

(۴) د نبوت په دروغژنو مدعیانو کې یوه ښځه سجاح بنت حارث تغلبیه هم ده. د هغې تعلق د عربو له عیسایانو سره دی. هغې د رسول الله ﷺ له وفات وروسته د نبوت دعوه وکړه، د خپلې قبیلې او د نورو قبیلو په زیات شمیر کې خلک د هغې تابعداران جوړ شول. سجاح د خپل لښکر په ملتیا له شاو خوا قبایلو سره جنګونه وکړل او مسلسل یې پیش قدمي وکړه حتی چې تر یمامه ورسیده. هلته هغې د مسیلمه نبوت ومانه او له هغه سره یې واده هم وکړ. کوم وخت چې مسیلمه واصل جهنم شو نو هغه بیرته د خپل قوم بنوتغلب لوري ته راغله. بیا هغه مسلمانه شوه. بصرې ته ولاړه او هلته وفات شوه.

(۵) د تابعینو په زمانه کې او له هغوی څخه په وروسته زمانه کې چې کوم د نبوت دروغژن دعوه داران منظر عام ته راغلي. په هغوی کې د یوه نام مختار بن عبید ثقفي دی. هغه د نبوت له اعلان څخه د مخه شیعه مذهب کمزوری کړ او چې کله د شیعه ګانو یو لوی شمیر خلک د هغه تابعداران شول نو یې وویل ! ما ته جبرئیل له وحې سره راځي. د ده او د مصعب بن زبیر رحمة الله علیه د لښکرو تر مینځ ډیر جنګونه وشول د کومو په نتیجه کې چې مختار ووژل شو.

(۶) له همدې جملې څخه یو دجال حارث بن سعید کذاب هم دی. دغه سړي په دمشق کې د عابد او زاهد سړي په صفت شهرت درلود. بیا هغه دعوه وکړه چې دی نبي دی. کله چې ده ته معلومه شوه چې د ده خبر خلیفه عبدالملک بن مروان ته ور رسیدلای نو دی پټ شو. په اهل بصره ؤ کې یو سړي د هغه ځای معلوم کړ او ده ته په رسیدلو کې کامیاب شو. هغه له حارث سره د لیدو په وخت کې هغه ته داسې وښودله چې ده هم په حارث ایمان راوړی، حارث خپلو نوکرانو ته امر وکړ چې کله هم دا سړی زما لوري ته راځي نو دی به نه منعه کوی. دغه سړي له ټول صورت حال څخه عبدالملک خبر کړ. خلیفه د همدغه سړي په رهنمایي کې د فوځ یو کنډک ولیږه. هغوی حارث ونیو او خلیفه ته یې وړاندې کړ. عبدالملک ځینې علماؤ او فقهاؤ ته هدایت وکړ تر څو هغوی حارث په دې پوه کړي چې د ده خبرې یو شیطاني وهم دی او هغه دې له دې خپلو فاسدو خیالاتو څخه توبه وکړي. مګر هغه انکار وکړ او په خپله خبره یې ټینګار کاوه. چې بیا خلیفه هغه قتل کړ.

(۷) په عصر حاضر کې تقریبا یوه صدۍ د مخه په هندوستان کې یو سړی را ښکاره شو. د هغه نوم مرزا غلام احمد قادیاني دی. ده د نبوت دعوه وکړه او وئیل به یې په ده باندې له آسمان څخه وحي رانازلیږي. هغه دا هم وئیل چې الله تعالی ما ته خبر راکړی چې ته به تر اتیا کلونو پورې په دنیا

کې ژوندکوي، يو څه خاص خلک د هغه تابعداران شول. مګر د حق علماؤ هغه تعقيب کړ. د هغه خود ساخته دلائلو ته يې ښه ځوابونه وويل او دا يې واضحه کړه چې دا نبي نه دی. بلکه دجال او کذاب دی. د دغو علماؤ له ډلې کومو چې د مرزا غلام احمد قادياني ترديد وکړ تر ټولو ډېر خدمت چې کوم سړي کړی هغه جليل القدر عالم حضرت مولانا ثناء الله امرتسري رحمه الله عليه دی، هغه د مرزا غلام احمد قادياني سخت ناقد او په شا کونکی ؤ.

په سنه (۱۳۲۶ هجري مطابق ۱۹۰۸ عيسوي) کې غلام احمد قادياني مولانا ثناء الله امرتسري ته د مقابلې ورانديز وکړ او دعوه يې وکړه چې که په مونږ دواړو کې هر يو دروغژن وي نو هغه به په رښتونې زندګي کې مړ شي. قادياني دعا وکړه : ياالله ! په مونږ دواړو کې چې هر يو دروغژن وي نو هغه په رښتونې زندګي کې له مرګ سره مخامخ کړه او پر هغه باندې د طاعون داسې مرض مسلط کړه کوم چې د هغه د مرګ سبب شي. له دغې دعا څخه يو کال وروسته قادياني د خپلې بد دعا ښکار شو. د مرزا خسر بيان کوي چې کله د مرزا مرض ډېر سخت شو نو هغه زه له خوب څخه راببدار کړم او زه د هغه لوري ته ورغلم او ومې ليدل چې هغه له تکليف څخه ډېر بې تابه دی، هغه زه مخاطب کړم او راته وې ويل ! ما ته دهيضې مرض لګيدلی. دا د هغه آخيري خبره وه او بيا هغه له دې وروسته کوم واضح لفظ په خپله ژبه اداء نکړ او مړ شو (۱).

۱- په خپله مولانا ثناء الله رحمه الله عليه وايي : په رد مرزائيت کې ما خپله لومړنی رساله (الهامات مرزا) ما په ډېر لوی محنت سره وليکله کومه چې دومره زياته مقبوله شوه چې لويو لويو مصنفينو د هغې عبارات په خپلو تصنيفونو کې نقل کړل. د پنجاب پير صاحب (ګولړه) په (سيف چستايي) کې او د حيدر آباد د دکن مولانا انوار الله مرحوم په (افادة الافهام) کې له الهامات مرزا څخه فايده اخيستې. زما د دې خبرې په غبرګون کې مرزا صاحب قادياني هغه د چا خبره چې تنګ آمد بجنګ امد اشتهار ورکړ.
له مولانا ثناء الله صاحب سره آخيري فيصله

بسم الله الرحمن الرحیم. نحمده ونصلی علی رسوله الکریم
(ویستنبئونک احق هو. قل ای وربی انه لحق)
بخدمت مولانا ثناء الله صاحب (السلام علی من اتبع الهدی) له ډیرې مودې راهیسې د ستا پرچه په اهل حدیث کې زما د تکذیب او تفسیق په سلسله کې جاري ده. همیشه زه تا په خپله پرچه کې د مردود. دجال او د مفسد په نام سره منسوب کړی یم او په دنیا کې دې زه په دې مشهور کړی یم چې دا شخص مفتري. کذاب او دجال دی او د دغه شخص د مسیح موعود دعوه سراسر افتراء ده. ما تا ته ډیره حوصله او صبر وکړ. مگر زه چونکه وینم چې زه د حق په خپرولو باندې مامور یم او ته ډیره افتراء پر ما کوي او دنیا له ما څخه اړوي او ما د تهمتونو په هغو الفاظو سره یادوي په کومو سره چې ډیر مضر هم نه یادیږي، که چیرته زه داسې کذاب او مفتري یم لکه څنګه مې چې ته په خپلو پرچو کې اکثر وخت یادوی نو زه به د ستا په ژوند کې هلاک شم. ځکه زه پوهیږمه چې د مفسد او کذاب ډیر عمر نه وي او آخیر هغه له ذلت او حسرت سره د خپل دښمن په ژوند کې ناکام او مړ کیږي، د هغه هلاکیدل بهتر دي تر څو د خدای تعالی بندګان تباه نه کړي او که چیرته زه کذاب او مفتري نه یم او د خدای تعالی په مکالمه او مخاطبه سره مشرف یم او مسیح موعود یم، نو زه د خدای په فضل سره امید لرم چې ته به د سنت الله موافق د مکذبینو له سزا څخه نه بچ کیږې. پس که چیرته هغه سزا کومه چې د انسان په لاسو کې نه ده بلکه یوازې د خدای تعالی په لاسونو کې ده لکه طاعون. هیضه او نور مهلک مرضونه که تا ته زما په ژوند کې ونه رسیدل نو زه د خدای تعالی له لوري څخه نه یم. دا د کوم الهام یا وحی په بناء پیش ګویي نه ده بلکه محض د دعا په طور زه له خپل خدای څخه فیصله غواړم او زه خدای تعالی ته سوال کوم اې زما مالکه. بصیر. قدیر کوم چې علیم او خبیر دی. کوم چې زما د زړه له حالاتو څخه خبر دی. که چیرته دغه د مسیح موعود دعوه محض زما د نفس افتراء وي او زه د ستا په نظر کې مفسد او کذاب یم او شپه او ورځ افتراء کول زما کار وي نو اې زما خوږه مالکه زه په عاجزي سره تا جناب ته دعا کوم چې د مولوي ثناء الله صاحب په ژوند کې ما هلاک کړه تر څو زما په مرګ هغه او د هغه ډله خوشحاله شي، آمین. مګر اې زما کامل او صادق خدایه که چیرته مولوي ثناء الله په هغو تهمتونو کې کوم چې پر ما لګوي په حق نه وي نو زه په عاجزي سره تا جناب ته سوال کرم چې هغه زما په ژوند کې نابود کړه. لیکن په انساني لاسونو سره نه بلکه په طاعون. هیضې او نورو مهلکو مرضونو سره مخکې له دې چې هغه زما په وړاندې یا زما د ډلې پر وړاندې له هغو ټولو تهمتونو او بد زبانیو څخه توبه وکاږي کوم چې هغه فرض کړي او زه یې همیشه وینم، آمین یارب العلمین. زه د هغه د لاسه ډیر په تکلیف کې یم او صبر کوم مګر اوس زه وینم

چې د هغه بد زباني له حد څخه اوښتې، هغه ما له هغو بد اعمالو او غلو څخه بد تر پیزني کوم چې د دنیا لپاره سخت ضرر رسونکي دي. هغه په تهمتونو او بد زبانیو کې په دغه آیت (ولاتقف مالیس لک علم) باندې هم عمل نه کوي او له ټولې دنیا څخه ما بد تر معرفي کوي او تر لیرې لیرې ملکونو پورې یې زما دا نسبت رسولی چې دا شخص په اصل حقیقت کې مفسد. ټګ. دوکاندار، کذاب، مفتري او ډیر بد کاره سړی دی، دا چې د اسې کلمات د حق پر غوښتونکو باندې کوم اثر نه کوي نو زه ځکه صبر کوم، مګر زه وینم چې مولوي ثناء الله د خپلو تهمتونو په ذریعه زما سلسله نابود غواړي او د هغه تعمیر ړنګول غواړي کوم چې تا زما آقا او زما رالیږونکي لپاره په خپلو لاسونو سره جوړ کړی، نو ځکه خو زه د ستا د تقدس او رحمت لمن نیسم او له تا جناب څخه غوښتنه کوم چې زما او د ثناء الله په مابین کې رښتوني فیصله وکړه او کوم چې د ستا په نزد په اصل حقیقت کې مفسد او کذاب وي هغه د صادق په ژوند کې له دنیا څخه ورک کړه او یا یې په کوم بل سخت آفت کې چې د مرګ برابر وي مبتلا کړه، اې زما مالکه ته همداسې وکړه آمین ثم آمین.

(ربنا افتح بيننا وبين قومنا باالحق او انت خيرالفتحين) بالاخر یې له مولوي ثناء الله سره التماس وشو چې هغه د ده دغه مضمون په خپله پارچه کې چاپ کړي او بیا چې څوک څه غواړي هغه دې له دې څخه د لاندې ولیکي، اوس فیصله د خدای په لاس کې دی (الراقم عبد الله الصمد مرزا غلام احمد مسیح موعود عافاه الله وایده، مرقومه یکم ربیع الاول ۱۳۲۵ هجري مطابق ۱۵ اپریل ۱۹۰۷ عیسوي)

مولانا ثناء الله صاحب وایي دا ؤ د مرزا صاحب د دعا د آخیرې فیصلې د اشتهار نفس مضمون او اوس زه وایم چې د هغه د دعا د قبلیدو قرینه څه ده.

مرزا صاحب ویلي: ما بار بار خدای مخاطب کړ چې کله دعا کوم نو له تا یې کوم. (ضمیمه نمبر ۵، تریاق القلوب)

همدا شان فرمایي چې د خدای له لوري ما ته الهام کیږي. کله چې هغه ما مخاطب کړي نو راته وایي زه د ستا هره دعا قبلوم مګر د شرکاء په باره کې نه (تریاق القلوب ضمیمه نمبر ۵. خزان: ۱۵/ ۳۸۲)

همدا شان د مرزا صاحب الفاظ دي، د ثناء الله په متعلق یې چې کوم لیکلي دي، دا په اصل کې زما له لوري څخه نه دي بلکه د خدای له لوري څخه دي هغه یې بنیاد ایښی دی، یو ځل زما توجه د هغه لور ته شوه او په شپه کې راته الهام وشو (اجیب دعوة الداع) د صوفیانو په نزد لوی کرامت د دعا قبلیدل دي. باقي نور ټول د هغه شاخونه دي (بدر. ۲۵ اپریل ۱۹۰۷ ع)

د قیامت تر راتلو پورې به همدغسې د نبوت دروغژن دجالان یو په بل پسې ظاهرېږي تر څو چې هغه شمیر پوره شي د کوم په باره کې چې صادق او مصدق زمونږ نبي کریم ﷺ خبر ورکړی. حتی چې د دغې سلسلې اخیري کړۍ مسیح دجال دی کوم به چې په آخره زمانه کې ظاهر شي (مونږ د هغه له ازمایښت څخه په الله پناه غواړو) بیا به سیدنا عیسی بن مریم علیه السلام تشریف راوړي او هغه به قتل کړي او د هغه فتنې به هم نابودې کړي (١).

یوه پوښتنه

پوښتنه: ځینې خلک د دغې خبرې ښکار دي چې نبي کریم ﷺ خو د نبوت د دروغژنو مدعیانو شمیر دیرش ښودلی او امر واقع او تاریخ د دې خبرې شاهد دی چې د نبوت د مدعیانو شمیر له دې څخه یو څه زیات دی؟

ځواب: د دغې پوښتنې ځواب دا دی چې د نبي کریم ﷺ مراد یواځې هغه دي کومو ته به چې حکومت او شهرت نصیب وي، تر کومه ځایه چې د داسې خلکو تعلق دی کوم به چې له همدغو شیانو څخه محروم وي نو هغه نبي کریم ﷺ په بیان کړی شویو دیرشو کې نه دي شمار کړي، والله اعلم.

﴿۱۲﴾ د امن او خوشحالي ډیروالی

مسلمانانو په مکه مکرمه او مدینه منوره کې ډیره زمانه له دښمنانو سره په قتال، جنګونو او معرکو کې تیره کړه. د هغې باوجود به نبي کریم ﷺ هغوی ته ویل څومره چې میاشتې او کلونه تیرېږي هماغومره قیامت رانږدې کېږي. هومره په امن کې زیاتوالی راځي او خوشحالي عامه کېږي،

بالاخر مرزا د خپلې دعا په نتیجه کې د ربیع الاول ۱۳۲۶ هجري موافق ۲۶ مۍ ۱۹۰۸ عیسوي کې د مولانا ثناء الله امرتسري رحمه الله په ژوند کې د هیضې په مرض سره هلاک شو (تحریک ختم نبوت، ډاکټر محمد بهاؤ الدین: ۳/ ۱۰۵-۱۰۸) (خالد سیف)

(١) د مسیح دجال او د مسیح ابن مریم په باره کې خبره په راتلونکیو صفحو کې په علامات کبری کې په علامه نمبر: ۱ او ۲ کې راځي.

د رسالت مآب ارشاد ګرامي دی ﴿لا تقوم الساعة حتى تعود أرض العرب مروجا وأنهارا وحتى يسير الراكب بين العراق ومكة لا يخاف الا ضلال الطريق وحتى يكثر الهرج قالوا وما الهرج يا رسول الله قال القتل﴾.

ژباړه: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې د عربو په زمکه کې دوباره باغونه او نهرونه په کثرت سره زیات نشي، او تر دې پورې چې یو سپور به له عراق څخه مکې مکرمې ته په رسیدو کې د لارې له ورکولو پرته له بل هیڅ شي به څخه نه ویریږي (۱) البته هرج به په کثرت سره وي. صحابه کرامو ﷺ عرض وکړ: اې د الله رسول! دا وو ایه چې هرج څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: قتل او خونریزي (۲).

د دغې خبرې تایید د نبي کریم ﷺ له هغه حدیث څخه هم کیږي په کوم کې چې نبي کریم ﷺ عدي بن حاتم ﷺ ته فرمایلي: اې عدي! آیا تا حیره (۳) لیدلې؟ عدي وویل: یا رسول الله ﷺ ما لیدلې نه ده، البته د هغې په باره کې مې ضرور یو څه اوریدلي، نبي کریم ﷺ وویل: که چیرته له تا سره عمر وفا وکړه نو ته به یې وګورې چې یوه ښځه له (حیره) څخه په خپله سورلۍ باندې کیني او کعبې ته ورسیږي او طواف وکړي، په دغه سفر کې به له الله تعالی ﷻ پرته له بل هیڅ شي څخه ویره نه وي (٤).

---

۱ - مطلب دا دی چې د داسې سفر په کولو کې به له غلو او داړه مارانو څخه هیڅ قسم اندیښنه نه وي. که کومه ویره وي هغه به دا وي چې هسې نه چې له سمې لارې څخه کوګ شي او په کومه غلطه لار باندې چیرته ولاړ نشي. اما تر کومه ځایه چې د هغه د ځان او د مال خبره ده نو په دې باره کې به بالکل بې فکره وي.

۲ - مسند احمد: ۲/ ۳۷۱. وقال الهیثمي: رجاله رجال الصحیح.

۳ - حیره د عراق ښار دی کوم چې له کوفه څخه په درې میله لیرې فاصله کې موقعیت لري.

۴ - صحیح البخاري. المناقب. حدیث: ۳۵۹۵.

که الله تعالی وغواړي نو مال به ډیر په کثرت سره وي. د مهدي او حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کې به د ظلم او ستم په ځای به د عدل او انصاف دور دوره وي (١).

﴿١٣﴾ له حجاز څخه د یوه لوی اور ظهور

د الله تعالی رسول ﷺ د قیامت له کوم نښانو څخه چې خبر ورکړی، په هغوی کې یوه دا هم ده چې د حجاز په زمکه له مدینې منورې سره نږدې به یو لوی اور ظاهر شي، ځینې علماؤ او مؤرخینو په وثوق سره لیکلي چې دغه اور په (٦٥٤ هجري) کې ظاهر شوی.

علامه ابن کثیر رحمه الله د دغې واقعې په باره کې لیکلي:

د حجاز له زمکې هغه لوی اور ظاهر شوی په کوم سره چې د بصری (د شام ملک د حوران شهر) د اوښانو غاړې روښانه کیږي، لکه څرنګه چې په دې حدیث کې ذکر شوي دي، نبي کریم ﷺ په دې سلسله کې وفرمایل: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې د حجاز له زمکې یو داسې اور ظاهر نشي په کوم سره به چې د بصری د اوښانو غاړې روښانه کیږي (٢).

ویل شوي چې دا اور به تر دریو میاشتو پورې موجود وي او دا اور به دومره شدید وي چې د مدینې ښځې به د هغې په رڼا کې اوښکې توی کړي (٣).

علامه ابو شامه د دغې واقعې تفصیل بیانولو په وخت کې لیکلي: د جماد الاخر ٦٥٤ هجري دریم تاریخ او د چهارشنبې شپه وه، کله چې په مدینه منوره کې یو دردناک آواز واریدل شو، له هغه نه وروسته زلزله راغله. هغې زمکه، دیوالونه، چتونه، لرګي او تر دروازو پورې ولړزول. دا سلسله په مذکوره

---

١ - د دغه تفصیل به په علامات صغری کې په علامه نمبر ١٣١ باندې او په علامات کبری کې په علامه نمبر ٢ کې راشي.

٢ - صحیح البخاري، الفتن، حدیث: ٧١١٨.

٣ - البدایة والنهایة: ١٣/ ١٩٩.

مياشت کې د چهارشنبه له شپې څخه شروع شوه او د جمعة المبارک تر ورځې پورې جاري وه. بيا له دې څخه وروسته يو لوی اور د مدينې په حره کې کومه چې بنو قريظهۇ ته نږدې ده ظاهر شو. دغه اور مونږ ته په مدينه کې په داسې حال کې چې مونږ په خپلو کورونو کې ناستۇ تر نظره راغی. مونږ دا محسوس کړه چې دا مونږ ته ډير نږدې موجود دی. د مدينې کندې له دغه اور څخه ډکې شوې. اور په دغو کندو کې د وادي شطا په لور داسې روان ۇ لکه اوبه چې بهيږي. دغه اور په لوړو عمارتونو باندې د اور لګيدو په څير لوی لوی لمبې وهلې (١).

په همدغه حره کې يو آتش پشان غر دی کوم چې نن صبا خاموش دی. هغه په آخيري وار په سنه (۶۵۴ هجري مطابق ۱۲۵عيسوي) کې په جوش راغی، له دې څخه د مخه د زلزلې د ډيرو جټکو او د سختو دردناکو دربونو آواز واريدل شو. د تاريخ ليکونکو مطابق د آتس فشاني دغه سلسله تقريبا تر ۵۲ ورځو پورې جاري وه. دغه آتشي له خپل مرکز څخه د شمال لور ته تر ۲۳ کلوميتر پورې ورسيده او د هغه اندازه د مدينې د موجوده هوائي ميدان تر جنوبي څنډو ورسيده، اول ګرمه هوا په يوه داسې ځای باندې راغله او تيره شوه چې له مدينې منورې سره يې په ۱۲ کلوميتري کې موقعيت درلود. بيا د هغې مخ د شمال لور ته شو او د هغې د پورته والي سطح له سمندر څخه (۹۱۶) ميتره رسيده.

---

١ التذکرة، ص: ۵۲۷.


سعودی اثرات ۱۷۶۵ء
سعودی اثرات ۱۸۰۸ء
سعودی اثرات ۱۸۱۵ء
شمال
اردن
بغداد
عراق
کویت
ایران
جوف
تبوک
الاحسا
قطیف
بریدہ
ریاض
قصیم
الدرعیہ
راس الخیمہ
عمان
نجد
حجاز
افریقہ
صنعاء
یمن

﴿۱۴﴾ له ترکو سره جنګ

دا خبره مخکې تیره شوه چې د قیامت له نښانو څخه هغه جنګونه او معرکې هم دي د کومو په باره کې چې نبي کریم ﷺ خبر ورکړی او دا جنګونه د مسلمانانو تر مینځ هم کیدلای شي او د نورو قومونو سره هم! د هغو له جملې څخه د مسلمانانو او ترکو تر مینځ یوه جګړه هم ده (۱).

دا معرکه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په عهد کې د بنو امیه د خلافت په اوائلو کې منځته راغلې. په دې کې د اسلام بچیانو نه یواځې ترکو ته شکست ورکړ، بلکه له هغوی څخه یې د غنیمت مال هم ونیو. حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي ﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ حُمْرَ الْوُجُوهِ ذُلْفَ الْأُنُوفِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمْ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمْ الشَّعَرُ﴾.

ژباړه:

قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې تاسو د وړو سترګو لرونکو، د سرو مخو لرونکو او د چتو پوزو لرونکو ترکو سره جنګ ونه کړی، د هغوی مخونه به ګویا د هغه ډال په شیر وي په کوم چې څرمن لګیدلې وي. قیامت تر هغه نه قایمیږي تر څو چې تاسو له یوه داسې قوم سره جنګ ونه کړی د کومو پیزار به چې له پوستکي څخه جوړ وي (۲).

۱- د ترکو دوه ویشت قبیلې دي. ذوالقرنین د یو ویشتو قبیلو لپاره دیوال جوړ کړ، مګر یوه قبیله له دیوال څخه بچ پاتې شوه هغې ته ترک ویل کیږي. هغوی ته ترک ځکه ویل کیږي چې هغوی له دیوال څخه د باندې پریښودی شول او له نورو قبیلو سره په دیوال کې دننه بند نه کړی شول (وګورئ: مرقاة المفاتیح: ۱۵/ ۳۹۲.

۲-صحیح البخاری، الجهاد والسیر، حدیث: ۲۹۲۸. وصحیح مسلم، الفتن، حدیث: ۲۹۱۲.

په حدیث کې له بیان شویو خلکو څخه مراد تاتاري منګول دي کومو چې په سنه (۶۵۶ هجري مطابق ۱۲۵۸عیسوي) کې په ډیرو اسلامي هیوادونو کې تباهي خپره کړه او بې شمیره خلک یې په خاورو او وینو کې ناقراره کړل. مګر بالاخر د الهي حکمت تقاضا وه چې دغو خلکو اسلام قبول کړ او د امت مسلمه یوه برخه جوړ شول.

﴿۱۵﴾ د دورو ورونکو ظالمو واکمنو ظهور

زمونږ نبي کریم ﷺ د قیامت له کومو نښانو څخه چې خبر ورکړی. له هغوی څخه یوه دا هم ده چې جابر او ظالم واکمنان به په محنتي خلکو داسې دورې ورووي کومې به چې د غوا له لکۍ سره ورته والی لري، د همغو دورو مختلف قسمونه دي. کومې چې د څرمنې. د بجلۍ. د ربړ یا پلاستیک او د ونو له شاخونو څخه په جوړو شویو دورو مشتملې دي. حضرت ابو امامه ﷺ بیان کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي ﴿يخرج رجال من هذه الأمة في آخر الزمان معهم أسياط كأنها أذناب البقر يغدون في سخط الله ويروحون في غضبه﴾

ژباړه:

په آخیره زمانه کې به یو شمیر داسې خلک وي له کومو سره به چې د غوا د لکۍ په څیر دورې وي. دغه ظالم به د الله تعالی د ناراضګي په حالت کې صبا کړي او د هغه د غضب په حالت کې به بیګا کړي (۱).

له حضرت ابو هریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: د جهنمیانو دوه قسمه داسې دي کوم چې تر دا مهاله ما نه دي لیدلي. په هغوی کې یو قسم خلک هغه دي له کومو سره به چې د غوا د لکۍ په څیر دورې وي او په هغوی باندې به خلک وهي (۲).

---

[۱] مسند احمد: ۵/ ۲۵۰.

[۲] صحیح مسلم. اللباس والزینة. حدیث: ۲۱۲۸.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چيرته له تا سره عمر وفا وکړه نو ډيره ممکنه ده چې ته به داسې قوم ووينې کوم به چې د الله تعالی د ناراضګي په عالم کې صبا کړي او د هغه د لعنت په حالت کې به بيګا کړي، د هغوی په لاسونو کې به د غوا د لکۍ په څير دورې وي (١).

په دې حديث کې د خلکو د وهلو ذکر نشته. ليکن د الله تعالی د ناراضګي او لعنت ذکر د دې خبرې دليل دی چې هغوی به په خلکو باندې ډير زيات ظلم او زياتی کوي

﴿١٦﴾ د قتل او خونريزي ډيروالی

د رسول الله ﷺ د قيامت په بيان کړل شويو نښانو کې يوه دا هم ده چې قتل او خونريزي به دومره زياته شي چې داسې يو وخت به راشي چې نه به قتل کونکي ته دا علم وي چې ولې يې قتل وکړ او نه به قتل کړی شوي ته دا علم وي چې په څه قتل کړی شو. حضرت ابوهريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ﴿والذي نفسي بيده لا تذهب الدنيا حتى يأتي على الناس يوم لا يدري القاتل فيما قتل ولا المقتول فيم قتل فقيل كيف يكون ذلك ؟ قال الهرج القاتل والمقتول في النار﴾

ژباړه: په هغه الله قسم د کوم په لاس کې چې زما روح دی؛ دا دنيا به تر هغه ختمه نشي تر څو چې يوه داسې ورځ رانشي چې نه به قاتل په دې پوهيږي چې دا انسان يې په څه قتل کړ او نه به مقتول پوهيږي چې ولې قتل کړی شو. ترينه وپوښتل شول: دا به څنګه کيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د قتل او خونريزي د ډيروالي له امله به قاتل او مقتول دواړه په اور کې وي (٢).

١- صحيح مسلم. الجنة ونعيمها. حديث: ٢٨٥٧.

٢- صحيح مسلم. الفتن. حديث: ٢٩٠٨.

د دغې خونريزي ابتداء د حضرت عثمان غني ﷺ له قتل څخه شوې. په همدې سره د داسې جنګونو شروع وشوه د کومو لپاره چې هيڅ معقول جواز نه ؤ، په دغو جنګونو کې په زرګونو قيمتي انسانان ضايع شول. د ورځو له تيريدا سره سره نوې تباه کونکې اسلحې به هم پيدا شي کومې چې نن صبا په خونړيو جنګونو کې استعماليږي.

په ځينې جنګونو کې د وژل شويو شمير:

(١) په لومړني جنګ جهاني کې دوه نيم کروړه خلک ووژل شول.

(٢) په دويم جنګ جهاني کې پنځه نيم کروړه خلک له منځه لاړل.

(٣) د ويتنام په جنګ کې ديرش لکه خلک ووژل شول.

(۴) د روس په خانه جنګي کې يو کروړ انسانان قتل کړی شول.

(۵) د سپين په خانه جنګي کې د يو کروړ او شلو لکو انسانانو وينې وبهيدې.

(۶) د عراق او ايران د (خليج په لومړني جنګ) کې لس لکه انسانان له منځه ولاړل.

(٧) په عراق باندې د استعماري قبضې په دوران کې لس لکو خلکو له خپل ژوند څخه لاسونه پريمنځل.

سره له دې چې په دغو جنګونو کې په ځينو باندې د حديث دغه الفاظ (چې نه به قاتل پوهيږي چې ولې يې هغه انسان وواژه او نه به مقتول پوهيږي چې ولې ووژل شو) نه صادقيږي، بلکه د هغوی ذکر دلته د قتل او خونريزي د کثرت بيانولو له امله شوی دی.

﴿١٧﴾ له انساني زړونو څخه د ديانتداري ورکيدل

د مناسب انسان په مناسب ځای باندې ټاکل د امت لپاره بقا، د هيوادونو او د انسانانو لپاره د اصلاح، د تهذيب او تمدن د پورته والي بنياد دی. کله چې امانتونه برباد شي نو پيماني بدلې شي او په خلکو کې هم بدګماني پيدا شي، حتی چې نااهل خلک به په غوره منصبونو باندې قبضه وکړي د کوم له

امله به چې هر لوري ته بد نظمي خپره شي، د دغو امورو په باره کې زمونږ خواږه پيغمبر حضرت محمد ﷺ خبر راکړی.

د امانت د ضايع کيدا سبب په نيتونو کې فساد دی

حضرت حذيفة بن يمان رضي الله عنه بيان کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل : امانت د خلکو د زړونو په رګونو کې نازل کړل شو. بيا قرآن کريم نازل شو او خلکو ته يې د امانت اهميت په قران او حديث سره معلوم کړ.

حضرت حذيفة رضي الله عنه فرمايي : په مونږ باندې داسې يو وخت هم راتلونکی دی په کوم کې به چې مونږ اخستل او خرڅول کوو مګر مونږ به د دې پروا نه کوو مونږ چې له چا څخه خريداري وکړه د هغه دين څه دی، که چيرته هغه مسلمان وي نو زمونږ حق به راکړي او که چيرته عيسايي يا يهودي وي نو بيا به هم د خپل وکيل په ذريعه زمونږ حق به اداء کړي. مګر نن زه له فلان او فلان څخه پرته له بل هيچا سره اخستل او خرڅول نه کوم [1].

کله چې د اکثر خلکو ضمير خراب شي، معاملې نا اهلو ته وسپارل شي او امانتونه ضايع کړل شي نو قيامت قريب راتلونکی دی.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې په يوه مجلس کې نبي کريم ﷺ تشريف فرما ؤ او له صحابه کرامو ﷺ سره يې خبرې کرلې چې يو اعرابي (کوچی) راغی او هغه وپوښتل : د الله رسوله ! قيامت کله قايميږي؟ رسول الله ﷺ خپلې خبرې جاري وساتلې او د اعرابي لور ته يې توجه ونه کړه. ځينې خلکو ويلې چې نبي کريم ﷺ خو د اعرابي خبره واوريدله مګر د هغه پوښتنه يې خوښه نشوه. ځکه يې هغه ته له ځواب ورکولو احتراز وکړ، نورو ويلې : چې نبي کريم ﷺ خبره نه ده اوريدلې. کله چې نبي کريم ﷺ خپلې خبرې پوره کړې نو وې فرمايل : د قيامت په باره کې پوښتونکی سړی چيرته

[1] - صحيح البخاری، الرقاق، حديث: ٢۴٩٧. وصحيح مسلم، الايمان، حديث: ١۴٣.

دی؟ هغه عرض وکړ: یا رسول الله! زه دلته یم. نبي کریم ﷺ وفرمایل: واوره! کله چې امانتونه ضایع کړل شي نو د قیامت انتظار کوه، هغه عرض وکړ: امانتونه څنګه ضایع کیږي؟ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: کله چې معاملې نا اهلو خلکو ته وسپارل شي نو هغه وخت قیامت ته انتظار کوه (١).

د قیامت دغه نښانه زمونږ په ژوندګۍ کې نن ورځ پوره ظاهرې شوې ده. تاسو وګورئ چې په وزارتونو کې، په تعلیمي ادارو کې او په ټولنه کې ډیرې مهمې دندې او منصبونه کوم چې براه راست د خلکو له معاملو سره تعلق لري. په هغوی باندې د ډیر باصلاحیته، امانتدار، مناسب او د خلکو په معاملو باندې د ښو پوهیدونکو په ځای هغه څوک راغلي کوم چې د دغو دندو او منصبونو له مشرانو سره شخصي دوستي (خپلولي) لري او یا له کوم مشر سره ګډ مفاد لري، دوی د همدغو مشرانو په سفارش بر سر اقتدار راغلي.

هو! کله چې معاملات نا اهلو خلکو ته وسپارل شي نو قیامت ته انتظار کوه.

﴿١٨﴾ د پخوانیو امتونو د طریقو پیروي

امت مسلمه چې، په کومو لویو لویو فتنو کې راګیر دی، په هغوی کې تر ټولو لویه فتنه ړوند تقلید. د یهودو او نصارىٰ او د نورو کفارو له اخلاقو او عاداتو څخه د نفرت په ځای له هغوی سره د ورته والي اختیارول دي.

نبي کریم ﷺ د دې خبرې خبر ورکړی چې زما د امت یوه ډله به د پخوانیو ګمراه امتونو د یهودو او نصارىٰ د عادتونو او روایاتو تقلید وکړي. حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې زما امت د پخوانیو خلکو په لار باندې قدم په قدم ولاړ نشي. پوښتنه ترینه وشوه: یا رسول الله! آیا له پخوانیو خلکو څخه

١- صحیح البخاري. العلم. حدیث: ٥٩.

ځخه د ستا مراد فارس او روم دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بیا نو څوک دي؟ (١).

له کومو شیانو ځخه چې د الله تعالی ﷻ نبي ویرونه کړې، په هغو کې اکثر واقع شوي او کوم چې پاته دي هغه هم یقینا واقع کیدونکي دي، لکه چې د ابو سعید خدري ﷺ په روایت کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ سَلَكُوا جُحْرَ ضَبٌّ لَسَلَكْتُمُوهُ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى؟ قَالَ فَمَنْ؟﴾

ژباړه: تاسې خلک به له خپل ځان ځخه د مخکنیو خلکو د طریقو داسې پوره پوره پیروي وکړی کومه به چې ولیشت په ولیشت او ځنګل په ځنګل برابره وي، حتی که چیرته هغوی د ځناور په سوري کې ور داخل شي نو تاسو به ضرور د هغوی پیروي وکړی، مونږ عرض وکړ: یا رسول الله! آیا د ستا مراد یهود او نصاری دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بیا نو څوک دي؟ (٢).

قاضي عیاض رحمه الله د دغه حدیث په شرح کې ویلي چې د ولیشت، ځنګلې او د ځناور د سوري تشبیه د هغه قوم د مکمل اقتداء او د ړانده تقلید د واضحه کولو لپاره ورکړی شوې (٣).

د یهودو او نصاری ؤ هغه تقلید له کوم ځخه چې په حدیث کې منع شوې. په هغه کې هغه شیان نه دي داخل کوم چې زمونږ د دین خلاف نه دي. لکه زمونږ له هغوی سره د معلوماتو او تجرباتو تبادله کول، د هغوی له مفیدو ایجاداتو ځخه استفاده کول او د هغوی له نظم او نسق ځخه فایده اخیستل، دا په مذموم اقتداء کې نه راځي.

---

(١) - صحیح البخاری، الاعتصام بالکتاب، حدیث: ٧٣١٩.

(٢) - صحیح البخاری، احادیث الانبیاء، حدیث: ٣٤٥٦، وصحیح مسلم، العلم، حدیث: ٢٦٦٩.

(٣) - فتح الباری، شرح صحیح البخاری، الاعتصام بالکتاب والسنة، حدیث: ٧٣١٩.

له قابل مذمت تقلید څخه مراد دا دی چې د هغوی د لباس، عاداتو او ټولنیز رسم او رواج، لکه د ښځو او نرانو اختلاط. بې پردګي او نورو تقلیدکول. یا د هغوی د داسې اقتصادي نام پیروي وشي کوم چې زمونږ د دین له تعلیماتو څخه مخالف وي، لکه د سود معامله او یا نور معاملات.

﴿۱۹﴾ له مینځې څخه د خپل مالک زیږیدل

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې یوه مملوکه مینځه به داسې هلک وزیږوي کوم به چې بیا د دې آقا (بادار) جوړ شي، دا داسې کیږي کله چې یو آزاد سړی له خپلې مینځې سره جماع وکړي، هغه حامله شي او له هغې څخه هلک پیدا شي او هغه لوی شي او داسې یو آزاد انسان جوړ شي د کوم چې پلار ژوندی وي مګر د هغه مور د پخوا په څیر مینځه وي، نو په دې طریقه به دغه هلک د خپلې مور د مالک حیثیت اختیار کړي.

په حدیث جبرئیل کې دي کله چې هغوی د قیامت د وخت په باره کې له تا پوښتنه کوي نو ورته ووایه : زه تاسو ته د هغو نښانو په باره کې خبر درکوم، کله چې مینځه خپل مالک وزیږوي نو دا د قرب قیامت نښانه ده [۱].

د دې معنا دا هم بیان کړی شوې ده چې بادشاه به د مینځې له خیټې څخه پیدا شي. په دې طریقه به یې زوی بادشاه شي او د هغه مور به په رعیت کې شامله شي.

﴿۲۰﴾ د اغوستل شویو کالیو با وجود د لوڅو ښځو ظهور

د ښځو بې پردګي او د ښایست بې ځایه اظهار هم د قیامت له نښانو څخه دی. ښځې چې یو داسې تنګ کالي واغوندي او له کورونو څخه د باندې ووځي د کومو له امله چې د هغوی د بدن اندامونه لیدل کیږي او داسې باریکې او شفاف جامې واغوندي او له کورونو څخه د باندې ووځي د کومو له امله چې د ناستې او تلو په حالت کې د هغې د بدن اعضاء ښکاره تر سترګو

---

[۱]- صحیح البخاري، التفسیر، حدیث: ۴۷۷۷.

کیږي. داسې ښځې په ظاهره په جامو (کالیو) کې ملبوسې دي. مګر په اصل حقیقت کې د تنګو کالیو. د جسماني اعضاؤ د نمایش او د جسم د پر فتن ځایونو د ښکاره کولو له امله هغه لوڅې (لغړې) دي.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿صنفان من أهل النار لم أرهما قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رؤسهن كأسنمة البخت المائلة لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها وإن ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا﴾

ژباړه:

دوه داسې جهنمي ډلې کومې چې ما تر اوسه پورې نه دي لیدلې، یو هغه (ظالم) د کوم په لاس کې چې د غوا د لکۍ په څیر دوره وي او په هغې باندې خلک وهي (۱) دویم هغه ښځې کومې چې د کالیو له اغوستلو سره سره بیا هم لوڅې تر سترګو کیږي او خلک د خپل ځان لور ته مایل کوي او په خپله هم د خلکو لور ته مایله وي، د هغوی د سر ویښتان د بختي اوښ د ویښتانو په څیر یوه لور ته مایل وي، دا به نه جنت ته داخلیږي او نه به د هغه خوشبو محسوسه کړي، سره له دې چې د هغه خوشبو تر هغې او دغې فاصلې پورې راځي (۲).

د (مائلات) یوه معنا دا هم ده چې دا ښځې به د الله تعالی له اطاعت څخه انحراف کونکې او د الله تعالی په اطاعت باندې به استقامت کونکې نه وي.

د (مميلات) یوه معنا دا هم ده چې نورې ښځې به د فحاشۍ لور ته رابولي. یعنې په فساد کې مبتلا او د فساد خپرونکې ښځې به وي.

---

[1] - د دغې ننبانې بیان په ۱۵ نمبر علامه کې تیر شو.

[2] - صحیح مسلم، اللباس والزینة، حدیث ۲۱۲۸.

(رؤوسهن كاسمنة البخت) يعني هغوی به د سر ويښتان په داسې طريقه بند کړي وي چې ويښتان به يې پورته لور ته وي لکه څنګه چې د اوښ کو له ورايه ښکاره کيږي، د دغو ښځو ويښتان به يوه لور ته په داسې طريقه مايل شوي وي لکه څنګه چې د بختي اوښ کو مايل وي.

﴿۲۱﴾ لوځوالی، د لوځوالي په حالت کې د ميګو څرونکو خلکو لخوا د لوړو بلډنګونو جوړول

د قيامت هغه نښانې د کومو په باره کې چې نبي کريم ﷺ خبر ورکړی او هغه ظاهرې شوې هم دي، د هغوی له جملې څخه يوه دا هم ده چې داسې خلک کومو چې د لوځ بدن په حالت ميګې څرولې د لوړو عمارتونو (بلډنګونو) په جوړولو او د کورونو د ښايست او آرايش په کار کې به له يو بل څخه د مخته تلو په کوشش کې وي او پر هغوی باندې به د فخر اظهار کوي.

دا له هغه وخت څخه دی کله چې مسلمانانو په مختلفو هيوادونو کې فتحه ترلاسه کړه، مال او دولت زيات شو او خلک د دنيا په جمع کولو کې له يو بل څخه د مخته تلو په مقابله کې شول.

له حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی کله چې جبرئيل امين د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او له نبي کريم ﷺ څخه يې د اسلام، ايمان، احسان او بيا د قيامت په هکله پوښتنه وکړه، نو نبي کريم ﷺ هغه ته د قيامت د نښانو په باره کې په خبر ورکولو سره وفرمايل: ﴿أن تلد الأمة ربتها وأن ترى الحفاة العراة العالة رعاء الشاء يتطاولون في البنيان﴾

ژباړه: دا چې مينځه به خپل مالک وزيږوي او چې ته ووينې لوځ، لوځ بدن او لوږې وهلي د ميګو څرونکي (چې داسې به دولتمند شي)

چې د لوړو عمارتونو (بلډنګونو) په جوړولو کې به له یوه بل سره مقابله کوي [۱].

کله چې ته لوڅ. وګي او لوږې وهلي خلک سردار جوړېدل وويني نو ته پوه شه چې دا د قيامت له اثارو او نښانو څخه دي. له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه : يا رسول الله ! دا لوڅ. وګي او د ميګو ځرونکي خلک کوم خلک دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : عرب [۲].

په دې کې شک نشته چې د کور جوړونه. د عمارت جوړونه او تر بلډنګ رسونه کوم حرام کار نه دی. خصوصاً کله چې په هغه کې د تجارت فوايد وي او د فخر. غرور او تکبر لپاره هم نه وي.

د عمارتونو تطاول (لوړوالی) په دوه رنګه کيدلای شي. يو دا چې هغه تر ځو منزلونو پورې لوړ کړی شي او دويم دا چې هغه ډېر ښايسته. مضبوط. منقش او لوی کړی شي او په هغه کې لوی لوی مجالس کيدلای شي او مربوطه نور عمارات پکې جوړ کړل شي.

دا ټول په موجوده زمانه کې د امر واقع په څير موجود دي. کله چې دولت زيات شو او په خلکو باندې د دنيا دروازې راخلاصې شوې [۳].

مقصودي خبره دا ده چې د ميګو ځرونکي به سحراء پرېږدي او د لوړو عمارتونو په جوړولو کې به مبالغه او مقابله بازي کوي. د کورونو. دوکانونو او د پلازو د دغو ټولو تعمير به د فخر. غرور او تکبر لپاره وي. هر څوک به دا غواړي چې د ده بلډنګ د نورو له بلډنګونو څخه لوړ وي. په اوسني وخت کې په عربو او غير عربو کې په تعميرونو مبالغه عام رواج دی. نه يواځې په افرادو کې بلکه حکومتونه هم پکې شامل دي.

---

[۱] - صحيح مسلم. الايمان. حديث: ۸.

[۲] - مسند احمد : ۱/ ۳۱۹. وسلسلة الاحاديث الصحيحة : ۳ . ۳۳۲. حديث : ۱۳۴۵.

[۳] - وګورئ ! اتحاف الجماعة بما جاء في الفتن والملاحم واشراط الساعة للشيخ التويجري : ۲/ ۱۲۲.

حکومتونه هم د لوړو عمارتونو. بلډنګونو او د پلازو په جوړولو کې له فخر او غرور سره سره له یوه بل څخه د مختنه تلو په کوشش کې دي.

﴿۲۲﴾ خاص خاص خلکو ته سلام کول

الله تعالی ﷻ هر خاص عام ته د سلام کولو حکم د دې لپاره کړی تر څو د خلکو په مینځ کې د محبت او رابطې نښانه جوړه شي. حکم یې کړی چې کوچنی دې غټ ته او غني دې فقیر ته سلام کوي. همدا شان نبي کریم ﷺ هر عرب او عجم، تور او سپین ته حکم کړی چې دوی دې په هر چا سلام ور اچوي که یې پیژني او که نه. د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی ﴿لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتى تحابوا أولا أدلكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم ؟ أفشوا السلام بينكم﴾

ژباړه: تاسو خلک به جنت ته داخل نشی تر څو چې تاسو ایماندار نشی او تاسو به ایماندار نشی تر څو چې په خپل مینځ کې محبت ونه کړی. آیا زه تاسو ته یو داسې شی در ونه ښیم کله چې تاسو هغه وکړی نو د ستاسو په مینځ کې به محبت پیدا شي؟ په خپل مینځ کې سلام سره اچوی (۱).

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې خاص خاص خلکو ته به سلام کیږي، هغه داسې چې یو سړی به یواځې هغه چا ته سلام کوي له کوم سره یې چې شناخت وي او له کوم چا سره یې چې شناخت (انډیوالي) نه وي هغوی ته به سلام نه ور اچوي. سره له دې چې سنت خو دا ده چې هر مسلمان ته سلام ور واچول شي. هغه که تاسو پیژنی او که یې نه پیژنی.

ابو الجعد وایي: له عبد الله بن مسعود ﷺ سره د یوه شخص ملاقات کیدو نو هغه وویل: ابن مسعود! تا ته دې سلام وي. حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ وویل: رښتیا ویلي دي الله تعالی ﷻ او د هغه رسول ﷺ. ما د

(۱) صحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۵۴.

الله تعالی له نبي څخه د ویلو په وخت کې آوریدلي ؛ د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې یو سړی به جومات ته داخل شي مګر هلته به دوه رکعته لمونځ ونه کړي او دا هم چې یو سړی به یو اځې پر هغه چا سلام اچوي له کوم چا سره یې چې یو شناخت وي (۱).

په صحیحینو کې یو روایت دی چې یوه سړي له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه ؛ کوم اسلام بهتر دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل ﴿ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَعَلَى مَنْ لَمْ تَعْرِفْ﴾

ژباړه : د ډوډۍ ورکړه او په هر سړي باندې د سلام ور اچول خواه هغه ته پیژنې او که یې نه پیژنې (۲).

﴿۲۳﴾ ﴿۲۴﴾ ﴿۲۵﴾ د تجارت ډیروالی، له میړه سره په تجارت کې د ښځې شراکت او د ځینو تجارانو په مارکیټ باندې قبضه

د تجارت په کار وبار کې به دومره اسانتیاوې پیدا شي د کومو له امله به چې خلک ډیر پر مختګ وکړي. تر دې چې ښځه به له خپل میړه سره په تجارتي امورو کې شریکه شي. د دغو دواړو نښانو ذکر په یوه حدیث کې راغلی، نبي کریم ﷺ فرمایلي : قیامت ته نږدې به خاص خاص خلکو ته سلام کیږي، تجارت به ډیر زیات شي حتی چې ښځه به له خپل میړه سره د تجارت په کارونو کې مرسته کونکې شي. قطع د صله رحمي به راشي. د دروغو ګواهي به ورکول کیږي. رینښتونې ګواهي به پټیږي او د قلمي تحریرونو دور به دوره وي (۳).

حضرت عمر بن تغلب ﷺ بیان کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل : د قیامت له نښانو څخه دي چې مال به ډیر زیات شي. تجارت به عام شي، د

---

۱ صحیح ابن خزیمة: ۲/ ۲۸۳. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲/ ۲۴۸، حديث: ۲۴۸.
۲ صحیح البخاري. الاستئذان. حديث: ۲۲۳۲. وصحیح مسلم. الایمان. حديث: ۳۹.
۳ مسند احمد: ۱/ ۴۰۷. شيخ شعيب الارنؤوط دغه ته حسن ويلي.

جهالت دور به دوره وي. یو سړی به مال خرڅوي مګر وايي به: ودریږه! زه د فلانی قبیلې له تجار سره مشوره کوم او بیا به په یوه لویه ابادي کې د لیکلو والا کاتب لټوي مګر هغه به نه پیدا کیږي (۱).

د نبي کریم ﷺ دا خبره چې یو سړی به مال خرڅوي مګر وايي به: ودریږه! زه د فلانی قبیلې له تاجر سره مشوره کوم او په یوه لویه ابادي کې به یو کاتب نه وي. د دې معنا او مفهوم دا دی چې لوی لوی تجاران کوم به چې غالبا د راس المال مالک وي. یا به کوم داسې ایجنټ وي چې د مالونو واردولو او صادرولو لپاره به ټاکل شوی وي. شاید د همدغو خلکو به په بازارونو باندې کنترول وي او د خپلې خوښې مطابق به نرخونه مقرره وي. واړه تجاران به د همدغو لویو تجارانو له اجازې پرته خرید فروخت نشي کولای.

یا مطلب دا دی چې د سودا کولو په وخت کې به د بیع انعقاد د کوم بل تاجر په رضامندي سره مشروط شوی وي.

د نبي کریم ﷺ دا خبره چې په یوه لویه ابادي کې به کاتب نه وي. سره له دې چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کې خبر ورکړی چې د قرب قیامت په وخت کې به کتابت عام شي. د دې مفهوم دا دی چې په نویو الاتو سره به کتابت عام شي، مثلاً لکه کمپیوټر. موبایل تلیفون. داسې آلات کوم چې آواز واوري او هغه په تحریر سره بدل کړي او همدا شان نور الیکترانیک آلات به زیات شي. د دې په نتیجه کې به یو داسې نسل راپیدا شي کوم به چې په لاس لیکل بیخي نه پیژني. یا خو به یې پیژني مګر په ښه طریقه به یې لیکلی نشي.

دا مطلب هم کیدلای شي چې له دې کاتب څخه مراد هغه څوک وي کوم به چې د تجارت معاهدې قلم بند کړې وي او د خرید او فروخت قوانین او

سنن النسائي. البیوع. حدیث: ۴۴۲۱. و سلسلة الاحادیث الصحیحة: ۲. ۲۳۱. حدیث: ۲۷۲۷.

احکام به له يو ې آلې څخه معلوموي او هغه به د خلکو په مينځ کې پرته له کومې معاوضې په ضبط او تحرير کې راولي (۱).

﴿۲۶﴾ د دروغو ګواهي

د دروغو ګواهي دا ده چې يو انسان به د بل په باره کې په خپل شهادت (ګواهي) کې له دروغو څخه کار اخلي. مثلاً: داسې ګواهي به ورکوي چې د فلاني سړي په فلاني باندې حق دی او دغه ګواهي به د ده په نظر دروغ هم وي او دا له ګناه کبيره څخه دی. نبي کريم ﷺ فرمايلي: ﴿أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ ثَلَاثًا قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ أَلَا وَقَوْلُ الزُّورِ﴾

ژباړه:

زه تاسو ته په کبيره ګناهونو کې تر ټولو په غټې ګناه خبر در نه کړم؟ دا خبره يې درې ځلې وکړه. صحابه کرامو ﷺ عرض وکړ: ضرور اې د الله رسوله: وې فرمايل! له الله تعالى ﷻ سره شرک او له والدينو څخه نافرماني کول. نبي کريم ﷺ تکيه ووهله. مګر د راتلونکې خبرې د اهميت په خاطر مخامخ کيناست او وې فرمايل: خبردار! دروغژنه خبر هم له ګناه کبيره څخه دی (۲).

د خلکو په مينځ کې د دروغو ګواهي عام کيدل او د خلکو په دې باره کې سست کيدل د قيامت له نښانو څخه دي. لکه چې نبي کريم ﷺ په مخکنې حديث کې وويل: له قيامت څخه د مخه به د دروغو ګواهي عامه شي.

د دروغو ګواهي به يواځې د قاضي او حاکم په وړاندې نه وي. بلکه دا به د ژوندګي په تمامو معاملاتو کې وي. لکه څنګه چې خلک په خپلو روزمره معاملو کې غلط شهادتونه ورکوي. د ځينې کمپنيو او ادارو ملازمين د خپلې

---

۱ دا آخيرنی معنا مولانا سندي رحمه الله د سنن نسائي په حاشيه کې ذکر کړی.
۲ صحيح البخاري. الشهادات. حديث: ۲۶۵۴. وصحيح مسلم. الايمان. حديث: ۸۷.

دندي په حوالې سره په مدارسو او جامعو کې د طالب العلمانو ګواهي او د بچیانو د والدینو په وړاندې ګواهي هم په دې کې شامله ده.

نبي کریم ﷺ د دروغو په ګواهي. د دروغو په قسم او د غلط بیاني په ذریعه د نورو خلکو د حق له تلف کولو څخه سخته ویرونه کړې. نبي کریم ﷺ فرمایلي: کوم سړی چې د دروغو قسم په ذریعه د یوه مسلمان ورور حق تلف کړي نو هغه به د الله تعالی ﷻ په عدالت کې په داسې حال کې وړاندې کیږي چې الله تعالی به له هغه څخه سخت ناراض وي (۱).

بیا نبي کریم ﷺ دغه آیت کریمه تلاوت کړ: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾﴾ (۲).

ژباړه:

بیشکه هغه کسان چې پیري (بدل اخلي) دوی په عهد د الله باندې (چې ایمان په نبي او اداء د امانت ده) او په (دروغو) قسمونو خپلو باندې (ایمان په محمد او نصرت) قیمت لږ (دنیوي د هغه د نه منلو په عوض) دغه کسان نشته هیڅ برخه د دوی دپاره په آخرت کې او نه به خبرې وکړي له دوی سره الله (په خوښی) او نه به وګوري دوی ته الله (په رحم سره) په ورځ د قیامت کې او نه به پاک کړي دوی الله (له کفره) او (شته) دوی ته عذاب دردناک (په سبب د دغو بدو افعالو د دوی).

حضرت ابو امامه باهلي ﷺ روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم سړي چې په دروغو سره قسم وکړ او د خپل مسلمان ورور حق یې تلف کړ. الله تعالی په هغه باندې جهنم واجب او جنت حرام کړ. یوه کس عرض

---

۱ صحیح البخاری. التوحید. حدیث: ۷۴۴۵.
۲ آل عمران. آیة: ۷۷.

وکړ: اې د الله رسوله! که چیرته هغه معمولي شی وي نو بیا؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه دې یو مسواک ولې نه وي (۱).

﴿۲۷﴾ د ربنتونې ګواهي پټول

الله تعالی ﷻ هر مسلمان ته د دې خبرې حکم کړی چې هغه له خپل مسلمان ورور سره مرسته وکړي. خواه هغه ظالم وي او که مظلوم. که چیرته ظالم وي نو د هغه له ظلم څخه دې ځان وساتي او که چیرته مظلوم وي نو د هغه حق چې تر څو ممکن وي هغه ته دې بیرته ورکړي. الله تعالی ﷻ د ربنتونې ګواهي پټول حرام کړي. الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ۚ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ ۗ﴾ (۲).

ژباړه: او مه پټوئ شهادت (اې شاهدانو یا اې مدعیانو! چې ګویا اقرار هم په خپل ځان باندې شاهدي ده) او هر چا چې پټه کړه دا (شاهدي) نو بیشکه دی ګنهګار زړه د ده.

په آخره زمانه کې به خلک د یوه بل حق پټوي او څوک چې په اصل حقیقت خبر وي هغه به چپ اوسي او د طاقت باوجود به له ربنتونې ګواهي څخه ځان ساتي، هغه به د خپلو ذاتي مفادو لپاره ګواهي ورکولو ته ور وړاندې کیږي او داسې صورتحال د قیامت له نښانو څخه دی. لکه چې په مخکې حدیث کې نبي کریم ﷺ د قیامت په لومړنیو نښانو کې د ربنتونې ګواهي پټولو ذکر هم فرمایلی.

۱- صحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۱۳۷.

۲- البقرة. آیة: ۲۸۳.

﴿۲۸﴾ د جهالت په کثرت سره خپریدل

الله تعالی ﷻ خپل رسول ﷺ ته د علم حاصلولو حکم کړی او فرمایلي يې دي: ﴿وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴿١١٤﴾﴾ (۱).

ژباړه: او ووایه (اې محمده!) اې ربه زما زیات کړه ما لره علم

نبي کریم ﷺ د جهالت بدي بیان کړې او فرمایلي يې دي:

﴿ان الله يبغض كل جعظرى، جواظ، سخاب في الاسواق، جيفة بالليل حمار بالنهار، عالم بامر الدنيا، جاهل بامر الاخرة﴾

ژباړه:

الله تعالی هر بې تمیزه مزاج، سخت طبعیت، ډیر حریص، په کوڅو او بازارونو کې شور شرابه کونکی، په شپه کې د مردار په څیر خوب کونکی، په ورځ کې د احمق په څیر د دنیا په کارونو کې اوسیدونکی، د دنیا له امورو باخبر مګر د آخرت له امورو ناخبره سړی ناخوښ بللی (۲).

نبي کریم ﷺ د دې خبرې خبر هم ورکړی چې: قیامت له نښانو دا هم ده چې جهالت به عام شي، نبي کریم ﷺ فرمایلي: له قیامت څخه د مخه به داسې ورځې راشي چې علم به پورته شي او جهالت به په کثرت سره خپور شي (۳).

اسلام به داسې ورک شي لکه له رخت څخه چې نقش او نګار ورک شي، تر دې چې هیڅوک به نه پوهیږي چې لمونځ، روژه، عبادت او صدقه څه شی دي (٤).

---

[۱] طه، آية: ۱۱۴.

[۲] صحيح ابن حبان: ۱/ ۲۷۳. وحسنه الحويني في الفتاوى الحديثية. وفي اسناده عبد الله ابن سعيد. وثقه بعض الحفاظ وحديثه مستقيم.

[۳] صحيح البخاري. الفتن. حديث: ۷۰۶۳. وصحيح مسلم. العلم. حديث: ۲۶۷۲.

[٤] سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۴۹.

نبي کريم ﷺ د قيامت نښانو د ذکر کولو په وخت کې دا هم وويل چې جهالت به عام شي (۱).

که چېرته هر څوک نن ورځ د ډېرو اسلامي هېوادنو پر حالاتو غور وکړي نو د هغه په علم کې به دا خبر ضرور راشي چې په هغوی کې اکثر خلک د ژوند په امورو او د خپلو فايدو په باره کې خو پوهيږي، په هغوی کې هر کس ته دا علم شته چې له کمپيوټر څخه کوم کار اخيستل کيږي. له موبايل څخه څنګه استفاده کيدلای شي. کوم ښه موټر دي. ليکن که چيرته تاسو له هغه څخه پوښتنه وکړی چې د (الله الصمد) معنا څه ده؟ د (غاسق اذا وقب) مفهوم څه دی؟ په لمانځه کې چې خطا شي نو سجده سهوه له سلام نه مخکې کيږي او که وروسته؟ نو تاسو به وګوری چې د هغوی زړونه او دماغ له همدغو معلوماتو څخه بالکل خالي دي.

هو ! جهالت به په هر ځای کې خپور شي.

نوبت تر دې ځايه ورسيد چې يوه ورځ د هغو دنيادارو له جملې څخه يوه يې له ما څخه وپوښتل : وروره جانه ! دا راته ووايه چې له نفلي لمانځه د مخه هم د اودس کول ضروري دي او که اودس يوازې د فرضي لمانځه لپاره کيږي؟ زه د ده پوښتنې ته په تعجب کې شوم. او بيا مې همدغه تعجب عروج ته ورسيد. ځکه ما ته معلومه وه چې نوموړی کس په يوه يونيورستي کې د دريو کالو طالب العلم ؤ.

همدا شان د خلکو اکثريت ته د طلاق. خريد او فروخت او د عباداتو د احکامو او مسائلو په باره کې هيڅ معلومات نشته. سره له دې چې په همدې شيانو باندې علم لرلو ته ډير اشد ضرورت دی. زما په ګمان دغه صورتحال د لهو لعب د وسائلو کثرت. د خلکو په معاشي او اقتصادي

---

(۱) مسند احمد : ۱، ۴۳۹، وحسنه شعيب الارنؤوط.

معاملاتو کې مشغولیت، په عملي محفلونو کې نه حاضریدل او د دیني کتابونو له نه مطالعې کوڅلو څخه پیدا شوی.

(والله المستعان)

﴿۲۹﴾ ﴿۳۰﴾ ﴿۳۱﴾ د لالچ او کنجوسي ډیروالی، قطع صله رحمي او له همسایه سره بد چلند

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې داسې نفسیاتي مریضان به عام شي کوم به چې اسلامي ټولنه ټوټه ټوټه کړي. له هغوی څخه یو له اندازې پورته لالچ هم دی. حضرت ابو هریرة ﷺ فرمایي د قیامت له نښانو څخه یوه دا هم ده چې په حرص او لالچ کې به ډیر زیاتوالی راشي (۱).

حضرت انس ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تر څو مره اندازې چې قیامت د نږدې کیدا لور ته راځي معاملې له سختۍ څخه د سختۍ لوري نه ورځي او د خلکو بخل او حرص د زیاتوالي لوري ته ورځي (۲).

د نبي کریم ﷺ دا ارشاد هم دی: ﴿يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعَمَلُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ﴾

ژباړه: زمانه به ډیره نږدې شي، عمل به کم کړل شي، د بخل او حرص دور به دوره شي، په قتل کې به ډیر زیاتوالی راشي (۳).

په حدیث کې د (شح) لفظ استعمال شوی، چې معنا یې ده په یوه کس کې د بخل او لالچ (طمعې) په یوه وار جمع کیدل. هر هغه انسان چې په بیکاره کارونو کې مال خرچ کوي او د نیکۍ یا اطاعت الهي له کارونو څخه منع کوي هغه په (شح) کې داخل دی.

۱- المعجم الاوسط للطبراني: ۱/ ۲۱۸.

۲- سنن ابن ماجه، الفتن، حدیث: ۴۰۳۹، وسنده ضعیف، وفیه محمد الجندي، وخبره منکر، انکره النسائي وغیره.

۳- صحیح البخاري، الادب، حدیث: ۲۰۳۷، وصحیح مسلم، العلم، حدیث: ۱۵۷.

د نبي کريم ﷺ د فرمان عالی شان دی : ﴿لا تقوم الساعة حتى يظهر الفحش والتفاحش وقطيعة الرحم وسوء المجاورة﴾
ژباړه :
قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې فحاشي. بې حيايي. قطع صله رحمي او له همسايه سره بد سلوک کول ښکاره نشي [1].

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد روح دی ! قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې فحش (بدکلامي) او بخل ښکاره نشي. امانتدار خائن ونه بلل شي، امانتونه خائنانو ته ونه سپارل شي. (الوعول) له دنيا څخه ولاړ نشي (التحوت) رانشي. پوښتنه وشوه دا (الوعول) کوم خلک دي او (التحوت) کوم؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : له (الوعول) څخه مراد معزز او د شريفې طبقې خلک دي او له (التحوت) څخه غير مشهور خلک مراد دي [2].

نبي کريم ﷺ چې له کوم شي څخه خبر ورکړی هغه واقع شوی. مونږ په ډيرو خلکو کې جنګونه او فساد وينو. همدا شان د هغوی تر مينځ قطع صلحه رحمي او له همسايه ګانو سره بد سلوک هم زمونږ په ليدلو کې راځي. د خلکو په مينځ کې د محبت. صله رحمي او د الفت په ځای بغض. نفرت او عداوت پيدا شوی دی. داسې وخت راغلی چې خلک له خپل همسايه څخه بيخي خبر نه دي. خلک له خپلو رشته دارانو څخه خبر نه دي چې په هغوی کې څومره ژوندي دي او څو مره مړه.

---

[1] مسند احمد : ۲/۱۲۲. والمستدرک للحاکم : ۱/ ۷۵. وصححه.
[2] المستدرک للحاکم : ۴/ ۵۴۷. وسلسلة الاحاديث الصحيحة : ۷/ ۲۳۹. حديث : ۳۲۱۱.

﴿۳۲﴾ د فحاشي عام کېدل

له فحاشي څخه مراد د لوڅ لباس اغوستل او د داسې الفاظو ويل په کومو کې چې بې حيايي له ورايه تر سترګو کيږي. همدا شان يوه بل ته پيغور ورکول او لعن طعن کول هم په بې حيايي کې راځي. د فحاشي عام کېدل هم د قيامت له نښانو څخه دي. امام الانبياء ﷺ فرمايي:

﴿والذي نفس محمد بيده ! لاتقوم الساعة حتى يظهر الفحش﴾ (۱).

ژباړه: په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد روح دی! قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې فحاشي عامه نشي.

﴿۳۳﴾ امانتدار ته خائن او خائن ته امانتدار ويل

د امانت او ديانت پورته کېدل او د منصبونو نا اهلو خلکو ته سپارل هم د قيامت له نښانو څخه دي. د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې امانتدار سړی به خائن بلل کيږي. د دې معنا دا ده کوم سړی چې واقعي امانتدار وي هغه ته به د شک په سترګه کتل کيږي او د هغه په امانتدارۍ او صداقت باندې به اعتماد نه کيږي او کوم سړی چې په اصل حقيقت کې دروغژن، منافق، د غمې ژبې څښتن او خائن وي هغه به قابل اعتماد بلل کيږي. نبي کريم ﷺ فرمايلي: په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد روح دی! قيامت به قايم نشي تر څو چې امين خائن او خائن امين ونه بلل شي (۲).

---

۱ المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۴۷، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۷/ ۲۳۹۰، حديث: ۳۲۱۱

۲ المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۴۷، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۷/ ۲۳۹۰، حديث: ۳۲۱۱

﴿۳۴﴾ د ښو خلکو پناه کېدل او بدو خلکو ښکاره کېدل

دا هم د قيامت له نښانو څخه ده چې معزز. دانا. عقلمند او علماء کرام به ختم شي، جاهل او بازاري خلک به د هغوی ځای ته راشي. ځکه چې د هغوی لپاره به ميدان خالي وي.

نبي کريم ﷺ فرمايلي : په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد روح دی ! قيامت به تر هغه قايم نشي تر څو چې (وعول) پناه نشي او (تحوت) عام نشي، پوښتنه ترينه وشوه : يا رسول الله ! دا (وعول) او (تحوت) څوک دي؟ رسول الله مبارک ﷺ وفرمايل : له (وعول) څخه معزز او نيک خلک مراد دي او له (تحوت) څخه جاهل او غير مشهور خلک، يعنې کوم چې د خلکو له قدمونو څخه لاندې وي هغوی به منصبونه سمبال کړي (۱).

د لاندې خلکو پورته راتلل هلته چې کله دوی مهم منصبونه ترلاسه کړي او د هغوی لپاره د ابلاغ ذرائع، د ميډيا پروپيګنډې او له هغوی څخه ګير چاپيره ډول وهونکي او دبله ماران ډېر شي، کله چې عقلمند. دانا. مفکرين او د خلکو خيرخواه خلک له نظر څخه ورک شي. د ابلاغ له ذرائعو او همدا شان په ميډيا باندې نظر انداز شي.

نن صبا په خلکو کې شهرت هغه څوک ترلاسه کوي کوم چې سندرې کوي. ګډېږي. د ساز. سرود. فحاشي او عرياني اظهار کوي، تر څو پورې چې د عالم. سائنسدان. قابل ډاکټر. انجينئر او د داسې نورو خلکو تعلق دی نو دغه خلک کانه غوږونه اوسېږي.

د قيامت دغه نښانې نن صبا ښکاره مخته راغلې دي. ليکن تر دا مهاله صورتحال ډېر خراب نه دی. اوس هم ډېر خلک ديني پروګرامونه په ډېر شوق سره ګوري. په اکثرو اسلامي هيوادونو کې د عالمانو او د دين د داعيانو ډېر قدر او احترام کيږي. خلک په ديني مجالسو کې په کثرت سره شرکت

---

(۱) المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۴۷، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۷/ ۲۳۹، حديث: ۳۲۱۱.

کوي او د تي وي په چینلونو باندې د دیني مضامینو له لیدلو سره مینه لري. ورځ په ورځ په دغو چینلونو کې زیاتوالی راځي او لیدل کیږي چې ډیر غیر مسلم خلک هم دیني پروګرامونه ګوري او له هغوی څخه ډیره ګټه آخلي.

﴿۳۵﴾ د مال په حلال والي او حرام والي کې بې پروايي

کله چې د مسلمان پرهیزګاري کمه شي نو د هغه په دین کې هم کمې واقع کیږي. کوم وخت چې د هغه په دین کې نقص راشي نو هغه په شبه لرونکو شیانو کې مبتلاء شي. له دې وروسته بیا هغه مرحله راشي چې هغه بیا د حرامو ارتکاب کوي، حتی چې کیفیت یې داسې شي چې هغه بیا د دې خبرې هیڅ پروا نه کوي چې دی کوم څه ګټي هغه حلال دي که حرام. لکه څرنګه چې نبي کریم ﷺ خبر ورکړی. دا شی په موجوده عصر کې په عملي ډول واقع شوی.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ بِمَا أَخَذَ الْمَالَ أَمِنْ حَلَالٍ أَمْ مِنْ حَرَامٍ﴾

ژباړه: په خلکو باندې به ضرور یوه داسې زمانه راشي چې یو سړی به بالکل د دې خبرې پروا نه کوي کوم څه چې دی ګټي ایا هغه حلال دي که حرام[1].

نن ورځ که چیرته تاسو د خلکو په حالاتو غور وکړی نو تاسو به وګوری د خلکو اکثریت د هر رنګه مال جمع کولو لپاره په کوشش کې دي او هغوی د دې خبرې یوه ذره پروا هم نه کوي چې دا مال حلال دی که حرام.

همدا وجه ده چې نن صبا خلک په حرامو کې دنده اجراء کول او د حرامو شیانو تجارت کول د ځان لپاره پېغور نه بولي. مثلا: د سګریټ، شرابو او د ښځو د غیر ساتر لباس تجارت کول. یا د سود کار وبار کول. یا د یوه

[1] صحیح البخاری، البیوع، حدیث: ۲۰۸۳.

داسې کار وبار لپاره د دوکان په کرایه ورکول کوم چې حرام وي. الله تعالی ﷻ فرمايي ﴿كُلُوا مِنَ الطَّيِّبٰتِ﴾ پاک او حلال شی خوری [1].

الله تعالی ﷻ پاک دی او پاک شی خوښوي. د هغو غوښو لپاره کومې چې په سود یا په حرامو سره ډیرې شي د هغوی لپاره د جهنم اور ډیر مناسب دی.

کوم سړی چې له پرهیزګاري څخه کار اخلي او د شبه له شیانو څخه د ځان ساتلو کوشش کوي هغه په خلکو کې بیګانه (اجنبي) پیژندل کیږل. بلکه که چیرته رشوت قبول نه کړي نو په ځینې وختونو کې هغه له خپلې دندې څخه هم لاس مینځلی شي. حالانکه د نبي کریم ﷺ ارشاد مبارک دی: ﴿فَمَنْ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ﴾.

ژباړه:

کوم سړی چې د شبهې له شیانو ځان بچ کړي نو هغه خپل دین او آبرو له نقصان څخه بچ کړل او کوم سړی چې د شبهې په شیانو کې وغورځي نو هغه په حرامو کې مبتلا شو. د هغه شپانه په څیر کوم چې د یو چا د فصل شاو خوا خپل څناور څروي. نږدې ده چې په هماغه فصل کې واقع شي [2].

---

[1] - المؤمنون. آیه: ۵۱.

[2] - صحیح البخاری. الایمان. حدیث: ۵۲. وصحیح مسلم. المساقات. حدیث: ۱۵۹۹.

﴿۳۶﴾ په مال فی کې د خوښې تقسیم

له مال فی څخه مراد هغه مال دی کوم چې مجاهدین پرته له جنګ کولو تر لاسه کړي. خواه دښمن د جنګ له میدان څخه تښتیدلی وي. یا دښمن شکست منلی وي او خپلې اسلحې یې په زمکه ایښې وي، یا دښمن په خپله هغه مال مسلمانانو ته ور حواله کړی وي. د دغه مال به داسې تقسیم کیږي لکه څرنګه یې چې الله تعالی حکم کړی الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَ الْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ كَىْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ﴾ (۱).

ژباړه:

هغه چې را ګرځولي دي الله پر رسول خپل باندې له مالو د اهل د قریو (کلیو) (بې له جنګه)، نو هغه دي الله لره او رسول د الله لره: او دغه اموال دي خپلوانو د رسول د الله لره ؛ او دغه اموال دي یتیمانو لره او مسکینانو لره او مسافرانو لره (مقرر کړی دی الله دا قسمت) لپاره د دې چې ونه ګرځي (دغه اموال) دولت په مینځ د غنیانو کې له تاسې څخه (چې له خپله حقه زیات واخلي او فقراؤ ته لږ ورکړي).

الله تعالی ﷻ د دغه مال د خپل فرمان مطابق د تقسیمولو حکم کړی تر څو غنیان خلک په دغه مال باندې قبضه ونه کړي او فقراء محروم نه کړل شي. په آخره زمانه کې به خلک د الله تعالی ﷻ د بیان کړی شوي فرمان مخالفت کوي. مالدار او لوی خلک به دغه مال په خپلو مینځونو کې سره تقسیموي. د حضرت ابو هریرة ﷺ په حدیث کې دا خبره هم راغلې: چې نبي کریم ﷺ

---

۱ ـ الحشر، آیة: ۷.

وفرمایل: کله چې مال فی په خپل مینځ کې تقسیم کړل شي او امانت بوج وبلل شي! د دغه حدیث تفصیل مخته راتلونکی دی [۱].

﴿۳۷﴾ د امانت مال غنیمت بلل

الله تعالی ﷻ د امانت ساتلو او صحیح سالم خپلو مالکانو ته د بیرته سپارلو حکم کړی: الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ [۲].

ژباړه:

بیشکه الله امر کوي په تاسې (اې مؤمنانو!) د دې چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د اماناتو ته.

په آخره زمانه کې به داسې وي چې کوم مال د امانت په ډول د حفاظت لپاره یوه سړي ته ورکړی شي نو هغه به دغه مال غنیمت بولي او د خپل ملکیت تصور به کوي او چې کله مالک د خپل مال بیرته غوښتنه وکړي نو دی به یې له بیرته ورکولو څخه انکار کوي [۳].

﴿۳۸﴾ د ښځې فرمانبرداري او د مور نافرماني

دا هم د قیامت له نښانو څخه ده چې یو انسان به د خپلې مور نافرماني کوي. خپله ښځه به ځانته نږدې کوي او په اکثرو حالاتو کې به د مور او پلار په مقابل کې د خپلې ښځې فرمانبرداري کوي، دا خرابي هم نن صبا واقع شوې، مونږ ګورو چې په کورونو کې عموما مور تنها او د کور له افرادو څخه جلا اوسیږي، اولاد د هغې ډیر کم

---

[۱] - وګورئ: علامات صغری نمبر: ۴۵.

[۲] - النساء، آیة: ۵۸.

[۳] - دغه نښانه او یو څه نورې نښانې په حدیث کې یو ځای ذکر دي، کومې به چې په علامات صغری نمبر ۴۵ کې راشي.

زيارت او ملاقات کوي، سره له دې چې زوی به يې له ښځې او بچيانو سره په آسودګۍ کې ژوند تيروي او په سير سياحت کې به مشغول وي.

که چيرته مور او پلار له اولاد سره په کور کې اوسيږي نو د هغوی لپاره عموما هغه انتظام او اهتمام نه کيږي کوم چې د نورو لپاره کيږي، لکه څرنګه چې د ابو هريرة ﷺ په حديث کې دي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي: کله چې د فی مال په خپل مينځ کې تقسيم کړل شي، انسان د خپلې ښځې اطاعت او د مور نافرماني کوي، دوست نږدې او پلار ليرې کوي! مکمل حديث مخته راتلونکی دی [1]

﴿۳۹﴾ په ښه زړه زکاة نه ورکول

(والزكاة مغرما) او چې کله زکاة جرمانه وبلل شي

له يوه مسلمان څخه مطلوب دا دی چې د هغه زړه د خپل مال، سرو او سپينو څخه د زکاة ورکولو په وخت کې مطمئن او راضي وي، ځکه چې دا زکاة د مال پاکونکی او الله تعالی ﷻ ته د نزديکت يوه ذريعه ده، دا کوم ټيکس يا جرمانه نه ده.

ليکن په آخره زمانه کې به د مال سخت هوس او بخل د خلکو په زړونو کې جمع شي، ځينې مالدار خلک به د زکاة ورکولو په وخت کې دا ګمان کوي چې دا کومه جرمانه يا ټيکس دی، کوم چې له دوی څخه په زور اخيستل کيږي، داسې خلک خو به زکاة ورکوي مګر له خفه زړه سره، همدا وجه ده چې د ښه نيت نه درلودو له امله به هيڅ ثواب پيدا نه کړي.

---

[1]- وګورئ! په علامات صغری کې نمبر ۴۵ علامه.

﴿۴۰﴾ د غیر الله لپاره د علم زده کړه

اصول دا دي چې انسان شرعي علم د الله تعالی ﷻ د عبادت پېژندلو لپاره زده کړي. ور زده یې کړي او خپور یې کړي. نبي کریم ﷺ فرمایلي ﴿ان الله وملئکته واهل السماوات والارضین حتی النملة فی جحرها وحتی الحوت لیصلون علی معلم الناس الخیر﴾.

ژباړه:

بیشکه الله تعالی ﷻ او د هغه فرښتې، د آسمانونو او زمکو ټول مخلوق حتی میېښتون په خپل سوري کې او ماهیان په سمندر کې د هغه انسان لپاره دعا غواړي کوم چې خلکو ته د دین تعلیم ورکوي (۱).

په آخره زمانه کې به ډېر خلک د قرآن، سنت او فقه علم د الله تعالی د رضا لپاره نه، بلکه د ځان ښودنې، شهرت او یا د بل دنیوي مقصد لپاره زده کوي، لکه څرنګه چې د حضرت ابو هریرة ﷺ په حدیث کې راغلي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي: کله چې مال فی په خپل مینځ کې تقسیم کړل شي او علم له دیني مقاصدو پرته د بل مقصد لپاره زده کړل شي (۲).

مخته دا حدیث مکمل را روان دی (۳)

﴿۴۱﴾ له دوستانو سره نږدېوالی او له مور پلار څخه لیرې والی

د مور او پلار نا فرماني دا هم ده چې له نورو خلکو سره ښنیني، له هغوی سره مینه کوي او ټول کړه وړه یې د دوستانو لپاره وي او مور پلار یې نظر انداز کړي وي.

ځینې وخت زمونږ ځوانان له خپل پلار څخه تښتي، له دوستانو سره مینه او محبت کوي او ټوله ناسته ولاړه یې له هغوی سره وي، خاصکر په هغه

---

۱ - جامع الترمذي، العلم، حدیث: ۲۶۵۸، وقال: حدیث حسن غریب صحیح.
۲ - جامع الترمذي، الفتن، حدیث: ۲۲۱۱، وفی سنده مقال.
۳ - وګورئ ! د علامات صغری علامه نمبر ۴۵.

وخت کې کله يې چې پلار سپين ږيری شي يا له اولاد سره په روز مره کارونو کې مداخله کول غواړي، سره له دې چې اولاد ته د پلار د حقوقو پېژندل ضروري دي، لکه چې الله تعالی ﷻ فرمايي ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ (۱).
ژباړه: له والدينو سره احسان (نيکه رويه) اختيار کړئ.

﴿۴۲﴾ په مساجدو کې د اوازونو پورته کيدل

د مساجدو په باره کې شرعي اصول دا دي چې په هغوی کې د سکون او وقار په فضا کې برقرار و اوسي، مګر د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې په مساجدو کې به آوازونه پورته کړل شي او هلته به جنګ او جدال کيږي.

﴿۴۳﴾ د قبايلو قيادت به د فاسقانو په لاس کې شي

د قيادت او سيادت په باب کې شرعي اصول دا دي چې قيادت به د ډير صالح، د ډير علم لرونکو او موزونو خلکو په لاس کې وي، مګر يوه زمانه به راشي چې د قومونو قيادت او سيادت به د فساقو او فجارو خلکو لاس ته ورشي، د دې لوی سبب دا دی چې له بيکارو خلکو سره به مال او تعلقات ډير شي، يا به د هغوی د جرئت، دليري او نسب له امله قيادت د هغوی لاسونو ته ورشي.

﴿۴۴﴾ تر ټولو رذيل سړی به د قوم مشر شي

د قيامت دغه نښانه هم له مخکنی نښانې سره پيوسته ده. يعني قوم که په سفر کې وي، يا د کوم مهم کار لپاره سره را يو ځای کيږي، يا د کومې معاملې فيصله کول مقصود وي. په هر قسم حال کې به د قوم مشري د کوم نيک او منصف سړي په لاس کې نه وي، بلکه کوم سړی چې تر ټولو بد او رذيل وي دا منصب به د هغه په لاس کې وي.

---

[1] - بني اسرائيل، آية: ۲۳.

په اصل کې داسې صورتحال د زمانې د بدوالي له امله پیدا کیږي. یا دا چې لوی سبب یې دا دی چې بد او بیکاره خلک به په کثرت سره پیدا شي.

﴿۴۵﴾ د یوه انسان له شر څخه د ځان ساتلو په خاطر به د هغه عزت کیږي

دا به د دې لپاره کیږي چې قیادت به د بیکارو او نا اهله خلکو په لاس کې وي او هغوی به په ټولنه کې اکثریت لري، له همدې امله به خلک مجبور وي تر څو د هغو بیکاره خلکو عزت وکړي، هغوی ته یو حیثیت ورکړي. د هغوی احترام وکړي او دا ټول به د هغوی له ظلم، زیاتي، ضرر رسولو او د هغوی له شر څخه د ځان ساتلو له امله وي.

له ۳۶ نمبر نښانې څخه تر دې ځایه چې کومې نښانې ذکر کړی شوی د هغوی ټولو بیان په دې حدیث شریف کې شوی کوم چې حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کړی چې رسول الله ﷺ وفرمایل!

﴿إذا اتخذ الفيء دولا والأمانة مغنما والزكاة مغرما وتعلم لغير الدين وأطاع الرجل امرأته وعق أمه وأدنى صديقه وأقصى أباه وظهرت الأصوات في المساجد وساد القبيلة فاسقهم وكان زعيم القوم ارذلهم وأكرم الرجل مخافة شره وظهرت القينات والمعازف وشربت الخمور ولعن آخر هذه الأمة أولها فليرتقبوا عند ريحا حمراء وزلزلة وخسفا وقذفا وآيات تتابع كنظام بال قطع سلكه فتتابع﴾ (۱).

ژباړه: کله چې د فی مال دولت وګڼل شي، د امانت مال غنیمت وبلل شي. د زکاة په ورکولو د جرمانې خیال وکړل شي، علم د غیر دیني مقاصدو لپاره حاصل کړل شي. خلک د خپلې ښځې اطاعت او د مور نا فرمانی وکړي، دوستان نږدې کړي او پلرونه لیرې کړي، په جوماتونو کې آوازونه

۱- جامع الترمذي، الفتن، حديث: ۲۲۱۱، وقال: حديث غريب، والحديث فی اسناده رميح الجذامي، لايعرف، وله شاهد عن علی رضی الله عنه، فی اسناده الفرج بن فضالة، وآخر عند الطبرانی عن عوف بن مالک، وفيه عبدالحميد بن ابراهيم.

پورته کړل شي. فاسق او فاجر خلک د قبیلو مشران شي، رذیل سړی د قوم مشر (سردار) شي، د یوه انسان عزت د هغه د شر له ویرې وشي. د موسیقي آلات او سامان عام شي، د شرابو څښل عام شي او د امت د آخرې زمانې خلک په مخکنیو خلکو باندې لعنت ویل شروع کړي نو په دې وخت کې دې خلک د ګرمو هواګانو. زلزلو. په زمکه کې خسف. د شکلونو مسخ کیدو. د تیږو (ډبرو) باران او داسې نښانو ته انتظار وکړي کومې به چې پیوسته راځي.

﴿۴۶﴾ ﴿۴۷﴾ ﴿۴۸﴾ ﴿۴۹﴾ زنا، وریښم، شراب او د موسیقي الات حلال ګڼل

داسې حرام شیان د کومو له حرمت څخه چې هیڅ یو مسلمان نا خبره نه دی. لکه زنا. د شرابو څښل. د موسیقي بېهوده آلات او د نرانو لپاره د وریښمو استعمال. نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې زما په امت کې به یوه ډله په آخره زمانه کې دا حرام شیان حلال ګڼي او دا یې د قرب قیامت په نښانو کې شمار کړي.

د دې حرامو شیانو د حلالیدو دوه ممکن صورتونه دي.

(۱) د دې شیانو په باره کې داسې عقیده لرل چې دا حلال دي نه حرام.

(۲) په خلکو کې به د دغو شیانو استعمال دومره په کثرت سره وي چې هیڅوک به یې په ژبه یا په زړه سره بد نه بولي. خلک به یې بې دریغه استعمالوي او د هغوی د حرمت احساس به هم نه کوي.

له حضرت ابو عامر یا ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ يَعْنِي الْفَقِيرَ لِحَاجَةٍ

فَيَقُولُونَ ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا فَيُبَيِّتُهُمْ اللَّهُ وَيَضَعُ الْعَلَمَ وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ (١).

ژباړه:

زما په امت کې به يو شمير خلک داسې هم وي کوم به چې زنا، وريښم، د شرابو څښل او د موسيقي آلات حلال ګڼي: او يو شمير خلک به خپلې بزې له ځان سره روانې کړي او د کوم غره په لمن کې به اوسيږي، په دې وخت کې به يو حاجتمند (يعنې فقير) به ورته راشي او څه به ترينه وغواړي، دی به ورته ووايي: صبا ورځ راشه، مګر په شپه کې به د الله تعالی عذاب هغه ونيسي. غر به له پاسه پرې راشي او يو څه به هلاک شي او څومره چې پاته شي هغه به تر قيامته پورې د بيزو او خنزير په شکل شي.

دا وخت په ډيرو اسلامي هيوادونو کې خلک په زنا او د شرابو په معامله کې د تساهل ښکار دي، زنا او عصمت پروشي ته يې قانوني تحفظ ورکړی. حيا ناکو ښځو ته يې با قاعده په سرکاري سطحه اجازت نامې ورکړې دي

په شراب خانو کې د شرابو خريد او پروخت ښکاره کيږي، په ډيرو عربي او اسلامي هيوادونو کې د شرابو مارکيټونه شته دي او هم پرې دوی اعتراف کوي.

حضرت ابو مالک اشعري ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: زما په امت کې به داسې خلک وي چې شراب به څښي او همدغه شراب به په بل نامه ياده وي. د هغوی په وړاندې به د سندرو ويونکې ښځې د موسيقي له آلاتو سره به ګډيږي. الله تعالی به دوی په زمکه کې خسف کړي او له ځينو څخه به بيزوګان او خنزيران جوړ شي (٢).

---

[١] - صحيح البخاری. الاشربة. حديث: ۵۵۹۰.

[٢] - سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۲۰. باسناد صحيحه ابن القيم.

په نن زمانه کې تر ټولو لویه ګناه په کومه کې چې د خلکو لوی اکثریت را ګیر دی، هغه د موسیقي الاتو بې دریغه استعمال او د سندرو آوریدل دي، د موسیقي او د سندرو آوریدل د زړه مرض پیدا کوي، د الله تعالی له ذکر څخه خلک غافل کوي او د قرآن مجید د نه آوریدو او له هغه څخه د فایدې نه اخیستو په لیار کې تر ټولو لویه ذریعه ده. الله تعالی فرمايي:

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَ يَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴾ (١).

ژباړه:

او (ځیني) له خلکو څخه هغه څوک دي چې پیرې (اخلي) عبث خبرې (اړه وونکې له حق څخه) دپاره د دې چې وښویوي (خلک) له لیارې د الله نه بې له علمه (په عاقبت د فعل خپل) او چې ونیسي دا لاره (یا آیاتونه) په ټوکو مسخرو، دغه (کسان) شته دوی ته عذاب سپکونکی.

د علم خاوندانو د (لهوالحدیث) په تفسیر کې ویلي چې له دې څخه سندرې او د موسیقي آلات مراد دي.

نبي کریم ﷺ د سندرو آوریدل له زنا او شرابو سره یو ځای ذکر کړل، نبي کریم ﷺ فرمايي: زما په امت کې به یو شمیر داسې خلک هم وي کوم به چې زنا، وریښم، شراب او موسیقي جائز ګڼي.

په موجوده زمانه کې د موسیقي رنځ دومره عام شوی چې د آوریدو لپاره یې ځانګړي ټي وي چینلونه جوړ کړی شوي، د کومو کار چې یواځې د رنګ په رنګ سندرو وړاندې کول دي. د ځینو نورو چینلونو کار یواځې دا دی چې ۲۴ ساعته میوزک او د فحاشي پروګرامونه وړاندې کوي، په هغوی کې د خبرونو او د قرآن کریم د تلاوت لپاره معمولي وقفه هم نه وي، دا

١- لقمن، آية: ٦.

صورت حال د قیامت له نښانو څخه دی او د نبي کریم ﷺ د پیشنګویي د صداقت دلیل دی، هر مسلمان ته له دې څخه د ځان ساتل واجب دي.
حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: سندره په زړه کې داسې نفاق پیدا کوي لکه څرنګه چې په اوبو سره فصل را تو کیږي.

﴿۵۰﴾ خلک به د مرګ غوښتنه کوي

نبي کریم ﷺ له دې خبرې هم خبر ورکړی چې داسې یو وخت به راشي په کوم کې به چې ظلم، فتنې او مصیبتونه ډیر شي، تر دې چې یو سړی به د خپل ملګري له قبر سره په خوا کې تیریږي او دا تمنا به کوي: کاشکې په دغه قبر کې د خپل ملګري په ځای زه دفن وای، ځکه له کوم رنګه تکلیفونو، پریشانیو او مصیبتونو سره چې هغه مخامخ وي او کوم چې د هغه مخته را روان وي هغه به له مرګ څخه ډیر تکلیف رسوونکي وي.
حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:
﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ﴾ (۱).
ژباړه: قیامت به تر هغه وخته رانشي تر څو چې داسې یو وخت نه وي راغلی چې یو سړی د یو چا له قبر سره په خوا کې تیریږي او داسې آرزو وکړي: کاشکې زه د دغه مړي په ځای په دغه قبر کې دفن وای.
حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: په تاسو به داسې یوه زمانه هم راشي که چیرته په تاسو کې کوم کس ته د مرګ اخستل پیدا کیږي نو هغه به یې د اخستلو لپاره تیار وي (۲).

---

۱ - صحیح البخاری، الفتن، حدیث: ۷۱۱۵، وصحیح مسلم، الفتن، حدیث: ۱۵۷، بعد الحدیث ۲۹۰۷.
۲ - السنن الوارده فی الفتن للداني: ۳/ ۵۴۲.

دا حدیث له هغو احادیثو سره معارض نه دی په کومو کې چې د مرګ له تمنا څخه منع راغلې، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي: په تاسو کې هیڅوک د مصیبت راتلو په وخت کې باید د مرګ تمنا ونه کړي (۱).

نبي کریم ﷺ چې د کومو خبرو پیشنګویي کړې هغه به په آخره زمانه کې واقع کیږي. هغه د مرګ ښکاره دعا او تمنا نه ده، بلکه دا د یوه سړي له زړه څخه راوتونکی دا خواهش دی چې کاشکې: هغه له دې بدیو، فتنو، تکلیفونو او پریشانیو څخه یو قسم نجات پیدا کړی وای. اګر که د مرګ په ذریعه ولې نه وای.

دا هم ضروري نه ده چې د قیامت له راتګ سره به د مرګ دغه تمنا د هر مسلمان په زړه کې وي، بلکه دا به د مختلفو هیوادونو د حالاتو او واقعاتو مطابق وي، د خلکو ایماني حالت، په مصیبت باندې صبر او تحمل او د تکلیفونو برداشت کولو قوت به په هر وخت او هر ځای کې نه وي.

﴿۵۱﴾ داسې وخت به راشي چې یو سړی به سهار مسلمان وي او ماښام کافر

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت راتګ، د فتنو او خواهشاتو ډیروالی او د نیکو خلکو د کموالي له امله به حالات ډیر په تیزي سره بدلیږي. تذبذب او اختلاف به ښکاره شي، تر دې چې یو سړی به د سهار په وخت کې مؤمن وي او ماښام به کافر شي. یعنې په یوه حال به قرار نشي نیولای.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

(۱) صحیح البخاري، الدعوات، حدیث: ۶۳۵۱، وصحیح مسلم، الذکر والدعا، حدیث: ۲۶۸۰.

﴿بادروا باالاعمال فتنا كقطع الليل المظلم، يصبح الرجل مؤمنا ويمسى كافرا، او يمسى مؤمنا ويصبح كافرا، يبيع دينه بعرض من الدنيا﴾ (۱).

ژباړه:

د تورې شپې د ټوټو په څير د فتنو له راتګ څخه مخکې مخکې نيک اعمال وکړئ، يو سړی به د سهار په وخت کې مؤمن وي، مګر له ماښام کيدو د مخه به کافر شي، يا به د ماښام په وخت کې مؤمن وي. مګر له سهار کيدو د مخه به کافر شي، انسان به د يوې معمولي دنيوي فايدې په عوض کې ايمان خرڅوي.

د حديث معنا دا ده چې له دې وخت څخه مخکې مخکې. په کوم کې به چې د نيکو اعمالو تر سره کول ډير مشکل شي. نيک اعمال وکړه.

نبي کريم ﷺ د دغو فتنو د سنګينې او شدت احساس داسې بيان کړی چې يو سړی به د ماښام په وخت کې مؤمن وي او د سهار په وخت کې به کافر شي، يا به د سهار په وخت کې مؤمن وي د ماښام په وخت کې به کافر شي، دا فتنې به دومره غټې او دردناکې وي چې په يوه انسان کې به په يوه ورځ کې دومره لوی بدلون راځي (۲).

دا د هغې زمانې حال دی په کومه کې به چې د خلکو ايمان ډير کمزوری وي، د دين په باره کې به ډير شبهات وي. له دين څخه به قطعاً څوک خبر نه وي، د کوم له امله به چې دوی دين پريږدي يا به د کوم دنيوي مفاد او ذاتي مصلحت له امله د دين په باره کې به د هغه ښنې لړزان پيدا کوي. زمونږ موجوده دور هم د همدې حديث مصداق دی.

---

[1] صحيح مسلم. الايمان. حديث: ۱۱۸.

[2] شرح مسلم للنووي.

﴿۵۲﴾ د مساجدو ارایش (ډول سینګار) او پر هغه فخر کول

مسجد په اصل کې د عبادت لپاره وي او د الله تعالی کور دی، مسلمانان یې د الله تعالی څخه د اجر او ثواب حاصلولو په نیت جوړوي، مګر په آخره زمانه کې به یو شمیر خلک جوماتونه جوړوي او هغه به په نقش او نګار سره ښایسته کوي. هر څوک به د خپل جومات په نقش، نګار او ښایست باندې فخر کوي، په دې سره به د لمونځ کونکو زړونه له عبادت څخه اوړي و هغه ته به متوجه کیږي. حضرت انس ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لاتقوم الساعة حتی یتباهی الناس في المساجد﴾ (۱).

ژباړه:

تر هغه وخته به قیامت برپا نشي تر څو چې خلک پر مساجدو (جوماتونو) فخر ونه کړي.

ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم امت له دې امر څخه خبر کړی چې هیڅکله باید له ذکر، عبادت او له الهي اطاعت څخه توجه وا نه اړه وي او د مساجدو (جوماتونو) په عمده عمده تعمیرونو، د هغو په تزیین او ارایش کې مشغول نشي، حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمایي:

﴿ لتزخرفنها کما زخرفت الیهود والنصاری﴾ (۲).

ژباړه: تاسو هم د مساجدو (جوماتونو) داسې ارایش او زیبایش کوی لکه څنګه چې یهود او نصاری د خپلو عبادت ځایونو ارایش کوي.

امام بغوي رحمه الله فرمایي:

۱- سنن ابی داؤد، الصلوة، حدیث: ۴۴۹، وسنن النسائي، المساجد، حدیث: ۶۸۰، وسنن ابن ماجه، المساجد والجماعات، حدیث: ۷۲۹، وسنده صحیح.

۲- سنن ابی داؤد، الصلوة، حدیث ۴۴۸، وصحیح البخاري، الصلوة، قبل الحدیث: ۴۴۲.

د (تشييد) معنا ده د عمارت پورته کول او لوړول. يهودو او نصارى ؤ هغه وخت خپل عبادت ځايونه په نقش او نګار مزين او ښايسته کړل کله چې دوى په خپلو کتابونو کې تحريف وکړ (۱).

امام خطابي رحمه الله فرمايلي:

يهودو او نصارى ؤ هغه وخت خپل عبادت ځايونه او کليساوې نقش او نګار کړې کله چې دوى آسماني دين تحريف او بدل کړ، کله چې هغوى دين ضايع کړ نو خپله ټوله توجه يې تزيين او ارايش ته کړه (۲).

په نني عصر کې د مساجدو د نقش او نګار څو انځورونه:

ديوالونه په مختلفو رنګونو رنګول. بيا پرې د مختلفو منظرو جوړول، د رنګا رنګ قيمتي قالينو غوړول، په چت کې د رنګا رنګ پړقيدونکو شيشو لګول، دا ارايشي اخراجات کله تر دې حده ورسيږي که مونږ دغه اخراجات سره را جمع کړو نو څو نور نوي جوماتونه پرې جوړيدلاى شي، مونږ دا نه وايو چې مساجد دې ښايسته نه وي، د هغوى فرش دې ښه نه وي، يا دا چې د مسجد تعمير دې کمزورى وي، بلکه کوم شى چې منعه ده هغه يواځې د مساجدو په تزيين او ارايش کې له مبالغې او اسراف څخه کار اخستل دي، حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه فرمايي:

کله چې تاسو د مساجدو په تزيين او ارايش کې مبالغه کوى او د قرآن کريم په نسخو باندې نقش او نګار کوى نو د ستاسو بربادي هيڅوک نشي منعه کولاى (۳).

---

[1] - فتح الباري شرح صحيح البخاري: ۱/ ۲۹۹.

[2] - عمدة القاري شرح صحيح البخاري: ۴/ ۳۰۳.

[3] - المصاحف لابن ابى داؤد: ۲/ ۱۱۰. وصحيح الجامع الصغير للالباني: ۱/ ۱۲۲، حديث: ۵۸۵.

﴿۵۳﴾ د کورونو تزیین او ارایش

عیش، اسراف، فخر او تکبر د بدۍ وړ دي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ ١٤١﴾ (۱)

ژباړه:

اسراف مه کوئ، الله تعالی اسراف کونکي نه خوښوي.

په آخره زمانه کې به خلک د خپلو کورونو په دیوالونو باندې ډیرې قیمتي او ښایسته پردې را ځړوي او پر هغوی به فخر کوي.

له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لا تقوم الساعة حتى يبين الناس بيوتا يوشونها وشى المراحيل﴾ (۲).

ژباړه: تر هغه وخته به قیامت.را نشي تر څو چې خلک په منقش او ښایسته ځادرونو کورونه ښایسته نه کړي.

د حدیث معنا دا ده چې کورونه به د کېړې په څیر منقش او ښایسته جوړ کړی شي، د دې دا معنا هیڅکله نه ده چې په کورونو کې د پردو لګول حرام دي، بلکه حرام دا دي چې په دې کار کې له اسراف او تبذیر څخه کار واخستل شي او بیا پرې فخر وکړل شي.

﴿۵۴﴾ په کثرت سره د تندرونو غورځیدل

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې خلک به د تندرونو له امله په ډیر شمیر کې د مرګ ښکار شي، له حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿تكثر الصواعق عند اقتراب الساعة حتى يأتي الرجل القوم فيقول من صعق تلكم الغداة فيقولون صعق فلان وفلان﴾ (۱).

---

[1] - الانعام، آیة: ۱۴۱.

[2] - الادب المفرد للبخاري: ۲/ ۴۱۲، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۱/ ۵۰۲، حديث ۲۷۹.

ژباړه: د قيامت راتلو په وخت کې به تندرونه په کثرت سره را لوېږي، تر دې چې يو سړی به کوم قوم ته ورشي او دا پوښتنه به کوي: نن په تاسو کې څوک څوک د اسماني بجلۍ (تندر) ښکار شوي او مړه شوي؟ هغه به ورته ووايي: فلانکی او فلانکی سړی نن د اسماني بجلۍ (تندر) ښکار شوي او مړه شوي دي.

(صاعقة) هغې آسماني بجلۍ (تندر) ته ويل کيږي کومه چې په ډېر درز او له رڼا سره له آسمان څخه را غورځيږي. الله تعالى د ثموديانو قوم په همدې سره هلاک کړ، الله تعالى ﷻ فرمايي:

﴿وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَىٰ عَلَى الْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَاعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ (۲).

ژباړه:

او هر چې ثموديانو وو پس سمه لیار مو وښودله دوی ته (په لیږلو د رسولانو سره) پس غوره کړ دوی ړوند والی (ضلالت) پر هدايت (او راهنمائي) پس ونيول دوی لره چيغې (د جبريل) او عذاب سپکوونکي په سبب د هغه (شرک او عصيان) چې وو دوی چې کول به يې (چې تکذيب د صالح وو).

همدا شان الله تعالى ﷻ فرمايي:

﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ﴾ (۳).

ژباړه: پس که چيرته مخ وګرځاوه (دغو کفارو له حقه) پس ووايه (اې محمده دوی ته) چې ويروم زه تاسې له سخت عذابه په مثل د سخت عذاب د عاديانو (لکه باد د صرصه) او ثموديانو (لکه چيغه د جبريل).

---

[۱] - مسند احمد: ۳/ ۲۴. وفيه محمد بن مصعب ضعيف.

[۲] - فصلت، آية: ۱۷.

[۳] - فصلت، آية: ۱۳.

د دغه درز د قوت او شدت یادونه الله تعالی په (صاغیه) لفظ سره هم کړې، الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ ۝﴾ (۱).

ژباړه: پس هر څه چې ثمودیانو وو نو هلاک کړی شول (هغوی) په سخت آواز د (جبریل یا په سبب د سرکشۍ خپلې).

(۵۵) د کتابت ډیروالی او خپریدل

په پخوانیو زمانو کې کتابت او د کتابونو نشر او اشاعت نه وو، د خلکو اکثریت د ویلو او لیکلو له صلاحیت څخه محروم وو، نبي کریم ﷺ په هغه زمانه کې خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې قلم، کتابونه او کتابت به ډیر شي، حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿ان بین یدي الساعة تسلیم الخاصة وفشو التجارة ختی تعین المرأة زوجها علی التجارة وقطع الأرحام وشهادة الزور وکتمان شهادة الحق وظهور القلم﴾ (۲).

ژباړه: له قیامت څخه د مخه به یو داسې وخت راشي چې یوازې خاصو خلکو ته به سلام کیږي، تجارت به ډیر زیات شي حتی چې ښځه به له خپل میړه سره په تجارت کې د هغه مرسته کوونکې وي، قطع د صله رحمي به راشي. د دروغو ګواهي به ورکول کیږي. رښتونې ګواهي به پټیږي او قلم به ظاهر شي.

د نبي کریم ﷺ په الفاظو کې له (ظهور القلم) څخه شاید مراد دا وي چې کتابت او کتابونه به ډیر شي او په ډیره وسیع پیمانه به یې نشر او اشاعت کیږي. حتی چې د طباعت. تصویر سازي او د نشر او اشاعت د اسبابو د ډیر

---

[1] - الحاقة، آیة: ۵.

[2] - مسند احمد: ۱/۴۰۷. وحسنه الشیخ الارنؤوط فی تحقیقه علی المسند

والي له امله به خلک په اساني سره هغو ته رسیدلای شي. مګر د دې هر څه با وجود به خلک د شریعت په امورو او په دیني مسایلو پوره خبر نه وي.

د دې خبرې تایید له دې حدیث مبارک څخه هم کیږي کوم چې حضرت انس ﷺ له نبي کریم ﷺ څخه بیان کړی. رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿انّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَظْهَرَ الْجَهْلُ وَيُشْرَبَ الْخَمْرُ وَيَظْهَرَ الزِّنَا وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِلْخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ الْوَاحِدُ﴾[۱].

ژباړه:

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې علم به پورته شي، جهالت به خپور شي، زنا به عامه شي، شراب به څښل کیږي، سړي به کم شي، ښځې به زیاتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو لپاره به یوازې یو نګران وي.

---

[۱] صحیح البخاري. الحدود. حدیث: ۲۸۰۸. وصحیح مسلم. العلم. حدیث: ۲۲۷۱. واللفظ له.

﴿۵۶﴾ په ژبه مال گټل او په خبرو باندې فخر کول

سره له دې چې په روا طریقو د مال گټل یا په شرعي طریقو د دنیا په تر لاسه کولو کې کومه د عیب خبره نشته. د مال گټلو دا طریقه هم شرعي ده چې یو انسان د بیان. خبرو او دلیل په ذریعه روزي وګټي. لکه څنګه یې چې وکیلان. استاذان او نور ګټي. ځکه چې د دغو حضراتو د روزي زبات اعتماد د دوی په خبرو باندې وي.

په دې سلسله کې چې کوم شی مذموم دی هغه دا دی چې یو سړی په ناروا او دروغو سره دنیا ترلاسه کړي، یا د خرید او پروخت په وخت کې د دروغو قسمونه خوري. یا د نا سم بیان په کولو سره خپل مال خرخوي. په همدې طریقه د ژبې ناروا استعمال ټولې طریقې ممنوع او ناروا دي.

د عمر بن سعد له خپل پلار حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه سره څه کار وو. دی د خپل پلار په خدمت کې حاضر شو. مګر د خپل مقصد له بیانولو د مخه هغه له فصاحت او بلاغت ډکه خالي په داسې خبرو پیل وکړ لکه څرنګه یې چې خلک د خپل مقصد د ترلاسه کولو لپاره کوي، حضرت سعد بن ابی وقاص له دې د مخه له هغه څخه کله هم داسې خبرې نه وې آوریدلې. زوی چې کله خپلې خبرې خلاصې کړې نو حضرت سعد رضي الله عنه ورته وویل: بنه زویه! تا خپلې خبرې خلاصې کړې؟ هغه ورته وویل: هو. ما چې کوم عرض وکړ، هغه غواړم. حضرت سعد رضي الله عنه ورته وویل: کله چې ما د ستا دا خبرې واوریدلې نو ته له خپل مقصد څخه ډیر لیرې شوې: او زه له تا څخه داسې متنفر شوم چې له دې د مخه کله نه ووم لکه څنګه چې اوس شوم. ما له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه دا اوریدلي چې ونیل یې

﴿لا تقوم الساعة حتى يخرج قوم يأكلون بألسنتهم كما يأكل البقر بألسنتها﴾ [۱].

---

[۱] - مسند احمد: ۱/ ۱۸۴.

ژباړه : قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې يو داسې قوم پيدا نشي کوم به چې په خپلو ژبو باندې داسې خوړل کوي لکه څنګه چې بقر (غوا) په خپلې ژبې سره له زمکې خوړل کوي.

حضرت عبد الله بن عمر ﵁ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي :

﴿من اقترب الساعة ان ترفع الاشرار وتوضع الاخيار ويفتح القول ويخزن العمل ويقرء بالقوم المثناة، ليس فيهم احد ينكرها، قيل : ومالمثناة؟ قال : ما اكتتبت سوى كتاب الله﴾ (۱).

ژباړه : د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې بد خلک به را ښکاره شي. ښه خلک به پس پاتې شي، خبرې به زياتې شي، عمل به ورک شي، يعنې عمل به نه وي او خلک به مثناة لولي او هيڅوک به دا بد نه ګڼي، پوښتنه وشوه : مثناة څه شی دی؟ ورته وې ويل : هر هغه څه چې د الله تعالی له کتاب څخه پرته ليکل شوي وي.

﴿۵۷﴾ له قران پرته د نورو کتابونو په کثرت سره خپرېدل

دا هم د قيامت له نښانو څخه ده چې په خلکو کې به د خدای تعالی له کتاب پرته د نورو کتابونو خريداري زياته شي. کوم چې په مکتبو کې تيارېږي، خپرېږي او خرڅېږي.

د دې خبرې تاييد مخکنی حديث هم کوي، په هغه کې دا خبره د توجه وړ ده چې خلک به مثناة لولي. پوښتنه وشوه : چې مثناة څه شی دی؟ ورته وويل شول : هر هغه څه چې د الله تعالی له کتاب پرته ليکل شوي وي.

۱- المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۴۴.

﴿۵۸﴾ د قاریانو ډیروالی، د فقهاؤ او علماؤ کموالی

نبي کريم ﷺ خبر ورکړی چې د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې د قاريانو شمير به زيات شي او د شريعت علماء به کم شي. حضرت ابو هريرةؓ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿سياتی علی امتی زمان تکثر فيه القراء وتقل الفقهاء ويقبض العلم ويکثر الهرج، قال : وماالهرج؟ قال : القتل بينکم، ثم ياتی بعد ذلک زمان يقرء القرآن رجال لايجاوز تراقيهم، ثم ياتی بعد ذلک زمان يجادل المنافقون الکافر المشرک بالله المؤمن بمثل ما يقول﴾ (۱).

ژباړه : يوه زمانه به داسې راشي په کومه کې به چې قاريان زيات شي او فقهاء به کم شي. علم به پورته شي او هرج به ډير شي، پوښتنه وشوه يا رسول الله ! دا هرج څه شی دی؟ هغه ﷺ وفرمايل : د ستاسو تر مينځ د وينو توېول. بيا به له دې وروسته يو داسې وخت راشي چې يو شمير خلک خو به قرآن لولي مګر قرآن به د هغوی له ستوني ښکته نه کوزيږي. بيا به بله يوه داسې زمانه راشي کله چې يو منافق، کافر او مشرک له مؤمن سره بحث او جدال کوي نو به د مؤمن خبرو ته هماغه شان ځواب ورکوي څنګه يې چې ورته وايي.

معامله په هغه وخت کې ډيره خرابيږي کله چې له دنيا څخه د علماؤ په تلو سره علم رخصت شي. هر کله چې کوم رباني عالم بچ پاتې نشي نو به خلک جاهلان خپل پيشوايان جوړ کړي. له هغوی څخه چې کله د ديني مسايلو پوښتنه کوي نو هغوی به له علم پرته فتوا ورکوي. چې په دې سره هغوی په خپله هم ګمراهان کيږي او نور خلک هم ګمراه کوي.

---

۱. المستدرک للحاکم: ۴ / ۴۵۷.

د حضرت عبد الله بن عمر ﷺ بیان دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:
﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنْ الْعِبَادِ وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا﴾ (۱).

ژباړه:

الله تعالی یو نا څاپه علم نه پورته کوي چې له خلکو څخه یې واخلي. بلکه علم د علماؤ د وفات له امله ختمیږي، تر دې چې کله په دنیا کې کوم عالم ژوندی پاتې نشي نو خلک به جاهلان خپل پیشوایان جوړ کړي. له هغوی څخه چې کله د دیني مسایلو پوښتنه وکړي نو هغوی به پرته له علمه دوی ته فتوا ورکوي. چې په دې سره دوی په خپله هم گمراه کیږي او نور خلک هم گمراه کوي.

په مخکني حدیث کې د علم د پورته کیدا چې کوم ذکر شوی د هغه مطلب دا نه دی چې دفعتاً به د خلکو له سینو څخه علم پورته کړی شي او علم به له دنیا څخه ورک شي، بلکه مطلب یې دا دی چې د علم حاملین به کرار کرار له دنیا څخه ولاړ شي او خلک به د هغوی پر ځای جاهلان خپل مفتیان جوړ کړي. هغوی به د خپل جهالت په بنیاد فیصلې کوي. هغه به په خپله هم گمراه کیږي او نور خلک به هم گمراه کوي. په تیرو لسو کلونو کې د امت مسلمه ډیر داسې علماء کرام وفات شوي کومو چې خلکو ته د دین په ور ښودلو کې لوی کردار اداء کاوه. شیخ عبد العزیز بن عبد الله بن باز (رئیس علماء کبار کونسل سعودي عرب) په سنه (۱۴۲۰ هجري مطابق ۱۹۹۹عیسوي) کې وفات شو. په همدغه کال کې محدث علامه محمد ناصر الدین الباني هم په سنه (۱۴۲۰ هجري مطابق ۱۹۹۹ عیسوي) کې

۱- صحیح البخاری، العلم، حدیث: ۱۰۰. وصحیح مسلم، العلم، حدیث: ۲۶۷۳.

وفات شو او شيخ علامه محمد بن صالح العثيمين په سنه (۱۴۲۱ هجري مطابق ۲۰۰۰ عيسوي) کې له دې فاني دنيا څخه رخصت شو. له دې پرته په همدې لسو کلونو کې د امت مسلمه نور ډير جليل القدر علماؤ له دې فاني دنيا څخه سترګې پټې کړې.

که يو څوک نن ورځ د امت مسلمه په حال غور وکړي نو وبه ګوري چې ډير شمير خلک د قرآن مجيد تلاوت په ډير ښه آواز کې کوي، په دغه ترتيل او زړه راښکونکي تلاوت کولو کې له يوه بل څخه د مخته کيدا په کوشش کې دي. ليکن د شرعي علم طلب او د ديني احکامو د زده کولو سلسله دريدلې، که چيرته په دغو قاريانو کې له کوم يوه څخه د سجدې سهوې په باره کې پوښتنه وکړى شي نو هغوى پرې هيڅ علم نلري.

﴿۵۹﴾ له کم علمه (وړو) خلکو څخه د علم حاصلول

د نبوت په زمانه کې به خلکو له لويو لويو علماؤ او فقهاؤ څخه علم حاصله وو. مګر داسې يو وخت به راشي چې کم فهمه، کم علمه او واړه خلک به په دغه منصب باندې قبضه وکړي. خلک به له دوى څخه فتوا غواړي او دوى به فتوا ورکوي. په مخکني حديث کې تير شول چې د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې قاريان به زيات شي او علماء به کم شي، تر دې چې له وړو او جاهلو خلکو څخه به علم حاصليږي. هغوى به فتوا ګانې ورکوي. په خپله به هم ګمراه کيږي او نور به هم ګمراه کوي.

حضرت ابو اميه جمحي ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ان من اشراط الساعة ان يتمس العلم عند الاصاغر﴾ (۱).

ژباړه: د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې له اصاغرو (وړو) خلکو څخه به علم حاصليږي.

---

(۱) کتاب الزهد لابن المبارک ۲۰. بسند صحيح

له امام عبد الله بن مبارک څخه پوښتنه وشوه : دا اصاغر څه شی دی؟ هغه ځواب ورکړ : دا هغه خلک دي کوم چې په خپله رایه فتوا ورکوي. یعني چې د هغوی علم مضبوط نه وي او نه د فتوا په ورکولو کې تحقیق کوي او نه په شرعي دلایلو سره استدلال کوي. داسې هم ویل شوي چې له اصاغر څخه مراد اهل بدعت دي.

له حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی:

خلک به تر هغه وخته په خیر وي تر څو چې دوی ته علم د صحابه کرامو او لویو علماء کرامو په ذریعه راځي. البته کله چې علم د ورو خلکو په ذریعه راتلل شروع کړي نو بیا خلک تباه او برباد کیږي (۱).

الحمد لله په دې وخت کې تر دا مهاله علم او اهل علم په خیریت کې دي، اګر که د فکر خاوندانو ته معلومه ده چې نن ورځ ابلاغي ذرایعو یو څو داسې واړه طالب العلمان ډیر فعال او مشهور کړي کوم چې د اسلام عمومي معلومات لري، یعنې یواځې مشهور مسایل یې زده وي. په اصل کې نه علماء او نه فقهاء وي، مګر مشهور وي او خلک له هغوی څخه فتواګانې غواړي او علم ترې حاصلوي، که چیرته د دوی پر ځای جید علماء کرام په ابلاغي ذرایعو، ستیلایټ چینلونو. راډیو او انټرنیټ باندې راشي او خلک دوی وپیژني نو بیا به خلک له دوی څخه فتوا غواړي او د دوی لور ته به متوجه شي.

دا خبره هم باید په پام کې ونیول شي چې ډیر عمر د ښه علمیت نښه نه ده او نه باید محض د کم عمر له امله یو چا ته جاهل وویل شي. علي بن مدیني رحمه الله ویلي: علم د ډیر عمر نوم نه دی (۲).

---

۱ - کتاب الزهد لابن المبارک. حدیث: ۸۱۵.

۲ - طبقات الحنابلة: ۱/ ۲۲۷.

له حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه دا قول نقل شوی : چې د علم تعلق له واړه يا لوی عمر سره نه دی. بلکه الله تعالی چې چا ته وغواړي هغه ته علم ورکوي (۱).

لهذا دا ضروري ده چې کوم خلک په ټولنه کې د عالم په صفت مشهور شي هغه بايد خپل ځان له وړو خلکو څخه وباسي او د يوه لوی انسان جوړيدو کوشش وکړي. دا هغه وخت ممکنه ده کله چې هغه ډير علم حاصل کړي. د کتاب او سنت فهم پيدا کړي. خپل علم پوخ کړي او له لويو علماء کرامو سره رابطه وکړي.

﴿۶۰﴾ د نا څاپي مرګونو ډيروالی

زمونږ په دې زمانه کې د قيامت چې کومې نښانې ښکاره شوې دي په هغوی کې يوه دا هم ده چې نا څاپي مرګونه ډير شوي، يعنې داسې مرګونه کوم چې يو نا څاپه د زړه له دورې څخه منځته راځي، يا د وينې له بنديدو، د موټر د ټکر کيدو او جهاز (طيارې) له ښکته راغوځيدو څخه پېښيږي.

حضرت انس بن مالک ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي :

﴿ان من اقترب الساعة ان يظهر موت الفجاة﴾ (۲).

د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې يو نا څاپه مرګونه به ډير واقع کيږي.

په تيره زمانه کې به يوه انسان ځينې نښانې محسوس کولې او يو څه موده به ناجوړه وو او پوه به شو چې دا مرض الموت دی. نو وصيت به يې وليکه. له خپل اهل او عيال سره به يې خدای په اماني وکړه. خپل اولاد ته به يې څه نصيحتونه وکړل. د خپل رب لور ته به يې رجوع وکړه. له هغه څخه به يې د ګناهونو معافي وغوښته او د کلمې طيبې ورد به يې شروع کړ تر دې چې د کلمې طيبې ويلو په وخت کې به مړ شو.

---

۱ المصنف لعبد الرزاق: ۱۱/ ۴۴۰، حديث: ۲۰۹۴۲.

۲ نمعجم للضـ ـنی: ۲/ حدبث ۱۱۳۲

مګر په اوسنۍ زمانه کې مونږ وینو چې یو سړی روغ جوړ او صحتمند وي. هیڅ تکلیف او نا جوړتیا نلري. لیکن یو نا څاپه د زړه دوره پرې راشي، یا یې په رګونو کې وینه بنده شي. یا دیته ورته د نورو حوادثو او عوارضو له امله مونږ د هغه د وفات خبر واورو. د یوه عقلمد انسان لپاره لازمه ده چې هر وخت بیدار او هوښیار و اوسي. له مرګ او الله تعالی سره د مخامخ کیدا لپاره تل د الله تعالی په اطاعت کې و اوسي.

اغتنم فی الفراغ فضل رکوع ❁ فعسی ان یکون موتک بغتة

کم من صحیح رائیت من غیر سقم ❁ ذهبت نفسه الصحیحة فلتة

د صحت او فراغت په وخت کې د الله تعالی په مخکې سر ښکته کول غنیمت وګڼه. ممکن ده چې د ستا مرګ یو نا څاپه راشي.

ما ډیر صحتمند خلک لیدلي دي. چې پرته له کومې ناجوړتیا یو نا څاپه له دې فاني دنیا څخه تللي دي (۱).

﴿۶۱﴾ د بې وقوفو واکمني

د عامو خلکو اصلاح د هغوی د واکمنو تر اصلاح او د عامو خلکو بیکارتوب د هغوی د واکمنو تر بیکارتوب پورې اړه لري، نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې حکومت او قیادت به د کم فهمو او بې وقوفو خلکو لاسته ورشي. کوم به چې نه د کتاب او سنت په رڼا کې ژوند تیروي او نه به د نورو نصیحت مني.

له حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ خپل صحابي حضرت کعب بن عجره رضي الله عنه ته وفرمایل:

اې کعب! الله دې تا د بې وقوفو له واکمنۍ څخه وساتي. هغه عرض وکړ یا رسول الله! د بې وقوفو د واکمنۍ مطلب څه دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل

۱- دا د امام بخاري رحمه الله اشعار دي. وګورئ هدي الساري مقدمة فتح الباري لابن حجر العسقلاني رحمه الله. ص: ۲۷۴. (سیف).

له ما وروسته به داسې واکمن وي کوم به چې زما له سنتو څخه ړنا نه حاصلوي او نه به زما په سنتو عمل کوي. کوم خلک چې د هغوی د دروغو تصدیق وکړي او په ظلم او ستم کې له هغوی سره ملګري شي نه هغوی له ما څخه دي او نه زه له هغوی څخه یم او نه به زما حوض کوثر ته راځي. البته هغه خلک چې د هغوی د دروغو تصدیق ونه کړي او په ظلم او ستم کې د هغوی ملګرتیا ونه کړي هغه له ما څخه دي او زه له هغوی څخه یم او دا خلک به زما حوض کوثر ته هم راځي.

اې کعب! روژه ډال دی. صدقه ګناهونه محوه کوي. لمونځ قرباني ده. یا نبي کریم ﷺ دا وفرمایل چې لمونځ دلیل دی. اې کعب! هغه غوښه چې له حرامې غذا څخه پیدا شي هغه به جنت ته نه داخلیږي. د هغې لپاره د جهنم اور ډیر مناسب دی. اې کعب! خلک له کورونو څخه وځي او د خپل ځان سودا کوي. ځوک خپل ځان له الهي عذاب څخه آزاد کړي او ځوک یې په هلاکت او بربادي کې وغورځوي (۱).

د (سفیه) معنا ده: داسې سړی کوم چې کم عقل او کم تدبیره وي. کوم خلک چې د نورو مسایل نه پیژني د خپل ځان مسایل به څنګه وپیژني. د (سفاهت) معنا ده: کم عقلي. په یوه بل حدیث کې راغلي:

قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې د هرې قبیلې قیادت د منافقینو لاسته ورنشي.

له منافقینو څخه مراد څخه خلک دي د کومو چې ایمان کم وي. د الله تعالی له خوف او ویرې څخه خالي وي. په کثرت سره دروغ وایي او پوره جاهل وي.

هر کله چې د خلکو پادشاهان. قادین او تولواکان همداسې خلک شي نو هر شی درهم برهم کیږي. د دروغو به تصدیق او د رښتیاوو به تکذیب

---

(۱) مسند احمد: ۳/ ۳۲۱، وصحیح ابن حبان: ۱۰/ ۳۷۲.

کیږي. امانتونه به بد دیانتو ته سپارل کیږي او امانتدار ته به د شک په سترګه کتل کیږي. جاهل به خبرې کوي او عالم به په چپ کیناستلو باندې مجبوریږي.

امام شعبي رحمه الله فرمايي:

قیامت تر وخته نه قایمیږي تر څو چې علم جهل او جهل علم ونه ګڼل شي (۱).

د حقایقو بدلون او د ټولو معاملاتو درهم برهم کیدل دا ټول صورتحال به په آخره زمانه کې ښکاره شي. حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ان من اشراط الساعة ان یوضع الاخیار، ویرفع الاشرار﴾ (۲).

ژباړه: د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې ښه خلک به ښاته کړل شي او بد خلک به مخته کړل شي.

﴿۶۲﴾ زمانې به نږدې شي

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې زمانې به نږدې شي، حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې نبي کریم ﷺ فرمايلي:

﴿يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيَنْقُصُ الْعَمَلُ وَيُلْقَى الشُّحُّ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّمَ هُوَ قَالَ الْقَتْلُ الْقَتْلُ﴾ (۳).

ژباړه: زمانې به نږدې شي. عمل به کم شي. فتنې به ښکاره شي. د بخل او حرص دوره به شي. هرج به زیات شي. عرض یې وکړ یا رسول الله! هرج څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: قتل او خونریزي.

---

۱ مصنف لابن ابی شیبة: ۱۵ /۱۷۵. حدیث: ۳۸۵۸۳.

۲ مصنف لابن ابی شیبة: ۱۵ /۳۸۵۴۵. وسلسلة الاحادیث الصحیحة ۲/ حدیث ۲۸۲۱

۳ صحیح البخاري. الفتن. حدیث: ۷۰۲۱. وصحیح مسلم. العلم. حدیث: ۱۵۷. بعد الحدیث: ۲۶۷۲.

د زمانې په نږديوالي کې د علماء کرامو اقوال.

(۱) له دې څخه مراد په زمانې کې د برکت کم والی دی. هغه په دې ډول چې د پخوا زمانې خلکو به چې کوم کار په يوه ساعت کې کاوه د وروسته زمانې خلک به هغه کار په څو ساعتونو کې هم نشي کولای.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي : دا صورتحال زمونږ په زمانه کې واقع شوی، مونږ وينو چې شپه او ورځ ډير په تيزي سره تيريږي او په پخوا زمانه کې داسې نه وو (۱).

(۲) د دې بل مطلب دا هم دی چې د زمانې اهل به د ابلاغي ذرايعو، د زميني او هوايي سپرليو د کثرت له امله له يوه بل سره نږدې شي.

(۳) د دې يوه معنا دا هم ده چې زمانه به په اصل حيقيت کې ډيره په تيزي سره تيريږي. ځکه الله تعالى چې ځنکه وغواړي شپې او ورځې اوږدولای او لنډولای شي. د دې تاييد له هغه حديث څخه هم کيږي په کوم کې د دجال زمانې د ورځو د اوږدوالي خبر ورکړل شوی دی چې هلته به يوه ورځ د کال برابره وي. دويمه به د مياشتې برابره وي او دريمه به د هفتې برابره وي، ورځې چې څنګه اوږديدلای شي همدا رنګه لنډيدلای هم شي. مګر دا نښانه تر دا مهاله نه ده ښکاره شوې.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي

﴿لا تقوم الساعة حتى يتقارب الزمان فتكون السنة كالشهر والشهر كالجمعة تكون الجمعة كاليوم ويكون اليوم كالساعة وتكون الساعة كالضرمة بالنار﴾ (۲).

ژباړه قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې زمانه قريبه نشي. په دې وخت کې به کال د يوې مياشتې برابر وي. مياشت به د جمعې برابره وي. جمعه

---

[1] فتح الباري شرح صحيح البخاري: ۱۳/ ۲۲.

[2] جامع الترمذي. الزهد. حديث: ۲۳۳۲. و مسند احمد: ۲/ ۵۳۸.

به د ورځې برابره وي. ورځ به د یوه ساعت برابره وي او یو ساعت به داسې وي لکه د اور شغله چې بله شي او مړه شي.

(۴) په تقارب زمان کې یو قول دا هم دی چې له دې څخه مراد د انسان د عمر کم والی دی. یعنې له قیامت سره په نږدې زمانه کې به د پخوانیو زمانو په خلاف عمرونه به ډیر کم وي.

﴿۶۳﴾ کم عقل خلک به د نورو ترجماني کوي

د ترجماني په سلسله کې اصول دا دي چې یو عقلمند، دانا او فصیح سړی به ترجمان وي. لیکن د قیامت له راتلو د مخه به یوه داسې زمانه راشي په کومه کې به چې خلک خراب شي او د هغوی ترجمانان به کم عقل او بیکاره خلک وي. حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿انها ستأتي على الناس سنون خداعة يصدق فيها الكاذب ويكذب فيها الصادق ويؤتمن فيها الخائن ويخون فيها الأمين وينطق فيها الرويبضة قيل وما الرويبضة قال السفيه يتكلم في أمر العامة﴾ (۱).

ژباړه:

په خلکو به یو څه دوکه کونکي (چل کونکي) کلونه راشي. په دې کې به دروغ رښتیا ګڼل کیږي. رښتیا به دروغ ګڼل کیږي. په خاین به د امانتدار ګمان کیږي، په امانتدار به د خاین شک کیږي او د خلکو په معاملاتو کې به رویبضة خبرې کوي. عرض وشو یا رسول الله! رویبضة څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: بې وقوف انسان کوم به چې د عامو خلکو په معاملاتو کې خبرې کوي.

---

(۱) مسند احمد: ۲۹۱/۲، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۴/ ۵۰۸، حديث: ۱۸۸۷.

دا ننباني زمونږ په دور کې ښکاره او عامې شوې دي، ځکه چې په ټولنه کې بيکاره خلک له بهترينو خلکو څخه ډير معزز دي او د عامو خلکو د معاملاتو واک د بيکاره خلکو لاسته ورغلی دی.

واجب ده چې اهل علم، عقلمند او تجربه کار خلک د خلکو په معاملاتو او سياست کې مخته کړی شي. کوم سړی چې نن ورځ د خلکو په حالاتو غور وکړي نو وبهويني چې خلک د خپلو خواهشاتو او مصلحتونو لور ته مايل دي. اګر که په هغه کې د دوی دين او ايمان ضايع ولې نشي. همدا وجه ده چې دوی فساق او فجار خپل قائدين او راهنما جوړ کړيدي.

﴿۶۴﴾ احمق او جاهل به له ټولو زيات خوشحال وي

د قيامت له ننبانو څخه دا هم ده چې يوه داسې زمانه به راشي په کومه کې به چې رښتيا دروغ او دروغ به رښتيا ګڼل کيږي، په خاين به د امانتدار ګمان کيږي، په امانتدار به د خاين شک کيږي، د خلکو قيادت به بې وقوف انسان کوي او ټولې ذمه وارۍ به نا اهلو ته وسپارل شي.

له حضرت انس بن مالک ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لاتقوم الساعة حتى يكون أسعد الناس بالدنيا لكع ابن لكع﴾ (۱).

ژباړه:

قيامت تر هغه وخته نه راځي تر څو چې امير ترين سړی هغه څوک جوړ نشي کوم چې احمق ابن احمق او جاهل ابن جاهل نه وي.

نبي کريم ﷺ دا هم فرمايلي:

﴿يوشك ان يغلب على الدنيا لكع بن لكع﴾ (۲).

ژباړه: نږدې ده چې په دنيا باندې جاهل او احمقان غلبه وکړي.

نبي کريم ﷺ دا هم فرمايلي:

---

[1] - جامع الترمذي، الفتن، حديث: ۲۲۰۹. وصححه الالباني.

[2] - مسند احمد: ۵/ ۳۴۰.

﴿لاتذهب الدنيا حتى تصير للكع ابن لكع﴾ (۱).

ژباړه:

دنيا نه ختميږي تر څو چې دا ټولنه د احمقو خلکو په ملکيت کې نشي

لکع ابن لکع: دا هغه څوک دي چې د بد اخلاقي له امله هيڅوک د هغه صفت نه کوي، د عربو په نزد يې معنا ده بد غلام. د لکع لفظ په حماقت او جهالت کې استعماليږي او په عربي ژبه کې سړي ته لکع او ښځې ته لکاع ويل کيږي.

د قرب قيامت په زمانه کې به داسې خلک تر ټولو ډير زيات خوشحال وي، له هغوی سره به ډير مال، موټرې او لوی لوی (وسيع) کورونه وي، له هغوی سره به دومره ډير دولت له دې امله وي چې دوی به تر ټولو ډير احمق او جاهلان وي او په هره روا او ناروا طريقه به مال ګټي او جمعه کوي، دوی به د خلکو د خواهشاتو مطابق له هغوی سره معاملې کوي او دنيا (پيسې) به ګټي.

﴿۶۵﴾ مساجد (جوماتونه) به د لارو په څير استعماليږي

د دې معنا دا ده چې يو سړی به له يوه لوري څخه بل لوري ته مسجد (جومات) د لارې په توګه استعمالوي، د هغه تعلق به له لمانځه او جومات سره نه وي، يعنې په آخره زمانه کې به جوماتونه له لمانځه څخه زيات د لارو په توګه استعماليږي.

---

(۱) مسند احمد: ۲/ ۳۵۸.

﴿۶۶﴾ ﴿۶۷﴾ په حق مهر او د اسونو په قيمت کې به لوړې ډير زياتوالی او بيا به ډير کم والی راشي

خارجه بن صلت برجمي ويلي:

زه او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يو ځای د هغه له کور څخه ووتلو کله چې خلک د رکوع په حالت کې وو. مونږ په لیږ فاصله کې د رکوع په حالت کې وو او په دې حالت کې ولاړو او په صف کې ودريدو. کله چې له لمانځه څخه فارغ شوو نو يو سړی راغی او وې ويل: اې ابو عبد الرحمن! په تا سلام. حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وويل: الله اکبر! الله او د هغه رسول رښتيا ويلي. ما د لمانځه له اداء کولو وروسته ورته وويل: ابو عبد الرحمن! آيا د هغه سړي سلام ته پريشانه کړې؟ هغه راته وويل: هو، د نبي کريم ﷺ په زمانه کې دا ويل کيدل چې د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې له مساجدو (جوماتونو) څخه به ګزرګاه جوړه کړی شي، يو انسان به يو اځې شناخته سړي ته سلام کوي. ښځه او سړی به يو ځای تجارت کوي، د ښځو حق مهر او د آسونو قيمت به اول ډير زيات شي، بيا به ډير کم شي او له دې وروسته به بيا بيخي زيات نشي (۱).

﴿۶۸﴾ د بازارونو نږدې والی

نبي کريم ﷺ زمونږ له دغې زمانې څخه خبر ورکړی چې په دې زمانه کې به مسافې نږدې شي. نن صبا له يوه مارکيټ څخه بل ته تګ ډير آسان او په ډير کم وخت کې ممکن دي. يو انسان په ډير کم وخت کې په مختلفو عالمي منډيانو کې ګرځيدلای شي او د مارکيټونو او منډيانو نرخ معلومولای شي. دا ټول له دې امله ممکن دي چې په زمکه کې اوسيدونکو خلکو ته تيز ترين د حمل او نقل وسايل ميسر دي. هغوی د موټرو، ريل ګاډو او د هوائي جهازونو (طيارو) له امله له يوه بل سره ډير

---

(۱) المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۲۴.

نږدې دي. همدا شان د ابلاغي مواصلاتو لکه تليفون، ټي وي چينلونه او انټرنيټ وغيره هم د دوی په نزديکت کې مهم کردار اداء کړی.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لاتقوم الساعة حتى تظهر الفتن ويكثر الكذب ويتقارب الاسواق﴾ (۱).

ژباړه: قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې فتنې ظاهرې نشي، دروغ زيات نشي او بازارونه په خپل مينځ کې سره نږدې نشي.

د بازارونو د نږدې والي درې ممکن صورتونه دي:

- اول صورت: دا دی چې په مارکيټونو کې به د نرخ په کم والي يا ډير والي خلک ډير زر خبريږي.
- دويم صورت: دا دی چې له يوه مارکيټ څخه به بل مارکيټ ته خلک ډير زر رسيږي، اګر که تر مينځ يې مسافه ډيره ولې نه وي.
- دريم صورت: دا دی چې په مختلفو مارکيټونو کې به د شيانو نرخونه يو شانته وي او د نرخونو په کم والي او زيات والي کې به په يوه او بل پسې اقتداء کوي، والله اعلم.

امام العصر علامه ابن باز رحمه الله د حضرت ابو هريرة ﷺ په حديث کې د مذکور تقارب تشريح داسې کړې:

په حديث کې چې د کوم تقارب ذکر شوی د هغه مناسبه تشريح دا ده چې په موجوده عصر کې د هوائي جهازونو (طيارو) موټرو او د مواصلاتي ذرايعو په سبب د ښارونو او ملکونو (هيوادونو) فاصله کمه شوې او هغوی له يوه بل سره ډير نږدې شوي دي.

۱- مسند احمد: ۲/ ۵۱۹. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲/ ۲۳۹. حديث: ۲۷۷۲.

﴿۶۹﴾ د عالمي قومونو لخوا په اسلامي امت یرغل

د قیامت هغه نښانې کومې چې په آخره زمانه کې ظاهریدونکې دي. له هغوی څخه یوه دا هم ده چې عالمي قومونه به په اسلامي امت یرغلونه وکړي. لیکن الله تعالی به د دغه امت حفاظت په خپله وکړي.

د تاریخ لوستونکو ته معلومه ده چې اسلامي امت لوی دردناک جنګونه کړي دي، په پخوانیو زمانو کې پر هغوی د مصائبو بارانونه شوي دي، مګر الله تعالی په هره موقع د هغوی حفاظت کړی. عیسایان سره جمع شوي او د مسلمانانو په مقابل کې یې د صلیبي جنګونو بازار ګرم کړی، لیکن الله تعالی د اسلامي امت مرسته کړې او عیسایانو ته یې اجتماعي شکست ورکړی. بیا تاتار یانو په اسلامي هیوادونو یرغل کړی، مګر الله تعالی د هغوی مکر هم چپه کړی. په دې موجوده زمانه کې یهود او عیسایان سره یو شوي دي او اسلامي امت ته د نقصان رسولو په کوشش کې مصروف دي. مګر مونږ د الله تعالی له دربار څخه قوي امید لرو چې مسلمانان به د یهودو او عیسایانو دین ته نه ورمایل کیږي، بلکه مسلمانانو ته به دا ځل هم الله فتح او نصرت ور په برخه کوي. الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴾ (۱).

ژباړه: او خامخا مرسته به وکړي هرو مرو الله له هغه چا سره چې مرسته ورکوي دین د دغه (الله) ته: بیشکه چې الله خامخا قوي (د خپلو احکامو په تنیذ کې) ډیر زور والا دی (په هر چا) (دغه مهاجر مظلومان).

همدا شان الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴾ (۲).

---

۱ الحج، آية: ۴۰.

۲ المجادلة، آية: ۲۱.

ژباړه: لیکلي دي الله (په لوح محفوظ کې) چې خامخا به غلبه برې وکړم هرو مرو زه او رسولان زما بیشکه الله ډیر قوي دی ښه غالب دی.

حضرت ثوبان ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿یوشك الأمم أن تداعى علیكم كما تداعى الأكلة إلى قصعتها " فقال قائل ومن قلة نحن یومئذ ؟ قال " بل أنتم یومئذ كثیر ولكنكم غثاء (ما يحمله السیل من وسخ) كغثاء السیل ولینزعن الله من صدور عدوكم المهابة منكم ولیقذفن الله في قلوبكم الوهن " فقال قائل یارسول الله وما الوهن ؟ قال " حب الدنیا وكراهیة الموت﴾ (۱).

ژباړه:

نږدې ده چې په تاسو به عالمي قومونه داسې حمله وکړي لکه څرنګه چې یو وږی پر ډوډۍ حمله کوي، پوښتونکي پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! آیا په دې وخت کې به زمونږ شمیر کم وي؟ رسول الله ﷺ وویل: نه! بلکه تاسو به په دې وخت کې ډیر یاست، مګر د ستاسو حیثیت به د سیلاب له خس او خاشاکو څخه زیات نه وي، الله تعالی به د ستاسو د دښمن له زړونو څخه د ستاسو هیبت ایستلی وي او د ستاسو په زړونو کې به یې (وهن) اچولی وي، عرض یې وکړ. یا رسول الله: وهن څه شی دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د دنیا محبت او له مرګ څخه نفرت.

(قصعة) هغه لوښي ته ویل کیږي په کوم کې چې د خوراک شی اچول کیږي او ترینه خوړل کیږي. د نبي ﷺ په زمانه کې به عموماً دا له لرګي څخه جوړیده. (الغثاء) هغه خس، خاشاک او نورو شیانو ته ویل کیږي کوم چې د

۱- سنن ابی داؤد، الملاحم، حدیث: ۴۲۹۷. ومسند احمد: ۵/ ۲۷۸. وسلسلة الاحادیث الصحیحة: ۲/ ۶۸۴، حدیث: ۹۵۸.

سیلاب په اوبو. له پاسه روان وي او د (الوهن) تشریح د الله تعالی رسول ﷺ په خپله وکړه، چې دا له دنیا سره محبت کول او له مرګ څخه د نفرت کولو نوم دی.

دا حدیث د رسول الله ﷺ د نبوت د صداقت دلیل او د قیامت له علامو څخه دی. نن ورځ عالمي قومونه په اسلامي امت باندې داسې حمله کونکي دي لکه څرنګه چې اوږي د خوراک په لوښي باندې حملې کوي، د دغه ذلت او رسوائي سبب د مسلمانانو کموالی نه دی. مسلمان په کثرت کې دي، مګر سره له دې له خس او خاشاک څخه زیات حیثیت نلري، دوی د هغه ځګ په څیر دي کوم چې د سیلاب د اوبو پر سر روان وي او د هغه هیڅ وزن نه وي، نن ورځ د مسلمانانو دا حال دی. مسلمانان نن ورځ له یو زر میلیون څخه زیات دي، مګر دا کثرت د کمیت په اعتبار خو ضرور شته البته د کیفیت په اعتبار سره هیڅ کله نشته.

نن ورځ د دښمنانو له زړونو څخه د مسلمانانو رعب وتلی او د مسلمانانو په مقابل کې جنګ کولو ته تیاریږي او پر مسلمانانو باندې حملې کوي، دا هر څه په هغه وخت کې کیدلای شي کوم وخت چې د مسلمانانو په زړونو کې وهن وغورځیږي. یعنې چې مسلمانان د دنیا په محبت کې او له مرګ څخه په نفرت کې مبتلا شي.

﴿۷۰﴾ خلک به د امامت له کولو تیښته کوي

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې په خلکو کې به جهالت ډیر خپور شي تر دې چې خلکو ته به د امامت ورکولو لپاره هیڅ امام نه پیدا کیږي، یوه او بل ته به د امامت کولو لپاره دیکې (تیلې) ورکوي. ځکه چې هغوی به د شریعت له احکامو خبر نه وي او نه به د قرآن مجید تلاوت په سمه طریقه کولای شي.

سیده سلامة بنت حر رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿إن من أشراط الساعة أن يتدافع أهل المسجد لا يجدون إماما يصلي بهم﴾ (۱).

ژباړه:

د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې په جوماتونو کې به د امامت کولو لپاره يوه او بل ته ديکې (تېلې) ورکول کيږي او په خپل مينځ کې به داسې څوک نشي پيدا کولای چې هغه امامت ورکړي.

دا زمانه شايد تر دا مهاله نه وي راغلې. الحمد لله! د علم او علماؤ حلقې په هر ځای کې موجودې دي او جوماتونه له علماؤ، طالبانو او له ښو ښو قاريانو څخه ډک دي.

له حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی: هغه فرمايلي:

﴿ياتون على الناس زمان يجتمعون فيه ويصلون فى المساجد وليس فيهم مؤمن﴾ (۲).

ژباړه: په خلکو باندې به داسې زمانه هم راشي چې خلک به جمع کيږي او په جوماتونو کې به لمونځ هم کوي، مګر په هغوی کې به يو هم کامل او حقيقي مؤمن نه وي.

۱- ابی داؤد، الصلوة، حديث: ۵۸۱.

۲- دغه حديث امام حاکم روايت کړی او ويلي يې دي چې دا صحيح الاسناد دی او د امام بخاري او مسلم د شرط مطابق دی. مګر هغوی دا حديث نه دی بيان کړی. امام ذهبي رحمه الله هم په تلخيص کې د امام حاکم تاييد کړی. ياد لرئ چې دا حديث د مرفوع په حکم کې دی، ځکه دا ډول خبرې له خپلې رايې څخه نشي کيدلای. دا رنګه خبرې له رسول الله ﷺ څخه آوريدلې شوې دي.

﴿۷۱﴾ د مؤمن خوب رښتیا کېدل

د خوب په حالت کې چې انسان څه ویني د هغه لپاره یو څه معناوې او احکام شته دي. ځینې خوبونه بالکل د صبا راختو په څیر رښتیا وي. ځینې دروغ هم وي او ځینې بیا یواځې د پریشانۍ سبب وي د کومو لپاره چې خاص تعبیر نشته. نبي کریم ﷺ د خوبونو په باره کې ځینې داسې خبرې کړې دي کومې د قیامت تر نښانو او اثارو پورې تعلق لري.

رښتونی خوب د نبوت شپږ څلویښتمه برخه ده. ام المؤمنین حضرت عائشة رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لا یبقی بعدي من النبوة شيء الا المبشرات قالوا یا رسول الله وما المبشرات قال الرؤیا الصالحة یراها الرجل أو ترى له﴾ (۱).

ژباړه:

زما له نبوت وروسته به هیڅ شی باقي پاته نشي پرته له مبشرات. صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ: یا رسول الله! مبشرات څه شی دی؟ رسول الله ﷺ ورته وویل: ښه خوب چې یو مسلمان یې ویني، یا یې بل څوک د هغه لپاره ویني.

د خوب رښتیا کېدل او د مؤمن لپاره زیری کېدل د قیامت د نږدې والي او د کائناتو د خاتمې نښانه ده. د مؤمن خوب به له قیامت سره په نږدې زمانه کې ډېر رښتیا او له نفس الامر سره به برابر وي. مؤمن به په خلکو کې ډېر بېګانه وي. په دې وختونو کې به رښتونی خوب له مؤمن څخه تنهایي او اجنبیت لیرې کوي او هغه به انیس او غمخور جوړوي او د هغه خوب به کم دروغ کېږي.

رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

(۱) مسند احمد: ۲/ ۱۲۹. وصحیح البخاري. التفسیر. حدیث: ۲۹۹۰.

کله چې د قیامت زمانه را نږدې شي نو د مسلمان خوب به کم دروغ کیږي. کوم خوب چې رښتونی وي هغه به هم په هغه خبره کې ډیر رښتونی وي، د مؤمن خوب د نبوت سپړ څلویښتمه برخه ده. خوب په دری ډوله دی:

(۱) یو رښتونی خوب کوم چې د الله تعالی له لوري خوشخبري وي:

(۲) دویم غمجن خوب کوم چې د شیطان له لوري وي:

(۳) دریم هغه خوب دی په کوم کې چې انسان له خپل ځان سره خبرې کوي:

که چیرته تاسو بیکاره خوب ووینی نو تاسو پورته شئ : لمونځ وکړئ او نورو خلکو ته دا خوب مه بیانوئ. زه په خوب کې بیړی، خوښوم او طوق نه خوښوم، ځکه چې په خوب کې د بیړی، تعبیر پر دین باندې استقامت او ثابت قدمي ده (۱).

حافظ ابن حجر رحمه الله له ابن ابی جمره رحمه الله څخه نقل کړي:

نبي کریم ﷺ دا فرمایلي : په آخره زمانه کې به د مؤمن خوب نه دروغ کیږي. د دې مطلب دا دی چې د مؤمن خوب به داسې واضح وي چې هیڅ کوم دلیل ته به ضرورت نلري، لهذا په هغه کې دروغو لره ځای نشته. دا خوب به رښتونی وي او له دروغو څخه به خالي وي، ځکه چې دا به له نفس الامر سره عین مطابق وي، برعکس د کومو خوبونو تعبیر چې مخفي پټ وي، تعبیر کوونکو یې تعبیر کړی وي. مګر هغه واقع نه وي. نو دا رنګه خوبونه دروغ دي. رښتیا نه دي.

د دې خبرې په آخره زمانه پورې په خاص کولو کې حکمت دا دی چې مؤمن به په هغه وخت کې اجنبي وي. لکه څرنګه چې په حدیث شریف کې راغلي : اسلام په اجنبیت کې شروع شوی او په آخره زمانه کې به هم غریب او مانوس شي. په دې وختونو کې به یو مؤمن مانوس او غریب وي نو الله تعالی به

۱- مسند احمد : ۲ / ۵۰۷ . وصحیح مسلم. الرؤیا . حدیث: ۲۲۶۳.

ورته د ربښتوني خوب په سبب عزت ورکړي. کوم به هغه په حق باندې ثابت قدم کوي او دا به د هغه لپاره د زيري باعث وي (۱).

د مؤمن د ربښتوني خوب د زمانې په تعين کې دوه احتماله

(۱) دا به هغه زمانه وي کله چې علم له دنيا څخه پورته کړل شي، د فتنو او جنګونو له امله به د شريعت نښانې غائبې (ورکې) به شي. په دې وخت کې به يو مؤمن د خلکو په مينځ کې بالکل د مانوس او اجنبي شخص په څير شي، په دې سختو حالاتو کې به الله تعالى د ربښتوني خوب په ذريعه د مؤمن نصرت کوي. حافظ ابن حجر رحمه الله د دې خبرې لور ته اشاره کړې (۲).

(۲) دا واقعات به د حضرت عيسى عليه السلام په زمانه کې وي، ځکه چې د هغه د نزول زمانه په امت کې له صحابه کرامو وروسته بهترينه، د اقوالو او احوالو په اعتبار سره تر ټولو ښه زمانه ده او په دې زمانه کې به د مؤمن خوب ډير کم دروغ کيږي (۳).

۱- فتح الباري شرح صحيح البخاري: ۱۲/ ۵۰۷ و ۱۹/ ۴۵۱.

۲- فتح الباري شرح صحيح البخاري: ۱۲/ ۵۰۷.

۳- فتح الباري شرح صحيح البخاري: ۱۲/ ۵۰۷.

﴿۷۲﴾ د دروغو ډيروالی

دروغ يو ډير بد عادت دی. د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې په خلکو کې به دروغ خپاره شي، يو سړی به د خپلو خبرو کولو په وخت کې له دروغو څخه د ځان ساتنې هيڅ کوشش نه کوي او نه به نورو خلکو ته د خبرې له رسولو د مخه کوم تحقيق کوي.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿يكون في آخر الزمان دجالون كذابون يأتونكم من الأحاديث بما لم تسمعوا أنتم ولا آباؤكم فإياكم وإياهم لا يضلونكم ولا يفتنونكم﴾ (۱).

ژباړه:

په آخره زمانه کې به داسې دجال او کذاب ښکاره شي کوم به چې تاسو ته داسې حديثونه بيانوي چې نه به تاسو آوريدلي وي او نه به دستاسو پلرونه او اجداد په هغوی خبر وي، تاسو له هغوی څخه ځان وساتئ، تر څو چې تاسو ګمراه نه کړي، يا مو په کومه فتنه کې مبتلا نه کړي.

حضرت جابر بن سمره ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ان بين يدى الساعة كذّابين فاحذروهم﴾ (۲).

ژباړه:

له قيامت څخه د مخه به يو شمير دروغژن خلک ښکاره شي. له هغو ځان وژغورئ.

په موجوده زمانه کې خلک له دروغو څخه د ځان نه ساتلو له امله دروغژنې خبرې، عجيبه او نا اشنا قيصې ډيرې زياتې کوي. همدا وجه ده چې رسول الله ﷺ د هرې اوريدونکې خبرې تصديق کول او د هغې له مخته وړو څخه منع کړې. لهذا دا ډيره ضروري ده چې مونږ کومه خبره واورو له مخته وړو

۱- مقدمة صحيح مسلم، حديث: ۷.

۲- صحيح مسلم، الامارة، حديث: ۱۸۲۲.

څخه د مخه يې بايد پوره تحقيق وکړو تر څو چې مونږ هم په دروغژنو کې شمار نشو او په کومه ګناه او خطا کې مبتلا نشو.

نن ورځ د افواهاتو بازار چې ډير ګرم دی. په خبرو کې تحقيق کول رواج نه دي او د حالاتو او واقعاتو په بيانولو کې چې کوم کمی او زياتی تر سترګو کيږي دا ټول د هغو دروغو اقسام دي له کومو څخه چې نبي کريم ﷺ منع کړې او حرام يې ورته ويلي.

﴿۷۳﴾ د زلزلو کثرت (ډيروالی)

له قيامت څخه د مخه د زلزلو د کثرت معنا دا ده چې په يوه پراخه (وسيعه) علاقه کې به لوی مسلسلې زلزلې راشي، دا زلزلې به د امت لپاره يا رحمت او يا د ګناهونو کفاره وي، لکه چې د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ په حديث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿إن أمتي أمة مرحومة ليس عليها في الآخرة عذاب إنما عذابها في الدنيا القتل والبلابل والزلازل قال أبو النضر بالزلازل والقتل والفتن﴾ (۱).

ژباړه:

زما په امت به رحم کيږي. د هغوی لپاره په آخرت کې هيڅ عذاب نشته. بلکه الله تعالی هغوی ته په دنيا کې د قتل، زلزلو او فتنو په شکل کې عذاب مقرر کړی.

يا دا زلزلې د خلکو لپاره سزا ده. چيرته چې فتنې او فساد زيات شي هلته د هغې زمانې د خلکو لپاره د عذاب او سزا په ډول زلزلې را ليږل کيږي.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې علم پورته نه کړل شي او زلزلې زياتې نشي (۲).

---

۱ مسند احمد: ۴/ ۴۱۰، والمستدرک للحاکم: ۴/ ۴۴۴، وصححه واللفظ له.

۲ صحيح البخاري، الاستسقاء، حديث: ۱۰۳۶.

حضرت عبد الله بن حواله ازدي رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

ابن حواله ! کله چې ته ووینې چې خلافت د شام له زمکې ځخه نقل کړی شي نو پوه شه چې د زلزلو، مصیبتونو او د لویو پریشانیو دور راتلونکی دی، په دې وخت کې به قیامت خلکو ته دومره نږدې وي لکه څومره چې زما دغه لاس دستا سر ته نږدې دی (۱).

﴿۷۴﴾ د خلکو له یوه بل سره نه پیژندګلوي

کله چې فتنې او مصیبتونه زیات شي نو خلک به له یوه بل سره د تعلقاتو په ساتلو کې کمزوري شي، تر دې چې نوبت به تر اجنبیت ورسیږي، په دې وخت کې به خلک یواځې د دنیوي مصلحتونو په خاطر له یوه بل سره شناخت کوي.

حضرت حذیفة بن یمان رضي الله عنه بیان کوي چې له رسول الله ﷺ ځخه د قیامت په هکله پوښتنه وشوه نو هغه ﷺ وفرمایل:

قیامت کله واقع کیږي؟ د هغه علم زما له رب سره دی او هغه به یې په خپل وخت سره ظاهر کړي، البته زه تاسو ته د قیامت له نښانو او له هغه ځخه د مخه د راتلونکو حالاتو خبر درکوم، له قیامت ځخه د مخه به فتنې او هرج وي، صحابه کرامو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه : فتنه خو پیژنو دا هرج څه شی دی؟ رسول الله ﷺ ورته وویل: دا د حبشي ژبې لفظ دی او په معنا د قتل او خونریزي سره دی. له قیامت سره په نږدې زمانه کې به د خلکو په مینځ کې اجنبیت وغورځي. یو څوک به ډیر کم خلک پیژني (۲).

---

[1] سنن ابی داؤد، الجهاد، حدیث: ۲۵۳۵.

[2] مسند احمد: ۵/ ۳۸۹.

دا حدیث نن ورځ د خلکو له واقعاتو او حالاتو سره مطابق دی. نن ورځ د خلکو اکثریت داسې دی چې خپل رشته دار هم نه پیژني، نوبت تر دې رسیدلای چې ځیني خلک له خپلو نږدې دوستانو سره له کور څخه د باندې په پارکونو کې ملاویږي او په دې نه پوهیږي چې دا یې رشته دار دی، د دې وجه دا ده چې نن ورځ زیاتره تعلقات د شخصي او ذاتي ګټو په بنا دي. په دنیوي مصلحتونو بنا دغه کمزوري تعلقات چې څومره په تیزي سره وده کوي هومره په تیزي سره له منځه هم ځي. ځکه چې دا د ایمان بالله او ورولۍ لپاره نه دي، بلکه د شخصي مفادو لپاره دي، که یو انسان خپل دنیوي مصلحت ویني او له یو چا سره په تعلق ساتلو کې د ده دغه دنیوي مصلحت تر سره کیږي نو تعلقات ور سره قایموي. که نه نو ډیر زر یې پریږدي.

﴿۷۵﴾ ﴿۷۶﴾ د ښځو ډیروالی او د سړیو کموالی

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې په آخره زمانه کې به د ښځو شمیره زیاته شي او د نرانو شمیر به کم شي، د علم خاوندانو ویلي چې په هغه زمانه کې به د ښځو د کثرت سبب هغه فتنې او جنګونه وي په کومو کې به چې یو لوی شمیر نران قتل کړی شي او ښځې به بیچ پاتې شي. ځکه چې جنګ کول د ښځو کار نه دی او د دې کار لپاره سړي په کار راځي.

په دغه سلسله کې دویم قول دا دی چې د فتوحاتو د کثرت له امله به د مینځو په شمیر کې زیاتوالی راشي او یو سړی به څو څو مینځې په خپله قبضه کې واخلي.

علامه ابن حجر رحمه الله فرمایي:

ظاهراً دا معلومیږي چې د ښځو ډیروالی او د نرانو کموالی به د کوم ظاهري سبب له امله نه وي. بلکه دا به د الله تعالی د تقدیر او د هغه د

حکمت تقاضا به وي چې په آخره زمانه کې به هلکان کم پیدا کیږي او انجونې به ډیرې پیدا کیږي (۱).

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

د قیامت له نښانو څخه دي چې علم به پورته کړل شي. جهالت به خپور شي. زنا به زیاته شي. شراب به څښل کیږي. سړي به ځي او ښځې به باقي پاته کیږي، تر دې چې د پنځوسو ښځو د پالنې لپاره به یو سړی وي (۲).

د یوه بل روایت الفاظ داسې دي:

زنا به عامه شي. سړي به کم شي او ښځې به زیاتې شي (۳).

که چیرته په دنیا کې د پیدا کیدونکو هلکانو او انجونو په شمیر کې غور وکړی شي او د عالمي مصدقه رپوټونو جایزه واخستل شي په کوم کې چې د هلکانو او انجونو د شمیر فرق ښودل شوی نو سړی دې نتیجې ته رسیږي چې دغه نښانه زمونږ په دور کې ښکاره شوې او مخ په ترقي روانه ده.

﴿۷۷﴾ د فشاحي او عرياني ظهور او په ښکاره يې ارتکاب

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په آخره زمانه کې چې د کومو بدیو د ډیروالي او د شهوتونو د انتشار پیشنګویي کړې، په هغه وخت کې یې دا هم فرمایلي چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې زنا به ډیره عامه شي: او نوبت به تر دې ورسیږي چې یو سړی به په لار کې د ټولو خلکو تر مخ له کومې ښځې سره زنا کوي.

دا دوه نښانې دي: یوه دا چې زنا به عامه شي، دويم دا چې زنا به ښکاره کیږي او د منع کولو کوشش به یې هیڅوک نه کوي.

---

۱ فتح الباري شرح صحیح البخاري: ۱/ ۲۳۲.

۲ صحیح مسلم. العلم. حدیث: (۹) - ۲۶۷۱.

۳ صحیح البخاري. العلم. حدیث: ۸۱.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان كوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لا تقوم الساعة حتى لا يبقى على وجه الأرض أحد لله فيه حاجة وحتى توجد المرأة نهارا جهارا تنكح وسط الطريق لا ينكر ذلك أحد ولا يغيره فيكون أمثلهم يومئذ الذي يقول : لو نحيتها عن الطريق قليلا فذاك فيهم مثل أبي بكر وعمر فيكم﴾ (۱).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې داسې صورتحال پيدا نشي چې په زمکه کې به هيڅ يو داسې څوک نه اوسيږي کوم ته چې د الله تعالى ضرورت وي. نوبت به دې ته ورسيږي چې په رڼا ورځ په ښکاره به د لارې په مينځ کې له يوې ښځې سره زنا کيږي او هيڅوک به په هغې اعتراض نه کوي او نه به هيڅوک د هغې د منع کولو کوشش کوي. په دغه وخت کې به په ټولنه کې بهترين سړی هغه څوک وي کوم چې زاني ته ووايي: که تاسو لږ له دې لارې څنګته شی، د دې خبرې کونکی به په هغه زمانه کې داسې حيثيت لري لکه نن ورځ چې زمونږ په مينځ کې ابوبکر او عمر دي.

د دغه حديث تاييد د رسول الله ﷺ دغه فرمان هم کوي: جهالت به خپور شي، زنا به عامه شي او شراب به څښل کيږي (۲).

د يوه بل روايت الفاظ داسې دي:

زنا به عامه شي. سړي به کم شي او ښځې به زياتې شي (۳).

دا دواړه نښانې زمونږ په زمانه کې ښکاره شوې دي. ځينې ټي وي چينلونه چې کوم قسم فحاشي خپره وي. په انټرنيټ باندې چې کوم قسم عکسونه او ويډيو نشر کيږي د مؤمن سترګې ورته له کتو شرميږي.

۱- المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۴۱. وصححه. وسلسلة الاحاديث الضعيفة: ۳/ ۴۱۰. حديث: ۱۲۵۴.

۲- صحيح مسلم. العلم. حديث: (۹) – ۲۶۷۱.

۳- صحيح البخاري. العلم. حديث: ۸۱.

مؤمنو ښځو او سړيو ته پکار دي چې د خپل نفس ساتنه وکړي. خپل نظرونه وساتي. د شرمګاوو حفاظت وکړي. له فاسقانو او فاجرانو څخه ځانونه بچ وساتي او له الله تعالی څخه هر وخت د پاک لمنۍ دعا وکړي.

﴿۷۸﴾ د قران مجيد په تلاوت باندې اجرت اخستل

د قرآن مجيد تلاوت او عبادت د الهي قربت ذريعه ده. په دغه سلسله کې اصولي خبره دا ده چې عبادت د دنيا طلبي لپاره نه کيږي، بلکه خالص د اخروي کاميابي او د الله تعالی د رضا لپاره يې کول پکار دي.

دا د قيامت له نښانو څخه ده چې يو شمير داسې خلک به پيدا شي کوم به چې د تعزيت په مجالسو يا په نورو مجالسو کې د قرآن مجيد تلاوت په خوش آوازي سره يوازې د دې لپاره کوي چې په هغه سره مال او دولت تر لاسه کړي.

حضرت عمران بن حصين ﷺ روايت کړی چې هغه له يوه داسې سړي سره په خوا کې تير شو کوم چې د خلکو په مخکې د قرآن مجيد تلاوت کاوه، کله يې چې تلاوت ختم کړ نو په هغه سره يې روپۍ وغوښتلې.

حضرت عمران ﷺ چې دا صورتحال وليد نو وې ويل (انا لله وانا اليه راجعون) **ما له نبي کريم ﷺ دا اوريدلي چې فرمايل يې:**

﴿من قرأ القرآن فليسأل الله تبارك وتعالى به فإنه سيجئ قوم يقرؤون القرآن يسألون الناس به﴾ (۱).

ژباړه: څوک چې تلاوت وکړي هغه ته پکار دي چې له الله تعالی څخه د خپلو حاجتونو غوښتنه وکړي. يو قوم داسې هم راتلونکی دی کوم به چې قرآن تلاوت کوي او بيا به له خلکو څخه سوال کوي.

حضرت جابر بن عبد الله ﷺ بيان کوي:

---

[1] - مسند احمد :۴۳۲/۴، وحسنه الارنوؤط في تعليقه على المسند.

یو ځل رسول الله ﷺ له مونږ سره هغه وخت تشریف فرما وو چې مونږ د قرآن مجید تلاوت کاوه. په مونږ کې څه بدو (کوچي) او څه عجمي خلک هم وو. زمونږ قرئت یې واورید نبي ﷺ وفرمایل:

ووایاست: د ستاسو ټولو تلاوت ښه دی. نږدې ده چې داسې خلک به راشي کوم به چې د قران د تیر په څیر د سمولو کوشش کوي (۱).

هغوی به په دې سره دنیوي فایده تر لاسه کول غواړي او د اخروي اجر او ثواب خواهشمند به نه وي (۲).

دا خلک به د قرآن مجید معاوضه سمدستي غواړي او تر آخرت پورې به صبر او انتظار نه کوي.

«۷۹» په خلکو کې د غټوالي زیاتوالی

حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿خَيْرُكُمْ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ قَالَ عِمْرَانُ فَمَا أَدْرِي قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ قَوْلِهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ يَكُونُ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ وَيَنْذُرُونَ وَلَا يَفُونَ وَيَظْهَرُ فِيهِمْ السِّمَنُ﴾ (۳).

ژباړه: زما زمانه تر ټولو بهتره ده، بیا د هغو خلکو زمانه غوره ده کوم چې له دې وروسته راځي، بیا د هغو کوم چې له دوی وروسته راځي، بیا به داسې خلک ښکاره شي کوم به چې ګواهي ته له غوښتلو پرته د ګواهي ورکولو ته به تیار وي. هغوی به خیانت کوي او پر هغوی به اعتماد نه کیږي. هغوی به نذرونه مني مګر هغه به نه پوره کوي او په هغوی کې به چاغوالی (غټوالی) ښکاره شي

۱- د دې معنا دا ده چې هغه به د ریا کارۍ او شهرت لپاره د قرئت په عمل کې له مبالغې څخه کار اخلي او تکلفي قرئت به کوي.

۲- سنن ابی داؤد، الصلوة، حدیث: ۸۳۰. و سلسلة الاحادیث الصحیحة: ۱/ ۴۲۴، حدیث: ۲۵۹.

۳- صحیح البخاري، الرقاق، حدیث: ۲۴۲۸. وصحیح مسلم، فضائل الصحابة، حدیث: ۲۵۳۵.

غالباً په آخره زمانه کې به د چاغوالي وجه مالي خوشحالي. آرام ژوند. په هوټلونو او میلمستونو کې د خوندورو خوړو ډیروالی وي. زمونږ په دې دور کې د خلکو جسماني حرکت بیخي کمزوری دی. د انسان د هرې نوعې خدمت لپاره مشینونه او آلات موجود دي. خلک پیاده نه ګرځي. نتیجه یې دا ده چې لوی او واړه ټول د چاغوالي ښکار دي. صورتحال تر دې حده خراب دی چې د عالمي شمیر مطابق د دنیا د آبادي تقریباً څلورمه برخه خلک د وزن د زیاتوالي په مسئله کې راګیر دي.

دا وجه ده چې نن داسې دواګانې ډیرې زیاتې دي کومې چې د وزن په کموالي. د چاغوالي په علاج او د معدې په کار کردګي کې له یوه انسان سره ډیره مرسته کولای شي.

﴿۸۰﴾ ﴿۸۱﴾ د داسې خلکو ظهور کوم به چې له غوښتلو پرته ګواهي ورکوي او نذرونه به نه پوره کوي

دا دواړه نښانې په مخکني حدیث کې ذکر دي. بیا به داسې خلک ښکاره شي کوم به چې ګواهي ته له غوښتلو پرته د ګواهي ورکولو ته به تیار وي، **هغوی به خیانت کوي او امین به نه بلل کیږي، هغوی به نذرونه** مني مګر پوره کوي به یې نه (۱).

د تساهل دغه دواړه خویونه. یعنې د نورو په خلاف له علم او غوښتلو پرته ګواهي ورکول او په کثرت سره د نذرونو منل او د هغو نه پوره کول د خلکو د دین په کمزوري. د ایمان په ضعف او په زړونو کې د الله تعالی د تعظیم په نه جذبه دلالت کوي.

---

۱ صحیح البخاري. الرقاق. حدیث: ۶۴۲۸.

﴿۸۲﴾ طاقتور به کمزوري خوري

ام المؤمنین حضرت عاشة رضی الله عنها بیان کوي چې یوه ورځ رسول الله ﷺ زما خواته تشریف راووړ نو هغه ﷺ وفرمایل: اې عائشة! له دنیا څخه زما له تلو وروسته به تر ټولو اول ما دستا قوم (عرب) پیدا کړي. حضرت عائشة رضی الله عنها فرمایي: کله چې هغه کیناست نو ما ورته وویل: زه له تا قربان شم. کله چې ته د ننه راغلې نو تا یوه داسې خبره وکړه کومې چې زه په ویره کې کړم. نبي ﷺ وویل: ما څه وویل؟ ما عرض وکړ: تا وویل: د ستا د قوم خلک به له ما وروسته له ما سره ډیر زر ملاقي شي، هغه ﷺ وفرمایل: مرګ هغه د ځان لپاره یو مرغوب او خوږ شی بولي او د امت خلک له هغه سره حسد کوي. ما ترې وپوښتل: په دې وخت کې یا له دې وروسته به د خلکو څه حال وي؟ نو نبي ﷺ راته وفرمایل: طاقتور به کمزوري خوري تر دې چې په هغوی قیامت راشي (۱).

په دې حدیث کې اشاره ده دیته چې له قیامت سره په نږدې زمانه کې به ظلم او شر ډیر زیات شي، تر دې چې طاقتور به کمزوري خوري.

﴿۸۳﴾ د الله تعالی له لوري په رالیږل شوي شریعت د فیصلو نه کول

د الله تعالی له لوري په رالیږل شوي دین (قرآن او سنت) د فیصلو کول د امت له مهمو واجباتو څخه دي. الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴾ (۲).

ژباړه:

او هر چا چې ونکړ حکم په هغه شي چې نازل کړی (رالیږلی) دی الله نو دغه کسان همدوی دی کافران.

۱- مسند احمد: ۸۱/۲. وسلسلة الاحادیث الصحیحة: ۴/ ۵۹۲. حدیث: ۱۰۵۳.

۲- المائدة. آیة: ۴۴.

په آخره زمانه کې به د اسلام یوه یوه کړکۍ ماتیږي او کومه کړکۍ چې تر ټولو د مخه ماتیږي هغه به دا وي چې د الله تعالی له لوري د رالیږل شوي شریعت مطابق به فیصلې پریښودل شي.

حضرت ابو امامه باهلي ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي ﴿لينقضن عرا الإسلام عروة عروة فكلما انتقضت عروة تشبث الناس بالتي تليها وأولهن نقضا الحكم وأخرهن الصلاة﴾ (۱).

ژباړه:

د اسلام کړکۍ به یوه یوه ماتیږي. کله هم چې کومه کړکۍ ماته شي نو خلک به په بلې پسې خښ شي. تر ټولو د مخه چې کومه کړکۍ ماتیږي هغه دا ده چې الهي حکم به پریښودل شي او تر ټولو په آخر کې به لمونځ هم پریښودل شي.

په ډیر افسوس سره باید وویل شي چې په اکثرو اسلامي هیوادونو کې دا نښانه ښکاره شوې، په ډیرو اسلامي هیوادونو کې یواځې په هغو احکامو او قوانینو عمل کیږي کوم چې تر واده، طلاق او میراث پورې تعلق لري، کوم چې په تجارتي معاملاتو پورې یا په سزاګانو، حدودو او تعزیراتو پورې تعلق لري نو اکثر خلک د هغو په ځای په فرانسوي یا برطانوي قوانینو باندې خپلې فیصلې کوي او دا د الله تعالی له لوري په رالیږل شوې وحې باندې د فیصلې نه کول دي. الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴾ (۲).

ژباړه: او څوک ډیر ښه دي له الله څخه له جهته د حکم هغه قوم ته چې یقین لري (په الله یعني هیڅوک نه دي).

---

۱ - مسند احمد: ۵/ ۲۵۱. والمعجم الكبير للطبراني: ۸/ ۹۸. ورجالهما رجال الصحيح.

۲ - المائدة، آية: ۵۰.

﴿۸۴﴾ د رومیانو ډېر والی او د عربو کموالی

له رومیانو څخه مراد هغه خلک دي کوم چې نن ورځ د امریکا او یورپي قومونو په نامه یادیږي. هغوی ته رومیان ځکه ویل کیږي چې هغوی د اصفر بن روم بن عیصو بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ له اولادې څخه دي، همدا وجه ده چې دغو خلکو ته (بني اصفر) هم ویل کیږي.

حضرت مستورد فهري رضي الله عنه حضرت عمر بن العاص رضي الله عنه ته وویل:

کوم وخت چې قیامت قایمیږي نو په دې وخت کې به عیسایان په کثرت سره وي. حضرت عمر رضي الله عنه وویل: خیال کوه: دا دې څنګه خبره وکړه؟ هغه ورته وویل: ما هغه خبره وکړه کومه مې چې د الله تعالی له رسول ﷺ څخه آوریدلې. حضرت عمر رضي الله عنه وویل: که د رسول الله ﷺ فرمان وي نو بیا حق ده او د دې سبب د عیسایانو څلور خویونه دي.

(۱) دا خلک د جنګ په میدان کې له تیښتې وروسته ډېر په تیزۍ سره خپل حالت سمه وي.

(۲) دا خلک له مسکین، فقیر او ضعیف سره بهترینه رویه کوي.

(۳) دا خلک د فتنې په وخت کې جذباتي کیږي نه. بلکه په معاملاتو کې له تحمل او بردباري څخه کار اخلي.

(۴) دا خلک د بادشاهانو د ظلم په لیرې کولو کې له نورو خلکو سره مرسته کوي (۱).

سیده ام شریک رضي الله عنها بیان کوي چې ما له رسول الله ﷺ څخه آوریدلي چې فرمایل یې:

خلک به له دجال څخه تښتي او په غرونو کې به پټیږي. ام شریک عرض وکړ: یا رسول الله ﷺ! په دې وخت کې به عرب چیرته وي؟ (آیا عرب به له دجال سره مقابله نه کوي؟) نو نبي کریم ﷺ وفرمایل:

---

[1] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۸۹۸.

عرب به په دې وخت کې په ډېر کم شمیر کې وي (۱).

دا هم ویل شوي چې د نبي کریم ﷺ دا الفاظ چې (رومیان به په دې وخت کې په کثرت سره وي) د دې خبرې لور ته اشاره ده چې انګریزي د یورپې خلکو ژبه به په دې وخت کې ډېره ویل کیږي او خلک به عربي ژبه پریږدي، ځیني علماؤ ویلي کوم سړی چې عربي وایي هغه عرب دی او څوک چې په صحرا کې ژوند غوره کړي هغه بدوي (کوچی) دی، خواه هغه دې عجمي ولې نه وي.

﴿۸۵﴾ له خلکو سره د مال او دولت ډېر والی

مسلمانانو د اسلام په اولنیو کلونو کې د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کې او له هغه وروسته په داسې حال کې ژوند تیر کړی چې ډېر فقر وو، تر دې چې د هغوی ګزاره یواځې په دوو شیانو ود: اوبه او کجورې.

نبي کریم ﷺ خپلو ملګرو ته وویل: عنقریب به حالات بدل شي او د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې دولت به ډېر شي، نبي کریم ﷺ وفرمایل: مال به دومره ډېر شي چې یو سړی به خپل زکاة یوه میاشت وګرځوي مګر بیا به هم کوم مستحق پیدا نکړي. ځکه چې خلک به ډېر مستغني وي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمْ الْمَالُ فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولَ الَّذِي يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ لَا أَرَبَ لِي﴾ (۲).

ژباړه: قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې په تاسو کې مال ډېر نشي، د مال د ډېر والي به دا حال وي چې یو مالدار به په دې پریشان وي

---

[1] - صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۴۵.

[2] - صحیح البخاري. الزکاة. حدیث: ۱۴۱۲. وصحیح مسلم. الزکاة. حدیث: (۶۱) - ۱۵۷. بعد الحدیث.

چې د ده صدقه به څوک قبوله کړي؟ هغه به يوه کس ته خپل مال وړاندې کړي او هغه کس به ورته ووايي: ما ته د دې هيڅ ضرورت نشته.
حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:
﴿لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَطُوفُ الرَّجُلُ فِيهِ بِالصَّدَقَةِ مِنْ الذَّهَبِ ثُمَّ لَا يَجِدُ أَحَدًا يَأْخُذُهَا﴾ (١).
ژباړه: په خلکو به يوه داسې زمانه هم راشي چې يو سړی به د خپل مال سره را واخلي او ګرځي به تر څو چې کوم حاجتمند پيدا کړي، مګر دی به هيڅ داسې څوک پيدا نکړي کوم به چې د ده د مال اخستلو ته تيار وي.
د علماؤ په دې کې اختلاف دی چې آيا دا نښانه واقع ده او که نه؟:
ويل کيږي چې دا نښانه د صحابه کرامو په زمانه کې واقع شوې، کله چې هغوی لوی لوی فتح وکړې او د فارس او روم غنيمتونه د هغوی لاسته ورغلل.
له دې وروسته بيا د حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په زمانه کې په مسعود کې مال دومره ډير وو چې که يوه سړي به خپله صدقه يو چا ته وړاندې کړه نو هيچا به دغه صدقه نه قبلوله، تر دې که يو څوک به په ظاهره حاجتمند وبلل شو او هغه ته به يې مال وړاندې کړ، ليکن هغه به وويل: ما ته د دې مال هيڅ ضرورت نشته.
دويم قول دا دی چې دا نښانه به په آخره زمانه کې واقع کيږي او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم اشاره په اصل کې د مهدي د ظهور زمانې ته ده. په دې وخت کې به مهدي خلکو ته جولۍ ورډکوي او له شميره پرته به مال تقسيموي، له دې امله چې مال به ډير زيات وي. زمکه به برکات او معدنيات د باندې را

١- صحيح البخاري، الزكاة، حديث: ١٤١٤، وصحيح مسلم، الزكاة، حديث: ١٠١٢.

وباسي تر دې چې د هغې له خېټې څخه به د سرو او سپينو يوه ذخيره ترلاسه شي.

حضرت سعيد جريري له ابو نضره څخه بيان کوي چې هغه ويل:

مونږ له حضرت جابر رضي الله عنه سره ناست وو هغه بيان کاوه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

زما د امت په آخره زمانه کې به يو داسې خليفه وي کوم به چې خلکو ته په دوارو ډکو ډکو لاسونو مال ورکوي او شميري به يې نه، سعيد وايي: ما له ابو نضره او ابو العلاء څخه وپوښتل: د ستاسو څه خيال دی؟ دا خليفه عمر بن عبد العزيز نه دی؟ هغوی راته وويل: نه (۱).

﴿۸۶﴾ زمکه به خپلې خزانې د باندې را وغورځوي

په آخره زمانه کې به مال او دولت دومره ډير شي چې زمکه به خپلې خزانې د باندې را وغورځوي. تر دې چې خلک به د مال د ډيروالي له امله له دولت څخه بې نيازه شي.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿تقيء الأرض أفلاذ كبدها أمثال الأسطوان من الذهب والفضة فيجيء القاتل فيقول في هذا قتلت ويجيء القاطع فيقول في هذا قطعت رحمي ويجيء السارق فيقول في هذا قطعت يدي ثم يدعونه فلا يأخذون منه شيئا﴾ (۲).

ژباړه:

زمکه به د خپل ځيگر ټوټې د سرو او سپينو د لويو لويو ستنو په شکل کې د باندې را وغورځوي. قاتل به راشي او وبه وايي: افسوس ما د دغه مال لپاره څومره انسانان قتل کړل. د صله رحمي قطع کونکی

---

[۱] - صحيح مسلم. الفتن و اشراط الساعة. حديث: ۲۹۱۳.

[۲] - صحيح مسلم. الفتن و اشراط الساعة. حديث: ۲۹۱۳.

به راشي او وبه وايي : افسوس ! ما د دغه مال په خاطر خپل خپلوان پريښودل. غل به راشي او وبه وايي : افسوس ! ما د دغه مال لپاره غلا کوله او لاس مې پرې کړی شو. بيا به دوی ټول هر څه پرېږدي او له مال څخه به هيڅ شی هم وانخلي.

امام نووي رحمه الله فرمايي:

په حديث کې د باندې را غورځولو په لفظ کې تشبيه ده. مطلب دا دی زمکه به په خپل ځان کې د ننه مدفونې خزانې د باندې را وغورځوي او الاسطوان د الاسطوانة جمع ده او په معنا دې عمود (ستنې) سره ده. د سرو او سپينو تشبيه يې له ستنو سره د دې لپاره ورکړه چې د هغوی کثرت او ډيروالی ښکاره شي.

«۸۷» «۸۸» «۸۹» د مسخ، خسف او قذف ښکاره کيدل

(۱) مسخ : مطلب دا ده چې د يوه شي شکل او جسماني هيئت بدل شي او له هغه بل څه جوړ شي، لکه څرنګه چې الله تعالی د بني اسرائيلو يوې ډلې ته د سزا ورکولو په ډول له هغوی څخه بيزوګان او خنزيران جوړ کړل، الله تعالی جل جلاله فرمايي:

﴿فَلَمَّا عَتَوْا عَن مَّا نُهُوا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿١٦٦﴾﴾ (۱).

ژباړه : نو کله چې سرکشي وکړه دوی له پريښودلو د هغه شي څخه چې منع شوي وو دوی له هغه شي څخه (چې ښکار د ماهي وو په خالي کې) نو وويل مونږ دوی ته چې شئ بيزوګان شړلي رټلي سپک کړی شوي.

بل ځای الله تعالی جل جلاله فرمايي:

﴿وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ﴾ (۲).

---

۱. الاعراف. آية: ۱۶۶.

۲. المائدة. آية: ۶۰.

ژباړه: او ګرځولي يې دي له ځينو د دوی څخه بيزوګان او له ځينو د دوی څخه خنزيران.

(٢) د خسف مطلب دا ده چې زمکه وچوي او پر هغې چې د پاسه څه وي هغه د لاندې ننوځي. د دې بيان په راتلونکو علامات کبری کې را روان دی.

(٣) د قذف معنا ده له آسمان څخه د کاڼو (ډبرو) باران وريدل. لکه څنګه چې د حضرت شعيب عليه السلام په قوم الله تعالی ورولی وو، کله يې چې هغوی ته سزا ورکوله نو له آسمان څخه يې پرې د کاڼو (ډبرو) باران وو وراوه. يا لکه څرنګه چې الله تعالی ابرهه او د هغه قوم ته سزا ورکړه. کله چې دوی د کعبې شريفې د ورانولو لپاره راغلل نو الله تعالی پرې د کودړو باران وو وراوه.

دا هغه سزا ګانې دي کومې به چې په آخره زمانه کې په ځينې خلکو مسلطې کيږي او دا د قيامت له نښانو څخه دي. حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿في هذه الأمة خسف ومسخ وقذف فقال رجل من المسلمين يا رسول الله ومتى ذاك ؟ قال إذا ظهرت القينات والمعارف وشربت الخمور﴾ (١).

ژباړه:

د دې امت ځينې خلک به په زمکه کې ننوځي. د ځينو به شکلونه مسخ (بدل) شي او په ځينو به د کاڼو (ډبرو) باران وشي، په مسلمانانو کې يوه سړي پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله صلی الله عليه وسلم! دا به کله واقع کيږي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم په ځواب کې ورته وويل: کله چې د سندرو ويونکي او د موسيقي آلات ډير شي او خلک د شرابو په څښلو شروع وکړي.

(القيان) د (قينة) جمع ده او معنا يې ده سندرې ويونکي ښځې.

د (معازف) لفظ واحد معزف دی. معنا يې ده د موسيقي، ساز او سرود آلات

---

(١) جامع الترمذي، الفتن، حديث ٢٢١٢، وصحيح الجامع للالباني ١: ٦٨٣، حديث: ٣٦٦٥

کله چې خلک د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه پریږدي نو نتیجه دا شي چې ګناهونه ډیر شي او الهي عذابونه را نږدې شي.
حضرت عائشة رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:
﴿يكون في آخر هذه الأمة خسف ومسخ وقذف قالت قلت يا رسول الله أنهلك وفينا الصالحون ؟ قال نعم إذا ظهر الخبث﴾ (١).
ژباړه: په آخره زمانه کې به په دغه امت کې د خسف، مسخ او قذف واقعات راشي. ما عرض وکړ: یا رسول الله ﷺ! آیا مونږ به د نیکانو خلکو په موجودیت کې هم هلاک کړی شو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو! کله چې فسق او فجور زیات شي.
نبي کریم ﷺ دا خبر ورکړی چې دا خسف، مسخ او قذف به په هغو خلکو واقع شي کوم چې اهل بدعت او د سمې عقیدې مخالف دي، لکه زندیق خلک، یعنې اهل الحاد ونفاق، قدریه فرقه او وغیره، دا خلک د الله تعالی د هغه تقدیر تکذیب کوي کوم چې الله تعالی د خپلو بنده ګانو د افعالو لپاره مقرر کړی.
حضرت نافع فرمايي: یو ځل زه له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما سره ناست وم چې یو سړی راغی او وې ویل: د شام فلاني سړي د ستا په خدمت کې سلام عرض کاوه. حضرت عبد الله رضي الله عنه وویل: ما ته معلومه شوه چې دغه کس کوم بدعت ایجاد کړی، که چیرته حقیقت همداسې وي نو هغه زما لور ته هیڅکله هم سلام نه را لیږه. ما له رسول الله ﷺ څخه آوریدلي چې فرمایل یې: زما په امت کې به خسف، مسخ او قذف واقع شي او دا عذابونه به په زندیقو او قدریه ؤ باندې واقع کیږي (٢).

---

[1] - جامع الترمذي، الفتن، حديث: ٢١٨٥، وصحيح الجامع للالباني: ٢/ ١٣٥٥، حديث: ٨١٥٨.
[2] - مسند احمد: ٢/ ١٣٢، وصححه احمد شاكر.

په نورو روايتونو کې داسې هم راغلي چې خسف به په هغه لښکر باندې واقع شي کوم به چې په آخره زمانه کې د کعبې شريفې د ورانولو لپاره راځي، مګر الله تعالى به هغه ټول خلک په زمکه کې د ننه کړي.

د حضرت قعقاع بن ابی حدرد اهليه بقيره بيان کوي: ما له رسول الله ﷺ څخه په منبر باندې دا آوريدلي چې فرمايل يې: کله چې تاسو واورئ چې يو لښکر نږدې په زمکه کې غرق شو نو په دې وخت کې پوه شئ چې قيامت ډير نږدې راتلونکی دی (۱).

له نږدې څخه مطلب دا دی چې دا لښکر به له مدينې منورې سره په نږدې زمکه کې ننوځي، د دغه لښکر بيان په راتلونکی علامه نمبر ۱۲۲ کې راتلونکی دی.

په دغه سلسله کې آخيري خبره دا ده چې دغه سزاګانې به په نافرمانو خلکو باندې نازليږي او پر هغو باندې هم کوم چې ګناهونه ويني او چپ پاتې کيږي، يوه مسلمان کس ته له دغه امر څخه هوښيار او سيدل پکار دي.

﴿۹۰﴾ داسې باران له کوم څخه به چې هيڅ د خټو او ډبرو کور بچ پاتې نشي

نبي کريم ﷺ خبر ورکړی چې د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې له آسمان څخه به يو داسې باران را ووريږي د کوم له امله به چې هيڅ د خټو او ډبرو کور بچ پاتې نشي، د دغه باران لپاره به يوازې د اوښانو له وړيو **څخه** جوړې شوې خيمې ودرول شي.

حضرت ابو هريرة رضی الله عنه بيان کوي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي: ﴿لاتقوم الساعة حتى يمطر الناس مطراً، لاتكن منه بيوت المدر، ولاتكن منه الا بيوت الشعر﴾ (۲).

۱- مسند احمد: ۲/ ۳۷۸. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۳/ ۳۴۰. حديث: ۱۳۵۵.

۲- مسند احمد: ۲/ ۲۲۲. وقال الهيثمي: رجاله رجال الصحيح. وقال الشيخ الارنؤوط: اسناده صحيح على شرط مسلم. وكذا رواه ابن حبان في صحيحه.

ژباړه: قيامت تر وخته نه قايميږي تر څو چې له آسمان څخه يو داسې باران نازل نشي له کوم څخه به چې هيڅ د ختې او ډبرو کور بچ نشي. البته له وړيو څخه جوړې شوې خيمې به له دې باران څخه بچ پاتې شي.

﴿۹۱﴾ له اسمان څخه به باران راوريږي مگر په هغه سره به حاصل نه کيږي

نبي کريم ﷺ چې د قيامت له کومو نښانو څخه خبر ورکړی په هغوی کې دا هم ده چې له آسمان څخه به باران را وريږي مگر په دې سره به زمکه نباتات او فصلونه نه زرغونوي.

حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لاتقوم الساعة حتى يمطر الناس مطرا عاما، ولاتنبت الارض شيئا﴾ (۱).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې په خلکو ډير زيات بارانونه ونشي. مگر زمکه به هيڅ شی نه را زرغونوي.

يقينا دا به داسې وي چې له زمکې څخه به برکت پورته شي، لکه څنگه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي: قحط سالي دا نه ده چې باران نه وي. بلکه قحط سالي دا ده چې په خلکو به باران وريږي ليکن زمکه به څه نه را زرغونوي (۲).

﴿۹۲﴾ داسې فتنه کومه به چې عام عرب هلاک کړي

له کومو نښانو چې نبي ﷺ خبر ورکړی له هغوی څخه يوه نښانه يوه داسې لويه فتنه هم ده د کومې په گير کې به چې عام عرب راشي او په ډير شمير کې عرب به هلاک او برباد کړي.

---

[1] مسند احمد: ۳/ ۱۴۰. ومسند ابو يعلى: ۷/ ۳۰۳. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۶. حديث: ۲۷۷۳.

[2] د دې روايت امام احمد رحمه الله کړی. علامه هيثمي رحمه الله ويلي د دې رجال صحيح دي.

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿تکن فتنة تستنظف العرب، قتلاها في النار، اللسان فيها اشد من وقع السيف﴾ (۱).

ژباړه: یوه داسې فتنه به ښکاره شي کومه به چې ټول عرب په قبضه کې واخلي، د دې فتنې وژونکي به جهنم ته ځي: او د دغې فتنې د ژبې تاثیر به له توري څخه زیات وي.

د (تستنظف العرب) معنا دا ده چې دا به ټول عرب تباه او برباد کړي، دا داستنظف الشی له محاورې څخه ماخوذ ده کومه چې په هغه وخت کې ویل کیږي کله چې یو شی کاملا په خپله قبضه کې را وستل شي.

(قتلاها في النار) یعنې د دې فتنې مقتولین به د جهنم په اور کې وي، ځکه چې دغو خلکو به د شیطان اتباع او د خپلو خواهشاتو پیروي به یې کړې وي او د دنیا لپاره به جنګیدلي وي، د همدغه جنګ له امله به هغوی د عذاب جهنم مستحق جوړ شي، اګر که هغه د مسلمان او موحد په حیث مړه شي، هغوی ته به د جهنم سزا ورکول کیږي خو تل تر تله به د دوزخ په اور کې نه اوسیږي، له قتلاها څخه مراد په دغه فتنه کې وژل شوي خلک دي. داسې خلک د سخت وعید هدف جوړیږي، ځکه چې له دغه جنګ څخه به مقصود د دین سر بلندي، له کوم مظلوم څخه دفاع، یا د کوم مستحق مرسته کول نه وي، بلکه یواځې د سرکشي، د مال، منصب، حرص او هوس لپاره به وي.

---

۱ - مسند احمد: ۲/ ۲۱۱، وسنن اب داؤد، الفتن والملاحم، حدیث: ۴۲۲۵، وجامع الترمذي، الفتن، حدیث: ۲۱۷۸، وابن ماجه، الفتن، حدیث: ۳۰۲۷، والحدیث فیه مقال.

(اللسان) یعنې د ژبې تاثیر. د هغې طعن او په همدې سره د جنګ لور ترغیب به د تورې له پریکولو زیات وي، په یوه بل روایت کې دي چې په دې وخت کې به د ژبې اوږوالی له تورې څخه زیات تاثیر لري (۱).

﴿۹۳﴾ ﴿۹۴﴾ ﴿۹۵﴾ د مسلمانانو د نصرت لپاره د ونو او ډبرو خبرې کول او د مسلمانانو له یهودو سره جنګ کول

دا لوی جنګ به په اخره زمانه کې منځته راشي. په دې کې به مسلمانان برلاسي شي، په دې موقع به ونې او ډبرې نعرې وهي او مسلمانانو ته به وايي: اې مسلمانه! اې د الله بنده! دا زما تر شا یو یهودي پټ دی، زر راشه دا قتل کړه. یعنې په دغه جنګ کې به ونې او ډبرې هم له مسلمانانو سره د محبت او همدردي اظهار کوي او له هغوی سره به مرسته کوي، دا د الله تعالی له لوري د مسلمانانو نصرت او تایید دی.

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: ﴿تُقَاتِلُكُمْ الْيَهُودُ فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ يَقُولُ الْحَجَرُ يَا مُسْلِمُ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ﴾ (۲).

ژباړه: یهود به له تاسو سره جنګ کوي مګر تاسو به پر هغوی غلبه وکړئ، تر دې چې ډبرې به خبرې کوي او وايي به: اې مسلمانه! دا زما تر شا یو یهودي پټ دی، راشه دا قتل کړه.

د ونو او ډبرو داسې خبرې کول د قیامت له نښانو څخه دي، مګر یوه ونه به داسې وي چې د مسلمانانو په حق کې به نه وي. دا د غرقد ونه ده کومه چې د یهودو مرسته کوونکې ده.

---

۱ - د دغه حدیث د زیات تشریح لپاره وګورئ مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: ۹/۲۸۱.

۲ - صحیح البخاري، المناقب، حدیث: ۳۵۹۳. وصحیح مسلم، الفتن، حدیث: ۲۹۲۱. واللفظ له.

حضرت ابو هریرة رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې مسلمانان له یهودو سره جنګ ونه کړي، مسلمانان به یهود ووژني. تر دې چې یو یهودي به د کومې ډبرې یا ونې شا ته به پټ وي خو هغه ونه یا ډبره به نعرې کړي : اې مسلمانه ! دا زما تر شا یو یهودي پټ دی، راشه دا ووژنه. دا نعره به د غرقد ونه نکوي، ځکه چې هغه د یهودو مرسته کوونکې ده.

د یوه بل روایت الفاظ داسې دي:

تر هغه وخته قیامت نه قایمیږي تر څو چې تاسو له یهودو سره جنګ ونه کړی، تر دې چې هغه ډبره به هم د کومې تر شا چې یهودي پټ وي داسې به وایي: اې مسلمانه ! دا زما تر شا یو یهودي پټ دی. راشه دا ووژنه (۱).

د ونو او ډبرو دا خبرې به حقیقي وي. ځکه چې الله تعالی جماداتو ته د خبرو کولو قوت په ورکړه قادر دی، د جماداتو داسې خبرې کول د قیامت له نښانو څخه دي.

حضرت نهیک بن صریم رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

تاسو به له مشرکینو سره جنګ وکړی. تر دې چې په تاسو کې بچ شوي به د اردن په دریاب باندې له دجال او د هغه له لښکر سره وجنګیږي. تاسو به د دریاب په مشرقي لوري کې یاست او هغه به د دریاب په مغربي لوري کې.

حضرت نهیک بن صریم وایي : زه نه پوهیږم چې په دغه ورځ به د اردن دریاب چیرته واقع وي؟ (۲).

له دې څخه مراد هغه دریاب دی کوم چې مقبوضه فلسطین او اردن له یوه بل سره جلا کوي.

---

۱ - صحیح البخاري، الجهاد والسیر، حدیث: ۲۹۲۶.

۲ - سلسلة الاحادیث الضعیفة: ۳/ ۴۲۰، حدیث: ۱۲۹۷.

﴿۹۶﴾ د فرات له سیند څخه د سرو زرو د غره ښکاره کیدل

د فرات سیند یو مشهور سیند دی. په هغه کې اوبه رواني دي. نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې د دغه سیند اوبه به خپله لار بدله کړي او له هغه څخه به د سرو زرو غر ښکاره شي. خلک به د دغو سرو زرو لپاره جنګیږي او د هغوی لوی شمیر به په همدې جنګ کې ووژل شي.

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی هر څوک چې په دغه وخت کې حاضر وي نو د دغه مال په اخستلو کې دې محتاط اوسي. ځکه چې په کومه فتنه کې مبتلا نشي یا د هغه له امله کوم جنګ شروع نکړي.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لا تقوم الساعة حتى يحسر الفرات عن جبل من ذهب يقتتل الناس عليه فيقتل من كل مائة تسعة وتسعون ويقول كل رجل منهم لعلي أكون أنا الذي أنجو﴾ (۱).

ژباړه: قیامت تر هغه وخته نه قایمیږي تر څو چې د فرات له سیند څخه د سرو یو غر ښکاره نشي. خلک به د همدغو سرو لپاره جنګ کوي. د دغه جنګ په نتیجه کې به ۹۹ فیصده خلک ووژل شي. په دې کې به د هر چا دا هیله وي چې شاید هغه ژوندی بچ پاتې شي.

او په بوه بل روایت کې داسې دي: هر څوک چې په دې موقع باندې موجود وي هغه ته پکار دي چې له دې څخه کوم شی وانخلي (۲).

حضرت ابی بن کعب ﷺ وايي: خلک همیشه د مال جمع کولو لپاره خپل سرونه قربانوي، ما له رسول الله ﷺ څخه دا آوریدلي چې فرمایل يې:

---

۱ صحیح مسلم، الفتن، حدیث: ۲۸۹۴.

۲ صحیح البخاري، الفتن، حدیث: ۷۱۱۹، وصحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۸۹۴.

نږدې ده چې د فرات سیند به د سرو غر ښکاره کړي. کله چې خلک د هغه په باره کې خبرې آورې نو د هغه لور ته به ور روان شي. کله چې هلته ورسیږي نو هغوی به د دغه مال ترلاسه کولو لپاره په خپل منځ کې جنګ شروع کړي. د دغه جنګ په نتیجه کې به ۹۹ فیصده انسانان قتل کړی شي[۱].

په حدیث مذکور کې لفظ د (انحسار) په معنا د انکشاف سره ده او هغه به حقیقي غر او د اصلي سرو به وي. د دغو سرو د ښکاره کیدو سبب به دا وي چې دریاب به د خپلو اوبو د بهیدو رخ بدل کړي. له دې مخکې دا طلائي غر د ختې له وجهې پټ دی. مګر کله چې اوبه خپله لار بدله کړي نو الله تعالی به هغه را ښکاره کړي.

هر څوک چې هلته موجود وي پر هغوی لازم دي چې هغه له دې سرو څخه څه وانخلي. تر څو چې له فتنې او خونریزي څخه بچ شي. دا فتنه تر اوسه نه ده ښکاره شوې او الله تعالی ښه پوهیږي چې کله به واقع کیږي.

په موجوده وخت کې د ترکیې او شام هیوادونو د فرات په سیند باندې بند تعمیرونه جوړ کړي او له هغه سره نږدې یې مختلفې کار خانې جوړې کړې. له همدې امله په نوموړې سیند کې اوبه کمې شوې دي. ممکنه ده چې دا د سرو د هغه غره د ښکاره کیدو یوه نمونه وي.

﴿۹۷﴾ کوم انسان چې فسق او فجور نه کوي هغه به عاجز ګڼل کیږي

له کومو نښانو څخه چې د الله تعالی رسول ﷺ خبر ورکړی له هغوی څخه یوه دا هم ده چې انسان ته به اختیار ورکړی شي چې هغه د فسق او فجور ارتکاب کوي او که غیر مهذب. عاجز او د کمزورۍ الزام قبلوي. نبي کریم ﷺ له دغو فتنو خبر ورکړی او خلکو ته یې داسې هدایت کړی

[۱] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۸۹۵.

چې هغوی دې د عاجز کیدو الزام قبول کړي مګر په فسق او فجور کې د ځان له مبتلا کیدو دې انکار وکړي.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿يأتي عليكم زمان يخير فيه الرجل بين العجز والفجور فمن أدرك ذلك الزمان فليختر العجز على الفجور﴾ (۱).

ژباړه: په خلکو به یوه داسې زمانه هم راشي په کومه کې به چې یوه انسان ته په بدکارۍ یا عجز کې د یوه د انتخاب اختیار ورکړی شي. هر څوک چې دغې زمانې ته پاتې شي هغه ته پکار دي چې عاجز جوړ شي مګر له فسق او فجور څخه دې ځان وساتي.

دا نښانه زمونږ په زمانه کې ښکاره شوې. مثلاً: نن صبا چې کومه ښځه د حجاب پابندي کوي نو په هغې دا طعن ویل کیږي چې دا خومره عاجزه ښځه ده: او څوک چې د تې وي د مردارو چینلونو له کتو څخه پرهیز کوي پر هغوی دا طعن ویل کیږي: دې کوچي ته وګورئ! دی هم د ترقي مخالف دی. نتیجه دا شوه چې انسان به په دوو خبرو کې یوه غوره کوي. یا به له نورو خلکو سره په فسق. فجور او بدکاریو کې ځان ور سره شریکوي نو د خلکو له تهمت او طعن به محفوظ وي. یا به د الله تعالی د راضي کولو لپاره پر ځان د عاجز. کمزوري او بنیاد پرست الزام برداشت کوي او له ګناه څخه به ځان لیرې ساتي.

---

۱ - مسند احمد: ۲/ ۲۷۸. وسلسلة الاحاديث الضعيفة. حديث: ۵۸۴۲.

﴿۹۸﴾ په جزيرة العرب کې د مالچر او نهرونو ظهور (ښکاره کيدل)

د جزيرة العرب ليدونکي پوهيږي چې دغه علاقه ټوله تقريباً ۷۰ فيصده له آبادي څخه خالي او خوشې صحرا ده. نبي کريم ﷺ دا خبر ورکړی چې د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې په جزيرة العرب کې به مالچر او نهرونه ښکاره شي.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لا تقوم الساعة حتى تعود أرض العرب مروجا وأنهارا وحتى يسير الراكب بين العراق ومكة لا يخاف الا ضلال الطريق وحتى يكثر الهرج قالوا وما الهرج يا رسول الله قال القتل﴾ (۱).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې د عربو زمکه په مالچر او نهرونو بدله نشي او تر څو چې يو سپور د عراق او مکې په مينځ کې د سفر کولو په وخت کې د لارې له ورکولو پرته د بل هيڅ شي له نقصان رسولو ويره ونه لري: او تر څو چې (هرج) زيات نشي، صحابه کرامو عرض وکړ: اې د الله رسوله ﷺ! دا هرج څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: قتل او خونريزي.

له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه يو قول داسې هم راغلی چې د الله تعالی رسول الله ﷺ فرمايلي:

قيامت به قايم نشي تر څو چې مال زيات نشي. د مال زياتوالی به دومره وي چې يو سړی به خپل د زکاة مال واخلي او د يوه حاجتمند سړي تلاش به کوي مګر داسې څوک به پيدا نکړي چې هغه د ده مال قبلولو ته تيار وي او تر څو چې د عربو زمکه مالچر او د نهرونو زمکه جوړه نشي (۲).

---

[1] - مسند احمد: ۲/ ۲۸۷ . و سلسلة الاحاديث الضعيفة. حديث: ۵۸۴۲.

[2] - صحيح مسلم. الزکاة. حديث: ۱۵۷.

حضرت معاذ بن جبل ﷺ بیان کوي چې مونږ خلک د تبوک د غزا په کال له نبي کریم ﷺ سره یو ځای د جهاد په سفر د تبوک په لور روان شوو. نبي کریم ﷺ لمنځونه جمع کړل. نبي کریم ﷺ د ماسپښین، مازدیګر، ماښام او ماسخوتن لمنځونه یو ځای اداء کړل. یوه ورځ نبي کریم ﷺ لمونځ وروسته کړ. بیا راووت د ماښام او ماسخوتن لمنځونه یې یو ځای اداء کړل. له دې وروسته نبي کریم ﷺ خپلو ملګرو ته وویل: تاسې خلک به صبا انشاء الله د تبوک چینې ته ورسیږئ. تاسو به د لمر له را پورته کېدو وروسته هلته ورسیږئ. په تاسو کې چې هر څوک هلته ورسیږي هغوی ته پکار دي چې هغوی د هغې چینې اوبه زما تر راتګ پورې استعمال نکړي.
حضرت معاویه ﷺ فرمایي: کله چې مونږ خلک هلته ورسیدو چې ګورو دوه نفر له مونږ څخه د مخه هلته رسیدلي دي. له چینې څخه یې اوبه په ډېر تکلیف سره لږ لږ را ویستلې دي. نبي کریم ﷺ له هغو دواړو پوښتنه وکړه: آیا تاسو دا اوبه استعمال کړې دي؟ هغوی وویل: هو. نبي کریم ﷺ له دې داواړو کسانو څخه د ډېر سخت خفګان او ناراضي اظهار وکړ. بیا صحابه کرامو رضی الله عنهم د چینې اوبه په خپلو لاسونو لږ لږ را جمع کړې تر دې چې اوبه په یو څه مقدار کې سره جمع شوې. رسول الله ﷺ په هغو اوبو باندې خپل مخ مبارک او لاسونه پریمنځل او بیا یې بیرته چینې ته ور واچولې. د اوبو له اچولو سره چینه را ډکه شوه او په ډېر تیزي سره یې د بهیدلو حرکت وکړ. د لښکر خلک ښه سیراب شول. په دې موقع د الله رسول ﷺ وفرمایل:
اې معاذ! که چیرته د ستا عمر وفا وکړي نو ته به وویني چې دا ټوله سیمه به له باغونو او ابادي څخه ډکه شي (۱).

۱- صحیح مسلم، الفضائل، حدیث: ۷۰۲، قبل الحدیث: ۱۳۹۲.

د تبوک په مقام کې د حضرت نبي کريم ﷺ حضرت معاذ ﷺ ته دا الفاظ ويل: اې معاذ! که چيرته د ستا عمر وفا وکړي نو ته به ووينې چې دا ټوله سيمه به له باغونو او آبادي څخه ډکه شي. د دې خبرې نتيجه نن ورځ د لويو لويو زرعي سکيمونو په صورت کې زمونږ مخته ده. کوم چې د تبوک تر ليرې ليرې سيمو پورې رسيدلي دي.

﴿۹۹﴾ ﴿۱۰۰﴾ ﴿۱۰۱﴾ د جنګ او جدال فتنې، د خوشحالي او پراخي فتنې او د يوې تورې فتنې ظهور (ښکاره کيدل)

نبي کريم ﷺ خبر ورکړی چې قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې درې فتنې ښکاره نشي:

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بيان کوي چې مونږ خلک يو ځل له نبي کريم ﷺ سره ناست وو. نبي کريم ﷺ د فتنو ذکر په تفصيل سره وکړ:

﴿حتى ذكر فتنة الأحلاس فقال قائل يارسول الله وما فتنة الأحلاس ؟ قال " هي هرب وحرب ثم فتنة السراء دخنها من تحت قدمي رجل من أهل بيتي يزعم أنه مني وليس مني وإنما أوليائي المتقون ثم يصطلح الناس على رجل كورك على ضلع ثم فتنة الدهيماء (تصغير الدهماء) لا تدع أحدا من هذه الأمة إلا لطمته لطمة فإذا قيل انقضت تمادت يصبح الرجل فيها مؤمنا ويمسي كافرا حتى يصير الناس إلى فسطاطين (المدينة التي يجتمع فيها الناس) فسطاط إيمان لا نفاق فيه وفسطاط نفاق لا إيمان فيه فإذا كان ذاكم فانتظروا الدجال من يومه أو من عده﴾ (۱).

---

[1] سنن ابی داؤد. الفتن. والملاحم. حديث: ۴۲۴۲. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲ ۷۰۲. حديث: ۷۲.

ژباړه: بيا نبي کريم ﷺ د فتنې احلاس ذکر وکړ. يوه سړي پوښتنه وکړه: يا رسول الله ﷺ! فتنه احلاس څه شی ده؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا د جنګ او جدال فتنه ده. بيا به يوه د خوشحالي فتنه ښکاره شي کومه به چې د يوه داسې سړي له قدمونو څخه را پورته شي کوم به چې زما له اهل بيت څخه وي. هغه به په خپله له ما سره په تعلق لرلو ګمان کوي. اما په اصل حقيقت کې به يې له ما سره هيڅ تعلق نه وي، زما دوست يواځې هغه څوک دی کوم چې متقي وي. بيا به خلک د يوه داسې سړي په بيعت کې راپوته شي کوم به چې بې علمه. کم عقل او کم همته وي. د دغې فتنې اثر او ضرر به زما د امت هر سړي ته ورسيږي او هيڅوک به ترينه بچ نشي. کله هم چې يو څوک ووايي دا فتنه ختمه شوه نو هغه به له پخوا څخه هم شدت اختيار کړي. يو انسان به سهار مؤمن وي او ماښام به کافر شي. خلک به په دوو ډولو تقسيم شي. يو ايمان لرونکي په کومو کې به چې نفاق نه وي او دويم د نفاق خاوندان کوم به چې له ايمان څخه بالکل خالي وي، کله چې دا حالات پيدا شي نو په دغه وخت کې دجال ته انتظار کول دي. په دغه ورځ به راځي يا به په راتلونکي ورځ کې ښکاره شي

(الاحلاس) د حلس جمع ده. حلس هغې غټې جامې ته ويل کيږي کومه چې په اوښ باني له کجاوې وروسته اچول کيږي. همدا شان به دا فتنه هم خلک ونيسي او د هغوی تن به نه پريږدي. دا فتنه به د حلس په څير تاريک (توره) هم وي.

(هرب) د ها او را په زور سره. يعنې هغوی به له يوه بل څخه تښتي. ځکه چې د هغوی تر مينځ به دښمني وي

(حرب) معنی يې ده د يو چا مال. اهل او عيال نيول او بيا يې په داسې طريقه پريښودل چې له هغوی سره هيڅ هم نه وي

(ثم فتنة السراء) (بیا به د خوشحالي فتنه راشي) یعنې د صحت، عافیت، امن او عافیت. د کومو له امله به چې ځینې خلک په فتنه کې مبتلا شي او د ګناهونو مرتکب به شي.

(دخنها) یعنې د هغه ظهور او جوش.

(من تحت قدمی رجل من اهل بیتی) یعنې هغه څوک د کوم له قدمونو څخه به چې د دغه فتنې اور را پورته شي. د نبي کریم ﷺ له اهل بیت څخه به وي، په دې کې د دې خبرې لور ته تنبیه ده چې څوک دغې فتنې ته د هوا ورکولو لپاره راشي هغه به زما له اهل بیت څخه وي.

(یزعم انه مني) یعنې هغه به په خپله زما د نسب خیال کوي، لیکن د خپلو بدو عادتونو له امله به هغه له ما څخه نه وي، زه د هغه له اعمالو او افعالو څخه بیزار یم، اګر که هغه په نسبي ډول له ما څخه ولې نه وي. په اصل حقیقت کې هغه زما له دوستانو څخه نه دی، زما دوست یوازې هغه څوک دی کوم چې د تقوه او پرهیزګاري اختیاره وونکی وي.

(ولیس مني) یعنې هغه زما له دوستانو څخه نه دی. ځکه چې هغه د فتنې پیدا کولو سبب جوړیږي. له همدې قبیلې هغه خبره هم ده کومه چې حضرت نوح علیه السلام ویلې ده:

﴿إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي﴾ (۱).

ژباړه:

ای ربه زما بیشکه چې ځوی زما له اهله زما څخه دی.

الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ (۱).

---

[۱] هود. آیة ۴۵.

ژباړه: بیشکه چې څوی نه دی له اهله ستا (چې مؤمنان دي) بیشکه دی خاوند د عمل نا کاره دی.

(ثم یصطلح الناس علی رجل) بیا به خلک د یوه سړي په بیعت او اطاعت کې سره را جمع شي.

(علی ضلع) جمع یې ضلوع او اضلاع ده. ضلع د سینې هډوکي ته ویل کیږي. یعنې پښتۍ ته. مطلب دا چې د خلکو حال به له دغه سړي سره سم نه وي. لکه څرنګه چې یو درونډ (وزن لرونکی) شی په دغه هډوکي د پاسه نشي کینبودل کیدای. څکه چې دا هډوکی کمزورې وي د درونډ شي تاب نلري.

یعنې خلک به له اختلاف او فساد څخه وروسته د یوه داسې سړي واکمني قبوله کړي کوم به چې د بادشاهي دغې لوی ذمه واري لپاره بیخي مناسب نه وي. هغه به کم علمه او کم عقل وي. د هغه په ذریعه به د حکومت نظام نشي جوړیدای او نه به هغه د حکومت په امورو او معاملاتو سم پوهیږي.

(فتنة الدهیماء) یعنې توره او لویه فتنه.

(الا لطمته لطمة) یعنې په خلکو کې به هیڅوک له دغه مصیبت او بلا څخه بچ پاتې نشي. (اللطم) مطلب دا چې د دغې تورې فتنې اثر به هر سړي ته ورسیږي.

(فاذا قیل: انقضت) یعنې کله چې خلک دا ګمان وکړي چې اوس هغه فتنه ختمه شوې. (تمادت) هغه به نوره هم زیاته شي او خپره به شي.

۱- هود، آیة: ۴۶.

(يصبح الرجل فيها مؤمنا ويمسى كافرا) يعنې د سهار په وخت کې به هغه د خپل ورور قتل حرام (ناروا) بولي او د هغه په عِزت او مال باندې به له تيري کولو ځان ساتي. مګر د همدغې ورځې د ماښام راتلو په وخت کې به هغه بيا د خپل ورور قتل روا بولي او د هغه په عزت او مال باندې به حمله کوونکی وي.

(الى فسطاطين) «فسطاط» په عربي کې خيمې ته ويل کيږي. يعنې په دغه فتنه کې به خلک په دوو ډلو تقسيم شي. د بيوه قول مطابق د دغه تشريح دا هم ده: چې خلک به په دوو ښارونو کې سره تقسيم شي.

(فسطاط ايمان لا نفاق فيه) خالص او صفا د ايمان لرونکو ډله. په کومه کې به چې د منافقت شائبه نه وي.

(فسطاط نفاق لا ايمان فيه) بله ډله به د منافقينو وي. مثلا دروغ، خيانت او وعده خلافي به کوي.

(فانتظروا الدجال) يعنې په دې وخت کې د دجال را ښکاره کيدو ته انتظار کوی.

دا فتنه تر دا مهاله نه ده ښکاره شوې. مونږ له الله تعالی څخه غواړو چې اې الله مونږ د دغې فتنې له شر څخه محفوظ وساتې.

﴿١٠٢﴾ داسې زمانه په کومه کې به چې يوه سجده له دنيا او د دنيا له ټولو خزانو بهتره وي

دا نښانه به د قرب قيامت او د حضرت عيسی ﷺ د نزول له زمانې وروسته ښکاره شي. د حضرت عيسی ﷺ زمانه به ډيره د فضيلت زمانه وي. عبادتونه به هم ډير فضيلت لري. ځکه چې د وخت او مقام د شرف او فضيلت مطابق په عبادتونو کې هم اجر او ثواب زيات وي.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ ﴿ وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ ﴾[1].

ژباړه:

په هغه الله قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی. نږدې ده چې په تاسو کې به حضرت عيسی ﷺ بو عادل حکمران جوړ شي او را نازل به شي. هغه به صليب مات کړي. خنزير به قتل کړي او جزيې به ختم کړي[2] په دې وخت کې به مال دومره زيات شي چې د هغه د قبلولو لپاره به څوک نه وي. په دغه زمانه کې به يوه سجده له دنيا او د دنيا له ټولو خزانو ډيره قيمتي وي. حضرت ابو هريرة ﷺ د دغه حديث له بيانولو وروسته

---

[1] النساء، آيه: ۱۵۹.

[2] - مطلب دا چې حضرت عيسی ﷺ به له اسلام پرته بل دين به نه پريږدي. همدا شان عيسايانو ته به هم دا اجازه نه وي چې هغوی پر خپل دين باقي پاته شي. ګر که هغوی جزيه هم ورکوي.

وفرمايل: که تاسو غواړئ نو تاسو دغه آيت کريمه تلاوت کړئ .:: او نشته هم څوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ايمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزغې خپلې يا په وخت د نزول د عيسی) پر دغه (عيسی) پخوا له مرګه د ده څخه او په ورځ د قيامت کې به وي (عيسی) پر دوی باندې شاهد (چې جهودانو نه منلم او نصرانيانو ابن الله وبللم) (۱).

د رسول الله ﷺ د دغه فرمان چې په دغه زمانه کې به يوه سجده له دنيا او د دنيا له ټولو خزانو قيمتي وي معنا دا ده چې په خلکو کې به د لمانځه او د نورو عبادتونو رغبت ډير شي. ځکه چې هغوی به له دنيا څخه بې رغبته شي. د هغوی خواهشات به کم شي او د قيامت په نږدې والي به يې يقين شي.

قاضي عياض رحمه الله ويلي: د دغې معنا دا ده چې په دغه زمانه کې به د يوې سجدې اجر او ثواب د دنيا او په دنيا کې د موجودو شيانو له صدقه کولو ډير وي. له دې امله چې په دغه زمانه کې به مال ډير زيات وي. په خلکو کې به حرص او بخل کم وي. خلک به د دنيا مال په جهاد کې مصرفوي او په خپله به د هغه مال په لالچ کې نه وي. له سجدې څخه مراد يا سجده ده يا له هغې څخه مراد لمونځ دی (والله اعلم) (۲).

---

۱ صحيح البخاری. احاديث الانبياء. حديث: ۳۴۴۸. وصحيح مسلم. الايمان. حديث: ۱۵۵

۲. شرح صحيح مسلم للامام النووي

﴿١٠٣﴾ د لومړۍ شپې سپوږمۍ به غټه تر سترګو کېږي

(الاهلة) د هلال جمع ده او هلال د میاشتې په شروع کې د لومړۍ شپې سپوږمۍ ته ویل کېږي. دا سپوږمۍ د قمري میاشتې په اوله شپه وړه (کوچنۍ) تر سترګو کېږي. بیا د میاشتې تر ۱۵ پورې په تدریج غټېږي، بیا د میاشتې له ۱۵ وروسته په تدریج کوچنۍ کېږي.

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې د لومړۍ شپې سپوږمۍ به غټه تر سترګو کېږي. یعنې سپوږمۍ به په اوله شپه لویه تر سترګو کېږي. خلک به د لومړۍ شپې په سپوږمۍ باندې د ډېرو شپو د سپوږمۍ ګمان کوي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿ان من اشراط الساعة انتفاخ الاهلة، حتى يرى الهلال لليلة فيقال: هو ابن ليلتين﴾ (١).

ژباړه:

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې سپوږمۍ به لویه تر سترګو کېږي، د لومړۍ شپې سپوږمۍ چې وليدل شي نو ویل کېږي به: دا خو د دوو شپو سپوږمۍ ده.

﴿١٠۴﴾ د ټولو خلکو د شام لوري ته هجرت کول

د شام اطلاق نن په سوریا او د هغه په ګاونډیو هېوادونو لبنان، اردن او فلسطین باندې کېږي. د شام زمکه د حشر او نشر زمکه ده. په دغه زمکه کې ډېر انبیاء راغلي. شام او د شام اوسېدونکي یو خاص قدر او منزلت لري. نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿إذا فسد أهل الشام فلا خير فيكم لا تزال طائفة من أمتي منصورين لا يضرهم من خذلهم حتى تقوم الساعة﴾ (١)

---

(١) المعجم الاوسط للطبراني: ٧/ ٣٣١. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ٥/ ٣٧٢. حديث: ٢٢٩٢.

ژباړه: کله چې د شام په اوسیدونکو کې خرابوالی راشي نو په تاسو کې به هیڅوک د خیر رسونکی نه وي. زما په امت کې به یوه ډله تر قیامته پورې فاتحه وي. هغوی ته به رسوا کوونکي هیڅ رنګه نقصان نشي رسولای تر دې چې قیامت راشي.

همدا وجه ده چې نبي کریم ﷺ په شام کې د اوسیدا په اختیارولو وصیت کړی. ځکه چې له قیامت سره په نږدې زمانه کې به شام د اهل اسلام (مسلمانانو) قوي او مضبوط مرکز وي.

حضرت ابو الدرداء بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

د فتنو په ورځو کې به د مسلمانانو مرکز (غوطه) وي کوم چې د دمشق نامې ښار په یوه لوري کې ده او هغه د شام بهترین ښار دی (٢).

(فسطاط) په اصل کې خیمې ته ویل کیږي او دلته ترې مراد د مسلمانانو مرکز او د هغوی د را جمع کیدا ځای دی. مسلمانان به په هغه لوی جنګ کې کوم به چې د مسلمانانو او د یهودو تر مینځ کیږي همدلته سره را جمع کیږي.

(غوطه) د یوه ښار نوم دی. کوم ته چې نن صبا غوطه دمشق ویل کیږي او دمشق یو مشهور ښار دی کوم چې نن صبا د سوریې (شام) دارالحکومت دی.

په حدیث کې مذکور جنګ به یا د مهدي له ظهور د مخه کیږي یا به د مهدي په زمانه کې کیږي یا به په بله کومه زمانه کې کیږي. نبي کریم ﷺ د شام په زمکه کې د اوسیدو ترغیب له دې امله ورکړی چې دا زمکه د محشر او د مؤمنانو مرکز دی. یوه صحابي له رسول الله ﷺ څخه مشوره وغوښته چې دی د کومې علاقې په لور هجرت وکړي او چیرته اوسیدل

---

[1] جامع الترمذي. الفتن. حدیث: ٢١٩٢. وقال الترمذي: حدیث حسن صحیح.

[2] - مسند احمد: ٥/ ١٩. وسنن ابي داؤد. الملاحم. حدیث: ٤٢٩٨. وصححه الالباني فی صحیح ابي داؤد.

اختیار کړي؟ نبي کریم ﷺ ورته د شام په لور د هجرت کولو او هلته د اوسیدا مشوره ورکړه

حضرت بهز بن حکیم له خپل پلار څخه او هغه له خپل نږد څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي: ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ ما ته په کوم ځای کې د اوسیدو حکم کوې؟ نبي کریم ﷺ د شام لور ته اشاره وکړه او وې فرمایل: هلته (۱).

د قیامت له راتلو د مخه به د مؤمنانو اکثریت هلته هجرت وکړي. بلکه هر مؤمن به هلته ولاړ شي.

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما ویلي: یود داسې زمانه به راشي چې هر مؤمن به د شام پر لور ولاړ شي (۲).

﴿۱۰۵﴾ ﴿۱۰۶﴾ د مسلمانانو او رومیانو تر مینځ یو لوی جنګ او د قسطنطنیه فتح

د مسلمانانو او رومي عیسایانو متعلق تاریخ له واقعاتو او حوادثو ډک دی. په هغه کې صلح هم شته او جنګ هم شته، د امن زمانه هم شته او د قتل زمانه هم شته. نن ورځ د مسلمانانو او عیسایانو تر مینځ له یوه بل سره تعلقات یقیني نه دي. دا په صلح او جنګ بدلیدلای شي. نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه د مسلمانانو او رومیانو تر مینځ یو ډیر لوی جنګ هم دی او دا جنګ به د مهدي له ظهور څخه د مخه وي. نبي کریم ﷺ د هغه نوم (الملحمة الكبرى) یاد کړی. مسلمانان به په دغه جنګ کې د فتحې له ترلاسه کولو وروسته د قسطنطنیه په لور پیش قدمي وکړي او هغه به هم فتح کړي او بیا به له دې وروسته دجال را ښکاره شي.

---

(۱) جامع الترمذي، الفتن، حدیث ۲۱۹۲ وقال: حدیث حسن صحیح، وصححه الحاکم.
(۲) المصنف لابن ابی شیبة موقوفا ۴/۲۱۷. ولا یصحح مرفوعا. وهذا الاثر لا یقال من قبل الراي فله حکم الرفع. ولا باس باسناده موقوفا.

حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿عمران بيت المقدس خراب يثرب وخراب يثرب خروج الملحمة وخروج الملحمة فتح قسطنطينية وفتح القسطنطينية خروج الدجال﴾ (۱).

ژباړه:

د بيت المقدس آبادي په اصل کې د مدينې بربادي ده. مدينه چې برباده شي نو يو لوی جنګ به شروع شي. هغه جنګ به شروع شي چې قسطنطنيه به فتح شي او کله چې قسطنطنيه فتح شي نو بيا به ډېر زر دجال را ښکاره شي.

نبي کريم ﷺ فرمايلي:

تاسو خلک به له روميانو سره صلح وکړی. بيا به تاسو او هغه سره يو ځای شی او له خپل يوه دښمن سره به جنګ وکړی، تاسو به په دې جنګ کې فاتح او کامياب شی. د غنيمت مال به تر لاسه کړی او روغ جوړ به ياست. بيا به تاسو د جنګ له ميدان څخه واپس بيرته راشی. تر دې چې تاسو او عيسايان به په يوه ځای کې پړاو واچوی په کوم کې به چې شګې هم وي (۲).

بيا به په عيسايانو کې يو کس صليب پورته کړي او وبه وايي چې صليب غالب شو. په دې به يو مسلمان په غصه شي او را به شي او صليب به ټوټه ټوټه کړي. په دې واقعه به عيسايان په غصه شي او د

۱- سنن ابی داؤد. الملاحم. حديث: ۴۲۹۴. وحسنه الالبانی فی صحيح ابی داؤد. وقد تفرد به عبد الرحمن بن ثابت عن ابيه عن مکحول.

۲- يعني په يوه لوړ ځای به پړاو واچوی. په اهل علمو کې داسې څوک نه دي پيدا شوي چې د دغه ځای تعين يې کړی وي. ظاهرا داسې معلومېږي چې دا ځای به (مرج دابق) وي، لکه څرنګه چې په يوه بل حديث کې راغلي په کوم کې چې نبي کريم ﷺ فرمايلي (لن تقوم الساعة حتی ينزل الروم بالاعماق او بدابق) قيامت تر هغه وخته نه قايمېږي تر څو چې عيسايان په اعماق يا دابق په مقام کې سره را جمع نشي. (صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۸۹۷).

جنګ لپاره به جمع شي. ځينې راويانو دا بيان هم کړی چې په دغه وخت کې به مسلمانان هم په جوش کې راشي او له هغوی سره د جنګ کولو لپاره به ځان تيار کړي او الله تعالی به د مسلمانانو دغه ټولي ته شهادت نصيب کړي (١).

په صحيح مسلم کې د دغې واقعې تفصيل څه دارنګه دی. حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې عيسايان د اعماق يا دابق په مقام کې پړاو وا نه اچوي. دا ځای د حلب نامې ښار سره نږدې واقع دی. د جنګ ځای همدغه دی. له عيسايانو سره د مقابلې لپاره به له مدينې څخه يو لښکر روان شي کوم به چې د دغې زمانې په بهترينو خلکو مشتمل وي، هر کله چې دواړه لښکرې له يوه بل سره مخامخ شي نو عيسايان به ووايي: مونږ له هغو خلکو سره جنګ کوو کوم چې له مونږ څخه نيول شوي دي. د عيسايانو له دې خبرې معلوميږي چې د عيسايانو او مسلمانانو تر مينځ به له دې د مخه هم ډير جنګونه شوي وي. په کوم کې به چې مسلمانان فاتح شوي وي او عيسايان به يې قيديان نيولي وي او هغه قيديان به مسلمانان شوي وي او په دغه وخت کې به په اسلامي لښکر کې شامل وي او له عيسايانو سره د جهاد کولو لپاره به راغلي وي. مګر مسلمانان به ووايي: نه په الله قسم! مونږ به هيڅکله خپل ورونه تاسو ته د مقابلې کولو لپاره يواځې پرې نږدو. نو عيسايان به له مسلمانانو سره جنګ وکړي (د مسلمانانو د لښکر دريمه برخه به ميدان پريږدي) الله تعالی به د دغو خلکو توبه هيڅکله هم قبوله نکړي. د دغه لښکر يو شمير خلک به جهاد وکړي او شهيدان به شي. دا خلک به د الله تعالی په نزد د افضل ترينو شهيدانو

---

١ سنن ابي داؤد. الملاحم، حديث: ۴۲۹۲، ۴۲۹۳. بسند صحيح.

له جملې څخه وي. پاتې يو شمير خلک به په جنګ کې کاميابي تر لاسه کړي (د لښکر آخيرې برخه خلک به فاتحين شي او د غنيمت مال به تر لاسه کړي) دا خلک به هيڅکله په فتنه کې مبتلا نشي. دا خلک به قسطنطنيه فتحه کړي او کله چې دغه خلک خپلې اسلحې د زيتونو په ونو پورې ځوړند کړي او د غنيمت مال تقسيموي نو شيطان به د هغوی مينځ ته راشي او آواز به وکړي: خلکو! له تاسو وروسته مسيح دجال د ستاسو کورونو ته داخل شو (دی به په مسلمانانو باندې د ويرې خپريدل غواړي) د اسلامي لښکر فوځيان به له دې ځای څخه ووځي او هغوی به د دجال پر لورې ور روان شي، د شيطان دا خبره به غلطه وي، ليکن کله چې هغوی شام ته ورسيږي نو په رښتيا به مسيح دجال را ښکاره شوی وي.

په يوه بل روايت کې راغلي چې له روميانو سره له جنګ کولو وروسته به مسلمانانو ته د غنيمت مال د تقسيمولو موقع هم په لاس ور نشي او هغوی به له دجال سره د جنګ کولو لپاره تياری کوي. صفونه به تياروي چې د لمانځه وخت دی او په دې وخت کې به حضرت عيسی ابن مريم عليهما السلام نزول وکړي (۱).

د يوه بل روايت مطابق د دغې غزا تفصيل

نبي کريم ﷺ فرمايلي:

قيامت به په هغه وخت کې قايم شي کله چې د وراثت تقسيم ختم شي او د غنيمت مال د خلکو لپاره د کومې خوشحالي باعث جوړ نشي، بيا نبي کريم ﷺ د شام لور ته په لاس سره اشاره وکړه او وې فرمايل: د اسلام دښمنان به هلته د جنګ لپاره سره را ټول شي او مسلمانان به هم له هغوی سره د مقابلې کولو لپاره هلته را پورته شي. د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه

۱- صحيح مسلم، الفتن و اشراط الساعة، حديث: ۲۸۹۷.

بیان ده چې له دښمن څخه مراد رومیان دي. په دې وخت کې به د جنګ د شدت له امله ډیر خلک د جنګ میدان پریږدي او واپس به بیرته راشي او د مسلمانانو یو بهترین او با صلاحیته ټولی به تر مرګه د جنګ کولو له عزم سره مخ پر وړاندې درومي، دواړه لښکرې به تر ماښامه پورې مسلسل جنګ جاري وساتي. تر دې چې د دوی تر مینځ به شپه حائله شي او دواړه لښکرې به خپلو خپلو ځایونو ته واپس بیرته ولاړې شي او په دوی کې به یوه هم غالبه نشي او کوم خلک چې د مرګ په عزم جنګیدل هغه به ټول شهیدان شي، صبا ورځ به بیا د مسلمانانو د فوځیانو یو بهترین او با صلاحیته ټولی تر مرګه پورې د جنګ کولو له عزم سره مخ پر وړاندې درومي. دا ټولی به د دې خبرې عهد وکړي چې که دوی بیرته واپس کیږي نو دوی به په داسې حال کې واپس کیږي چې دوی به بریالي وي یا دا چې دوی به شهیدان وي، دواړه لښکرې به بیا تر ماښامه مسلسل جنګ کول جاري وساتي، مګر یوه ډله به هم په هغې بلې کامیابي تر لاسه نکړي او دواړه به خپلو خپلو ځایونو ته واپس ولاړې شي. کوم خلک چې تر مرګه پورې د جنګ کولو په عزم جنګیدل هغه به ټول شهیدان شي.

کله چې د جنګ بله ورځ راشي نو په دغه ورځ به مسلمانان په دښمن ډیره زر حمله وکړي (له مختلفو ځایونو به مسلمانان سره را جمع شي او په دښمن به حمله وکړي) په دغه ورځ به الله تعالی کفارو ته شکست ورکړي او مسلمانان به دومره کفار ووژني چې تر دې د مخه به یې کله هم دومره خونریزي نه وي لیدلې، تر دې چې یوه مرغۍ به له هغوی سره په خوا کې تیریږي او له یو څه تګ مخکې به را وغورځي او مړه به شي. د یوه پلار اولاد د کوم اولاد به چې له دغه جنګ څخه د مخه سل وي. له جنګ کولو وروسته به وګوري چې یواځې یو بچی یې پاته دی. نو په داسې صورتحال کې به د غنیمت مال څه خوشحالي پیدا کړي او د کومو خلکو تر مینځ به میراث تقسیم کړی شي؟ په دې وخت کې به مسلمانان په داسې حالت کې وي چې

دوی به د یوه لوی مصیبت خبر واوري. یو سړی به په زوره ووايي : خلکو ! دجال له تاسو وروسته د ستاسو کورونو ته راغی، د دې خبرې له آوریدو وروسته به هغوی هر څه پریږدي او د خپلو کورونو لور ته به متوجه شي او په فوري ډول به لس سپاره د جایزې اخستو لپاره ولیږل شي. نبي کریم ﷺ فرمايلي : ما ته د هغو سپرو نمونه، د هغوی د پلرو نمونه او د هغوی د آسونو رنګونه معلوم دي. په دې زمانه کې به هغوی د زمکې پر سر په بهترینو آسونو سپاره وي (۱).

د دغه لوی جنګ لپاره د مسلمانانو د جمع کیدلو ځای به په (غوطه) کې د دمشق ښار وي، دا لښکر به په دې وخت کې د زمکې پر سر بهترین لښکر وي، الله تعالی به دې لښکر ته په عیسایانو غلبه او فتح نصیب کړي، حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

د دغه لوی جنګ په دوران کې به د مسلمانانو جنګي کیمپ د شام له بهترین ښار دمشق سره نږدې د (غوطه) په مقام کې وي (۲).

د یوه بل روایت الفاظ داسې دي:

د دغه لوی جنګ په دوران کې به د مسلمانانو جنګي کیمپ د زمکې پر سر په یوه داسې ځای کې وي کوم ته چې (غوطه) ویل کیږي، دلته یو ښار دی د کوم نوم چې دمشق دی، په دغه وخت کې به دغه ځای د مسلمانانو د پراو لپاره بهترین ځای وي (۳).

له دې وروسته به اهل اسلام قسطنطنیه له جنګ کولو پرته د امام مهدي تر قیادت لاندې فتح کړي. په دغه وخت کې به د مسلمانانو اسلحه تکبیر او تحمید وي.

---

[1] - صحیح مسلم . الفتن و اشراط الساعة . حدیث: ۲۸۹۹ . ومسند احمد :۱/ ۴۳۵.

[2] - سنن ابی داؤد . الملاحم . حدیث: ۴۲۹۸.

[3] - مسند احمد :۵/ ۱۹۷. وسنن ابی داؤد . السنة . حدیث : ۴۶۴۰ . والمستدرک للحاکم : ۴/ ۴۸۲ . واللفظ له وقال: صحیح الاسناد ووافقه الذهبي واقره المنذري.

په یوه حدیث کې حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

آیا تاسو د یوه داسې ښار په باره کې آوریدلي د کوم چې یوه لوري ته وچه او بل لوري ته سمندر دی؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ: هو! د الله رسوله! آوریدلي مو دي. بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې د بنو اسحاق اویا زره خلک دغه ښار فتح نکړي، کله چې هغوی دلته راشي نو هغوی به دلته پړاو واچوي، هغوی به هیڅ رنګه اسلحه استعمال نکړي او نه به کوم غشی وار کړي، هغوی به بس دومره وایي ﴿لا اله الا الله والله اکبر﴾ نو د هغه یو لوری به فتح شي، ثور بن یزید وایي: تر کومه ځایه چې ما ته معلومه ده نبي کریم ﷺ وویل چې د سمندر لوری به یې فتح شي، بیا به ووایی ﴿لا اله الا الله والله اکبر﴾ نو د هغه بل لوری به هم فتح شي، بیا به په دریم ځل ووایي ﴿لا اله الا الله والله اکبر﴾ نو ښار به د هغوی لپاره خلاص شي او هغوی به ور داخل شي او غنیمت به جمع کړي، په دې وخت کې به هغوی مال جمع کوي چې یو آواز کونکی به آواز وکړي: خلکو! دجال ظاهر شو، د دې په آوریدو به هغوی هر څه پریږدي او د خپلو کورونو لور ته به بیرته ستانه شی (۱).

د دغه حدیث په شرح کې امام نووي رحمه الله د قاضي عیاض رحمه الله دا قول را نقل کړی چې د صحیح مسلم په ټولو نسخو کې د دغه لښکر نسبت بنو اسحاق ته شوې.

ځینې د علم خاوندانو دا هم ویلي چې ډیر صحیح او محفوظ د بنو اسماعیل الفاظ دي او د حدیث سباق او سیاق هم په همدې دلالت کوي.

۱- صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۲۰.

ځکه چې د نبي کريم ﷺ مقصود دا وه چې دا جنګ به عرب کوي او عرب بنو اسماعيل دي نه بنو اسحاق او له ښار څخه مراد قسطنطنيه ده.

يو بل شی کوم چې په دې دلالت کوي چې دغه لښکر به د عربو وي، يعنې بنو اسماعيل به وي هغه دا ده چې د حضرت ذو مخمر رضي الله عنه په حديث کې دغه ذکر موجود دی چې عيسايان به خپل يوه ملګري ته ووايي: مونږ د عربو په مقابله کې له تا سره يو. مګر وروسته به غداري وکړي او د جنګ کولو لپاره به سره را جمع شي، له دې الفاظو معلوميږي چې دا لوی جنګ به د عربو او عيسايانو تر مينځ وي.

د دغه باب له نورو احاديثو څخه هم په ظاهره دا معلوميږي چې کوم خلک په دغه عظيم جنګ کې برخه واخلي هغوی به قسطنطنيه هم فتح کوي او دا به عرب وي، د حضرت عمرو بن عوف رضي الله عنه په حديث کې همدې لور ته اشاره ده چې بيا به د هغوی لور ته د مسلمانانو بهترين خلک را ووځي کوم به چې اهل حجاز وي، له دې څخه هم ثابتيږي چې هغه به بنو اسماعيل وي نه بنو اسحاق (والله اعلم) (۱).

﴿۱۰۷﴾ ﴿۱۰۸﴾ ميراث به نه تقسيميږي او خلک به د غنيمت مال ته نه خوشحاليږي

دا دواړه نښانې به په اخره زمانه کې هغه وخت را ښکاره شي کله چې قتل او قتال ډير زيات شي او د مسلمانانو له عيسايانو سره جنګ شدت اختيار کړي.

له حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت ده چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

---

۱ - وګورئ اتحاف الجعة بما جاء فی الفتن والملاحم واشراط الساعة للشيخ حمود التوجيری:۱/ ۴۰۱.

﴿إن الساعة لا تقوم حتى لا يقسم ميراث ولا يفرح بغنيمة ثم قال بيده هكذا (ونحاها نحو الشام)﴾ (۱).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې د ميراث تقسيم ورک نشي او د غنيمت مال خلکو ته د نه خوشحالۍ سبب نشي.

د دې وضاحت په تيره شوې علامه (نښانه) کې تير شو.

﴿۱۰۹﴾ د خلکو پخوانيو اسلحو او سپرليو ته بيرته راتګ

نبي کريم ﷺ فرمايلي:

﴿فبينما هم كذلك إذ سمعوا ببأس هو أكبر من ذلك فجاءهم الصريخ إن الدجال قد خلفهم في ذراريهم فيرفضون ما في أيديهم ويقبلون فيبعثون عشرة فوارس طليعة قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إني لأعرف أسمائهم وأسماء آبائهم وألوان خيولهم هم خير فوارس على ظهر الأرض يومئذ﴾ (۲).

ژباړه: **مسلمان به په دغه وخت کې په داسې حالت کې وي چې هغوی به د لوی مصيبت خبر واوري، يو سړی به په زوره ووايي: خلکو! دجال له تاسو وروسته د ستاسو کورونو ته راغی. د دې خبرې په اوريدو به هغوی هر څه پريږدي او د خپلو کورونو لور ته به متوجه شي او په پوري ډول به لس سپاره د جايزې اخستو په غرض وليږل شي. نبي کريم ﷺ فرمايلي: زه د هغو سپرو نمونه، د هغوی د پلرو نمونه او د هغوی د آسونو رنګونه پيژنم. هغوی به په دغه زمانه کې د زمکې پر مخ په بهترينو آسونو باندې سپاره وي.**

---

۱ صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث ۲۸۹۹، ومسند احمد ۱/۴۳۵.

۲ صحيح مسلم، الفتن واشرط الساعة، حديث ۲۸۹۹

﴿۱۱۰﴾ ﴿۱۱۱﴾ د بيت المقدس ابادي، د مدينې منورې بربادي او د هغې له اوسيدونكو او زيارت كوونكو څخه خالي والی

له حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿عمران بيت المقدس خراب يثرب وخراب يثرب خروج الملحمة وخروج الملحمة فتح قسطنطينية وفتح القسطنطينية خروج الدجال " ثم ضرب بيده على فخذ الذي حدثه أو منكبه ثم قال إن هذا لحق كما أنك ها هنا﴾ (۱).

ژباړه:

د بيت المقدس ابادي په اصل كې د مدينې منورې بربادي ده، چې مدينه منوره برباده شي نو يو لوی جنګ به شروع شي، چې جنګ شروع شي نو قسطنطنيه به فتح شي او كله چې قسطنطنيه فتح شي نو بيا به ډېر زر دجال ظاهر شي. دا يې وويل سيدنا معاذ بن جبل رضي الله عنه خپل لاس د هغه سړي په ورانه يا په اوګه باندې ووهه كوم ته يې حديث بياناوه او وې ويل: دا خبره داسې حق ده لكه څرنګه چې دلته د ستا وجود يقيني دی.

له يثرب څخه مراد مدينه منوره ده او د هغې له بربادي څخه مراد د هغې له اوسيدونكو او زيارت كوونكو څخه خالي والی دی.

په يوه بل روايت كې دي:

﴿الملحمة العظمى وفتح القسطنطينية وخروج الدجال وسبعة أشهر﴾ (۲).

ژباړه:

لوی جنګ. د قسطنطنيه فتح او دجال، دا هر څه به په اوو مياشتو كې وي.

په دغه حديث كې چې نبي كريم ﷺ د كومو واقعاتو ذكر بيان كړی، هغه په ترتيب سره ښكاره كيږي. اول د بيت المقدس ابادي او د عمارتونو په

---

[1] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۸۹۹.

[2] - جامع الترمذي. الفتن. حديث: ۲۲۳۸. بسند ضعيف.

ډيروالي سره د هغه وسعت او د خلکو په دغه ښار کې په کثرت سره اباديدل. بيا د يثرب (مديني منورې) بربادول. يعني خلک به په مدينه منوره کې له اوسيدا پرهيز کوي او په مدينه منوره کې د نويو عمارتونو د جوړيدا سلسله به ودريږي. دا ټول شيان نن ورځ په مدينه منوره کې ظاهر شوي. خلک په تدريج هلته کميږي او د ابادي د اضافه والي سلسله دريدلې. د مدينې منورې يو لوی شمير اوسيدونکي کرار کرار له مدينې منورې څخه د نورو ښارونو لور ته کډه کيږي.

په يوه بل حديث کې راغلي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي:

﴿لتترکن المدينة على احسن ماکانت حتى يدخل الکلب اوالذئب فيغذى على بعض سوارى المسجد او على المنبر فقالوا: يا رسول الله ! فلمن تکون الثمار ذالک الزمان؟ قال: للعوافى : الطير والسباع﴾ (۱).

ژباړه: مدينه به په عمده حالت کې پريښودل شي، حتى چې نوبت به دې ته ورسيږي چې يو سپی يا يو ليوه به مسجد ته داخل شي په کومه ستن يا په منبر باندې به متيازې وکړي. صحابه ؤ غرض وکړ: اې د الله رسوله! دا وو ايه چې په دغه زمانه کې به د مدينې ميوې د چا په کار راشي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: مرغۍ او درنده ګان به دغه ميوې خوري.

د بيت المقدس د ابادي يو مفهوم دا هم دی چې په آخره زمانه کې به خلافت هلته نقل کړی شي. لکه چې د حضرت عبد الله بن حواله ازدی رضي الله عنه په حديث کې چې راغلي، هغه فرمايي:

کله چې رسول الله ﷺ زما په سر لاس مبارک کيښود نو دا يې راته وفرمايل: اې ابن حواله! کله چې ته ووينې چې خلافت مقدسې خاورې ته نقل کړی شو نو په دې وخت کې به زلزلې، پريشانۍ او لوی مصيبتونه به

---

(۱) الموطا للامام مالک: ۲/ ۳۹۲، والمستدرک للحاکم: ۴/ ۴۲۲.

نږدې راشي، په دغه ورځ به قیامت له دې څخه هم ډیر نږدې وي لکه څومره چې زما لاس د ستا له سر سره نږدې دی (۱).

په تیر حدیث کې د نبي کریم ﷺ دا فرمان چې (وخراب یثرب خروج الملحمة) له (الملحمة) څخه مراد هغه لوی جنګ دی کوم به چې د مسلمانانو او عیسایانو تر مینځ برپا کیږي او په هغه کې به بې شمیره خلک وژل کیږي. دې ته ملحمه له دې امله ویل کیږي چې په دې کې به قتل او خونریزي ډیره وي، له دې وروسته به د قسطنطنیه فتح په عمل کې راځي، په نننۍ زمانه کې دا د استانبول ښار دی کوم چې د ترکیې د لویو ښارونو له جملې څخه یو دی، بیا به د قسطنطنیه له فتح وروسته دجال ظاهریږي.

«۱۱۲» مدینه به شریر خلک داسې وباسي لکه یو اهنګر چې له کوزې زنګ لیرې کوي

د قیامت په نښانو کې چې مونږ کومې نښانې بیان کړې په هغوی کې یوه دا وه چې مدینه منوره به خرابه شي او له اوسیدونکو څخه به خالي شي.

د نبي کریم ﷺ د مدینې منورې لور ته له هجرت کولو وروسته د مدینې منورې په ابادي کې ډیر زیاتوالی راغی، څومره وخت چې تیریده هومره په ابادي کې زیاتوالی راته، د الله تعالی رسول ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې د خلکو به په مدینه منوره کې د اوسیدو خواهش کم شي، حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

(۱)- مسند احمد :۵/ ۲۸۸، وسنن ابی داؤد، الجهاد، حدیث: **۲۵۳۵**، وصححه الالبانی فی صحیح ابی داؤد.

﴿يأتي على الناس زمان يدعو الرجل ابن عمه وقريبه هلم إلى الرخاء هلم إلى الرخاء والمدينة خير لهم لو كانوا يعلمون والذي نفسي بيده لا يخرج منهم أحد رغبة عنها إلا أخلف الله فيها خيرا منه ألا إن المدينة كالكير تخرج الخبيث لا تقوم الساعة حتى تنفي المدينة شرارها كما ينفي الكير خبث الحديد﴾ (¹).

ژباړه: په خلکو به داسې يوه زمانه راشي چې يو د مدينې اوسيدونکی سړی به خپل تره او خپلو خپلوانو ته وايي: (مدينه پرېږدئ) د خوشحالي لور ته ووځئ، د خوشحالي لور ته راشئ، سره له دې چې مدينه به د هغوی لپاره ښه وي، اې هی: کاشکې! هغوی ته د دې خبرې علم وای، په هغه ذات قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی! کله هم چې کوم سړی له مدينې منورې څخه په بې رغبتي سره کډه شي، نو الله تعالی به له هغه څخه بهترين سړی همدلته په مدينه منوره کې اباد کړي، خبر دار! مدينه د اور د بټۍ په څير ده، هغه له خپل ځان څخه خبيث خلک باسي، قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې مدينه منوره له خپل ځان څخه شرير خلک ليرې داسې (ونه باسي) لکه څنګه چې يو اهنګر له کومې کوزې څخه زنګ ليرې کوي.

له حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله څخه روايت شوی چې هغه له مدينې منورې څخه ووت او خپل ازاد شده غلام مزاحم ته يې وويل: اې مزاحم! آيا مونږ په هغو خلکو کې شامل نه يو کوم به چې مدينه منوره له خپل ځان څخه ليرې کوي وباسي به يې؟

د دې مطلب هيڅکله دا نه دی چې هر هغه کس کوم چې په مدينه منوره کې سکونت اختيار کړي او بيا له دغه ځای څخه نقل مکاني وکړي يا

(¹) صحيح مسلم. الحج. حديث: ۱۳۸۱.

مدینه منوره پریږدي او د بل کوم ښار په لوري ولاړ شي نو هغه به له شریرو او خبیثو خلکو څخه وي. هیڅکله د هغه دا مفهوم نه دی، ځکه چې په صحابه کرامو کې ځینو بهترینو شخصیاتو د جهاد او دعوت په مقصد مدینه منوره پریښې او په نورو ډیرو لیرې ښارونو کې یې اوسیدل غوره کړي او په دې کې هیڅ خبره نه دی شوې.

حضرت ابو هریرة رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿ يَتْرُكُونَ الْمَدِينَةَ عَلَى خَيْرِ مَا كَانَتْ لَا يَغْشَاهَا إِلَّا الْعَوَافِ﴾ ([1]).

ژباړه : خلک به مدینه منوره په داسې حالت کې پریږدي په کوم حالت کې به چې هغه ډیره عمده (ښه) وي، په هغې کې به یواځې مرغۍ او درنده ګان اوسیږي.

مطلب دا چې خلک به په مدینه منوره کې په داسې حالت کې هم اوسیدل نه خوښوي په کوم حالت کې به چې هلته ژوند کول ډیر غوره او ښه وي، هلته به میوې په کثرت سره وي، ژوند کول به ډیر ښه وي، مګر یو شمیر داسې فتنې او سختۍ به خلک را ګیر کړي د کومو له امله به چې خلک د مدینې منورې پریښودو ته مجبور شي، د مدینې منورې اوسیدونکي به کرار کرار له همدې ځای څخه د نورو ښارونو لور ته په کډه شي، تر دې چې هلته به هیڅوک پاتې نشي، نوبت به تر دې ورسیږي چې کورونه، لارې، سرکونه او مساجد به له خلکو څخه خالي شي، مرغۍ او درنده ګان به په مساجدو کې آزادانه ژوند کوي، هلته به بولې کوي او هیڅ منعه کوونکی به نه وي، ځکه چې ښار به له انسانانو څخه خالي شوی وي

﴿۱۱۳﴾ د غرونو له خپل ځای څخه بې ځایه کیدل

---

[1] صحیح البخاري. فضائل المدینة. حدیث : ۱۸۷۴ . وصحیح مسلم. الحج. حدیث . ۱۳۸۹.

الله تعالى غرونه په مضبوط شکل کې پيدا کړي، دا زمکې ته د ميخونو کار ورکوي، نبي کريم ﷺ خبر ورکړی چې له قيامت سره په نږدې زمانه کې به غرونه هم له خپلو ځايونو څخه وخوځيږي، د غرونو دغه زوال به يا په حقيقي ډول وي، يعنې هغه به په زمکه کې ننوځي يا به د تندرونو او طوفانونو د کثرت له امله له خپل ځای څخه وښويږي، يا به د هغو زوال د خلکو د تعميرونو د وسعت له امله وي، لکه څرنګه چې نن ورځ د دنيا په ډيرو هېوادونو کې همداسې کيږي چې د لويو لويو عمارتونو د تعمير لپاره غرونه پرې کوي. د غرونو د زوال دريم صورت دا هم کيدلای شي چې د غرونو ډبرې به په کثرت سره ټوټه کړی شي او خپل ځای به پريږدي او زمکه به لغړه پاتې شي، لکه څرنګه چې په ډيرو ځايونو کې دا پيښه واقع شوې.

حضرت ثمره رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

(لاتقوم الساعة حتى تزول الجبال عم اماكنها وترون الامور العظام التى لم تكونوا تروها) (١).

ژباړه: قيامت به تر هغه قايم نشيّ تر څو چې غرونه له خپل ځای څخه ولاړ نشي او تاسو د داسې لويو حوادثو او واقعاتو مشاهده ونه کړی کوم به چې تاسو له دې د مخه نه وي ليدلي.

١- المعجم الكبير للطبرانى: ٧/ ٢٠٧. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ٧/ ١٢٢. حديث: ٣٠٢١.

«۱۱۴» د يوه قحطاني ظهور، د کوم به چې خلک اطاعت کوي

د قيامت له نښانو څخه دا هم ده چې په آخره زمانه کې به له بنو قحطان څخه يو سړی را ووځي (قحطان د عربو يوه مشهوره قبيله ده) د هغه په قيادت او سيادت باندې به ټول خلک متفق وي، دا به هغه وخت وي کله چې زمانه بدله شي.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ» ([1]).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې د قحطان له قبيلې څخه يو داسې سړی را ښکاره نشي کوم به چې خلک په خپله آمسا سره رهبري کوي.

د خلکو په آمسا سره د رهبري کولو معنا دا نه ده چې هغه به خلک پړې وهي، بلکه دا يوه عربي محاوره ده د کومې چې معنا ده خلک به د هغې په اشارې باندې ځي او پر سمه لاره به وي، له دې خبرې معلوميږي چې خلک به د دغه واکمن په کنترول کې وي او بل دې ته هم اشاره ده چې د هغه په طبعيت کې به خشکي او سختي هم وي.

د حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما له يوه روايت څخه معلوميږي چې دغه سړی به نيک او صالح وي، حضرت ابن عباس فرمايي: له قحطان څخه به يو سړی وي کوم به چې نيک او صالح وي ([2]).

دا چې دا سړی به له قحطان څخه وي له دې معلوميږي چې دا به آزاد وي، دا له هغه کس څخه دويم بل څوک دی د کوم په ظهور کې چې پيشنګوئي

---

[1] - صحيح البخاري. المناقب. حديث: ۳۵۱۷، وصحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۱۰.

[2] - کتاب الفتن لنعيم بن حماد المروزي: ۱/ ۱۱۵، وفتح الباري شرح صحيح البخاري: ۶/ ۵۳۴.

شوې او دا ویل شوي چې د هغه نام به جهجاه وي او له ازاد شده غلامانو څخه به وي.

«۱۱۵» د جهجاه نامي یوه سړي ظهور (ښکاره کیدل)

په آخره زمانه کې به یو شمیر داسې خلک ښکاره شي د کومو به چې په خلکو کې ډیر اثر رسوخ وي، نبي کریم ﷺ په دغو خلکو کې د ځینو نمونه او د ځینو اوصاف بیان کړي، نبي کریم ﷺ پیشنګوئي کړې چې د دغو سړیو له جملې څخه به د یوه نام جهجاه وي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

«لاتذهب الايام والليالي حتى يملک رجل، يقال له الجهجاه» ([1]).

ژباړه:

د شپو او ورځو سلسله به ونه دریږي تر څو چې د یوه ازاد شده غلام لاسته قدرت ور نشي د کوم نام به چې جهجاه وي.

او په یوه نسخه کې د هغه نام جهجل هم ذکر شوی.

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کې فرمایلي: د جهجاه معنا په اصل کې د (صیاح) یعنې په زور سره د نیوونکي ده.

«۱۱۶» «۱۱۷» «۱۱۸» «۱۱۹» د درنده ګانو، جماداتو، دورو او د پیزار د تسمو خبرې کول، د ظروفو لخوا د کور څښتن ته د کور حال ویل

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې ځنګلي درنده ګان او وحشي ځناوران به له انسانانو سره خبرې کوي، د دورې یو لوری به خبرې کوي، د پیزار تسمه به خبرې کوي او انسان ته به حال وايي.

حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

[1] صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث ۲۹۱۱.

﴿والذي نفسي بيده لا تقوم الساعة حتى تكلم السباع الإنس وحتى تكلم الرجل عذبة سوطه وشراك نعله وتخبره فخذه بما أحدث أهله من بعده﴾ ([1]).

ژباړه:

په هغه ذات مې قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی، قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې ځنګلي درنده ګان له انسانانو سره خبرې ونه کړي، له انسان سره د هغه د دورې یو سر خبرې ونه کړي، د هغه د پیزار تسمه خبرې ونه کړي او هغه دغه حال ونه وايي چې د هغه په عدم موجودګي کې د هغه خاندان په کور کې څه کول.

(حتى تكلم السباع) یعنې وحشي ځناوران لکه زمری، پړانګ او نور ځیره وونکي ځناوران، له (الانس) څخه عام انسانان مراد دي، خواه مؤمن وي که کافر. (عذبة سوطه) یعنې د دورې یو لوری او (السوط) هغې دورې ته ویل کیږي په کومې سره چې مجرمانو ته سزا ورکول کیږي، (شراك نعله) یعنې د پیزار له تسمو څخه یوه تسمه په کومه چې پیزار تړل کیږي.

په دغو کې دوه نښانې یعنې له انسان سره د هغه د دورې خبرې کول او د هغه د پیزار لخوا هغه ته د کور حال ویل، دا هغه نښانې دي کومې چې تر دا مهاله نه دي ښکاره شوې (والله اعلم) لیکن داسې به ضرور کیږي، ځکه چې د دې خبرې خبر رسول الله ﷺ د خپل رب له لوري ورکړی.

ځینې محقیقینو دې لور ته اشاره کړې چې د دورې له سر او د پیزار له تسمې څخه مراد په اصل کې زمونږ په زمانه کې نوي مواصلاتي ذرائع دي، لکه د موبایل تلیفون یا ایس ایم ایس په ذریعه پیغامات کوم چې په خفیه آواز سره لیږدول کیږي.

[1]- جامع الترمذي. الفتن. حديث: ۲۱۸۱، وقال: حسن غريب. وصححه ابن حبان: ۴/ ۴۲۷.

دا هم ویل کیږي چې دغه نښانې د خپلې ظاهرې معنا مطابق واقع شوې دي او هغه په دې طریقه چې دوره، تسمه او ظروف په حقیقي ډول خبرې کوي (والله اعلم).

حضرت ابو سعید خدري ﷺ بیان کوي:

یو ځل د مدینې منورې په اطرافو کې یوه کوچي خپلې بزې څرولې چې یو نا څاپه یوه لیوه د هغه په رمه باندې حمله وکړه او د هغه یوه میګ یې ونیوله، کوچی د لیوه شا ته شو او هغه یې له بزې یا میګې څخه را کشاوه او په هغه یې وار کاوه،لیوه له هغه سره مزاحمت کاوه او په لکۍ باندې کیناست، کوچي ته مخاطب شو او دایې وویل: الله تعالی راکړې روزي تا له ما څخه خلاصه کړه، کوچي وویل : څومره عجیبه ده ! لیوه له ما سره خبرې کوي، دا یې چې واوریدل لیوه وویل: په الله قسم ! ته به له دې عجیبه خبره وویني، کوچي ترې وپوښتل : له دې عجیبه خبره څه ده؟ لیوه ورته وویل : د الله رسول ﷺ د کجورو په دوو باغونو کې دشاړو زمکو په مینځ کې خلکو ته د تیرې شوې زمانې خبرې کولې او د راتلونکو حالاتو په باره کې یې هم هغوی ته خبر ورکاوه، چې دا یې واوریدل کوچي خپلو بزو ته آواز وکړ او د مدینې پر لور روان شو، بیا یې هغه پریښودې او د نبي کریم ﷺ لوري ته ورغی او د هغه دروازه یې وټکوله، کله چې نبي کریم ﷺ له لمانځه فارغ شو نو وې فرمایل : د بزو څرونکی کوچی چیرته دی؟ کوچی پورته شو او ودرید : رسول الله ﷺ وفرمایل :

﴿حدث الناس بما سمعت وبما رئيت﴾

ژباړه :

هر څه چې تا آوریدلي او لیدلي هغه خلکو ته ووایه

کوچي د لیوه ټوله واقعه او د هغه له خبرو څخه صحابه کرام خبر کړل، نبي کریم ﷺ په دې وخت کې وفرمایل:

﴿صدق آيات تكون قبل الساعة والذي نفسي بيده لا تقوم الساعة حتى يخرج أحدكم من أهله فيخبره نعله أو سوطه أو عصاه بما أحدث أهله بعده﴾ ([1]).

ژباړه:

کوچي رښتيا وويل، يو شمير نښانې داسې دي کومې به چې له قيامت څخه د مخه ښکاره شي، په هغه ذات قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی! قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې په تاسو کې يو کس له کور څخه ووځي او د هغه پيزار، دوره او آمسا هغه ته ونه وايي چې د ستا له تلو وروسته ستا د کور خاندان څه کړي دي.

همدا شان به د غواوو د خبرو کول هم واقع شي

حضرت ابو هريرة رضی الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

يو سړی به غوا په زور ونيسي او په هغې به بار واچاوي نو غوا به د هغه لور ته متوجه شي او وبه وايي: زه د دغه کار لپاره نه يم پيدا شوې، زه د بل کار لپاره پيدا شوې يم، خلک به په تعجب سره ووايي: سبحان الله! غوا د انسانانو په څير خبرې وکړې، رسول الله فرمايي: په دې باندې ما، ابو بکر او عمر هم ايمان راوړی ([2]).

په حديث کې د درنده ګانو او وحشي ځناورو د خبرو چې کوم ذکر راغلی له هغه څخه مراد اصلي او په حقيقي معنا سره خبرې کول دي، والله اعلم، د الله تعالی فرمان دی:

﴿يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۝﴾ ([3]).

---

[1] مسند احمد: ۳/ ۸۸. والبداية والنهاية: ۲/ ۱۵۰.

[2] صحيحالبخاری. فضائل اصحاب النبي ﷺ. حديث: ۳۶۶۳. وصحيح مسلم. فضائل الصحابة. حديث: ۲۳۸۸.

[3] فاطر. آية: ۱.

ژباړه : زیاتوي الله په پیدا ینښت کې هومره چې اراده وفرمايي (دهغو) بیشکه چې الله پر هر شي باندې قادر دی (چې اراده وفرمايي) بنه قادر دی (چې ځینې یې دغسې تزئید او تخلیق دی).

﴿۱۲۰﴾ ﴿۱۲۱﴾ له قیامت څخه د مخه له دنیا څخه د اسلام ورکیدل، د قران مجید له مصاحفو او سینو څخه پورته کیدل

د قیامت له نښانو څخه دا هم ده چې اسلام به ورک شي او د هغه تعلیمات او شعائر به د فتنو، ګناهونو او جهالت له امله ختم شي، په خلکو کې به لمونځ او روژه باقي پاته نشي. د خلکو له سینو څخه به قرآن مجید پورته کړل شي حتی چې د زمکې پر مخ به د قرآن مجید یو آیت هم پاتې نشي، په خلکو کې به جهالت دومره زیات شي چې سپین ږیري سړي او سپین سرې ښځې به وايي: مونږ له خپلو پلرونو او نیکونو څخه دا کلمه (لا اله الا الله) آوریدلې ځکه مونږ هم همدا کلمه وایو.

حضرت حذیفة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿يَدْرُسُ الإِسْلاَمُ كَمَا يَدْرُسُ وَشْيُ الثَّوْبِ ، حَتَّى لاَ يُدْرَى مَا صِيَامٌ ، وَلاَ صَلاَةٌ ، وَلاَ نُسُكٌ ، وَلاَ صَدَقَةٌ ، وَلَيُسْرَى عَلَى كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي لَيْلَةٍ ، فَلاَ يَبْقَى فِي الأَرْضِ مِنْهُ آيَةٌ ، وَتَبْقَى طَوَائِفُ مِنَ النَّاسِ الشَّيْخُ الْكَبِيرُ وَالْعَجُوزُ ، يَقُولُونَ : أَدْرَكْنَا آبَاءَنَا عَلَى هَذِهِ الْكَلِمَةِ ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، فَنَحْنُ نَقُولُهَا﴾ (۱).

ژباړه : اسلام به داسې محوه شي لکه څرنګه چې په ډیر استعمال سره د جامې (کپړې) نقش او نګار محوه شي. تر دې چې نوبت به دیته ورسیږي

---

۱ - سنن ابن مجه. الفتن. حدیث: ۴۰۴۹. وقال البوصیري في مصباح الزجاجة: هذا اسناد صحیح ورجاله ثقات. وصححه الحاکم علی شرط المسلم.

چې هیڅ ته به معلومه نه وي چې لمونځ، روژه او قرباني څه ته ویل کیږي او صدقه د کوم شي نوم دی، قرآن مجید به په یوه شپه کې پورته شي حتی چې د زمکې په سر به د هغه یو ایت هم باقي پاته نشي. په خلکو کې به سپین ږیري سړي او سپین سرې ښځې او سیږي او وایي به: مونږ له پلرو او نیکو څخه آوریدلي چې دغه کلمه (لا اله الا الله) به یې ویله، له همدې امله مونږ هم همدغه کلمه وایو.

حضرت حذیفة رضی الله عنه چې کله دغه حدیث بیاناوه نو ور سره ناستو خلکو په دې د تعجب اظهار وکړ، حضرت صله بن زفر ورته وویل: اې حذیفة! هغوی ته به د (لا اله الا الله) کلمه څه فایده ورسوي، کله چې هغوی ته دا نه وي معلومه چې لمونځ، روژه او صدقه څه شی دي؟ حضرت حذیفة خپله خوله پټه کړه، صله بن زفر درې کرته همداسې ورته وویل، په هر وار حضرت حذیفة رضی الله عنه د ځواب له ورکولو ډډه وکړه، بیا حضرت حذیفة رضی الله عنه د هغه لور ته متوجه شو او وې فرمایل: دا کلمه به هغوی د جهنم له اور څخه وساتي.

(یدرس) معنا یې ده چې ورک به کړل شي، ختم به کړل شي، تر دې چې د اسلام یو شی به هم بچ پاتې نشي، مطلب دا چې په خلکو کې به د اسلام ټول ظاهري شعائر او نښانات ختم کړی شي.

(وشي الثوب) د جامې (کپړې) نقش او نګار کوم چې په مختلفو رنګونو باندې په جامه (کپړه) باندې جوړ شوې وي، مګر د ډیر استعمال او بار بار پریمنځلو له امله به هغه کرار کرار ختم کړل شي

(یسری علی القرآن) یعنې قرآن مجید به له سینو او محاصفو څخه پورته کړل شي او دا به په داسې وخت کې کیږي کله چې خلک له قرآن څخه غافله شي. د هغه تلاوت او د هغه په ذریعه د عبادت کول پریږدي.

دا نښانه تر دا مهاله نه ده ظاهره شوې او د اسلام دین الحمد لله مسلسل په زیاتیدو دی.

﴿۱۲۲﴾ په بيت الله باندې د حمله کوونکي لښکر په زمکه کې ننوتل

نبي کريم ﷺ خبر ورکړی چې يو لښکر به په بيت الله شريف باندې حمله وکړي، هغوی به د قريشو د يوه سړي يعنې د امام مهدي نيول غواړي، الله تعالی به له اول څخه تر آخره پورې دغه ټول لښکر په زمکه کې ننه باسي، په دغه لښکر کې به مختلف قسم خلک وي او بيا به هغه خلک د خپلو نيتونو مطابق د قيامت په ورځ را پورته کړل شي.

عبيد الله بن قطيبه فرمايي چې حارث بن ربيعه او عبد الله بن صفوان ام المؤمنين ام سلمه رضی الله عنها ته ورغلل او زه هم له هغوی سره وم، هغوی د هغو په باره کې پوښتنه وکړه کوم به چې په زمکه کې ننه باسل شي؟ دا د هغوی دوارو خبرې دي کله چې حضرت عبد الله بن زبير رضي الله عنه په مکه مکرمه کې د حجاج په خلاف په جنګ کولو کې مشغول وي او هغه په بيت الله شريف کې محصور وي، زمونږ د پوښتنې په ځواب کې ام المؤمنين وويل چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ يعوذ عائذ بالبيت فيبعث إليه بعث فإذا كانوا ببيداء من الأرض خسف بهم فقلت يا رسول الله فكيف بمن كان كارها ؟ قال يخسف به معهم ولكنه يبعث يوم القيامة على نيته﴾ (١).

ژباړه: يو د پناه اخستونکی به په بيت الله شريف کې پناه واخلي، د هغه لور ته به يو لښکر وليږل شي، هغه لښکر چې کله په يوه پراخ ميدان کې وي نو هغه به په زمکه کې ننه باسل شي، ما پوښتنه وکړه: يا رسول الله ﷺ! هغه خلک به څه کوي کوم چې مجبورتا په دغه لښکر کې شامل کړی شوي وي؟ رسول

---

(١) صحيح مسلم، الفتن، حديث: ٢٨٨٢.

الله ﷺ وفرمایل: هغه به هم په زمکه کې ننه باسل شي، مګر د قیامت په ورځ به هر کس د خپل نیت مطابق را پورته کړل شي.

په یوه بل روایت کې دي کله چې نبي ﷺ د هغه لښکر په باره کې ذکر کاوه کوم به چې په زمکه کې ننه باسل شي نو سیده ام سلمه پوښتنه وکړه: په دې کې خو به یو شمیر خلک داسې هم وي کوم به چې مجبور کړی شوي وي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: ټول خلک به د قیامت په ورځ د خپلو نیتونو مطابق را پورته کړل شي.

د خلکو د نیتونو مطابق د راپورته کیدلو سبب دا دی چې په هغوی کې به څوک مجبورتا راوستل شوي وي، څوک به د نوکرانو په حیث راوستل شوي وي. څوک به د نورو کارونو لپاره راوستل شوي وي، له همدې امله به له هغوی سره د هر یوه د نیت مطابق معامله وکړل شي، دا ټول خلک به له شریرو خلکو سره د ملګرتیا کولو له وجهې هلاک کړل شي. یعنې په دنیا کې دغه هلاکت او بربادي به د هغوی د ملګرتیا له امله وي. د قیامت په ورځ به د خپل خپل مقصد، ارادې او نیت مطابق له هغوی سره حساب کتاب کیږي، دا حدیث مبارک په دې امر دلالت کوي چې د بیکاره خلکو له صحبت او رفاقت څخه ځان ساتل پکار دي. ځکه څوک چې په خپله مرضي په معصیت او نا فرمانۍ کې د کوم قوم ملګرتیا کوي او د هغوی د زیاتولو سبب ګرځي نو هغه هم له هغوی سره یو ځای په عذاب کې اخته کیږي.

همدا شان په دې خبره هم دلالت کوي چې الله تعالی به دغه لښکر کعبې ته له رسیدا د مخه په زمکه کې ننه باسي.

په دې سلسله کې د ټولو واردو روایتونو له مطالعې کولو څخه دا خبره واضحه کیږي چې په بیت الله شریف کې پناه اخستونکی به امام مهدي محمد بن عبد الله وي. الله تعالی به د هغه حفاظت وکړي او حمله کوونکی لښکر به په زمکه کې ننه باسي.

ام المؤمنين حضرت عائشة رضی الله عنها بيان کوي چې رسول الله ﷺ يو ځل له خوب څخه وارخطا را پورته شو او کيناست، ما عرض وکړ: د الله رسوله! ته نن له خوب څخه د معمول خلاف راپورته شوې او کيناستې؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل نن ما يو عجيب شی وليد، زما د امت يو شمير خلک په بيت الله کې په پناه اخستونکي يوه قريش سړي باندې د حملې کولو لپاره راغلل، مګر کله چې هغوی يوه خلاص ميدان ته ورسيدل نو ټول په زمکه کې ننوتل، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! په دې لښکر کې خو به هر رنګه خلک وي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل هو! په هغوی کې به يو شمير خلک په زور راوستل شوي وي او مسافر به هم پکې وي، مګر ټول به يو ځای هلاک کړل شي، البته د قيامت په ورځ به په مختلفو حالاتو کې را پورته کړل شي، الله تعالی به هغوی د خپلو نيتونو مطابق را پورته کړي [1].

له ام المؤمنين حضرت عائشة رضی الله عنها څخه په يوه روايت کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

يو لښکر به په کعبه شريفه باندې حمله کوونکی وي، د سفر په دوران کې چې کله هغه په يوه خلاص ميدان کې وي نو له آول څخه نيولې تر آخره پورې به ټول په زمکه کې ننه باسل شي، حضرت عائشة رضی الله عنها پوښتنه وکړه: د الله رسوله! ټول به څنګه په زمکه کې ننه باسل شي کله چې په هغوی کې داسې خلک هم وي کوم چې د حمله کوونکو له جملې څخه نه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل له يوه مخه ټول به په زمکه کې ننه باسل شي، بيا به هغوی د خپلو نيتونو مطابق را پورته کړل شي [2].

د امام مهدي او د هغه د واقعاتو ذکر مخته را روان دی [3].

---

[1] صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۸۸۴.

[2] صحيح البخاری. البيوع. حديث: ۲۱۱۸.

[3] وګورئ په علامت صغری کې علامه نمبر:۱۳۱.

﴿۱۲۳﴾ د بیت الله حج به معطل کړی شي

په آخره زمانه کې به جهالت ډیرې فتنې ظاهرې کړي او د دیني کارونو د درولو کوشش به کیږي، په دې وخت کې به په کعبه شریفه یوه داسې زمانه هم راشي چې حج او عمره به معطل کړی شي.

حضرت ابو سعید خدري ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُحَجَّ الْبَيْتُ﴾ ([1]).

ژباړه: قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې د بیت الله حج موقوف نشي.

دا نښانه به ډیره وروسته ښکاره شي، ځکه چې له نصوصو معلومیږي چې د یاجوج او ماجوج له ظهور وروسته به هم حج جاري وي.

حضرت ابو سعید خدري ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ﴾ ([2]).

ژباړه: د دغه کور (بیت الله) حج او عمره به د یاجوج او ماجوج له ظهور وروسته هم کیږي.

قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې د بیت الله حج موقوف نشي، د دې یو مطلب دا هم کیدلای شي چې د جنګونو او فسادونو له امله به تر یوه وخته پورې حج او عمره موقوف کړل شي او بیا به دوباره شروع کړل شي، یا د دې معنا دا ده چې یو شمیر قومونه به په زور (زبردستي) سره خلک د حج له کولو منعه کوي، والله اعلم.

---

[1] - صحیح البخاري. الحج. حدیث: ۱۵۹۳.

[2] - صحیح البخاري. الحج. حدیث: ۱۵۹۳.

﴿۱۲۴﴾ ځينې قبايل عرب به دوباره د بتانو عبادت شروع کړي

په جزيرة العرب کې د شرک او بت پرستي دوره وه، مګر الله تعالی خپل نبي ﷺ ته توفيق ورکړ او په خپلو لښکرو يې د هغه مرسته وکړه تر دې چې هغوی د ټولو بتانو خاتمه وکړه او د الله تعالی د توحيد بيرغ يې پورته کړ، ليکن له قيامت سره په نږدې زمانه کې به د خلکو له دين څخه د ليرې والي له امله به يوه ډله بيا (دوباره) د بتانو عبادت شروع کړي او دا د قيامت له نښانو څخه دی.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَضْطَرِبَ أَلَيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ عَلَى ذِي الْخَلَصَةِ﴾ ([1]).

ژباړه:

قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې د دوس قبيلې ښځې له (ذوالخصله) څخه چار چاپير حرکت ونه کړي.

(ذوالخصله) د يوه بت نوم دی، د کوم عبادت چې د دوس قبيلې خلکو د جهالت په دوره کې کاوه.

مطلب دا چې هغه ښځې به د سرينين (ذوالخصله) شاو خوا د طواف کولو له امله به په حرکت کې تر سترګو کيږي، يعني د دغې قبيلې خلک به مرتد شي او د بتانو عبادت او تعظيم به شروع کړي.

د دوس قبيلې ځای د جزيره نمائي عرب په جنوب غرب کې واقع دی.

---

[1] - صحيح البخاري. الفتن. حديث: ۷۱۱۶. وصحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۰۶.

﴿۱۲۵﴾ د قریش قبیلې په مکمل ډول ختمیدل

په عربو کې د قریشو قبیله یوه مشهوره قبیله ده. د دغې قبیلې خلک د فهر بن مالک بن نضر بن کنانه اولاده ده. قریش یو لقب دی په کوم سره چې د هغوی اولاد مشهور دی. د قریش لفظ له تقارش څخه ماخوذ دی کوم چې په معنا د تجارت سره دی. دا خلک تجارت کوونکي دي، ځکه د قریش په لقب مشهور دي.

د قریشو ډیر شاخونه دي. په دې کې بنو حارص بن فهر، بنو خذیمه، بنو عائذ، بنو لؤی بن غالب، بن عامر بن لؤی، بنو عدي بن کعب بن لؤی، بنو مخزوم، بنو تمیم بن مروه، بنو زهره بن کلاب، بنو اسد بن عبد العزی، بنو عبد الدار، بنو نوفل، بنو عبد المطلب، بنو امیه او بنو هاشم وغیره شامل دي.

د اسلام له راتګ وروسته د قریش قبیلې خلک په ډیرو شاخونو وویشل شول، لکه: بکري، عمري، عثماني، علوي او وغیره.

د دوی اصلي مسکن جزیره نمائي عرب ده. لیکن وروسته دا خلک ډیر خپاره شول او د زمکې په مختلفو برخو کې اباد شول.

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې قریش به په تدریج سره کم شي، تر دې چې د هغوی شمیر به د نیست برابر شي، یا دا چې بیخي به ختم شي.

﴿أسرع قبائل العرب فناء قريش ويوشك ان تمر المرأة بالنعل فتقول ان هذا نعل قرشي﴾ ([1]).

ژباړه: په عربو کې تر ټولو زر ختمیدونکې قبیله قریش ده، نږدې ده چې یوه ښځه به له یوه پیزار سره تیریږي او وایي به چې دا د یوه قریش پیزار دی.

د دغه امر تاکید د نبي کریم ﷺ له دغه فرمان څخه هم کیږي په کوم کې چې نبي کریم ﷺ ام المؤمنین حضرت عائشة رضی الله عنها ته ویلي

---

[1] مسند احمد ۲/ ۳۳۲. مسند ابي يعلى ۱۱/ ۲۸. ومجمع الزوائد ۷/ ۲۴۰. ورجال احمد وابي يعلى رجال الصحيح. وصححه احمد شاكر والالباني

«يا عائشة ! قومک اسرع امتي بي لحاقا» .

ژباړه

اې عائشة ! د ستا قوم (قريش) له ما سره تر ټولو اول ملاقات کوونکی دی. دا حديث مخکې تير شو (۱).

«۱۲۶» د حبشي د يوه کس په لاس د کعبې بربادي

د قيامت له نښانو څخه د مسلمانانو د قبلې کعبې شريفې بربادي هم ده. دا به په آخره زمانه کې يو تور حبشي ورانه کړي د کوم نام به چې (ذوالسويقتين) د دوو وړو پنډيو والاوي، د دغه نام به د هغه د پنډيو د وړوکي والي او باريک والي له امله وي. هغه به د کعبې شريفې يوه يوه ډبره وغورځوي، د هغې غلاف به را وشکوي او زيورات به يې غلا کړي

حضرت عمرو بن العاص ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

«اتركوا الحبشة ما تركوكم فإنه لا يستخرج كنز الكعبة إلا ذو السويقتين من الحبشة» (۲).

ژباړه: حبشي چې تر څو له تاسو سره جنګ نه کوي تاسو هم هغه ته څه مه واياست. ځکه چې د کعبې خزانه له (ذوالسويقتين) پرته بل څوک نشي را ويستلای.

په يوه بل حديث کې دي چې کعبه به يو حبشي (ذوالسويقتين) برباده کړي (۳).

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

«كأني به أسود أفحج يقلعها حجرا حجرا» ( ).

---

۱ وګورئ په علامات صغرى کې علامه نمبر: ۸۲.

۲ سنن ابي داؤد. الملاحم. حديث: ۴۳۰۹. وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲، ۴۱۵. حديث: ۷۷۲.

۳ صحيح البخاري. الحج. حديث: ۱۵۹۱.

ژباړه: ګویا که چې زه وینم چې یو تور، د خپرو ګوتو والا سړی به د کعبې یوه یوه ډبره را وغورځوي.

حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿یخرب الکعبة ذو السویقتین من الحبشة ویسلبها حلیتها ویجردها من کسوتها ولکأني أنظر إلیه أصیلع أفیدع یضرب علیها بمسحاته ومعوله﴾ ([2]).

ژباړه: کعبه به یو د وړو پنډیو والا یو حبشي بر با ده کړي، هغه به د هغې زیورات غلا کړي او هغه به له غلاف څخه محرومه کړي، زه ګویا که چې هغه وینم چې هغه ګنجی به کعبه د خپل قولنګ (بیلچې) په ذریعه خرابه کړي.

(اصیلع) دا د اصلع تصغیر دی، یعنې د هغه په سر به ویښتان نه وي، (بمساحته) یعنې په خپل قولنګ، یا دا د اوسپنې یوه آله ده کومه چې په زراعتي کارونو کې استعمالیږي، (المعول) دا هم یوه آله ده په کومې سره چې په ډبرو کې کودائي کیږي.

یو اشکال

دلته د خلکو په ذهنو کې یوه پوښتنه پیدا کیږي هغه دا چې هغه حبشي به کعبه څرنګه ورانه کړي کله چې الله تعالی مکه د امن والا حرم ګرځولې؟

ارشاد باري تعالی دی:

﴿أَوَلَمْ یَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا﴾ ([3]).

ژباړه: آیا نه وینې (نه پوهیږي) چې بیشکه مونږ ګرځولی مو دی (دا ښار د دوی مکه) حرم (امن ورکوونکی له آفتونو نه) (حال دا چې چور کیږي، تښتول کیږي)

بل قول د الله تعالی دی:

---

[1] صحیح البخاري، الحج، حدیث: ۱۵۹۵.

[2] مسند احمد ۲/ ۲۲۰. وقال ابن کثیر: وهذا اسناد جید صحیح.

[3] العنکبوت، آیة: ۶۷.

﴿أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا﴾ (١).

ژباړه

آیا نه دي ورکړی (ځای) مونږ دوی ته داسې حرم چې په امان دی (له قتل او غارت نه).

همدا شان ارشاد باري تعالی دی:

﴿وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٢٥﴾ (٢).

ژباړه:

او هر چا چې اراده وکړه (په دغه مسجد الحرام کې) د بې لارۍ (د حق نه په مخ ګرځولو سره) په ظلم سره نو وبه څکو مونږ په هغه (کړیدونکی) له عذاب دردناک څخه.

پوښتنه: الله تعالی د خپل کور ساتنه د فیل له خاوندانو څخه په هغه وخت کې وکړه په کوم کې چې د مکې اوسیدونکي کافر او مشرک وو، نو په دې وخت کې به په کعبه باندې څنګه یو داسې کس مسلط شي کله چې هغه د مسلمانانو قبله وي؟

ځواب: لومړی خبره دا ده چې بیت الله به له قیامت سره په نږدې زمانه کې د امن او محرومیت له حیثیت څخه محفوظه شي. په آیاتونو کې د قیامت تر برپا کیدا پورې د امن د باقي پاته کیدو ذکر نشته. په آیت کې یواځې دا وښیل شوي چې کله دا آیاتونه نازل شي نو په دغه وخت کې به حرم ډیر د امن او حفاظت ځای وي. دا نه دي وئیل شوي چې دا امن او امان به تر قیامته پورې باقي وي

(١) القصص، آیة: ۵۷.
(٢) الحج، آیة: ۲۵.

دویمه خبر په دې سلسله کې دا ده چې په خپله نبي کریم ﷺ په خپل یوه ارشاد کې دې لور ته اشاره کړې چې یو وخت به راشي په کوم کې به چې د دغه کور حرمت همدلته اوسېدونکي پایمال کړي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿یبایع لرجل ما بین الرکن والمقام ولن یستحل البیت الا أهله فإذا استحلوه فلا یسأل عن هلکة العرب ثم تأتي الحبشة فیخربونه خرابا لا یعمر بعده أبدا وهم الذین یستخرجون کنزه﴾ ([1]).

ژباړه: له یوه کس ([2]) سره به د حجر اسود او مقام ابراهیم تر مینځ بیعت کیږي، د دغه کور حرمت به د همدغه ځای اوسېدونکي پایمال کړي او کله چې داسې وشي نو بیا د عربو د هلاکت او بربادي په هکله پوښتنه مه کوی، بیا به له حبشې څخه یو لښکر راشي کوم به چې کعبه تباه او برباده کړي، له دې تباهي وروسته به د الله تعالی کور کله هم اباد نشي، دغه خلک به د هغې خزانې هم را وباسي.

د اصحاب فیل په زمانه کې د مکې اوسېدونکي کافر وو مګر د کعبې تعظیم یې کاوه او د هغې حرمت یې نه پایماله وو، له همدې امله الله تعالی کعبه له ابرهه او د هغه له لښکر څخه وساتله.

تر څو پورې چې د حبشي (ذوالسویقتین) معامله ده نو هغه به د کعبې په ورانولو کې هغه وخت کامیاب شي کله چې هلته ځایي خلک د هغې د حرمت پایمالولو کوشش شروع کړي او د هغې حرمت له هغوی سره نه وي.

---

[1] مسند احمد: ۲/ ۲۹۱. بسند صحیح.

[2] له دې شخص څخه مراد امام مهدي دی. د دې تفصیل د علامت صغری په علامه نمبر: ۱۳۱ کې را روان دی.

﴿۱۲۷﴾ د مؤمنو ارواحو قبضولو لپاره د يوې پاکې هوا چليدل

کله چې يو په بل پسې د قيامت نښانې را ښکاره کيږي نو د قيامت غټې نښانې به هم را ښکاره شي. لکه خروج دجال او د حضرت عيسى ابن مريم عليهما السلام نزول. نو به قيامت ډير را نږدې شي. په دې وخت کې به الله تعالى يوه پاکه هوا را وليږي چې هغه به د مؤمنانو روحونه قبض کړي تر څو چې هغوى د قيامت په وخت کې له پيدا کيدونکي خوف (ويرې) محفوظ کړل شي. ځکه چې قيامت به يواځې په بد ترينو خلکو قايميږي.

حضرت نواس بن سمعان رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿فبينما هم كذلك إذ بعث الله ريحا طيبة فتأخذهم تحت آباطهم فتقبض روح كل مؤمن وكل مسلم ويبقى شرار الناس يتهارجون فيها تهارج الحمر فعليهم تقوم الساعة﴾ ([1]).

ژباړه:

دوى به په داسې حالت کې وي چې الله تعالى به يوه پاکه هوا را وليږي کومه به چې هغوى له بغلونو څخه ونيسي او هغه به د هر مؤمن روح قبض کړي. د ځمکې په سر به يواځې بد او شرير خلک پاتې شي کوم به چې د مردار خور مارغه په څير په عام منظر کې بدکاري کوي ([2]) په همداسې خلکو به قيامت قايميږي.

حضرت عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

دجال به را ووځي بيا به الله تعالى د شام له لوري يوه تازه هوا را وليږي. د هغې د اثر له امله به نيک خلک وفات شي. تر دې چې د ځمکې

---

[1]. صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ۲۹۳۷.

[2]. يعني سړي به له ښځو سره د مردار خور مارغه په څير په عام محضر کې بد کاري کوي.

په سر به هيڅ داسې شخص بچ پاته نشي د کوم په زړه کې چې د يوې زرې برابر ايمان وي. صورتحال به دا وي که په تاسو کې يو څوک د کوم غره په يوه غار کې ننوځي (پټ شي) نو هلته به هم هغه ته دغه هوا ورسيږي او روح به يې قبض کړی شي (١).

دا هوا به د دجال له قتل او د حضرت عيسی ابن مريم عليهما السلام له وفات وروسته چليږي.

﴿١٢٨﴾ په مکه کې لوړ عمارتونه

په عهد نبوي کې د مکې ابادي ډيره کمه او ودانۍ يې ډيرې لږ وې. نبي کريم ﷺ دا پيشنګوئي کړې چې د قيامت له نښانو دا هم ده چې د مکې عمارتونه به د هغې له غرونو څخه هم ډير لوړ شي. يعلی بن عطاء له خپل پلار څخه روايت کړی کوم چې امام ابن ابي شيبة ذکر کړی:

ما د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما د سوارلۍ لجام نيولی وو چې هغه وفرمايل: په هغه وخت کې به تاسو خلک څه کوی کله چې تاسو بيت الله په داسې حال کې ووينی چې د هغې يوه ډبره به هم په هغې بلې دپاسه نه وي. خلکو پوښتنه وکړه: آيا مونږ به په دغه وخت کې په اسلام قايم يو؟ هغه وفرمايل: هو! تاسو خلک به په هغه وخت کې په اسلام کې ياست. پوښتونکو وپوښتل: بيا به له دې وروسته څه کيږي؟ حضرت عبد الله وفرمايل: بيا به د بيت الله تعمير له پخوا څخه په ښه انداز جوړ کړی شي، کله چې تاسو مکې ته ګوری نو د هغې په غرونو او زمکه کې به سرنګونه ويستل شوي وي او د زمکې لاندې به د اوبو پائپونه (نلکۍ) بهيږي او د مکې عمارتونه به د غرونو له سرو څخه پورته وخيژول شي، په دې وخت کې پوه شی چې معامله زر راتلونکې ده (٢).

---

(١) صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ٢٩٤٠.

(٢) المصنف لابن ابي شيبة: ١٥/ ٤٨. واخبار مکة لازرقي. وله عدة طرق. وهو خبر جيد.

﴿۱۲۹﴾ د امت اخیرني خلک به په مخکنیو خلکو لعنت وایي

په آخره زمانه کې به بدعات ډیر زیات شي او وروسته راتلونکي خلک به له پخوانیو نفرت کوي، ځینې خلک به د صحابه کرامو فضیلت او لوړ مقام دروغژن ګڼي، الله تعالی چې د صحابه کرامو کومه مدح او ثنا بیان کړې له هغې څخه به غافل شي یا به له تغافل څخه کار اخلي، راتلونکي ځینې خلک به په مخکنیو خلکو باندې لعنت وایي، نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿لاتقوم الساعة حتى يلعن آخر الامة اولها﴾ (۱).

ژباړه:

قیامت به قایم نشي تر څو چې د امت آخیرني خلک په مخکنیو خلکو باندې لعنت ونه کړي.

له امت څخه مراد د محمد رسول الله ﷺ امت دی لکه څنګه چې ښکاره ده والله اعلم

﴿۱۳۰﴾ نوې سپرلۍ ..... موټرې

د آخرې زمانې تفصیلات او د هغې د ډیرو ایجاداتو ذکر په مختلفو حدیثونو کې موجود دی، یا د هغوی په باره هلته اشاره ضرور شته، نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې له قیامت سره په نږدې زمانه کې به مارکیټونه ډیر زیات شي او زمانه به نږدې راشي، له دغه نبوي ارشاد څخه ځینو علماؤ دا اخذ کړی چې په دې کې د نویو (جدید) او مختلف قسم موټرو لور ته اشاره ده، کوم چې زمونږ په دور کې ښه په کثرت سره دي، امام الباني رحمه الله په (السلسلة الصحيحة) کې او نورو ډیرو علماء کرامو هم همدې لور ته اشاره کړې.

امام ابن حبان په خپل صحیح کې د حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما مرفوع حدیث ذکر کړی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

المعجم الاوسط للطبراني ۴ ۲۹. حدیث: ۵۲۴۱.

﴿سيكون في آخر أمتي رجال يركبون على السروج كأشباه الرجال ينزلون على أبواب المسجد نساؤهم كاسيات عاريات﴾ (۱).

ژباړه

زما د امت په آخره زمانه کې به يو شمير داسې خلک وي چې په داسې زينونو باندې به سپاره وي کوم به چې د سپرليو په څير وي. هغوی به د جوماتونو په دروازو باندې کوزيږي، د هغوی ښځې به د جامو اغوستلو باوجود لغړې ښکاري.

(كاشباه الرحال) رحال د رحل جمع ده او په معنا د کجاوې سره ده، په دې کې د نويو سپرليو لور ته اشاره ده، کومې چې د الله رسول ﷺ نه دي ليدلې. په ظاهره معلوميږي چې له دې څخه مراد نن ورځ موټرې دي.

والله اعلم

﴿۱۳۱﴾ د امام مهدي ظهور

سره له دې چې په آخره زمانه کې به شر او فساد زيات شي، ظلم به ډير خپور شي. زورور به د کمزورو حق خوري. بيکاره خلک به په ټولنه کې بر لاسي وي. مګر د دې هر څه با وجود به مسلمانان د يوه داسې نوي صبا راختو ته منتظر وي کوم به چې د زمکې په سر خپاره شوي ظلم او ستم ته د پای ټکی کيږدي، الله تعالی به د امام محمد بن عبد الله. مهدي سني علوي د ظهور فيصله وکړي. ليکن پوښتنه دا ده چې:

- مهدي به څوک وي؟
- د هغه د ظهور سبب به څه وي؟
- هغه به کله ظاهر شي؟

مسند احمد: ۲ / ۲۲۳، و سلسلة الاحاديث الصحيحة: ۲ / ۴۱۱، حديث ۲۲۸۳.

❁ آیا هغه دا وخت په دنیا کې موجود دی؟
❁ د هغه کار به څه وي؟
❁ د هغه ملاتړي به څوک وي؟

له دې پرته یو شمیر نورې پوښتنې هم شته کومې چې د لفظ مهدي له آوریدو سره په ذهن کې راځي، د دغو پوښتنو ځوابونه مونږ په راتلونکو صفحو کې له یو څه اختصار سره ذکر کوو.

نوم او نسب

د مهدي نوم به محمد بن عبد الله حسني علوي وي کوم به چې د حضرت نبي کریم ﷺ په اهل بیت کې د سیده فاطمة رضی الله عنها او سیدنا حسن بن علي رضی الله عنهما له اولادې څخه وي.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلی:

﴿لو لم يبق من الدنيا إلا يوم لطول الله ذلك اليوم حتى يبعث فيه رجلا مني أو من أهل بيتي يواطىء اسمه اسمي واسم أبيه اسم أبي﴾ ([1]).

ژباړه:

که چیرته د دنیا یوه ورځ هم باقي پاتې شي نو الله تعالی به دغه ورځ لویه کړي تر دې چې په دغه ورځ کې یو داسې شخص مبعوث (را ولیږي) کوم به چې له ما څخه وي، یا دا چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم به چې زما له اهل بیت څخه وي، د هغه نوم به زما له نامه سره او د هغه د پلار نوم به زما د پلار له نامه سره برابر وي

---

[1] سنن ابی داؤد . المهدي . حدیث : ۴۲۸۲ . وصححه شیخ الاسلام ابن تیمیة فی منهاج السنة: ۴ / ۲۱۱.

د مهدي د ظهور سبب

په آخره زمانه کې کله چې فساد ډېر زيات شي، بد کارونه په کثرت سره شي، ظلم خپور شي او عدل ورک شي نو په دې وختونو کې به يو نيک سړی ظاهر شي د کوم په لاس به چې الله تعالی د دغه امت حالات اصلاح کړي، دغه سړی به د اهل سنت په نزد د مهدي په نام پيژندل کيږي، د هغه پيروان به سره جمع شي او هغه به په ډيرو جنګونو کې د مؤمنانو قيادت کوي، هغه يواځې مذهبي پيشوا نه دی بلکه قايد او حاکم هم دی.

د مهدي صفات

حضرت ابو سعيد خدري ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

مهدي به له ما څخه وي، يعنې زما له نسل څخه به وي، بيا نبي کريم ﷺ د هغه جسماني صفات بيان کړل او وې فرمايل:

﴿أجلى الجبهة أقنى الأنف، يملأ الأرض قسطا وعدلا كما ملئت جورا وظلما ويملك سبع سنين﴾ ([1]).

ژباړه:

هغه به د لغړې تندې او اوږدې پوزې والا وي، هغه به زمکه له عدل او انصاف څخه داسې ډکه کړي لکه څنګه چې له ظلم او ستم څخه ډکه وي. د هغه حکومت به تر اوو کلونو پورې وي.

(اجلى الجبهة) يعنې د هغه د سر په مخته برخه کې به ويښتان کم وي، يا يې معنا دا ده چې د هغه تندی به پراخ وي. (اقنى الانف) يعنې د هغه پوزه به اوږده وي، د هغه پوزه به له منځ څخه پورته وي، يعنې د چيتې پوزې والا به نه وي. د هغه د حکومت په باره کې تفصيل مخته را روان دی.

---

[1] سنن ابي داؤد، المهدي، حديث: ۴۲۸۵، واسناده صحيح.

د هغه نام به د نبي کريم ﷺ د نام په څير وي او د هغه د والد (پلار) نام به د نبي کريم ﷺ د والد (پلار) د نامه په څير وي، يعنې د هغه نوم به محمد بن عبد الله وي او هغه به د نبي کريم ﷺ له اهل بيت څخه وي (د حضرت حسن بن علي رضی الله عنهما له نسل څخه به وي).

د حضرت حسن بن علي له نسل څخه د مهدي په کيدلو کې حکمت

حضرت حسن رضي الله عنه د خپل والد ګرامي سيدنا حضرت علي رضي الله عنه له شهادت وروسته د حکومت چارې سمبالې کړې، لهذا د دغه وخت په حالاتو کې د مسلمانانو دوه خليفه ګان جوړ شول، په عراق، حجاز وغيره کې حضرت حسن بن علي رضي الله عنه او په شام او د هغه په همجوارو سيمو کې حضرت امير معاويه رضي الله عنه.

له شپږ مياشتو واکمنې وروسته سيدنا حسن بن علي رضي الله عنه له کومې دنيوي معاوضې پرته بواځې د الله تعالی د رضا لپاره د حکومت له چارو ځانته والی غوره کړ او د حضرت امير معاويه رضي الله عنه په حق کې دست بردار شو، تر څو چې په مسلمانانو کې اتحاد او اتفاق پيدا شي او د هغوی ټولو واکمن يو سړی شي او د هغوی تر مينځ خونريزي ونشي، الله تعالی د هغه په دې عمل کې برکت واچاوه او هغه ته يې ښه بدله ورکړه، هر څوک چې د الله تعالی د رضا لپاره کوم شی پريږدي نو الله تعالی به هغه ته يا د هغه اولاد ته افضل (بهترين) شی ورکړي [1].

---

[1] المنار المنيف لابن القيم، ص: ۱۵۱.

د مهدي د واکمنۍ موده

مهدي به تر اوو کلونو پورې د مسلمانانو واکمن وي او هغه به په دغه دوره کې ځمکه له عدل او انصاف څخه داسې ډکه کړي لکه څنګه چې هغه له ظلم او زیاتي څخه ډکه کړی شوې وي.

د هغه په زمانه کې به امت ډېر خوشحاله وي، ځمکه به خپل پیدا وار ډېر کړي، له آسمان څخه به ښه بارانونه را وریږي او هغه به خلکو ته بې شماره مال ورکړي، په دې سلسله کې مخکنۍ یو شمیر حدیثونه بیانولای شي.

د مهدي ظهور به له کوم لوري وي؟

د محمد بن عبد الله حسني علوي ظهور به د مشرق له لوري وي، هغه به د ظهور په وخت کې یواځې نه وي، بلکه الله تعالی به د مشرق ډېر خلک له هغه سره مرسته کوونکي جوړ کړي، کوم به چې د دین اسلام حاملین وي او د الله تعالی په لار کې به جهاد کوي. لکه څنګه چې په یوه حدیث کې بیان شوي دي.

د مهدي د ظهور وخت

په آخره زمانه کې چې کله د خلکو حالات خراب شي، په دې وخت کې به د خلیفه ګانو له اولاد څخه درې نفره په کعبه او د هغې په خزانو باندې د قبضې کولو لپاره په خپل مینځ کې جنګ وکړي، په هغوی کې به هر یو په کعبه شریفه باندې د قبضې کولو غوښتونکی وي، مګر یو به هم کامیاب نشي، په عین همدې وخت کې به د مکې په ښار کې مهدي ظهور وکړي او دا خبره به په خلکو کې عامه شي. له کعبې سره نږدې به له مهدي سره بیعت کیږي، خلک به په سمع، طاعت او د هغه په اتباع باندې له هغه سره بیعت کوي.

حضرت ثوبان رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي.

﴿يَقْتَتِلُ عِنْدَ كَنْزِكُمْ ثَلاَثَةٌ ، كُلُّهُمُ ابْنُ خَلِيفَةٍ ، ثُمَّ لاَ يَصِيرُ إِلَى وَاحِدٍ مِنْهُمْ ، ثُمَّ تَطْلُعُ الرَّايَاتُ السُّودُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ ، فَيَقْتُلُونَكُمْ قَتْلاً لَمْ يُقْتَلْهُ قَوْمٌ ثُمَّ ذَكَرَ شَيْئًا لاَ أَحْفَظُهُ فَقَالَ ، فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَبَايِعُوهُ وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الثَّلْجِ﴾ (١).

ژباړه:

د ستاسو د كعبې د خزانې په سر به درې نفره په خپل مينځ كې جنګ وكړي. په دغو دريو كې به هر يو د كوم خليفه ځوی وي، مګر دا خزانه به يوه ته هم په لاس ور نشي، بيا به له مشرق څخه تور بيرغونه را ښكاره شي، هغه به تاسو په داسې طريقې قتل كړي د كوم به چې د مخه هيڅ مثال نه وي، ثوبان ويلي دي: بيا نبي كريم ﷺ بله كومه خبره وكړه چې ما ته په ياد نه ده، بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چې تاسو دغه مهدي ووينئ نو به له هغه سره بيعت وكړی.

د حديث تشريح

(كلهم ابن خليفة) يعني هغه درې نفره كوم به چې جنګ كوي او له هر يوه سره به خپل همكاران او ملګري هم وي، په هغوی كې به د هر يوه پلار بادشاه وي او هغه به د خپل پلار په خير د حكومت تر لاسه كولو خواهشمند وي، د (كنزكم) په باره كې ويل شوي چې له دې څخه مراد د كعبې خزانې دي كومې چې د سرو او خزانو په شكل كې دي او بيان كيږي چې هغه د كعبې لاندې ښخې شوې دي، يو قول دا هم ده چې له هغه څخه مراد حكومت او دارالخلافت دی، دا هم ويل شوي چې له هغه څخه مراد د فرات

---

(١) سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ٤٠٨٤. وقال ابن كثير (في النهاية. ص: ٣٢) تفرد به ابن ماجه وهذا اسناد قوى صحيح. قال الصبوي (في زوائد: ١٤٤٢) هذا اسناد صحيح. رجاله ثقات. والمستدرك للحاكم: ٤ / ٤٦٣. وقال صحيح على شرط الشيخين وضعف الحديث آخرون كاحمد والذهبي في الميزان وحكم عليه ابن الجوزي بالوضع.

سیند خزانې دي، یعنې د سرو هغه غر کوم به چې د فرات په سیند کې ظاهر شي [۱].

یوه پوښتنه او د هغې ځواب

د دې دوو خبرو په مینځ کې تطبیق څنګه کیږي چې مهدي به په مکه کې ظاهر شي او ور سره دا هم ویل کیږي چې تور بیرغونه به د مشرق (خراسان) له لوري راشي؟ په دې کې څه حکمت دی چې د مهدي بیرغ به تور رنګ لري؟

ځواب: علامه ابن کثیر رحمه الله فرمایلي:

د مهدي د تایید لپاره به له مشرق څخه یو شمیر خلک راشي کوم به چې د هغه مرستندوی وي، د هغه سلطنت به قایم کړي او د هغه لاس به مضبوط کړي، د هغوی د بیرغونو رنګ به تور وي، ځکه چې په دغه رنګ کې رعب او وقار وي او د رسول الله ﷺ بیرغ به هم د جنګ په میدان کې تور وو کوم ته به چې (عقاب) ویل کیده [۲].

حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿یخرج في آخر امتي المهدي یسقیه الله الغیث وتخرج الارض نباتها، ویعطی المال صحاحا، وتکثر الماشیة وتعظم الامة، یعیش سبعا او ثمانیة﴾ [۳].

ژباړه:

زما د امت په آخره زمانه کې به مهدي ظهور وکړي، الله تعالی به د هغه په زمانه کې ښه بارانونه ووروي. زمکه به خپل ښه پیدا وار ورکوي، هغه به په خلکو کې مال د برابرۍ په بنیاد تقسیموي. میږې به ډیرې شي او اسلامي امت به لوی امت شي. هغه به اوه یا اته کاله ژوندی وي.

او په یوه بل روایت کې دي

[۱] د دې ذکر د علامت صغری په علامه نمبر: ۹۲ کې تیر شو.

[۲] النهایة في الفتن والملاحم. ص: ۲۷.

[۳] المستدرک للحاکم: ۴ ۵۵۸ بسند صحیح.

بیا به د هغه له تلو وروسته په زندګي کې هیڅ خیر او برکت نه وي [۱].

له روایاتو ښکاره کیږي چې د مهدي له وفات وروسته به یو ځل بیا شر، فساد او غمې فتنې سر را پورته کړي.

علامه ابن باز رحمه الله ویلي:

د مهدي د ظهور معامله معروفه او مشهوره ده او د هغې متعلق روایات مستفیض بلکه متواتر دي کوم چې د یوه بل د تایید او تقویت باعث دي. ډیرو اهل علمو د هغوی تواتر ذکر کړی. د هغو روایتونو تواتر معنوي دی، ځکه چې د هغوی د سند طریقې ډیرې دي او په مختلفو اسنادو سره، په مختلف روایتونو سره او له ډیرو صحابه کرامو څخه په متنوع الفاظو سره مروي دي. واقعاً دا روایات په دې خبره دلالت کوي چې د مهدي ظهور په شرعي دلایلو سره ثابت دی او د هغه راتلل حق دي، د هغه نوم به محمد بن عبد الله حسنی علوي وي او هغه به د حضرت حسن بن علي رضی الله عنهما له اولادې څخه وي، په آخره زمانه کې به د دغه امام راتګ د رحمت باعث وي، هغه چې کله راشي نو عدل او انصاف به قایم کړي او د ظلم او ستم دروازه به بنده کړي. الله تعالی به د مهدي په ذریعه دغه امت د عدل، هدایت، توفیق او خلکو ته د راهنمائي په نعمتونو ونازاوي [۲].

د مهدي په باره کې وارد احادیث

د مهدي د ظهور په باره کې ډیر صحیح احادیث موجود دي او هغه احادیث په دوه ډوله دي

اول قسم هغه احادیث په کومو کې چې د مهدي ذکر په پوره ډول موجود دی.

---

(۱) مسند احمد ۳/ ۳۷. وسنده ضعیف.

(۲) دا عبارت د فضیلة الشیخ عبد المحسن البدر حفظه الله له کتاب (الرد علی من کذب بالاحادیث الصحیحة الواردة في المهدي) څخه را نقل شوی

دويم قسم: هغه احاديث دي په کومو کې چې يوائې د مهدي صفات بيان شوي دي.

مونږ دلته له هغو څخه يو شمير احاديث ذکر کوو، دا احاديث په آخره زمانه کې د مهدي ظهور او هغه د قيامت له نښانو څخه د يوې نښانې ثابتولو لپاره کافي دي.

د مهدي په باره کې د ټولو واردو احاديثو شمير (پنځوس) دی له کومو څخه چې يو څه صحيح، څه حسن او باقي نور ضعيف دي، په دې موضوع باندې د صحابه کرامو د اثارو شمير (اته ويشت) دی، علامه سفاريني، نواب صديق حسن خان او حافظ آبري رحمه الله ذکر کړي چې د مهدي په باره کې احاديث د تواتر حد ته رسيدلي، لاندې يو شمير احاديث ذکر کيږي.

(۱) حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿يخرج في آخر امتي المهدي يسقيه الله الغيث وتخرج الارض نباتها، ويعطى المال صحاحا، وتكثر الماشية وتعظم الامة، يعيش سبعا او ثمانية﴾ (١).

ژباړه: زما د امت په آخره زمانه کې به مهدي ظهور وکړي، الله تعالی به د هغه په زمانه کې ښه بارانونه ورروي، زمکه به خپل ښه پيدا وار ورکوي، هغه به په خلکو کې مال د برابري په بنياد تقسيموي، ميګې به ډيرې شي او اسلامي امت به لوی امت شي. هغه به اوه يا اته کاله ژوندی وي.

(۲) له حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه يو بل روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿أبشركم بالمهدي يبعث في أمتي على اختلاف من الناس وزلازل فيملأ الأرض قسطا وعدلا كما ملئت جورا وظلما يرضى عنه ساكن السماء

---

[1] المستدرک للحاکم: ۴ / ۵۵۷. ۵۵۸. وقال: هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي.

وساكن الأرض يقسم المال صحاحا فقال له رجل ما صحاحا قال بالسوية بين الناس قال ويملأ الله قلوب أمة محمد صلى الله عليه و سلم غنى ويسعهم عدله حتى يأمر مناديا فينادي فيقول من له في مال حاجة فما يقوم من الناس الا رجل فيقول ائت السدان يعني الخازن فقل له ان المهدي يأمرك أن تعطيني مالا فيقول له أحث حتى إذا جعله في حجره وأبرزه ندم فيقول كنت أجشع أمة محمد نفسا أو عجز عني ما وسعهم قال فيرده فلا يقبل منه فيقال له انا لا نأخذ شيئا أعطيناه فيكون كذلك سبع سنين أو ثمان سنين أو تسع سنين ثم لا خير في العيش بعده أو قال ثم لا خير في الحياة بعده﴾ ([1]).

ژباړه:

زه تاسو ته د مهدي په راتلو خوشخبري درکوم. د هغه ظهور به په هغه وخت کې وي کله چې په خلکو کې اختلاف ډیر زیات شي او زلزلې ډیرې شي، هغه به زمکه له عدل او انصاف څخه داسې ډکه کړي لکه څنګه چې له دې د مخه له ظلم او زیاتي څخه ډکه شوې وي، په آسمانو کې اوسیدونکي او د زمکې اوسیدونکي به ټول له هغه څخه راضي وي، هغه به په خلکو کې د برابري په بنیاد مال تقسیموي، یوه کس پوښتنه وکړه: (یقسم المال صحاحا) څه معنا؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: د مال په ورکولو کې به له ټولو خلکو سره یو رنګه چلند کوي، بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالی به د امت محمدي زړونه له غناء څخه ډک کړي. نوبت به تر دې ورسیږي چې مهدي به یوه آواز کونکي ته حکم وکړي او هغه به داسې اعلان وکړي: خلکو! هر چا ته که د مال ضرورت وي مونږ یې ورکولو ته تیار یو. مګر د هغه دغه وړاندیز به هیڅوک قبول نکړي، یواځې یو کس به پورته شي،

---

[1] مسند احمد: ۳/ ۳۷. ورجاله ثقات. وانظر مجمع الزوائد: ۷/ ۱۸۰.

مهدي به هغه ته ووايي: خزانچي ته ور شه او ورته ووايه: مهدي تا ته حکم کوي چې ما ته مال راکړه، خزانچي به ورته ووايي: په خپلو دواړو لاسونو چې څومره مال پورته کولای شې پورته يې کړه، کله چې دغه سړی مال په خپله جولۍ کې واچوي نو پښېمان به شي او سوچ به وکړي: افسوس! زه په امت محمدي کې تر ټولو ډېر لالچي انسان يم، کوم شی چې د هغوی لپاره بس کيږي زما په هغه ګزاره ولې نه کيږي، دا سوچ به وکړي او د مال واپس کول به وغواړي ليکن خزانچي به د هغه له اخيستلو انکار وکړي او هغه ته به ووايي: مونږ چې يو ځل چا ته څه ورکړو هغه بيرته واپس نه اخلو، ته دغه مال يوسه، دا صورت حال به تر (۷) (۸) يا (۹) کلونو پورې جاري وي، بيا به مهدي وفات شي او د هغه له تلو وروسته به د خلکو په ژوندګي کې هيڅ خير او برکت باقي پاتې نشي.

د (احث) معنا ده له شمار او حساب پرته په خپلو دواړو لاسونو سره چې څومره مال پورته کولای شې پورته يې کړه.

(۳) حضرت علي بن ابي طالب ﵁ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: ﴿المهدي منا اهل البيت، يصلحه الله في ليلة﴾ ([1]).

ژباړه:

مهدي به له مونږ څخه وي، الله تعالی به هغه په يوه شپه کې اصلاح کړي.

(يصلحه الله في ليلة) غالباً له دې څخه مراد دا ده چې الله تعالی به يې د خلافت لپاره تيار کړي، يعني هغه به د خلافت لايق جوړ کړي، هغه ته به توفيق ورکړي، هغه ته به الهام او راهنمائي ور نصيب کړي او د قيادت او حکمت داسې اوصاف به ورکړي کوم به چې د مخه په ده کې نه وو.

د دې يوه معنا دا هم بيان شوې ده چې الله تعالی به په يوه شپه کې يا د شپې په يوه برخه کې د هغه ټول معاملات سم کړي او د هغه شان به لوړ

---

[1] مسند احمد ۱/ ۸۴. بسند صحيح.

کړي، داسې چې ټول اهل حل وعقد به په یوه شپه کې د هغه په خلافت متفق شي ([1]).

د (یصلحه الله في لیلة) معنا هیڅکله دا نه ده چې هغه به اول گمراه او گنهکار وي او بیا به یو دم په شپه کې الله تعالی هغه ته هدایت نصیب کړي او هغه به د خلکو قیادت شروع کړي، د رسول الله ﷺ د فرمان مطلب هیڅکله دا نه دی، ځکه چې هغه به د خلکو قیادت یواځې د شرعي علم په بنیاد کوي، هغه به د خلکو فیصلې کوي او هغوی ته به فتوه ورکوي او د جنگ په میدان کې به د هغوی قیادت کوي او دا ټول علوم په یوه شپه کې یواځې د الهي وحی په ذریعه جمع کیدلای شي او الهي وحی د انبیاؤ لپاره خاص ده او دا خبره معلومه ده چې مهدي به نبي نه وي.

لهذا د (یصلحه الله في لیلة) معنا دا ده چې الله تعالی به هغه ته شرح صدر ور نصیب کړي، په کومو احادیثو کې چې د مهدي ذکر راغلی له هغوی څخه مقصود هغه په خپله دی، همدا شان به الله تعالی هغه ته د قیادت اعلی صفات ورکړي.

(۴) ام المؤمنین سیده ام سلمه رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿المهدي من عترتي من ولد فاطمة﴾ ([2]).

ژباړه: مهدي به زما له اولاد څخه وي، هغه به د فاطمة الزهرا له نسل څخه وي.

(من عترتي) یعنې زما په اهل بیت کې او زما له اولاد څخه به وي، (من ولد فاطمة) یعنې هغه به د حضرت فاطمې له نسل څخه وي.

(۵) حضرت جابر ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

[1] - دا تشریح ملا علي قاري د مرقاة المفاتیح په (۵ / ۱۸۰) صفحه کې کړې ده.

[2] سنن ابي داؤد، المهدي، حدیث: ۴۲۸۴. بسند صحیح

﴿ینزل عیسی ابن مریم فیقول امیرهم : تعال صل بنا- فیقول: لا، ان بعضکم علی بعض امیر، لیکرم الله هذه الامة﴾ ([1]).

ژباړه:

کله چې حضرت عیسی ابن مریم علیهما السلام له آسمان څخه را ښکته شي نو د مسلمانانو امیر (مهدي) به هغه ته ووایي: تشریف راوړه او د لمانځه امامت وکړه، هغه به معذرت وغواړي او وبه وایي: د دغه امت امامت د دغه امت د خلکو ښایست دی. دا به په دغه امت د الله تعالی فضل او احسان وي.

د دغه حدیث معنا دا ده چې دجال به د مهدي په زمانه کې ظاهر شي، بیا چې کله حضرت عیسی علیه السلام د هغه د قتل لپاره نازل کړل شي نو امام مهدي به د مسلمانانو قاید وي، لکه چې په خپله حضرت عیسی علیه السلام او پاتې ټول مؤمنانو به هم د امام مهدي په امامت کې لمونځ وکړي.

(۶) حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿منا الذي یصلی عیسی ابن مریم خلفه﴾.

ژباړه:

د کوم امام په امامت کې چې حضرت عیسی علیه السلام لمونځ اداء کړي هغه به له مونږ څخه وي ([2]).

دلته مقصود له کلام څخه دا ده چې امام مهدي به لمونځ ورکړي او په مقتدیانو کې به حضرت عیسی علیه السلام هم شامل وي.

(۷) حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

---

[1] مسند احمد: ۳/ ۳۴۵. وصحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۱۵۲.

[2] رواه ابو نعیم في کتاب المهدي. وذکره المناوي في فیض القدیر: ۶/ ۴۸۲.

﴿لو لم يبق من الدنيا إلا يوم لطول الله ذلك اليوم حتى يبعث فيه رجلا مني " أو " من أهل بيتي يواطيء اسمه اسمي واسم أبيه اسم أبي﴾ ([١]).

ژباړه:

که چیرته د دنیا د بقا یوه ورځ هم پاتې شي نو الله تعالی به دغه ورځ لویه کړي تر دې چې په هغې کې به الله تعالی یو داسې سړی مبعوث کړي کوم به چې له مونږ څخه وي، یا یې داسې وفرمایل کوم به چې زمونږ له اهل بیت څخه وي، د هغه نام به زما له نام سره او د هغه د والد نام به زما د والد له نام سره یو شانته وي.

د هغه نام به (محمد بن عبد الله) وي، په دغه حدیث کې د شیعه ګانو په موقف باندې ښکاره رد دی، ځکه چې د هغوی دعوه دا ده چې د مهدي نوم به محمد بن حسن عسکري وي. د (یبعث) معنا دا ده چې الله تعالی به هغه ظاهر کړي.

د دغه حدیث د یوه بل راوي (فطر) په حدیث کې دا الفاظ زیات دي:

﴿لو لم يبق من الدهر إلا يوم لبعث الله رجلا من أهل بيتي يملؤها عدلا كما ملئت جورا﴾ ([٢]).

ژباړه:

که چیرته د دنیا یوه ورځ باقي پاتې شي نو په دغه ورځ کې به الله تعالی زما له اهل بیت څخه یو کس ظاهر کړي کوم به چې زمکه داسې له عدل او انصاف څخه ډکه کړي لکه څنګه چې د مخه له ظلم او ستم څخه ډکه کړی شوې وي.

او د یوه بل روایت الفاظ داسې دي

---

[١] سنن ابي داؤد. المهدي، حديث: ٢٢٨٢. وهو صحيح.

[٢] سنن ابي داؤد. المهدي، حديث ٢٢٨٣.

﴿لا تذهب أو لاتنقضي الدنيا حتى يملك العرب رجل من أهل بيتي يواطیء اسمه اسمي﴾ ([1]).

ژباړه:

دنیا تر هغه وخته نه ختمیږي تر څو چې زما له اهل بیت څخه یو کس د عربو واکمن جوړ نشي. د هغه نام به زما د نام په څیر وي.

د (حتی یملک العرب) معنا دا ده چې هغه به د عامو مسلمانانو بادشاه وي، خواه هغه عرب وي که عجم.

دلته خاص د عربو ذکر له دې امله شوی چې، د هغه د حکومت اغاز به له عربو څخه وي، هغه به په مکه او مدینه کې ښکاره کیږي، هلته به عرب د هغه اتباع کوي او بیا به نور ټول مسلمانان د هغه اتباع وکړي.

په یوه اعتبار سره هر هغه چا ته عرب ویل کیږي کوم چې د قرآن کریم تلاوت کوي او په عربي ژبه پوهیږي ([2]).

(۸) حضرت زر بن عبد الله رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لاتقوم الساعة حتى يلي رجل من اهل بيتي يواطئ اسمه اسمي﴾ ([3]).

ژباړه: قیامت به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې زما له اهل بیت څخه یو کس والي جوړ نشي، کوم به چې زما هم نامی وي.

(۹) حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي

﴿لو لم يبق من الدهر إلا يوم لبعث الله رجلا من أهل بيتي يملؤها عدلا كما ملئت جورا﴾ ([4]).

---

[1] سنن ابي داؤد. الفتن. حديث: ۲۲۸۲. وهو حديث حسن صحيح. وانظر: تحفة الاحوذي: ۶/ ۴۸۲.

[2] مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح: ۵/ ۱۷۹.

[3] مسند احمد: ۱/ ۳۷۶. بسند صحيح.

[4] سنن ابي داؤد. المهدي. حديث: ۲۲۸۳. وسنده قوي.

ژباړه: که چیرته د دنیا څخه باقي پاته نشي مګر یوه ورځ نو په دغه ورځ کې به الله تعالی زما له اهل بیت څخه یو کس ظاهر کړي کوم به چې ځمکه داسې له عدل او انصاف څخه ډکه کړي لکه څنګه چې د مخه له ظلم او ستم څخه ډکه کړی شوې وي.

او د یوه بل روایت الفاظ داسې دي:

﴿لو لم يبق من الدنيا الا يوم لبعث الله رجلا منا يملوها عدلا كما ملئت جوراً﴾ ([1]).

ژباړه:

که چیرته د دنیا یوه ورځ هم باقي پاتې شي نو په هغې کې به الله تعالی له مونږ څخه یو شخص ظاهر کړي کوم به چې ځمکه داسې له عدل څخه ډکه کړي لکه څنګه چې د مخه له ظلم او ستم څخه ډکه کړی شوې وي.

دا ټول حدیثونه د محمد بن عبد الله مهدي په باره کې ډیر واضح دلیلونه دي، په دغو احادیثو کې د هغه د نوم او صفاتو ذکر هم موجود دی.

هغه حدیثونه کوم چې د مهدي په باره کې احتمالي دي

(۱۰) حضرت جابر بن عبد الله ﵁ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿يوشك أهل العراق ألا يجيء إليهم قفيز ولا درهم قلنا من أين ذاك ؟ قال من قبل العجم يمنعون ذاك﴾ ([2]).

ژباړه: نږدې ده چې د عراق خلکو ته به د غلې او نقدو راتلل بند شي، مونږ پوښتنه وکړه: دا به د چا لخوا وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا پابندي به د عجمو له لوري وي، هغه به دوی له دې څخه محروم کړي.

(قفیز) نن ورځ په عربو کې کیلو او ټن دی، (درهم) د سپینو هغه سکه ده کومه چې په مخکنیو زمانو کې رواج ود. (من قبل العجم) د عجم لفظ

---

[1] - مسند احمد: ۱/ ۹۹.

[2] - صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ۲۹۱۳.

اطلاق په هغو خلکو باندې کیږي کوم چې عرب نه وي، خواه هغوی عربي ژبه ویلای شي او که نه.

بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل:

﴿یوشك أهل الشام أن لا یجی إلیهم دینار ولا مدي قلنا من أین ذاك ؟ قال من قبل الروم﴾ ([1]).

ژباړه: نږدې ده چې د شام خلکو ته به د غلې او دینارو راتلل بند شي، مونږ پوښتنه وکړه: دا به د چا له لوري وي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا به د رومیانو له لوري وي.

(دینار) د سرو یو سکه ده، بیا له یو څه وخت خاموشي څخه وروسته نبي کریم ﷺ وفرمایل:

﴿یکون في آخر أمتي خلیفة یحثي المال حثیا لا یعده عددا﴾ ([2]).

ژباړه:

زما د امت په آخره زمانه کې به یو خلیفه داسې وي کوم به چې په ډکو ډکو جولیو له شمار (حساب) پرته مال ورکوي.

د حدیث راوي جریر ویلي: ما ابو نظره او ابو العلاء ته وویل: د ستاسو څه خیال دی، آیا هغه خلیفه عمر بن عبد العزیز نه دی؟ هغوی وویل: نه.

د تیرو حدیثونو په رڼا کې دغه خلیفه مهدي دی، چونکه د هغه په زمانه کې به د غنیمت مالونه او فتوحات ډیر وي، هغه به ډیر زیات سخي وي او خلکو ته به د هر رنګه نیکیو په رسولو کې هیڅ سرفه نکوي.

(۱۱) ام المؤمنین حضرت عائشة رضی الله عنها بیان کوي چې یوه شپه نبي کریم ﷺ ویده وو چې په خوب کې د هغه بدن یو څه حرکت وکړ، ما عرض

---

[1] صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ۲۹۱۳.

[2] - صحیح مسلم. الفتن. حدیث ۲۹۱۳.

وکړ: د الله رسوله ﷺ ! تا خو نن په خوب کې داسې څه وکړل چې پخوا دې نه وو کړي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ما يوه عجيبه معامله وليدله: زما د امت يو څه خلک د کعبې په لور روان وو، هغوی د قريشو د يوه کس وژل غوښتل کوم چې په کعبه کې پناه اخيستې وه، کله چې هغوی په يوه خلاصه صحراء کې وو نو هغوی ټول په ځمکه کې د ننه کړی شول، يعنې ځمکه وچاودله او هغوی يې خپلې خيټې ته ور دننه کړل، ما عرض وکړ: د الله رسوله ! په لاره کې خو هر رنګه خلک جمع کيږي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ﴿نعم فيهم المستبصر والمجبور وابن السبيل يهلكون مهلكا واحدا ويصدرون مصادر شتى يبعثهم الله على نياتهم﴾ (۱).

ژباړه: هو ! په هغوی کې به د سفر په مقصد ښه پوهيدونکي، مجبور کړی شوي او مسافر ټول وي، مګر دا ټول خلک به په يوه وار هلاک کړی شي، البته د قيامت په ورځ به هر يو الله تعالی د هغه د نيت مطابق را پورته کړي.

(**المستبصر**) داسې سړی کوم چې د خپل سفر مقصد په ښه ډول پيژني،

(**المجبور**) داسې سړی کوم چې له خپلې رضا پرته مجبور کړی شوی وي.

مقصود له دې کلام څخه دا ده چې د دغه لښکر ټول افراد به په يوه وخت هلاک کړی شي او دا ټول به يو ځای په ځمکه کې ننه باسل شي، هو ! د قيامت په ورځ به د الله تعالی په نزد د هغوی ځايونه او احوال مختلف وي، په هغوی کې به ځينې خلک د خپلو اعمالو او نيتونو مطابق جنت ته داخل کړی شي او څه خلک به جهنم ته وليږل شي.

(۱۲) حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

---

۱ - صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۸۴.

﴿يبايع لرجل بين الركن والمقام ولن يستحل البيت الا أهله فإذا استحلوه فلا تسأل عن هلكة العرب ثم تجيء الحبشة فيخربونه خرابا لا يعمر بعده أبدا هم الذين يستخرجون كنزه﴾ ([1]).

ژباړه : يوه سړي سره به د حجر اسود او مقام ابراهيم تر مينځ بيعت کيږي، د دغه کور حرمت به د هغه ځای اوسيدونکي پايمال کړي او کله چې د دغه کور حرمت پايمال کړل شي نو بيا د عربو د هلاکت او بربادي پوښتنه مه کوی، بيا به حبشي راشي کوم به چې کعبه تباه او برباده کړي او د هغه له تباهي وروسته به الله تعالی دغه کور کله هم اباد نکړي، داسې خلک به وي کوم به چې د هغې خزانې هم را وباسي.

(۱۳) حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿كيف انتم اذا نزل ابن مريم فيكم وامامكم منكم﴾ ([2]).

ژباړه : تاسو به په هغه وخت کې په څه حال کې ياست کله چې په تاسو کې ابن مريم نازل کړل شي او دستاسو امام له ستاسو څخه وي.

دلته له امام څخه مراد مهدي محمد بن عبد الله دی او په دې سلسله کې واضح دليل د حضرت جابر ﷺ هغه حديث دی کوم چې په علامه نمبر : ۵ کې بيان کړی شو.

(۱۴) حضرت جابر بن عبد الله ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿لا تزال طائفة من أمتي يقاتلون على الحق ظاهرين إلى يوم القيامة قال فينزل عيسى بن مريم عليه السلام فيقول أميرهم تعال صل بنا فيقول لا إن بعضكم على بعض أمير ليكرم الله هذه الأمة﴾ ([3]).

---

[1] - مسند احمد :۲/ ۳۱۲، بسند صحيح، د بيت الله د حلالولو بيان او د کعبې د ورانولو واقعه مخکې بيان شوه، وګورئ علامه نمبر: ۱۳۲.

[2] -صحيح البخاري، احاديث الانبياء، حديث: ۳۴۴۹، وصحيح مسلم، الايمان، حديث: ۱۵۵

[3] مسند احمد : ۳/ ۳۴۵، وصحيح مسلم، الايمان، حديث: ۱۵۸.

ژباړه: د قیامت تر قایمیدو پورې به زما په امت کې یوه ډله د حق لپاره جنګیږي او په دښمن به غالبه شي، بیا به حضرت عیسی ﷺ را نازل شي نو د مسلمانانو امیر (مهدي) به ووایي: تشریف راوړه او مونږ ته د لمانځه امامت وکړه، عیسی ﷺ به ووایي: نه! په تاسو کې ځینې د ځینو لپاره امراء دي، الله تعالی دغه امت ته دا عزت ورکړی (١).

فایده: د حضرت عیسی ﷺ د امام مهدي شا ته د لمونځ کولو مطلب هیڅ کله دا نه دی چې مهدي به له حضرت عیسی ﷺ څخه بهتر وي، نبي کریم ﷺ هم د ناجوړتیا په آخیرو شپو کې په حضرت ابو بکر صدیق ﷺ پسې تر شا لمونځ کړی او د حضرت عبد الرحمن بن عوف ﷺ په امامت کې هم هغه ﷺ یو ځلې لمونځ اداء کړی (٢) عیسی ﷺ به له دې امله په مهدي پسې تر شا لمونځ وکړي چې ټولو خلکو ته دا ښکاره کړي چې هغه د حضرت محمد ﷺ په تابعداري کې تشریف راوړی او هغه د شریعت مطابق فیصلې کوي، وروسته به مهدي په حضرت عیسی ﷺ پسې اقتداء وکړي او د هغه په لښکر کې به د یوه سپاهي په حیث خدمت انجاموي.

(١٥) حضرت جابر بن سمره ﷺ بیان کوي: زه له خپل والد (پلار) سره یو ځای د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم نو ما له رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې فرمایل یې:

﴿إن هذا الأمر لا ينقضي حتى يمضي فيهم اثنا عشر خليفة) قال ثم تكلم بكلام خفي علي قال فقلت لأبي ما قال؟ قال كلهم من قريش﴾ (٣).

ژباړه: دا کار تر هغه وخته پورې نه ختمیږي تر څو چې په هغوی کې دولس خلیفه ګان تیر نشي، جابر ﷺ وایي: بیا نبي کریم ﷺ څه وویل خو ما وا نه

---

١ - الله تعالی امت محمدي ته دا عزت ورکړی چې حضرت عیسی ﷺ به د دغه امت په یوه فرد پسې تر شا لمونځ اداء کړي.

٢ - رواه الشافعي في مسنده، وصحيح مسلم. الطهارة. حديث: ٢٧٤.

٣ - صحيح مسلم. الامارة. حديث: ١٨٢١.

آوریدل، ما له خپل پلار څخه وپوښتل: نبي کریم ﷺ څه وویل؟ هغه راته وویل: نبي کریم ﷺ وویل: ټول خلیفه ګان به له قریشو څخه وي.

علامه ابن کثیر رحمه الله د دغه حدیث په تشریح کې فرمایي:

دا حدیث د دې خبرې دلیل دی چې په امت کې به دولس عادل خلیفه ګان ضرور وي، مګر خیال کوی چې له دې څخه د شیعه ګانو دولس خلیفه ګان هیڅ کله مراد نه دي، له دې امله چې په هغوی کې به اکثرو ته په حکومت کې د راتلو موقع په لاس ور نشي، دا ټول خلیفه ګان به له قریشو وي، واکمن به وي او عادل به وي.

(۱۶) ام المؤمنین حفصه رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لیؤمن هذا البیت جیش یغزونه حتی إذا کانوا ببیداء من الأرض یخسف بأوسطهم وینادي أولهم آخرهم ثم یخسف بهم فلا یبقی إلا الشرید الذي یخبر عنهم﴾ (1).

ژباړه: یو لښکر به د جنګ له ارادې سره دغه کور ته قصد وکړي حتی چې کله هغه په یوه خلاصه صحراء کې وي نو د هغوی د مینځ خلک به په زمکه کې ننه باسل شي، د هغوی د سر خلک به آخیرنیو خلکو ته نعرې وهي، بیا به دوی ټول یو ځای په زمکه کې ننه باسل شي تر دې چې یو کس به هم بچ پاتې نشي، پرته له هغه تښتیدونکي کوم به چې د دوی په باره کې خلک را خبر کړي.

(الشرید) یعني په دغه لښکر کې به یواځې یو سړی په زمکه کې له ننوتو بچ پاتې شي او هغه به نور خلک د دغه لښکر په باره کې خبر کړي.

(۱۷) ام المؤمنین حضرت ام سلمه رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: یو خلیفه به د مرګ په وخت کې په امت کې اختلاف پیدا

---

1 صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۸۸۳.

کړي، په دغه موقع به يو سړی د فتنې له وېرې له مدينې څخه وتښتي او مکې مکرمې ته به ورسيږي، د مکې مکرمې يو شمېر خلک به راشي او دې کس ته به له مکې څخه د وتو خبر وکړي مګر هغه به امارت ناپسند کړي، خلک به د حجر اسود او مقام ابراهيم تر مېنځ له هغه سره بيعت وکړي، د ده په خلاف به د جنګ لپاره يو لښکر د شام له لوري راشي، دغه لښکر چې کله د مدينې منورې او مکې مکرمې په مېنځ کې په يوه صحراء کې وي نو هغه به په زمکه کې ننه باسل شي، کله چې خلک د دغه لښکر دا حشر ووينې نو د شام اولياء کرام، عبادت کوونکي خلک او د عراق منتخب او نيک خلک به د هغه په خدمت کې حاضر شي او د حجر اسود او مقام ابراهيم تر مېنځ به له هغه سره بيعت کوي، بيا به له قريشو څخه يو سړی کوم به چې د بنو کلب خواخوږی وي د مهدي په خلاف را پورته شي، هغه به د مهدي د حاميانو لور ته يو لښکر ولېږي مګر د مهدي ملګري به په هغوی برلاسي شي، دا به د بنو کلب لښکر وي، کوم کس چې د بنو کلب د غنيمت مالونو د تقسيم په وخت کې حاضر نه وي هغه به په تاوان کې وي، هغه مال به مهدي تقسيموي او له خلکو سره به د خپل نبي ﷺ د سنتو مطابق معامله کوي، په دغه وخت کې به اسلام په زمکه کې مضبوطوالی او استقرار تر لاسه کړي، د هغه حکومت به اوه کاله وي، بيا به هغه وفات شي او مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ اداء کړي او د يوه روايت مطابق هغه به تر نهو کلونو پورې وي [۱].

د مهدي په باره کې احاديث ثابت دي، په هغوی کې هيڅ رنګه شک او شبه نشته، د دغو حديثونو د روايت کوونکو صحابهؤ شمېر ډېرش دی، ائمه حديث او مصنفينو په خپلو سننو او مسانيدو کې ذکر کړي دي،

[۱] سنن ابي داؤد، الملاحم، حديث: ۴۲۸۲، بسند لاباس به. وتدعمه الكثير من الاحاديث الصحيحة الاخرى.

علماؤ په دغو حدیثونو سره استدلال کړی حتی چې د اهل سنت په عقایدو کې د مهدي ظهور یو متفق علیه امر دی، د ائمه حدیث یوې ډلې د مهدي متعلق احادیثو په باره کې ذکر کړي دي چې دا متواتر دي. لکه چې سفاریني په (لوامع الانوار البهیة ۲: ۸۰) کې، امام شوکاني د (الاذاعة لاشراط الساعة) په صفحه (۱۱۴) کې او نواب صدیق حسن خان د (الازاعة په ۱۱۵) صفحه کې ذکر کړي.

د مهدي په دعوه کوونکو باندې یو نظر

کله چې مونږ په تاریخ باندې غور او فکر کوو، د مختلفو دورو مطالعه کوو او د مسلمانانو په مینځ کې په اختلاف او د واکمنو په ظلم او ستم باندې نظر غورځوو نو مونږ وینو چې په ماضي کې ډیرو خلکو د مهدي دعوه کړې او د یو شمیر خلکو لخوا د دوی دغه دعوه تصدیق شوې هم ده، له هغوی ځینې یو شمیر یې په لاندې ډول دي.

(۱) د روافضو شیعه ګانو دا عقیده ده چې دوی مهدي منتظربن دي، د دوی په نزد د هغه نوم محمد بن حسن عسکري دی، شیعه ګان وایي چې هغه د حسن بن علي رضی الله عنهما له اولادې څخه نه دی، بلکه د حسین بن علي رضی الله عنهما له اولادې څخه دی.

د دوی دا عقیده ده چې دغه امام یو زر کاله د مخه په سنه دوه سوه شپیتم (۲۶۰) هجري کې د سامراء په غار کې ننوتلی، کله چې دی دغه غار ته ننوت نو د هغه عمر پنځه کاله وو.

✿ هغه تر دا مهاله په دغه غار کې ژوندی دی، هغه ته مرګ نه راځي او هغه به په آخره زمانه کې له دغه غار څخه د باندې را ووځي.

✿ دغه امام په هر ځای کې حاضر او ناظر دی، هغه د خلکو له حالاتو څخه خبر دار دی، مګر د خلکو له سترګو څخه غائب دی او هغه نهویني

✿ یاد لرئ: د دوی دغه عقاید سرا سر بې وقوفي او جهالت دی. په هیڅ دلیل، برهان، عقل او استدلال سره د هغه تایید نشي کیدای. بیا دا عقیده

د انسانانو په باره کې د الله تعالی له سنت څخه هم خلاف ده. الله تعالی انبیاء او رسولان کوم چې د الله تعالی په مخلوق کې افضل ترین انسانان دي، هغه الله تعالی وفات کړي او د شیعه ګانو مهدي له زرو کلونو څخه زیاته موده ژوندی پاتې کیدل دا څنګه ممکن دي؟

بیا د سوچ خبره دا ده که چیرته هغه ژوندی وي نو بیا دومره اوږده موده د هغه د غائبیدو او پټیدو ضرورت څه دی؟ هغه د باندې ولې نه را ووځي او د خلکو په مینځ کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه ولې نه انجاموي؟ سره له دې چې نن ورځ امت هغه ته ډیر اشد ضرورت لري.

امام ابن کثیر رحمه الله په احادیثو کې د وارد مهدي محمد بن عبد الله په باره کې فرمایلي:

د اهل سنت مهدي به د مشرق له لوري را ښکاره شي نه د سامراء له غاره لکه څنګه چې د جاهلو شیعه ګانو عقیده ده چې هغه دا مهال هم په هغه غار کې موجد دی، دوی په آخره زمانه کې د هغه خروج ته انتظار کوي، دا محض حماقت او د شیطان له لوري سخته ګمراهي او دوکه ده، د دغې عقیدې هیڅ دلیل نشته، نه له قرآن او سنت څخه، نه له عقل سلیم او نه له استحسان څخه [1].

(۲) عبد الله بن سبا دعوه کړې چې علي بن ابي طالب رضی الله عنه مهدي منتظر دی او د ده ګمان دا ده چې هغه به دنیا ته واپس بیرته راځي.

(۳) مختار بن عبید ثقفي دعوه کړې چې محمد بن الحنفیه کوم چې په سنه (۸۱) هجري کې وفات شوی، هغه مهدي منتظر دی. د محمد بن الحنفیه نوم محمد بن علي بن ابي طالب دی، هغه ته ابن الحنفیه له دې امله ویل کیږي چې د هغه د مور خوله بنت جعفر تعلق له بنو حنفیه قبیلې سره دی.

---

[1] النهایة في الفتن والملاحم. ص: ۱۷.

(۴) د فرقه کسانیه خلک کوم چې د حضرت علي ﷺ ازاد کړده غلام کیسان پیروان دي او دوی هم د شیعه ګانو یوه ډله ده، د هغوی عقیده ده چې د محمد بن الحنفیه ټول علوم زده دي، خلاصه دا ده چې دین د یوه شخص د اطاعت نوم دی، دوی په ارکان شرعیه ؤ کې تاویل کوي او وایي له هغوی څخه مراد رجال دي نو ځکه هغوی ارکان شرعیه معطل کړي دي، د دې فرقې (ډلې) عقیده دا ده چې عبد الله بن معاویه بن عبد الله بن جعفر بن ابي طالب هاشمي قریشي مهدي دی.

(۵) محمد بن عبد الله بن حسن بن علي بن ابي طالب د کوم لقب چې نفس زکیه دی او په سنه (۱۴۵) هجرۍ کې وفات شوی، دا یو ډیر روژه لرونکی، لمونځ کوونکی او عبادت کوونکي شخص دی، د ده په زمانه کې یو شمیر خلک به په فتنو کې مبتلا شي او ګمان به کوي چې دا سړی امام مهدي دی، هغوی به تحریک شروع کړي او یو شمیر خلک به د هغوی پیروي وکړي، هغوی به د حالاتو د ښه والي لپاره کوښښ کوي، د دوی په دور کې به د عباسي لښکر چې په لسو زرو جنګیالیو به مشتمل وي له هغوی سره به جنګ وکړي او دا تحریک به ختم کړي، نفس زکیه به د عباسي خلیفه خلاف خروج وکړي، ځکه چې د هغوی په زمانه کې به ظلم او استبداد ډیر خپور شوی وي.

(۶) د مهدیت په دعوه دارانو کې د یوه نوم عبید الله بن میمون القداح هم دی، دی په سنه (۳۲۵) هجري کې وفات شوی، د ده تره یهودي دی، عبید الله د فرقې قرامطه بنیاد ګر دی کوم چې د مسلمانانو قتل عام کړی او په سنه (۳۱۷) هجري کې یې حجر اسود واړاوه، دا خلک په کفر او الحاد کې له یهودو او نصاری ؤ هم دوه قدمه وړاندې دي.

د هغه اولاد ته شهرت او اقتدار په لاس ورغی، هغوی په مصر، حجاز او شام باندې کنټرول درلود او همدلته یې حکومت جوړ کړی وو. هغه غلط بیان کاوه او د خپل ځان نسبت یې اهل بیت ته کاوه او دعوه یې کوله چې

دی د فاطمة الزهره له نسل څخه دی. همدا وجه ده چې فاطمي ورته ویل کیږي، هغه د خپل حکومت په زمانه کې د امام شافعي رحمه الله د مسلک تول قاضیان غاړې ته کړل او په هر ځای کې یې قبرونه او مزارونه رواج کړل او په امت یې بې شماره مصیبتونه را نازل کړل.

قرامطیان په ظاهره د مسلماني دعوه کوي لیکن په حقیقت کې هغوی ملحدین دي، دا خلک له ټولو مذاهبو وتلي دي، د هغوی مذهب د اور پرستو (مجوسیانو) او د ستورو پرستو (صابیانو) له مذهبو مرکب دی.

امام ابن کثیر رحمه الله فرمايي: د فاطمیانو د حکومت موده له (۲۸۰) کلونو زیاته موده وه، عبید الله القداح د مهدي والي دعوه کړې وه او د مهدیه نامي ښار ډېره یې اینبې ده [1].

(۷) کومو خلکو چې د مهدي والي دعوه کړې په هغوی کې محمد بن عبد الله بربري هم دی کوم چې په ابن تومروت سره مشهور دی، دا کس په سنه (۵۱۴) هجري کې ظاهر شوی او هغه دعوه کړې چې دی د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه له نسل څخه دی، هغه خپل نسب له حسن بن علي رضي الله عنه سره تړلی وو.

دغه سړي د ظلم او استبداد په ذریعه حکومت هم ترلاسه کړی، دی ډېر حیله جوړونکی او دوکه باز انسان دی کوم به چې خلکو ته د حیلو په جوړولو سره دوکه ورکوله او هغوی ته به یې د دې اظهار کاوه چې دی د ډېرو کراماتو څښتن دی. د هغه یوه حیله بازي دا هم ده چې هغه یو ځل یو شمیر خلک قبرونو ته ور واچول او بیا یې یو شمیر نور خلک له ځان سره کړل او همدې قبرونو ته یې راوستل او غږ یې کړ: اې د قبرونو خاوندانو! زما د خبرې ځواب راکړئ. هغوی په ځواب کې وویل: ته مهدي یې، ته له ګناهونو پاک یې او د ستا فلانکی او فلانکی خوی ده، بیا به ده ته دا

[1] تاریخ الاسلام للذهبي، حوادث سنة: ۳۲۲، ص: ۲۴.

اندېښنه پيدا شوه هسې نه چې د ده دغه چل رسوا نشي نو به يې په قبرونو په اچول شويو سړيو باندې قبرونه ور وغورځول او هغه به يې ټول ووژل.
(۸) د مهدي په دعوه دارانو کې يو سړی محمد احمد بن عبد الله سوډاني متوفي سنه (۱۳۰۲) هجري موافق (۱۸۸۵) عيسوي هم دی، دا يو صوفي دی کوم چې په سوډان باندې غلبه تر لاسه کړه، هغه په زهد او عبادت کې مشهور وو او هغه د اته ديرش (۳۸) کلونو په عمر کې د مهدي کيدو دعوه وکړه، د قبايلو سرداران او لوی خلک د هغه لور ته مايل شول، د ده عقيده وه هر څوک چې د ده له مهديت څخه انکار وکړي نو هغوی له الله او رسول سره د کفر ارتکاب وکړ، سره له دې چې د انګريزي عيسايانو په خلاف په جنګونو کې د هغه يو شمير کارنامې شته دي، مګر واقعي امر دا دی چې دی په احاديثو کې مذکور مهدي موعود نه دی، بلکه دی هم د مهديت د نورو دعوه کوونکو په څير يو دروغژن مدعي دی.
(۹) د مهديت په دعوه دارانو کې يو سړی محمد بن عبد الله قحطاني هم دی، دا سړی د سعودي هيواد په دارالخلافت رياض کې ظاهر شوی، بيان کيږي چې هغه يوه ورځ په خوب کې وليدل چې دی مهدي دی، يو شمير خلکو له هغه سره بيعت وکړ او د هغه پيروان جوړ شول، دې خلکو په سنه (۱۴۰۰) هجري موافق (۱۹۸) عيسوي کې په مسجد حرام کې د هغه د مهدي کيدو اعلان يې وکړ او په مسجد کې بند شول. دا واقعه د فتنه حرام په نامه مشهوره ده کومه چې د هغه په قتل سره پای ته ورسيده.

د مهدي له دعوه دارانو سره د معاملې قواعد او ضوابط

کله چې مونږ د مهدي د دعوه دارانو ترديد کوو نو له دې څخه زمونږ مقصد هيڅ کله دا نه دی چې مونږ د مهدي په باره کې له احاديثو څخه انکار کوو. اما د مهدي په باره کې د احاديثو تصديقول او د نبي کريم ﷺ د فرمان تسليمول يو شی دی او د کوم سړي په باره کې دا فيصله کول چې هغه مهدي دی او که نه دا بل شی دی، د دې دواړو په مابين کې فرق کول پکار دي، د الله

تعالی رسول ﷺ د مهدي معامله په هوا کې نه ده پرېښې، بلکه نبي کريم ﷺ د هغې لپاره ډېرې ښکاره نښانې او قواعد بيان کړي د کومو په رڼا کې چې مونږ پرته له شک او شبهې د اصلي مهدي پېژندل کولای شو، له هغوی ځينې يو شمير په لاندې ډول دي.

(۱) مهدي به خلک خپل لور ته نه دعوتوي، نه به د خپل بيعت لپاره خلک مجبوروي. بلکه خلک به له هغه سره بيعت کوي او دی به يې نه خوښوي.

(۲) د مهدي نوم به د نبي کريم ﷺ له نوم سره يو شانته وي، يعنې نوم به يې محمد بن عبد الله وي.

(۳) د هغه د نسب سلسله به سيدنا حسن بن علي رضی الله عنهما ته رسيږي.

(۴) په حديث کې د موجودو جسماني صفتونو موجوديت هم په هغه کې ضروري دي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي: هغه به د لغړې تندي او اوږدې پوزې واله وي.

(۵) هغه چې په کومو حالاتو کې ظاهره کيږي هغه به په دې ډول وي:

- د يوه خليفه له وفات وروسته به اختلاف را منځته شي (۱).
- زمکه به په دغه وخت کې له ظلم او ستم څخه ډکه وي.
- د دريو خليفه ګانو زامن به په خپل مينځ کې جنګ سره وکړي.
- مهدي به يو نيک او متقي شخص وي. هغه به له علم شريعت، حکمت او دانش څخه خبر دار وي.
- د هغه ظهور به په مکه مکرمه کې وي او د حجر اسود او مقام ابراهيم تر مينځ به له هغه سره بيعت کيږي، دلته يوه پوښتنه پيدا کيږي.

پوښتنه: هغه کوم حالات او اسباب دي د کومو په سبب سره چې تاسو او يا نورو ته د امام مهدي خيال پيدا کيږي؟

---

۱ سره له دې دا خبره چې په حديث کې ذکر شوې د هغې په سند کې خبره شته.

ځواب: که چیرته مونږ د هغو خلکو په حالاتو او واقعاتو غور او فکر وکړو کومو چې د مهدیت دعوه کړې وه نو معلومیږي چې:

۞ د مهدي کیدو دعوه کوونکې ځینې خلک داسې دي کومو چې په خلکو غلبه او حکومت تر لاسه کړی او بیا یې له دروغو او بهتان څخه کار اخستی او د مهدي کیدو دعوه یې کړې، په داسې خلکو د مهدي کیدو هیڅ نښانې صادقې نه دي، په داسې دعوه کوونکو کې عبید الله القداح او ابن تومرت وغیره شامل دي.

۞ د مهدیت ځینې دعوه دار داسې دي د کومو معامله چې مشتبه ده او خلکو د هغه په باره کې داسې گمان کړی چې هغه امام مهدي دی. لکه څرنگه چې د محمد بن عبد الله نفس زکیه معامله ده. هغه ظاهر شو او خلک د هغه پیروان شول او بیا په وروسته کې معلومه شوه چې هغه مهدي نه دی، ځینې داسې دي کومو چې د ځان د مهدي کیدو په باره کې خوب لیدلی نو خلکو هغه مهدي بللی، لکه محمد بن عبد الله قحطاني.

آیا له خوب څخه کوم شرعي حکم اخذ کیدلای شي؟

د خوبونو په ذریعه د شریعت کوم حکم نشي اخذ کیدلای او نه د خوب په بنیاد د اسلامي امت کومه فیصله کیدلای شي، محض په خوب او خیال باندې د کومې معمولي شانته مسئلې بنیاد هم نشي ساتل کیدای.

قاضي شریک بن عبد الله خلیفه مهدي ته ورغی چې گوري د خلیفه مزاج بدل دی او سخت په غصه کې دی، قاضي شریک ویوښتل: څه خبره ده! امیرالمؤمنین نن ډیر په غصه کې دی؟ خلیفه مهدي وویل: ما د شپې په خوب کې ولیدل چې ته زما په بستر کې بیده یې. کله چې ما له تعبیر کوونکو څخه د تعبیر پوښتنه وکړه نو هغوی راته وویل چې ته له ما سره بغض لرې او زما په خلاف پلان جوړوې. قاضي سمدستي ځواب ورکړ: امیر المؤمنین! والله! نه د ستا خوب د حضرت ابراهیم ﷺ په څیر ربښتونی وي او نه دستا تعبیر کوونکي د حضرت یوسف ﷺ د تعبیر کوونکو په څیر وي

د قاضي شريک لخوا خليفه ته داسې خوب ورکول ښکاره د هغه ترديد دی او دا د داسې چا ترديد دی د کوم تعلق چې له يوه انسان سره دی او که څيرته د يوې معاملې تعلق له ټول امت سره وي نو بيا د هغې ترديد په څومره اندازه ضروري دی.

يوه سړي په خوب کې وليدل چې خپل زوی ذبحه کوي نو هغه خپل زوی ذبحه کړ.

يوه ورځ ما په کوم اخبار کې وليدل چې په افريقه کې يوه سړي په خوب کې وليدل چې هغه خپل زوی ذبحه کوي او چې سهار را پورته شو نو خپل زوی يې را ونيو او ذبحه يې کړ، د ده دا توقع وه چې د ده لپاره به له آسمان څخه کومه لويه ذبيحه راشي او زوی به يې بچ شي، لکه څرنګه چې الله تعالی د حضرت اسماعيل ﷺ د بچ کولو لپاره له جنت څخه يو مګ (پسه) را وليږه.

له دغه جاهل څخه چې کله په دې باره کې پوښتنه وشوه نو هغه وويل: ما د حضرت ابراهيم ﷺ په سنت عمل وکړ، څکه کله چې سيدنا حضرت ابراهيم ﷺ په خوب کې وليدل چې هغه خپل زوی اسماعيل ذبحه کوي نو يې ورته وويل:

﴿ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى ۭ قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۡ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَاۗءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿١٠٢﴾ فَلَمَّآ اَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يّٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٠٥﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰۗـؤُا الْمُبِيْنُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿١٠٧﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه: اې خوږيه زما بيشکه زه پر ليسې وينم په خوب کې داسې چې بيشکه زه ذبحه کوم تا پس ته هم نظر وکړه چې څرنګه مصلحت ګڼې: وويل

---

[1] الصافات، آية: ۱۰۲ الی ۱۰۷.

(اسماعیل) اې پلاره زما ته همغه وکړه چې حکم یې شوی دی درباندې ؛ ژر ده چې وبه مومې ته ما که اراده فرمایلې وي الله له صبر کونکیو (په حکم د الله) پس کله چې غاړه کیښوده (دواړو حکم د الله ته) او واییې چاوه دغه (اسماعیل) پر (نبي) اړخ د ده او غږ وکړ مونږ ده ته داسې چې اې ابراهیم ! په تحقیق رښتیا کړ تا خوب خپل (او ومو مانه هغه له تا) بیشکه مونږ همداسې (لکه نیکه جزاء د ابراهیم نیکه) جزاء ور کوو (نورو) محسنانو نیکو کارانو ته ؛ بیشکه چې همدا ذبحه خامخا همدا ابتلاء ازموینه وه ښکاره ؛ او فدیه مو ورکړه دغه (اسماعیل) ته په مذبوحې لوئي (جنتي پسه سره).

د دغه افریقایي دغه عمل د آخرې درجې جهالت دی، د داسې جاهل سړي خوب د یوه نبي د خوب په څیر څنګه کیدلای شي په کوم چې د الله تعالی له لوري وحې نازلیږي.

که کله مو ښه خوب ولید نو د الله تعالی شکر اداء کړی او خوشحاله اوسی او که مو بد خوب ولید نو د هغه له شر څخه په الله تعالی پناه وغواړی، په دې طریقې سره دا خوب تاسو ته نقصان نشي رسولای.

یو اصل: که یو څوک د مهدي کیدو دعوه وکړي او په احادیثو کې بیان شوې نښانې په هغه کې نه وي او نه دجال د هغه په زمانه کې ظاهر شوی وي نو داسې سړی دروغژن، کذاب او دجال دی، همدا شان که یو څوک د مسیح عیسی ﷺ دعوه وکړي او دجال د هغه له راتلو د مخه نه وي ظاهر شوی نو داسې سړی هم کذاب او دجال دی.

د مهدي جایزه د افراط او تفریط په ځای په عدل او انصاف کې ده.

د اهل السنت والجماعة په نزد د مهدي حقیقت له دې څخه زیات نه دی چې هغه به له ائمه مسلمین څخه یو امام وي کوم به چې په ټولنه کې د عدل او انصاف لپاره کار کوي او غیر معصوم به وي (۱).

۱- وګورئ کتاب عقیدة اهل الاثر في المهدي المنتظر. للشیخ العباد.

ځیني اهل علمو له مهدي څخه انکار کړی په هغوی کې ځیني دا دي:

۞ علامه ابن خلدون : ابن خلدون د مهدي په مسئله کې متردد دی، هغه په دې سلسله کې په واردو حدیثونو باندې تنقید کړی او ویلي یې دي په هغو احادیثو کې کوم یو داسې دی کوم چې له نقد او جرح څخه بچ وي؟

۞ محمد رشید رضا : هغه وایي: د مهدي په حدیثونو کې ډیر قوي او ښکاره تعارض دی، په دې موضوع کې د هغو روایاتو په مابین کې جمع او تطبیق ډیر مشکل دی، له هغوی څخه د انکار کوونکو شمیر ډیر زیات دی، همدا وجه ده چې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله په خپلو کتابونو کې د همدغو روایتونو ذکر نه دی کړی، د ائمه مسلمین یو لوی شمیر خلکو دغه روایتونه ضعیف بللي [1].

۞ احمد امین : د مهدي په باره کې ټول حدیثونه خرافات دي او د هغوی له امله د مسلمانانو په زندګي کې ډیرې خطرناکې نتیجې ظاهرې شوې دي [2].

۞ عبد الله بن زید آل محمود : د مهدي دعوه له ابتداء څخه تر انتهاء ټوله په درواغو بنا ده، دا یوه بده او قبیحه عقیده ده. په اصل کې دا خرافات دي کوم چې له یوه څخه بل ته منتقل کیږي او دا رنګه احادیث دهشت خپریدونکي دي [3].

۞ محمد فرید وجدي : د مهدي منتظر په باره کې چې کوم حدیثونه بیان کړی شوي دي، که اهل علم او بصیرت د هغو جایزه واخلي نو د دوی به په دې خبره کې شک پاتې نشي چې نبي کریم ﷺ د داسې شیانو له بیانولو څخه پاک دی، په دغو روایتونو کې چې کومه غلوه، تضاد، مبالغه، د خلکو له حالاتو څخه نا خبري او د انسانانو په باره کې د الله تعالی له رائجو طریقو څخه چې کوم بعد راغلی هغه له چا څخه پټ نه دی، د دغو احادیثو

---

[1] تفسیر المنار، الاعراف: ۷ / ۱۸۷.

[2] ضحی الاسلام: ۳ / ۲۴۳.

[3] وګورئ د هغه رساله: لا مهدي ینتظر. بعد الرسول خیر البشر: ۵۸.

مطالعه کوونکي په اول نظر کې دا محسوسه وي چې دا موضوعي روايات کوم چې عربو او په غربي رياست کې د يو شمير طلب ګارو ګمراه حوارييڼو د خاصو مقاصدو لپاره وضع کړي (۱).

له مهدي څخه د منکرينو دلائل

(۱) په قرآن کې د مهدي ذکر نه دی راغلی، که چيرته دا خبره حق وی نو الله تعالی به په قرآن کې د هغې ذکر کړی وای.

ځواب: په قرآن کريم کې د قيامت د ټولو نښانو ذکر نه دی شوی، حتی په هغه کې د خروج دجال او په آخره زمانه کې په زمکه کې د خسف کيدو ذکر هم نه دی شوی، دا نښانې په سنت کې ذکر کړی شوې دي، کله چې دا نښانې په سنت سره ثابتې دي نو بر حق دي، ځکه چې د الله تعالی د خپل نبي په باره کې دا اعلان دی:

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝﴾ (۲).

ژباړه: خبرې نه کوي (محمد) له هوا خپلې نه.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی:

﴿الا انی اوتيت القرآن ومثله معه﴾ (۳).

ژباړه: خبر دار! ما ته قرآن کريم هم راکړل شوی دی او له هغه سره يو بل شی (سنت) هم راکړل شوی دی.

نبي کريم ﷺ د هغو نښانو ذکر فرمايلی او هغه يې ثابتې فرمايلې دي، له همدې امله دا د ثابت شده دين يوه برخه ده.

(۲) د مهدي احاديث په صحيحينو کې نشته.

۱- دائرة المارف القرآن العشرين: ۱۰/ ۴۸.

۲- النجم، آية: ۳.

۳- مسند احمد: ۴/ ۱۳۰.

ځواب: په صحیح مسلم او صحیح بخاري کې د نبي کریم ﷺ ټول احادیث نه دي جمع کړی شوي، له امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله پرته د سنت راویان نور محقیقن ائمه هم شته دي او له مونږ سره داسې وسایل شته دي په کومو سره چې د صحیح او ضعیف حدیث امتیاز کولای شو، که چیرته له تحقیق وروسته حدیث صحیح ثابت شي د هغه قبلول واجب دي، خوا هغه که په صحیح مسلم او صحیح بخاري کې وي او که په بل کوم کتاب کې وي، په صحیح مسلم او صحیح بخاري کې د مهدي په باره کې روایات ضرور راغلي، مګر هلته د مهدي له نامه پرته د هغه نور اوصاف بیان شوي دي، په تیرو شویو احادیثو کې د صحیحینو احادیث هم تر سترګو کیږي.

(۳) مونږ د مهدیت مدعیانو لپاره دروازه خلاصول نه غواړو.

ځواب: کله چې مونږ د مهدي په باره کې قواعد او ضوابط بیانه وو نو تر اوسه پورې دروغژن دعوه دار ته هیڅ ګنجایش نه دی پاتې شوی، د مهدي خاص جسماني صفات دي او د هغه د زمانې یو شمیر متعین حالات دي د کومو ذکر چې مخکې تیر شو، دا صفتونه یواځې په یوه کس کې پیدا کیدلای شي کوم چې حقیقي مهدي دی.

د دغې موضوع اخیري خبر

آیا په مهدي باندې د ایمان راړو معنا دا ده چې دعوت او عمل پریښودل شي؟

په ډیرو اسلامي هیوادونو کې د خیر او شر په مینځ کې کشمکش روان دی، د دغو هیوادونو اوسیدونکي د ډیرې سختې مایوسۍ ښکار دي او هغوی مهدي ته په انتظار کې دي، چې په نتیجه کې یې دغو خلکو دعوت او عمل پریښی او قلار ناست دي او له امر بالعروف او نهی عن المنکر څخه یې خاموشي غوره کړې. هغوی د علم حاصلول او د هغه د نشر او اشاعت کار یې هم شا ته غورځولی او په ځینو وختونو کې له کار وبار،

تعمیر او ترقي څخه هم ځانونه غاړې ته کوي او ځینو خلکو داسې خبرې شروع کړې چې معامله ډیره زر راتلونکې ده او دا د مهدي د ظهور زمانه ده، هغه ډیر زر راتلونکی دی نو په دنیوي امورو کې د ځان ګیرولو ته ضرورت څه دی؟

پوښتنه دا ده چې په دغو احادیثو باندې د تعامل په باره کې شرعي اسلوب څنګه پکار دی؟

د هغوی په باره کې تعامل:

دا او نورې نښانې د دې لپاره بیان شوې دي تر څو چې مسلمانانو ته خوشحالي، صبر او ثبات حاصل شي او هغوی دا خوشخبري هم واوري چې الله تعالی به دین محفوظ وساتي او د هغه مرسته به وکړي.

له دې سره سره مونږ هغه عمل وکړو د کوم چې په شروع کې حکم شوی چې د دین مرسته وکړی، له اسلامي هیوادونو دفاع وکړی، د خدای په لار کې جهاد وکړی او د اسلامي بیرغ د سر بلندي لپاره قتال وکړی.

مونږ باید په دې انتظار کې نشو چې له آسمان څخه مرسته نازله شي یا دې زمونږ له کوشش او محنت پرته دې زمکه په جوش کې راشي.

نن هم پر مسلمانانو فرض دي چې هغوی له یهودیانو سره د جنګ لپاره او د قابضو عیسایانو له اسلامي هیوادونو څخه د وتو لپاره پوره تیاری وکړي او د قیادت لپاره د مهدي تر راتګه پورې ذلیل او رسوا ناست پاتې نشي، بلکه مونږ ټول متفق او متحد شو. د خپل دین او که مهدي راغی نو د هغه مرسته وکړو.

علامات کبری

(د قیامت غټې نښانې)

- د دجال خروج
- د عیسی ﷺ نزول
- خروج یاجوج وماجوج
- په زمکه کې د خسف درې غټې پیښې
- دود
- خروج دابه (د عجیب الخلقت څناور راوتل)
- د لمر له مغرب څخه راختل
- اور، کوم به چې خلک د محشر په لوري بیایي.

تمهید

په تیرو صفحو کې بیان شوه چې د قیامت نښانې په دوه ډوله دي، علامات صغری او علامت کبری، یعنې د قیامت وړې او غټې نښانې، مونږ د قیامت (۱۳۱) وړې نښانې بیان کړې، اوس مونږ د قیامت د هغو غټو نښانو په تفصیل سره بیان ذکر کوو کومې چې د قیامت له قایمیدو یو څه د مخه واقع کیږي.

د قیامت غټې نښانې د مات شوي امیل (هار) د دانو په څیر په یوه بل پسې مسلسلې واقع کیږي، کله چې اوله نښانه (د مهدي ظهور) واقع شي نو بیا به له هغه وروسته په تواتر سره نورې نښانې واقع کیدل شروع کړي.

حضر عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿الايات خرزات منظومات في سلک، فان يقطع السلک يتبع بعضها بعض﴾ ([1]).

ژباړه:

د قیامت نښانې په تار کې د د پیرل شویو دانو په څیر دي، پس که چیرته تار پرې شي نو دانې په یوه بل پسې په تیزي سره غورځیدل شروع کړي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿خروج الايات بعضها على اثر بعض تتابعن كما تتابع الحزر في النظام﴾ ([2]).

ژباړه:

د قیامت د نښانو ظهور به په یوه بل پسې داسې ري لکه څنګه چې امیل (هار) مات شي او د هغه دانې په یوه بلې باندې ور غورځي.

هیڅ بعیده نه ده چې د قیامت د غټو نښانو په مینځ کې یو شمیر وړې نښانې هم ظاهرې شي، مثلاً اول به د مهدي ظهور وي، بیا به د هغه په زمانه کې کومه وړه نښانه ظاهره شي، له هغه وروسته به دجال ظاهر شي او بیا به همداسې بله نښانه هم ظاهره شي (والله اعلم)

د مسیح دجال ظهور

- مسیح دجال څوک دی؟
- آیا هغه اوس چیرته موجود دی؟
- آیا هغه د مخه چا لیدلی؟
- د هغه نښانې به څه وي؟
- د هغه د خروج اسباب به څه وي؟

---

[1] مسند احمد ۲ ۲۱۹. وصححه احمد شاكر والباني.

[2] المعجم الاوسط للطبراني ۵ ۱۴۸. و سلسلة الاحاديث الصحيحة ۷ ۳۲۱۰.

- د دجال په ډیره غصه کې مبتلا کونکې خبره به څه وي؟
- د دجال په باره کې غلطې عقیدې کومې کومې دي؟

دجال څوک دی؟

دجال د آدم علیه السلام له اولادې څخه یو سړی دی کوم ته به چې الله تعالی داسې طاقت ورکړي چې له ده پرته په نوع بشر کې به بل چا ته نه وي ورکړی شوی، الله تعالی به د خلکو د ازمایښت او امتحان لپاره هغه ته دا طاقت ورکړي، نبي کریم ﷺ مونږ خبر کړي یو چې مونږ د هغه ګمراهي اختیار نه کړو. همدا شان مونږ نبي کریم ﷺ د هغه له جسماني او اخلاقي نښانو څخه هم خبر کړي یو.

د دجال په باره معلومات لرل ضروري دي

د یوه شي په باره کې علم لرل د هغه په باره کې له جهالت څخه ډیر بهتر دي، حضرت خذیفة رضی الله عنه له نبي کریم ﷺ څخه د شر (فتنو) په باره کې پوښتنې کولې تر څو چې په فتنو کې مبتلا نشي [1].

دجال تر ټولو لویه فتنه ده، نبي کریم ﷺ د خپل امت په باره کې له هغه څخه ډیر په اندیښنه کې دی. همدا وجه ده چې د هغه په باره کې یې خپل امت خبر کړی، ویرولی یې ده او آګاه کړی یې ده. له دې امله چې له دجال سره به ډیرې غټې فتنې او شبهات وي حتی چې هغه به دا دعوه هم وکړي چې هغه رب العلمین دی. کله چې مونږ ته د هغه صفات، نښانې او له هغه څخه د محفوظ اوسیدلو طریقې معلومې وي نو الله تعالی جل جلاله به مونږ د هغه له شر څخه بچ وساتي (انشاء الله)

---

[1] صحیح البخاري. المناقب. حدیث: ۳۶۰۲.

د هغه نوم مسیح دجال ولې دی؟

دجال ته مسیح له دې امله ویل کیږي چې د هغه ښی سترګه چته ده، هغه به ړوند وي او په یوه سترګه به لیدل کوي، د هغه د نام په باره کې یو قول دا هم دی چې هغه مسِیح ده او دا هم ویلی شوي چې هغه مسُیح ده.

ځینو د علم خاوندانو ویلي: چې د هغه نوم مسیح ځکه ایښودل شوی چې هغه به په ټوله زمکه کې وګرځي.

ځینو ویلي: مسیح نام له دې امله ایښودل شوی چې د هغه په نیمایي څهره نه سترګه شته او نه ابرو.

د هغه نوم دجال له دې امله ایښودل شوی چې د هغه کار دجل او فریب کول دي، د حیله بازي څخه کار اخستل، د حقایقو پټول او د لویو لویو دروغو ویل د هغه کار ده، دجل ډیرو لویو دروغو ته ویل کیږي، هغه له ډیر لوی دجل او فریب څخه کار اخستونکی دی، د ډیرو دروغو ویونکی او ډیر متکبر دی.

د دجال جمع دجالون او دجاجلة راځي.

د دجال دعوه به څه وي؟

دجال به دا دعوه کوي چې هغه رب العلمین دی، هغه به له خلکو څخه په خپل ذات باندې د ایمان راوړو غوښتنه کوي، ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿الا انه اعور وان ربکم لیس باعور﴾ ([1]).

ژباړه: ببشکه دجال ړوند دی او دستاسو رب ړوند نه دی.

له دجال سره به ډیر شبهات او ډیرې حیلې وي د کومو په مرسته به چې خلک په فتنو کې مبتلا کوي.

---

[1] صحیح البخاري. الفتن. حدیث: ۷۱۳۱.

د ابن صیاد قیصه

د نبي کریم ﷺ په زمانه کې په مدینه منوره کې یو هلک وو د کوم نام چې (ابن صیاد) وو، دا هم یوه معما وه، نبي کریم ﷺ ته هم د هغه په باره کې د دجال تردد وو، د دغه هلک او د نبي کریم ﷺ تر مینځ یوه واقعه پیښه شوه د کومې تفصیل چې دارنګه دی:

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما بیان کوي:

نبي کریم ﷺ، حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه او یو شمیر نور خلک د ابن صیاد لوري ته ورغلل، هغه د بنو مغاله قلعې په خوا کې له هلکانو سره لوبې کولې، په دې وخت کې ابن صیاد بلوغ ته نږدې وو، هغه ته د نبي کریم ﷺ د راتلو معلومات هغه وخت وشو کله چې نبي کریم ﷺ په خپل لاس د هغه شا ووهله، له دې وروسته د ابن صیاد او د الله د رسول ﷺ تر مینځ داسې خبرې وشوې:

رسول الله ﷺ وویل: آیا ته دا ګواهي ورکوي چې زه د الله تعالی جل جلاله رسول یم؟

ابن صیاد رسول الله ﷺ ته وکتل او وې ویل: زه ګواهي ورکوم چې ته امیین (یعنې د عربو لور ته رالیږل شوی رسول یې) بیا ابن صیاد د الله له رسول ﷺ څخه وپوښتل: آیا ته ګواهي ورکوي چې زه د الله تعالی رسول یم؟

رسول الله ﷺ د هغه له رسالت څخه انکار وکړ او وې فرمایل: زه په الله او د هغه په رسولانو ایمان لرم، له دې وروسته د الله رسول ﷺ له ابن صیاد څخه یوه بله پوښتنه وکړه او وې فرمایل: تا ته څه په نظر درځي؟

ابن صیاد وویل: ما ته ریښتیا او دروغ په نظر راځي

رسول الله ﷺ وويل: بیا نو معامله په تا باندې خلط ملط ده، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ما په زړه کې د پوښتنې یو شی له تا پټ کړی [۱].

ابن صیاد د دخان لفظ ویلو کوشش وکړ لیکن د دغه لفظ د اداء کولو توفیق یې تر لاسه نکړ او د دخان په ځای یې (دخ) (دخ) وویل. په اصل کې له ابن صیاد سره یو څه وو کومو چې له دغو شیانو څخه خبر کړی وو، ابن صیاد وویل: هغه دخ دی.

نبي کریم ﷺ وفرمایل: خلط ملط شوي په تا! ته به له خپل حیثیت څخه پورته ولاړ نشې [۲].

حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ: اې د الله رسوله ﷺ! ما ته اجازه راکړه چې زه د هغه سر پرې کړم.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: هغه پرېږده، که چیرته ابن صیاد دجال اکبر وي نو ته په هغه نشې غالب کیدای او که چیرته دجال نه وي نو بیا د هغه په قتل کې هیڅ ګټه نشته [۳] یعنې که چیرته ابن صیاد دجال وي نو له تا سره د هغه د وژلو قدرت نشته، ځکه الله تعالی ﷻ دا فیصله کړې چې هغه به حضرت عیسی ﷺ له خپل نزول وروسته ووژني.

سالم بن عبد الله بن عمر فرمایي چې ما له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه دا آوریدلي چې فرمایل یې چې له دې وروسته رسول الله ﷺ له ابی ابن کعب انصاري سره د کجورو د هغه باغ لوري ته ولاړ په کوم کې چې ابن صیاد اوسیده. نبي کریم ﷺ د کجورو ونو شا ته پټ پټ هغه باغ ته ور داخل شو، نبي کریم ﷺ په پټ ډول د هغه لوري ته ور مخته شو، تر څو مخکې له دې چې هغه نبي کریم ﷺ ووینې نبي کریم ﷺ د هغه

---

[۱] یعنې ما په خپل زړه کې د یو لفظ سوچ کړی. ته د هغه د معلومولو کوشش وکړه چې هغه څه دی. د الله رسول ﷺ په خپل زړه کې د دخان لفظ پټ ساتلی وو.

[۲] یعنې له خپل کهانت څخه به پورته ولاړ نشې. ځکه چې ته کاهن، دجال او حیله باز یې.

[۳] صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ۲۹۳۱.

خبرې واورې، نبي کريم ﷺ وليدل چې هغه د کمبلې په يوه ټوټه باندې پروت دی او په خوله باندې د بړ بړ آواز کوي، د ابن صياد مور د ونو شا ته پټه راغلې او چې نبي ﷺ يې وليد نو وې ويل: ارې ,,صاف،: (دا د هغه نوم وو) دا محمد (ﷺ) دی، د دې خبرې په آوريدو ابن صياد را پورته شو او کيناست، رسول الله ﷺ وويل: که دې مداخله نه وای کړې نو نن د ابن صياد اصل حقيقت ښکاره کيدو (چې دا دجال دی او که نه) (¹).

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي

يو ځل رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضی الله عنهما د مدينې په لاره وو چې له ابن صياد يې سره ملاقات وشو:

نبي کريم ﷺ: آيا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟

ابن صياد: آيا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟

رسول الله ﷺ: زه په الله باندې، د هغه په فرښتو باندې او د هغه په کتابو باندې ايمان لرم، بيا رسول الله ﷺ ترې وپوښتل: تا ته په نظر څه درځي؟

ابن صياد: ما ته په اوبو باندې يو تخت په نظر راځي.

رسول الله ﷺ: تا ته په سمندر باندې د ابليس تخت په نظر درځي، ته نور څه وينې؟

ابن صياد: ما ته دوه رښتيا يو دروغ يا دوه دروغ يو رښتيا په نظر راځي.

رسول الله ﷺ: د ده خوا ته د شيطان د راتلو له وجهې په ده معامله خلط ملط شوې ده، دا پريږدی (²).

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي

يو ځل زه د حج يا عمرې په سفر روان ووم، ابن صياد هم په دې سفر کې له ما سره وو، کله چې مونږ په يوه ځای کې پړاو واچاوه نو خلک يوه خوا بله خوا سره تيت شول زه او ابن صياد تنها پاتې شوو، د هغه په باره کې چې کومې

¹- صحيح مسلم، الفتن، حديث: ۲۹۳۱.
²- صحيح مسلم، الفتن، حديث: ۲۹۳۲.

خبرې مشهورې وې زه د هغو له امله په سخت وحشت کې مبتلا شوم، هغه خپل سامان را واخیست او زما له سامان سره یې نږدې کېښود، ما ورته وویل: ګوره! ګرمي ډیره زیاته ده، ښه دا ده چې ته خپل سامان د هغې ونې لاندې کېږدې، هغه همداسې وکړل (ابن صیاد خپل سامان له ابو سعید څخه لیرې د هغې ونې لاندې کېښود) څه وخت تېر شو چې د بزو یوه رمه مو ولیده، ابن صیاد پورته شو، رمې ته ورغی او د بزو له شیدو څخه ډک لوښی یې راووړ او راته وې ویل: ابو سعید! وڅکه، ما ورته وویل: موسم ډېر ګرم دی او شیدې هم ډېرې ګرمې دي، ځکه یې زه نه څکم، په اصل کې ما د هغه د لاسه د څه خوړل یا څښل نه خوښول.

ابن صیاد وویل: ابو سعید! خلک زما په باره کې چې کومې خبرې کوي (ما ته دجال وایي) په دې سره غواړي چې زه په کومه ونه پورې په رسۍ باندې ځان زندۍ کړم، اې ابو سعید! د رسول الله ﷺ حدیث له هیچا پټ نه دی که وي وي به لیکن له تاسو انصارو څخه هغه پټ نه دی. ابو سعید! ته د رسول الله ﷺ په حدیثو باندې تر ټولو ډیر علم لرونکی یې. آیا د رسول الله ﷺ په حدیث کې نه دي راغلي چې دجال به ړوند وي. د هغه به اولاد نه وي. سره له دې چې زما اولاد په مدینه منوره کې موجود دی، آیا رسول الله ﷺ دا نه دي ویلي چې دجال مدینې او مکې ته نشي داخلیدای. سره له دې چې زه له مدینې څخه را روان یم او مکې ته ځم

حضرت ابو سعید رضي الله عنه وایي: ما چې د ده خبرې واریدې نو هغه مې معذور وباله او دومره مې ابن صیاد ته وویل: په الله قسم! زه ښه پوهیږم چې د دجال د پیدا کیدو ځای کوم دی او هغه دا وخت چیرته دی.

ابو سعید وایي: ما وویل: دستا لپاره ټولې ورځې د هلاکت او بربادي دي[1].

[1] - صحیح مسلم. الفتن. حدیث: ۲۹۲۷.

د ابن صیادپه باره کې سم موقف

ابن صیاد مسیح دجال (دجال اکبر) نه دی، بلکه د حیله بازو دجالانو څخه یو دجال دی، له هغه سره کهانت وو او شیطان له ځینو شیانو څخه هغه خبر کړی وو.

په قران کریم کې د دجال په نه ذکر کولو کې حکمت

د دجال فتنه عظیم ترینه فتنه ده، نبي کریم ﷺ ته د امت په باره کې له دې فتنې ډیره ویره وه، ټولو پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام هم خپل امتونه د دجال له فتنې څخه خبر کړي وو، د الله تعالی رسول ﷺ مونږ ته له هر لمانځه وروسته د دجال له فتنې څخه د امن غوښتلو حکم کړی.

په قرآن کریم کې الله تعالی جل جلاله د یو شمیر لویو او وړو نښانو ذکر فرمایلي، د مثال په ډول لکه د شق القمر واقعه. الله تعالی فرمایي:

﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝﴾ (1).

ژباړه:

را نږدې شو قیامت او څیرې دوه ټوټې شوه سپوږمۍ.

همدا شان د یاجوج ماجوج راوتل. الله تعالی فرمایي:

﴿حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ یَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ یَّنْسِلُوْنَ ۝﴾ (2).

ژباړه:

تر هغه پورې کله چې پرانستلی شي یاجوج او ماجوج (او دیوال یې له مخې لیرې شي) او دوی به له هرې لوړې څخه ګړندي را کوزیږي.

لیکن الله تعالی د دجال د نامه ذکر په وضاحت سره په قرآن مجید کې نه دی فرمایلی.

د ده په عدم ذکر کې څه حکمت پټ دی؟

---

(1) القمر، آیة: ۱.

(2) الانبیاء، آیة: ۹۲.

په دې باره کې لاندنی خبرې ویل شوې دي.

✿ د اهل علمو په دې سلسله کې یو قول دا دی چې په لاندې آیت کریمه کې د دجال ذکر راغلی:

﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ﴾ ([1]).

ژباړه:

په هغه ورځ چې راشي ځینې دلائل د (قدرت) د رب ستا نه به رسوي فایده (نفع) هیڅ نفس ته ایمان راوړل د ده چې نه وي دا نفس چې ایمان یې راوړی وي پخوا له دې نه.

ځکه چې د دې خبرې تایید د نبي کریم ﷺ دا حدیث هم کوي په کوم کې چې فرمايي:

﴿ثلاث اذا خرجن لم ينفع نفساً ايمانها لم تكن امنت من قبل: الدجال، والدابة، وطلوع الشمس من مغربها﴾ ([2]).

ژباړه:

هر کله چې درې شیان را ښکاره شي نو هیڅ داسې سړي ته ایمان فایده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ایماندار نه وي، د دجال خروج، خروج دابه او د (شمس) لمر له مغرب څخه راختل.

✿ دویم قول: په قران مجید کې د حضرت عیسی علیه السلام د نزول لوري ته اشاره موجوده ده، الله تعالی جل جلاله فرمايي:

﴿وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ﴾ ([3]).

---

[1] - الانعام، آية: ۱۵۸.

[2] - صحیح مسلم، الایمان، حدیث: ۱۵۸، وجامع الترمذی، تفسیر القرآن، حدیث: ۳۰۷۲، وصححه واللفظ له.

[3] - النساء، آية: ۱۵۹.

ژباړه : نشته هم څوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې یا په وخت د نزول د عیسی) پر دغه عیسی (پخوا له مرګه د ده څخه).

الله تعالی په یوه بل ځای کې فرمایي:

﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ ([1]).

ژباړه :

او بیشکه دغه (عیسی) خامخا علامه نښه ده د قیامت (په اعتبار د نزول سره) پس شک مکوئ تاسې په راتلو د قیامت کې او متابعت وکوئ زما په (توحید کې) دغه لیاره ده سمه برابره (چې نه پرې ګمراه کیږي څوک).

او دا خبره پرته له شک سمه ده چې حضرت عیسی علیه السلام به دجال قتل کړي، لهذا په قرآن کې د نزول عیسی علیه السلام په باره کې د راغلیو خبرو په سلسله کې د دجال ذکر هم ضمناً راغلی دی.

حضرت خدیفه بن اسید غفاري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿إن الساعة لا تكون حتى تكون عشر آيات،الدخان، والدجال، والدابة وطلوع الشمس من المغرب ..... الحديث﴾ ([2]).

ژباړه : د لسو نښانو تر ظاهریدو قیامت نه قایمیږي، دود، دجال، د ځناور راوتل او د لمر له مغرب څخه راختل .... الحدیث.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ ثلاث إذا خرجن لا ينفع نفسا إيمانها لم تكن آمنت من قبل أو كسبت في إيمانها خيرا طلوع الشمس من مغربها والدجال ودابة الأرض﴾ ([3]).

---

[1] الزخرف. آیه: ٦١.

[2] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ٢٩٠١.

[3] صحیح مسلم. الایمان. حدیث: ١٥٨.

ژباړه: کله چې درې شیان ښکاره شي نو هیڅ داسې سړي ته ایمان راوړل فایده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ایماندار نه وي، (۱) د لمر له مغرب څخه راختل (۲) د دجال راوتل (۳) له زمکې څخه د یوه لوی ځناور راوتل.

له ټولو لویه فتنه

حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿ما بين خلق آدم إلى قيام الساعة خلق أكبر من الدجال﴾ ([1]).

ژباړه:

د حضرت آدم علیه السلام له پیدا ایښت څخه نیولې د قیامت تر قایمیدو پورې له دجال څخه لوی مخلوق نشته. او د یوه روایت الفاظ داسې دي: له دجال څخه بل لوی کوم مصیبت نشته.

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ یوه ورځ خلکو ته د خطاب کولو په وخت کې ودرید، نبي کریم ﷺ د الله تعالی جل جلاله شان بیان کړ او بیا یې د دجال ذکر وکړ او وې فرمایل:

﴿إِنِّي لَأُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ﴾ ([2]).

ژباړه: زه تاسو له دې څخه ویره وم او هر نبي خپل قوم له دې څخه ویرولی لیکن زه تاسو ته یوه داسې خبر کوم کومه چې هیڅ نبي خپل قوم ته نه ده بیان کړې: هغه به په یوه سترګه باندې ړوند وي او الله تعالی هیڅ کله داسې نه دی.

حضرت نواس بن سمعان رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿غير الدجال أخوفني عليكم إن يخرج وأنا فيكم فأنا حجيجه دونكم وإن يخرج ولست فيكم فامرؤ حجيج نفسه والله خليفتي على كل مسلم﴾ ([3]).

---

[1] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۴۶.

[2] - صحيح البخاري. الانبياء. حديث: ۷۱۲۷.

[3] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۳۷.

د ابن صیاد قیصه

د نبي کریم ﷺ په زمانه کې په مدینه منوره کې یو هلک وو د کوم نام چې (ابن صیاد) وو، دا هم یوه معما وه، نبي کریم ﷺ ته هم د هغه په باره کې د دجال تردد وو، د دغه هلک او د نبي کریم ﷺ تر مینځ یوه واقعه پیښه شوه د کومې تفصیل چې دارنګه دی:

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما بیان کوي:

نبي کریم ﷺ، حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه او یو شمیر نور خلک د ابن صیاد لوري ته ورغلل، هغه د بنو مغاله قلعې په خوا کې له هلکانو سره لوبې کولې، په دې وخت کې ابن صیاد بلوغ ته نږدې وو، هغه ته د نبي کریم ﷺ د راتلو معلومات هغه وخت وشو کله چې نبي کریم ﷺ په خپل لاس د هغه شا ووهله، له دې وروسته د ابن صیاد او د الله د رسول ﷺ تر مینځ داسې خبرې وشوې:

رسول الله ﷺ وویل: آیا ته دا ګواهي ورکوې چې زه د الله تعالی ﷻ رسول یم؟

ابن صیاد رسول الله ﷺ ته وکتل او وې ویل: زه ګواهي ورکوم چې ته امیین (یعنې د عربو لور ته رالیږل شوی رسول یې) بیا ابن صیاد د الله له رسول ﷺ څخه وپوښتل: آیا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله تعالی رسول یم؟

رسول الله ﷺ د هغه له رسالت څخه انکار وکړ او وې فرمایل: زه په الله او د هغه په رسولانو ایمان لرم. له دې وروسته د الله رسول ﷺ له ابن صیاد څخه یوه بله پوښتنه وکړه او وې فرمایل: تا ته څه په نظر درځي؟

ابن صیاد وویل: ما ته رښتیا او دروغ په نظر راځي.

رسول الله ﷺ وويل: بيا نو معامله په تا باندې خلط ملط ده، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ما په زړه کې د پوښتنې يو شی له تا پټ کړی [۱].

ابن صياد د دخان لفظ ويلو کوشش وکړ ليکن د دغه لفظ د اداء کولو توفيق يې تر لاسه نکړ او د دخان په ځای يې (دخ) (دخ) وويل. په اصل کې له ابن صياد سره يو څه وو کومو چې له دغو شيانو څخه خبر کړی وو، ابن صياد وويل: هغه دخ دی.

نبي کريم ﷺ وفرمايل: خلط ملط شوي په تا! ته به له خپل حيثيت څخه پورته ولاړ نشې [۲].

حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ: اې د الله رسوله ﷺ! ما ته اجازه راکړه چې زه د هغه سر پرې کړم.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: هغه پرېږده، که چيرته ابن صياد دجال اکبر وي نو ته په هغه نشې غالب کېدای او که چيرته دجال نه وي نو بيا د هغه په قتل کې هيڅ ګټه نشته [۳] يعنې که چيرته ابن صياد دجال وي نو له تا سره د هغه د وژلو قدرت نشته، ځکه الله تعالی جل جلاله دا فيصله کړې چې هغه به حضرت عيسی عليه السلام له خپل نزول وروسته ووژني.

سالم بن عبد الله بن عمر فرمايي چې ما له عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه دا آوريدلي چې فرمايل يې چې له دې وروسته رسول الله ﷺ له ابی ابن کعب انصاري سره د کجورو د هغه باغ لوري ته ولاړ په کوم کې چې ابن صياد اوسيده. نبي کريم ﷺ د کجورو ونو شا ته پټ پټ هغه باغ ته ور داخل شو، نبي کريم ﷺ په پټه ډول د هغه لوري ته ور مخته شو، تر څو مخکې له دې چې هغه نبي کريم ﷺ ووينې نبي کريم ﷺ د هغه

---

[۱] يعنې ما په خپل زړه کې د يوه لفظ سوچ کړی. ته د هغه د معلومولو کوشش وکړه چې هغه څه دی. د الله رسول ﷺ په خپل زړه کې د دخان لفظ پټ ساتلی وو.

[۲] يعنې له خپل کهانت څخه به پورته ولاړ نشې. ځکه چې ته کاهن، دجال او حيله باز يې.

[۳] صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۳۱.

خبرې واورې، نبي کريم ﷺ وليدل چې هغه د کمبلې په يوه ټوټه باندې پروت دی او په خوله باندې د بړ بړ آواز کوي، د ابن صياد مور د ونو شا ته پټه راغلې او چې نبي ﷺ يې وليد نو وې ويل: ارې ,, صاف!؛ (دا د هغه نوم وو) دا محمد (ﷺ) دی، د دې خبرې په آوريدو ابن صياد را پورته شو او کيناست، رسول الله ﷺ وويل: که دې مداخله نه وای کړې نو نن د ابن صياد اصل حقيقت ښکاره کيدو (چې دا دجال دی او که نه) ([1]).

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي

يو ځل رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضی الله عنهما د مدينې په لاره وو چې له ابن صياد: يې سره ملاقات وشو:

نبي کريم ﷺ: ؛ آيا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟

ابن صياد: آيا ته ګواهي ورکوې چې زه د الله رسول يم؟

رسول الله ﷺ: زه په الله باندې، د هغه په فرښتو باندې او د هغه په کتابو باندې ايمان لرم، بيا رسول الله ﷺ ترې وپوښتل: تا ته په نظر څه درځي؟

ابن صياد: ما ته په اوبو باندې يو تخت په نظر راځي.

رسول الله ﷺ: تا ته په سمندر باندې د ابليس تخت په نظر درځي. ته نور څه وينې؟

ابن صياد: ما ته دوه رښتيا يو دروغ يا دوه دروغ يو رښتيا په نظر راځي.

رسول الله ﷺ: د ده خوا ته د شيطان د راتلو له وجهې په ده معامله خلط ملط شوې ده، دا پريږدی ([2]).

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي:

يو ځل زه د حج يا عمرې په سفر روان ووم، ابن صياد هم په دې سفر کې له ما سره وو، کله چې مونږ په يوه ځای کې پړاو واچاوه نو خلک يوه خوا بله خوا سره تيت شول زه او ابن صياد تنها پاتې شوو، د هغه په باره کې چې کومې

---

[1] - صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۳۱.

[2] - صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۳۲.

خبرې مشهورې وې زه د هغو له امله په سخت وحشت کې مبتلا شوم، هغه خپل سامان را واخيست او زما له سامان سره يې نږدې کيښود، ما ورته وويل: ګوره! ګرمي ډيره زياته ده، ښه دا ده چې ته خپل سامان د هغې ونې لاندې کيږدې، هغه همداسې وکړل (ابن صياد خپل سامان له ابو سعيد څخه ليرې د هغې ونې لاندې کيښود) څه وخت تير شو چې د بزو يوه رمه مو وليده، ابن صياد پورته شو، رمې ته ورغی او د بزو له شيدو څخه ډک لوښی يې راووړ او راته وې ويل: ابو سعيد! وڅکه، ما ورته وويل: موسم ډير ګرم دی او شيدې هم ډيرې ګرمې دي، څکه يې زه نه څکم، په اصل کې ما د هغه دلاسه د څه خوړل يا څښل نه خوښول.

ابن صياد وويل: ابو سعيد! خلک زما په باره کې چې کومې خبرې کوي (ما ته دجال وايي) په دې سره غواړې چې زه په کومه ونه پورې په رسۍ باندې ځان زندۍ کړم، اې ابو سعيد! د رسول الله ﷺ حديث له هيچا پټ نه دی که وي وي به ليکن له تاسو انصارو څخه هغه پټ نه دی، ابو سعيد! ته د رسول الله ﷺ په حديثو باندې تر ټولو ډير علم لرونکی يې، آيا د رسول الله ﷺ په حديث کې نه دي راغلي چې دجال به ړوند وي، د هغه به اولاد نه وي، سره له دې چې زما اولاد په مدينه منوره کې موجود دی، آيا رسول الله ﷺ دا نه دي ويلي چې دجال مدينې او مکې ته نشي داخليدای، سره له دې چې زه له مدينې څخه را روان يم او مکې ته ځم

حضرت ابو سعيد رضي الله عنه وايي: ما چې د ده خبرې واريدې نو هغه مې معذور وباله او دومره مې ابن صياد ته وويل: په الله قسم! زه ښه پوهيږم چې د دجال د پيدا کيدو ځای کوم دی او هغه دا وخت چيرته دی

ابو سعيد وايي: ما وويل: دستا لپاره ټولې ورځې د هلاکت او بربادۍ دي (١).

١- صحيح مسلم، الفتن، حديث: ۲۹۲۷.

د ابن صیادپه باره کې سم موقف

ابن صیاد مسیح دجال (دجال اکبر) نه دی، بلکه د حیله بازو دجالانو څخه یو دجال دی، له هغه سره کهانت وو او شیطان له ځینو شیانو څخه هغه خبر کړی وو.

په قران کریم کې د دجال په نه ذکر کولو کې حکمت

د دجال فتنه عظیم ترینه فتنه ده، نبي کریم ﷺ ته د امت په باره کې له دې فتنې ډیره ویره وه، ټولو پخوانیو انبیاؤ علیهم السلام هم خپل امتونه د دجال له فتنې څخه خبر کړي وو، د الله تعالی رسول ﷺ مونږ ته له هر لمانځه وروسته د دجال له فتنې څخه د امن غوښتلو حکم کړی.

په قرآن کریم کې الله تعالی جل جلاله د یو شمیر لویو او وړو نښانو ذکر فرمایلي، د مثال په ډول لکه د شق القمر واقعه، الله تعالی فرمایي:

﴿اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝١﴾ ([1]).

ژباړه:

را نږدې شو قیامت او څیرې دوه ټوټې شوه سپوږمۍ.

همدا شان د یاجوج ماجوج راوتل، الله تعالی فرمایي:

﴿حَتّٰى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ۝٩٦﴾ ([2]).

ژباړه:

تر هغه پورې کله چې پرانستلی شي یاجوج او ماجوج (او دیوال یې له مخې لیرې شي) او دوی به له هرې لوړې څخه ګړندي را کوزیږي.

لیکن الله تعالی د دجال د نامه ذکر په وضاحت سره په قرآن مجید کې نه دی فرمایلی.

د ده په عدم ذکر کې څه حکمت پټ دی؟

---

[1] القمر، آیه: ۱.

[2] الانبیاء، آیه: ۹۶

په دې باره کې لاندنی خبرې ویل شوې دي.

✿ د اهل علمو په دې سلسله کې یو قول دا دی چې په لاندې آیت کریمه کې د دجال ذکر راغلی:

﴿يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ﴾ ([1]).

ژباړه:

په هغه ورځ چې راشي ځیني دلائل د (قدرت) د رب ستا نه به رسوي فایده (نفع) هیڅ نفس ته ایمان راوړل د ده چې نه وي دا نفس چې ایمان یې راوړی وي پخوا له دې نه.

ځکه چې د دې خبرې تایید د نبي کریم ﷺ دا حدیث هم کوي په کوم کې چې فرمایي:

﴿ثلاث اذا خرجن لم ينفع نفساً ايمانها لم تكن امنت من قبل: الدجال، والدابة، وطلوع الشمس من مغربها﴾ ([2]).

ژباړه:

هر کله چې درې شیان را ښکاره شي نو هیڅ داسې سړي ته ایمان فایده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ایماندار نه وي، د دجال خروج، خروج دابه او د (شمس) لمر له مغرب څخه راختل.

✿ دویم قول: په قران مجید کې د حضرت عیسی علیه السلام د نزول لوري ته اشاره موجوده ده. الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ ([3]).

---

[1] - الانعام. آیة: ۱۵۸.

[2] - صحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۱۵۸. وجامع الترمذی. تفسیر القرآن. حدیث: ۳۰۷۲. وصححه واللفظ له.

[3] - النساء. آیة: ۱۵۹.

ژباړه: نشته هم څوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزغې خپلې یا په وخت د نزول د عیسی) پر دغه عیسی (پخوا له مرګه د ده څخه).

الله تعالی په یوه بل ځای کې فرمایي:

﴿وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴾ ([1]).

ژباړه:

او بیشکه دغه (عیسی) خامخا علامه نښه ده د قیامت (په اعتبار د نزول سره) پس شک مکوئ تاسې په راتلو د قیامت کې او متابعت وکوئ زما په (توحید کې) دغه لیاره ده سمه برابره (چې نه پرې ګمراه کیږي څوک).

او دا خبره پرته له شک سمه ده چې حضرت عیسی علیه السلام به دجال قتل کړي، لهذا په قرآن کې د نزول عیسی علیه السلام په باره کې د راغلیو خبرو په سلسله کې د دجال ذکر هم ضمناً راغلی دی.

حضرت خدیفه بن اسید غفاري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿إن الساعة لا تكون حتى تكون عشر آيات،الدخان، والدجال، والدابة وطلوع الشمس من المغرب ..... الحديث﴾ ([2]).

ژباړه: د لسو نښانو تر ظاهریدو قیامت نه قایمیږي، دود، دجال، د ځناور راوتل او د لمر له مغرب څخه راختل.... الحدیث.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ ثلاث إذا خرجن لا ينفع نفسا إيمانها لم تكن آمنت من قبل أو كسبت في إيمانها خيرا طلوع الشمس من مغربها والدجال ودابة الأرض﴾ ([3]).

---

[1] الزخرف، آیة: ٦١.

[2] صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ٢٩٠١.

[3] صحیح مسلم، الایمان، حدیث: ١٥٨.

ژباړه: کله چې درې شیان ښکاره شي نو هیڅ داسې سړي ته ایمان راوړل فایده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ایماندار نه وي، (۱) د لمر له مغرب څخه راختل (۲) د دجال راوتل (۳) له زمکې څخه د یوه لوی ځناور راوتل.

له ټولو لویه فتنه

حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ما بين خلق آدم إلى قيام الساعة خلق أكبر من الدجال﴾ ([1]).

ژباړه:

د حضرت آدم علیه السلام له پیدایښت څخه نیولې د قیامت تر قایمیدو پورې له دجال څخه لوی مخلوق نشته. او د یوه روایت الفاظ داسې دي؛ له دجال څخه بل لوی کوم مصیبت نشته.

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خلکو ته د خطاب کولو په وخت کې ودرید، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د الله تعالی جل جلاله شان بیان کړ او بیا یې د دجال ذکر وکړ او وې فرمایل:

﴿إِنِّي لَأُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ﴾ ([2]).

ژباړه: زه تاسو له دې څخه ویره وم او هر نبي خپل قوم له دې څخه ویرولی لیکن زه تاسو ته یوه داسې خبر کوم کومه چې هیڅ نبي خپل قوم ته نه ده بیان کړې: هغه به په یوه سترګه باندې ړوند وي او الله تعالی هیڅ کله داسې نه دی.

حضرت نواس بن سمعان رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿غير الدجال أخوفني عليكم إن يخرج وأنا فيكم فأنا حجيجه دونكم وإن يخرج ولست فيكم فامرؤ حجيج نفسه والله خليفتي على كل مسلم﴾ ([3]).

---

[1] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۴۶.

[2] - صحيح البخاري. الانبياء. حديث: ۷۱۲۷.

[3] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۲۷.

ژباړه: له دجال پرته د نورو فتنو په هکله له ما سره د ستاسو په هکله ویره شته، دجال که چیرته زما په موجودیت کې راشي نو زه به په دلیل له هغه سره مقابله وکړم او د ستاسو ټولو له لوري به زه په هغه بر لاسی شم او که چیرته زما په عدم موجودګي کې راشي نو هر سړی دې په دلیل سره په هغه باندې د برلاسه کیدو کوشش وکړي، الله تعالی زما په ځای له هر مسلمان څخه په خپله دفاع کوي.

د دجال له راوتو د مخه راتلونکي واقعات

حضرت نافع بن عتبه بن ابي وقاص رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿تغزون جزيرة العرب فيفتحها الله ثم فارس فيفتحها الله ثم تغزون الروم فيفتحها الله ثم تغزون الدجال فيفتحه الله﴾ ([1]).

ژباړه:

تاسو به په جزیره عرب کې جنګ وکړئ نو الله تعالی به هغه فتح کړي، بیا به تاسو په ایران حمله وکړئ الله تعالی به هغه هم فتح کړي، بیا به تاسو په روم حمله وکړئ الله تعالی به هغه هم فتح کړي، بیا به تاسو له دجال سره جنګ وکړئ نو الله تعالی به هغه فتح کړي (یعنې په کوم ځای کې چې دجال وي پر هغه ځای او د هغه په ملګرو به تاسو فتح ترلاسه کړئ).

۞ حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿عمران بيت المقدس خراب يثرب وخراب يثرب خروج الملحمة وخروج الملحمة فتح قسطنطينية وفتح القسطنطينية خروج الدجال﴾ ([2]).

ژباړه: د بیت المقدس له ابادئ سره د مدینې بربادي شروع کیږي، چې مدینه برباده شي نو یو لوی جنګ به شروع شي، چې دا جنګ شروع شي نو

---

[1] - صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۰۰

[2] - سنن ابي داؤد. الملاحم. حدیث: ۴۲۹۴.

قسطنطنيه به فتح شي او چې کله قسطنطنيه فتح شي نو بيا به زر دجال خروج وکړي.

✿ د دجال له خروج څخه د مخه به د مسلمانانو او رومي عيسايانو تر مينځ ډير جنګونه وشي په کومو کې به چې مسلمانان فتح تر لاسه کړي.

د نبي کريم ﷺ صحابي حضرت ذومخمر رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

تاسو به له عيسايانو سره صلح وکړی، بيا به تاسو يو جنګ وکړی او روميان به له تاسو سره غداري وکړي، تاسو به په دې جنګ کې فتح تر لاسه کړی، د غنيمت مال به تر لاسه کړی او له هر رنګه نقصان څخه به محفوظ اوسی، بيا به تاسو د جنګ له ميدان څخه واپس بيرته راځی تر دې چې تاسو او عيسايان به په يو سر سبزه ځای کې پړاو واچوی، دلته به له عيسايانو څخه يو کس صليب په هوا کې پورته کړي او اعلان به وکړي چې صليب غالب راغی، صليب غالب راغی، په دې سره به يوه مسلمان ته غصه ور شي او هغه به صليب ټوټه ټوټه کړي، په دې سره به عيسايان پورته شي او د جنګ لپاره به تياری شروع کړي، ځينو راويانو په دې ځای کې دا اضافه کړې چې په دې وخت کې به مسلمانان هم په جوش کې راشي او خپلې اسلحې به را واخلي، يو جنګ به وشي او الله تعالی به د مسلمانانو دغه ډله په شهادت سر فرازه کړي.

په يوه بل حديث کې د دې واقعې تفصيل

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

قيامت تر هغه وخته نه قايميږي تر څو چې عيسايان د اعماق؛؛ يا دابق؛؛ [1] په مقام کې پړاو وا نه اچوي، له عيسايانو سره د مقابلې لپاره به له

---

[1] - دابق دا د تاريخي ملک شام د (سوريا) ښار حلب په يوه طرف د اخترين په سيمه کې واقع دی. د ترکيې له حدودو څخه يوازې لس کلو ميتره ليرې ده. دا ځای زرعي اجناس. خاصکر د غنمو او الو لپاره ډير مشهور دی. د دغه ځای له مينځ څخه د قويق نهر تير شوی کوم چې به کرم

مدينې څخه د مسلمانانو يو لښکر روان شي کوم به چې په دې وخت کې د زمکې په سر بهترين خلک وي، کله چې دواړه صفونه د مقابلې لپاره سره مخامخ شي نو عيسايان به ووايي: تاسو خلک لرې ودريږئ، لومړی مونږ له هغو خلکو سره جنګ کوو کوم چې له مونږ څخه نيولی شوي دي (له دې خبرې معلوميږي چې د مسلمانانو او عيسايانو تر مينځ به له دې د مخه هم ډير جنګونه شوي وي په کومو کې به چې مسلمانانو فتح ترلاسه کړي وي او عيسايان به يې بنديان نيولي وي او هغوی به مسلمان شوي وي او دا وخت به په دې لښکر کې شامل وي او له عيسايانو سره به د جهاد کولو لپاره راغلي وي) مګر مسلمانان به ووايي: نه ! په الله قسم! مونږ به له خپلو ورونړو کله هم جلا نشو. جنګ به شروع شي او د مسلمانانو د لښکر يوه برخه به د جنګ له ميدان څخه وتښتي، الله تعالی به هيڅکله د هغوی توبه قبوله نکړي، د دغه لښکر يوه برخه خلک به جهاد وکړي او شهيدان به شي، دا خلک د الله تعالی په نزد بهترين شهيدان دي، پاتې يوه برخه د لښکر خلک به په جنګ کې فتح تر لاسه کړي، دا خلک به کله هم په فتنه کې مبتلا نشي او دا خلک به قسطنطنيه هم فتح کړي، کله چې دوی خپلې اسلحې د زيتونو ونو پورې را ځوړند کړي او د غنيمت مال تقسيموي نو شيطان به د هغوی منځته راشي او نعره به کړي: اې خلکو ! له تاسو وروسته مسيح دجال د ستاسو کورونو ته داخل شوی (له دې څخه به د شيطان مقصد د دوی په ويره او ډار کې مبتلا کول وي) د اسلامي لښکر فوځيان به له دې ځای څخه ووځي او هغوی به د دجال لوري ته متوجه شي، د شيطان دا خبره به باطله وي، مګر کله چې هغوی شام ته ورسيږي نو په رښتيا به مسيح دجال ښکاره شوی وي (١).

موسم کې ډک وي. دا ځای د تاريخ په هر دور کې د مسلمانانو لپاره يو دفاعي مرکز شوی. دا ځای د هغې غښې خونريزي(لوی جنګ) ځای دی د کوم ذکر چې د قيامت به نښانو کې راغلی.

١- صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۸۹۷.

د دجال له راوتو د مخه مخته راتلونکي څو نور واقعات

حضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

د دجال له خروج څخه د مخه درې کلونه به ډېر سخت وي، خلک به په دې کلونو کې د خوراکي شيان له کمبوډ سره مخامخ شي، په اول کال به الله تعالی آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپله يوه برخه باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل يوه برخه پيداورا ودروي، بيا به په دويم کال کې آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپل دوه برخې باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل دوه برخې پيدا وار ودروي، په دريم کال به الله تعالی آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپل ټول باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل ټول پيدا وار ودروي، نتيجه به دا شي چې له اسمان څخه به يوه قطره باران نه را وريږي او له زمکې څخه به هيڅ نباتات نه را زرغونيږي، د زمکې په سر چيرته هم چې سايه داره ونه وي هغه به تباه برباد شي، مګر کومې ته چې د الله تعالی خوښه وي هغه به بچ پاتې شي (يعني له يو کم شمير ونو پرته نورې ټولې ونې به له منځه ولاړې شي) [1].

خلکو پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! په دې صورتحال کې به د خلکو د معاش ذريعه څه وي؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هغوی به (لا اله الا الله، الله اکبر او الحمد لله) په کثرت سره لولي او دا ذکر به هغوی ته د خوراک کار ورکوي.

---

[1] - سنن ابن ماجه، الفتن، حديث: ۴۰۷۷، وفي سنده مقال.

یو څه اضافه واقعات

حضرت راشد بن سعد رضي الله عنه بیان کوي:

کله چې اصطخر [۱] فتح شي نو یو منادي به آواز وکړي: دجال ظاهر شو، حضرت صعب بن جثامه چې ور سره ولیدل نو وې ویل: که دې دا خبره نه وای کړې نو ښه به وای، زه تا ته وایم ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه آوریدلي چې ویل یې:

﴿لایخرج الدجال حتی یذهل الناس عن ذکره، وحتی تترک الائمة ذکره علی المنابر﴾ ([۲]).

ژباړه:

دجال تر هغه وخته نه راووځي تر څو چې خلک د هغه له یادولو څخه غافل (بې پروا) نشي او تر دې چې خطیبان په منبرونو باندې د هغه یادول پریږدي.

د دجال جسماني نښې

(قصیر افحج) د هغه قد به وړکی وي او د پنډیو په مینځ کې د لیرې والي له امله به د هغه تګ عیبجن وي.

(جعدا) د هغه ویښتان به نرم او سیخ نه وي، بلکه تاو شوي به وي.

(جفال الشعر) د هغه ویښتان به ګوړګوتي وي.

(مطموس العین) سترګه به یې د چټ شوي انګور په څیر وي.

(هجان) سپین رنګ والا.

(اجلی الجبهة) پراخ تندی به یې وي.

---

[۱] - اصطخر: : د ایران له پخوانیو او مشهورو ښارونو څخه یو ښار دی. ایراني بادشاهان دلته اوسیدلي دي او همدلته خزانې هم شته دي.

[۲] مسند احمد: ۴/ ۷۱. رواه عبد الله بن احمد من روایة بقیة عن صفوان بن عمرو وهی صحیحة کما قال ابن معین. وبقیة رجاله ثقات.

(مکتوب بین عینیه (ک) (ف) (ر) د هغه د دواړو سترګو په مینځ کې به همدا توري لیکل شوي وي، دا به هر لیکونکی او لوستونکی او ساده مؤمن لوستلای شي.

(عقیم) هغه به بې اولاده وي، یعنې د هغه به هیڅ اولاد نه وي.

دلته چې د دجال کومې نښې بیان شوې د هغوی خلاصه دا ده چې هغه د یوه واړه قد، د مضبوط جسم او لوی سر لرونکی دی، د هغه دواړه سترګې به عیبجنې وي، چپه سترګه به یې د انګور دانې په څیر چته وي، په ښی سترګه به یې د غوښې ټوټه راغلې وي، ویښتان به یې ګڼ او تاو شوي وي او د پوستکي رنګ به یې سپین وي، د هغه د دواړو پنډیو په مینځ کې به فاصله زیاته وي. د هغه د دواړو سترګو په مینځ کې به (ک) (ف) (ر) لیکل شوي وي.

د دجال د ظاهریدو ځای

حضرت ابو بکر ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿إن الدجال يخرج من أرض بالمشرق يقال لها خراسان ([1]) يتبعه أقوام كأن وجوههم المجان المطرقة﴾ ([2]).

ژباړه: دجال به د مشرق له یوه داسې ځای څخه خروج وکړي کوم ته چې خراسان ویل کیږي او د هغه پیروي به داسې خلک وکړي د کومو شکلونه به چې د ګردو ډالونو په څیر وي.

د دجال ابتدائي ظهور او شهرت به د شام او عراق تر مینځ وي (والله اعلم)

حضرت نواس بن سمعان ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ د دجال په باره کې وفرمایل:

---

[1] خراسان د ایران یوه لویه صوبه ده.

[2] مسند احمد ۱/۴. وجامع الترمذي. الفتن. حديث: ۲۲۳۷. وصححه الالباني في صحيح الترمذی.

﴿انه خارج خلة بين الشام والعراق﴾ ([1]).

ژباړه: هغه به د شام او عراق تر مينځ په يوه ځای کې ښکاره شي.

د جساسه قيصه او دجال

عامر بن شراحيل شعبي ويلي چې هغه فاطمة بن قيس رضی الله عنها ته وويل: ما ته يو داسې حديث بيان کړه کوم چې تا براه راست له نبي کريم ﷺ څخه آوريدلی وي او د الله له رسول ﷺ پرته د بل هيچا لور ته منسوب نه وي، هغې راته وويل: که چيرته ته غواړې نو زه به همداسې وکړم، عامر وويل: سمه ده راته بيان يې کړه، فاطمة رضی الله عنها وويل: يوه ورځ ما د نبي کريم ﷺ د منادي آواز واوريد، هغه اعلان کاوه: خلکو! لمونځ دريدونکی دی، دا مې چې واوريدل نو د مسجد لور ته ولاړم او د الله د رسول شا ته مې لمونځ اداء کړ، زه د ښځو په هغه صف کې وم کوم چې له سړيو بيخي شا ته وو، کله چې نبي کريم ﷺ له لمانځه فارغ شو او په منبر باندې کيناست نو نبي کريم ﷺ تبسم وکړ او وې فرمايل:

هر څوک دې په خپل ځای کښيني، بيا يې وفرمايل: آيا تاسو پوهيږۍ چې نن ما تاسې په مسجد کې ولې جمع کړي ياست؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم وويل: الله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي.

نبي کريم ﷺ وويل: په الله قسم! ما تاسې خلک د رغبت يا ډارولو لپاره نه ياست را جمع کړي، بلکه ما تاسو د دې لپاره را بللي ياست چې (تاسو ته يوه مهمه واقعه بيان کړم) تميم داري کوم چې نصراني دی ما ته راغی او زما په لاس يې بيعت وکړ او مسلمان شو، هغه ما ته يوه واقعه بيان کړه کومه چې زما له هغو احاديثو سره برابره ده کوم چې ما تاسو خلکو ته د مسيح دجال په باره کې بيان کړي دي، تميم داري ما ته وويل چې هغه د

[1] - صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ٢٩٣٧.

قبیلې بنو لخم او بنو جزام له دیرشو (۳۰) خلکو سره یو ځای د بحري جهاز په سفر کې وو چې د اوبو موجونو د هغوی د جهاز لار بدله کړه، هغوی تر یوې میاشتې پورې په سمندر کې له ګرځیدو وروسته یوې جزیرې ته نږدې ووتل او د لمر لویدو په وخت کې جهاز یوې جزیرې ته نږدې ور ورسید، بیا په یوه وړه کشتۍ کې کیناستل او جزیرې ته ورسیدل او هلته ور داخل شول، هلته هغوی د ګڼو ویښتانو درلودونکی یو ځناور ولید، د ویښتانو د ډیر والي له امله نه معلومیده چې د هغه مخکنۍ لوری کوم دی او وروستنی لوری یې کوم دی.

هغوی په تعجب سره وویل: تیراستیاناس! ته څه شی یې؟

هغه وویل: زه جساسه یم.

هغوی وویل: جساسه څه شی دی؟

هغه وویل: تاسو خلک هغه سړي ته ورشئ کوم چې په یو څه لیرې ځای کې اوسیږي او هغه د ستاسو پوهیدوته ډیر خواهشمند دی.

جساسه چې کله خپل نوم واخیست نو له مونږ سره دا اندیښنه پیدا شوه چې دا کوم شیطان نه وي، مونږ زر د هغې خانقاه لور ته ولاړو، کله چې مونږ هغې ته ور داخل شوو نو مونږ یو عظیم الجثه انسان ولید کوم چې ډیر مضبوط تړل شوی وو. د هغه دواړه لاسونه په غاړې پورې بند شوي وو او سر له پښو په ځنځیرونو کې بند وو.

مونږ وویل: دستا لپاره هلاکت دی. ته څوک یې؟

هغه وویل: تاسو خلک به زما په پیژندلو کې کامیاب شئ. اول تاسو دا ووایئ تاسو څوک یاست؟

مونږ وویل: مونږ عرب یو، مونږ په یوه بحري جهاز کې سپاره وو چې د اوبو چپو در بدره کړو. بالاخر مونږ دې جزیرې ته را ورسیدو، بیا په یوه وړه کشتۍ کې کیناستو او دلته را ورسیدو، هلته مونږ یو ځناور ولید د کوم په بدن چې له اندازې زیات ویښتان وو او د هغو له امله یې په مخته او شا

لوري کې تميز کول مشکل وو، مونږ له هغه څخه وپوښتل: دستا لپاره تباهي او بربادي ده: ته څوک يې؟
هغه راته وويل : زه جساسه يم.
مونږ وويل : جساسه څوک دی؟
هغه راته وويل: تاسو خلک د دغه لوی محل خانقاه ته ورشی، هلته چې کوم سړی ده هغه دستاسو د خبرو ډير شوقين دی، مونږ ډير په تيزي سره د ستا لوري ته راغلو، مونږ له هغه ځناور څخه هم ډير ووريدو هسې نه چې هغه کوم شيطان نه وي. هغه راته وويل: زه د (بيسان) [1] کجورو د باغونو په باره کې څه وئيل غواړم.
مونږ ورته وويل: ته د دغه ښار د کوم شي په باره کې پوښتنه کول غواړې؟
هغه راته وويل: دا راته ووايا ست آيا د دغه ځای ونې ګلونه ورکوي؟
مونږ ورته وويل: هو ! ورکوي يې.
هغه وويل: نږدې ده چې د دغه ځای ونې به د ګلونو ورکول بند کړي.
هغه وويل : ما ته د بحريه طبريه [2] په باره کې څه ووايا ست؟
مونږ ورته وويل: ته د هغه په باره کې د کوم شي پوښتنه کول غواړې؟
هغه وويل: آيا په هغه کې اوبه شته دي؟
مونږ وويل: په هغه کې ډيرې اوبه دي.
هغه وويل: نږدې ده چې د هغه اوبه به ختمې شي.
هغه وويل: ما ته د زغر [3] چينې په باره کې څه ووايا ست؟

---

[1] بيسان. د فلسطين په ښارونو کې يو ښار دی کوم د نهر جالوت په مغرب کې واقع دی.
[2] دا د اردن او فلسطين په مينځ کې واقع دی.
[3] - زغر د اردن د بحيره مردار په څنډه باندې واقع يو کلی دی. علامه ابن اثير ويلي. زغر په شام کې د بلقاء په زمکه باندې د يوې چينې نوم دی. وګورئ النهاية:۲/ ۳۰۴. ځينی اهل علمو بحيره مردار ته زغر ويلي.

مونږ وویل: ته د هغې د کوم شي په باره کې پوښتنه کول غواړې؟
هغه وویل: آیا په دغې چینې کې اوبه شته دي او آیا د هغه ځای اوسیدونکي د هغې په اوبو کښت کاري کوي؟
مونږ وویل: هو ! په هغې کې ډیرې اوبه دي او د هغه ځای اوسیدونکي د هغې په اوبو کښت کاري هم کوي.
هغه وویل: ما ته دا ووایاست چې د هغه (امیین) نبي څه حال دی؟
مونږ وویل: هغه له مکې څخه هجرت کړی او په مدینه کې اوسیږي
هغه وویل: آیا عربو له هغه سره جنګ وکړ؟
مونږ وویل: هو ! وې کړ.
هغه وویل: بیا نتیجه څه شوه؟
مونږ هغه ته خبر ورکړ چې هغه په ټولو عربو باندې بر لاسی شو او هغوی ټولو د هغه اطاعت قبول کړ.
هغه وویل: آیا ټول شوي دي؟
مونږ وویل: هو ! بالکل.
هغه وویل : دا د هغوی لپاره بهتره ده چې د دغه نبي اطاعت وکړي، اوس زه تاسو ته د خپل ځان په باره کې وایم، زه مسیح دجال یم. عنقریب به ما ته په کوم وخت کې د خروج اجازه راکړل شي، زه به را ووځم او د ټولې زمکې په هر ښار به په څلویښتو ورځو کې وګرځم پرته له مکې او مدینې. ځکه چې دا دوه ښارونه په ما حرام کړی شوي دي. که زه په دغو دواړو کې هر یوه ته د داخلیدو کوشش وکړم نو زما مخته به یوه فرښته وي او له تورې سره به زما په لار کې ولاړه وي، هغه ما دغو ښارونو ته له داخلیدو څخه منعه کوي. د مکې او مدینې په ټولو لارو کې به فرښتې متعین کړی شوې وي کومې به چې د هغوی حفاظت کوي

فاطمه بنت قیس رضی الله عنها بیان کوي: بیا نبي ﷺ په خپلې امسا سره منبر وواهه او وې فرمایل: دا طیبه ده، دا طیبه ده، دا طیبه ده، یعنې مدینه منوره، بیا نبي ﷺ وفرمایل: آیا دا خبره ما تاسو ته د مخه نه وه بیان کړې؟ خلکو ورته وویل: هو! بیان کړې دې وه.

بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: ما ته د تیمیم داري خبره ښه ښکاره شوه، ځکه هغه زما د هغې خبرې مطابق ده کومه چې ما تاسو ته د دجال په باره کې او د مکې او مدینې په متعلق کې کړې وه، خبر دار اوسئ! دجال د شام یا یمن په سمندر کې دی، بلکه هغه د مشرق لوري ته دی، هغه د مشرق لوري ته دی، هغه د مشرق لوري ته دی او نبي کریم ﷺ په خپل لاس سره د مشرق لوري ته اشاره وکړه[1].

ما چې د دجال په باره کې د ځینو مؤلفینو کتابونه ولوستل نو د هغوی د مسیح دجال د موجودګي ځای او د برمودا مثلث په مابین کې د ربط ټاینولو کوشش کړی. سره له دې چې د برمودا مثلث حقیقت تر نن ورځې یو پټ راز دی او هیچا ته ښکاره نه دی.

د برمودا مثلث حقیقت او د هغه له مسیح دجال سره تعلق

د برمودا مثلث په باره کې خبرې کول د بې هوده حکایاتو او فرضي واقعاتو په څیر دي.

جغرافیایي موقعیت

برمودا مثلث د بحر اوقیانوس او د متحده امریکا د فلوریډا ریاست جنوب مشرقي دی، د دغې علاقې شکل مثلث دی. دا د مغرب له لوري له میکسیکو څخه شروع ده په جنوب کې تر جزیره لیوړد (ویسټ انډیز) پورې، بیا په شمال کې برمودا د درې سوه وړو جزیرو مجموعه ده د کومو

[1] - د مدینة الرسول ﷺ مشرق لوري ته عراق او ایران پراته دي.

ابادي چې په پنځه دیرش زره نفوس باندې مشتمله ده، بیا تر خلیج میکسیکو او جزائر بهاماز پورې رسیدلې دی.

په جزائر برمودا کې د مزاحمت ځایونه

د بحر اوقیانوس په شمال غرب کې یو خاص ځای دی کوم ته چې (بحیره سرگاسو) ویل کیږي، د هغه د اوبو یوه خاصه خبره دا ده چې په هغه کې یو قسم خاص سمندري نباتات را زرغونیږي کوم چې (سرگاسم) بلل کیږي، دا په ډیر مقدار کې په اوبو کې خپاره شوي او د بحري جهازونو په رفت آمد کې ډیر مشکل جوړوي.

بحیره سرگاسو د خپل مکمل او پر سکون خاموشي له امله ډیر مشهور دی، په هغه کې هوا گانې او سمندري طوفانونه شاذ او نادر پېښیږي، هغه ته دهشت ناک سمندر او د اوقیانوس قبرستان هم ویل کیږي. له ځینې تحقیقي رپوټونو څخه واضحه کیږي چې د هغه په تل کې ډیر سمندري جهازونه، کشتۍ او اوبتلونه موجود دي، کوم چې په مختلفو زمانو کې همدلته غرق شوي دي.

په جزائر برمودا کې د ورکیدا اغاز

په سنه (۱۸۵۰ عیسوي) کې په دغه مخصوص ځای کې یا له ده سره په گاونډیو سیمو کې تقریباً (۵۰) بحري جهازونه ورک شوي دي. البته په هغوی کې د ځینو جهازونو کپتانان په آخرو شیبو کې د خطر احساسولو په وخت کې د یو شمیر پیغامونو په لیږلو کې کامیاب شوي. خو دا دومره مبهم او غیر واضح دي چې هیڅوک پرې پوهیدلای نشي.

په دغو جهازونو او ابتلونو کې د ورک شویو اکثرو حلکو تعلق د متحده امریکا له ریاستونو سره دی، تر ټولو لومړی چې کوم جهاز ورک شو د هغه نوم (انسرجنټ) وو په کوم کې چې ۳۴۰ کارگران سپاره وو، له دې وروسته

یو اوبتل ورک شو د کوم نوم چې (اسکورپین) وو، په دې اوبتل کې په دریابونو او سمندرونو کې کار کونکي ۹۹ کارګران سپاره وو.

د طیارو د ورکیدا واقعات

د ورکیدا دغه سلسله د بحر اوقیانوس فضا ته هم رسیدلې، کومې طیارې چې د بحر اوقیانوس خاصکر د جزائر برمودا فضا ته ور داخلې شوې نو هغه ورکې شوې دي، په سنه (۱۹۴۵عیسوي) کې د امریکا (فلوریډا) ایالت له نیول ائربیس څخه پنځه بمبار کوونکي طیارې د معمول مطابق په تربیتي پرواز روانې وي، دا پنځه سره طیارې یو ځای په مثلث شکل کې د غورځیدا په حالت کې وي او د بحري جهاز په څیر په سمندر باندې را وغورځیدې او د هغه د ملبې لوري ته ولاړې. د ائربیس عمله د دغو طیارو له لوري څخه یوه داسې پیغام ته په انتظار کې وه تر څو پائلوټان ورته ووایې چې هغوی چیرته او په څه ډول کوزیږي چې یو ناڅاپه یې د دغه ګروپ له کمانډر څخه یو عجیب او غریب پیغام تر لاسه کړ، د ګروپ کمانډر (چارلس ټیلر) د ائربیس کنترولونکي دفتر ته پیغام ولیږه.

مونږ دا وخت په ایمرجنسي حالت کې یو. مونږ خپل لوری په مکمل ډول ورک کړی، مونږ د زمکې له لیدو څخه عاجز یو، مونږ دا هم نشو ویلای چې دا وخت مونږ چیرته یو. مونږ په فضا کې ورک شوي یو، دلته هر شی عجیب، غریب او د اندیښنې وړ دي، مونږ د هیڅ لوري تعین نشو کولای او کوم سمندر چې زمونږ مخته دی دا هم یو عجیب او غریب سمندر دی او مونږ نه پوهیږو چې دا کوم سمندر دی. له دې وروسته سمدستي د کنترول له دفتر سره د فضائي بیټړۍ هر رنګه تماس قطع شو، له دې وروسته هم ډیرې طیارې همدلته ورکې شوې دي.

د دغه مثلث په باره کې ځینې نور تشریحات

د زلزلو نظریه او په مثلث برمودا باندې له واقع کیدونکو واقعاتو سره د هغه تعلق

د دغې نظريې مطابق چې د سمندر لاندې واقع کيدونکې زميني زلزلې او جټکې د سمندري موجونو د شدت، طوفاني هواګانو او بيړنى حالت پيدا کوي د کومو له امله چې بحري جهازونه ډوبيږي او هغه يې اناً فاناً په پوره قوت سره د سمندر لاندې برخې ته را کش کوي، تر کومه ځايه چې په فضا کې د طيارو د راغورځيدو تعلق دی نو د همدغو جټکو او موجونو له امله په فضا کې هم داسې هواګانې پيدا شي کومې چې د طيارو توازن خراب کړي او پيلوټ بيا د طيارې په کنټرولو قدرت نلري.

په جزائر برمودا باندې د پاسه د تيريدا په وخت کې په طيارو کې موجودې قطب نما او نور آلات په عجيب او غريب شکل کې حرکت کول پريږدي، دا صورتحال د بحري جهازونو پيلوټانو ته هم مخته راغلی کوم چې د دغه امر دليل دی چې هلته د يوه سخت مقناطيسي قوت يا جذب عجيب او غريب قوت موجود دی.

د دجال له خروج څخه د مخه راتلونکي واقعات

د عربو قلت

سيده ام شريک رضی الله عنها بيان کوي چې هغې له رسول الله ﷺ دا اوريدلي چې فرمايل يې:

﴿ليفرن الناس من الدجال في الجبال قالت أم شريك يا رسول الله فأين العرب يومئذ ؟ قال هم قليل﴾ ([1]).

ژباړه:

خلک به له دجال څخه ويريږي او د غرونو لور ته به تښتي، ام شريک عرض وکړ يا رسول الله! په دغه ورځ به عرب چيرته وي؟ نبي کريم ﷺ وويل: هغه به ډير کم وي

[1] صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ۲۹۴۵.

سخت جنګ او د قسطنطنیه فتح

﴿عمران بيت المقدس خراب يثرب وخراب يثرب خروج الملحمة وخروج الملحمة فتح القسطنطينية وفتح القسطنطينية خروج الدجال﴾ ([1]).

ژباړه:

د بیت المقدس اٰبادي په اصل کې د مدینې بربادي ده، مدینه چې برباده شي نو یو لوی جنګ به شروع شي، چې دا جنګ شروع شي نو قسطنطنیه به فتح شي او کله چې قسطنطنیه فتح شي نو بیا به زر دجال ظاهر شي.

فتوحات

حضرت نافع بن عتبه رضي الله عنه بیان کوي:

مونږ خلک یو ځل له رسول الله ﷺ سره د جهاد په یوه سفر باندې ولاړو، نبي کریم ﷺ ته د مغرب له لوري یو قوم راغی، د هغوی په بدن باندې د اون جامې وې، د هغوی ملاقات د خدای تعالی له رسول ﷺ سره په یوه لوړ ځای باندې وو، هغوی ولاړ وو او د الله تعالی رسول ناست وو، زما په خیال کې راغله چې زه د هغوی او د الله تعالی د رسول ﷺ په مینځ کې ودریږم، هسې نه هغوی د خدای تعالی رسول په دوکه کې مړ نکړي، بیا ما وویل: شاید د الله تعالی رسول ﷺ له هغوی سره کومه پټه خبره به کوي. بهر حال زه راغلم د الله تعالی د رسول ﷺ او د هغوی په مینځ کې ودریدم، ما له رسول الله ﷺ څخه څلور خبرې زده کړې کومې چې زه په ګوتو سره شمارلی شم، رسول الله ﷺ وفرمایل:

﴿تغزون جزيرة العرب فيفتحها الله ثم فارس فيفتحها الله ثم تغزون الروم فيفتحها الله ثم تغزون الدجال فيفتحه الله﴾ ([2]).

---

[1] - مسند احمد: ۵/۲۳۲، وسنن ابي داؤد، الملاحم، حدیث: ۴۲۹۴.
[2] - صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۰۰.

ژباړه: تاسو به په جزیره عرب کې جنګ وکړی الله تعالی به هغه فتح کړي، بیا به تاسو په ایران باندې حمله وکړی او هغه به هم الله تعالی فتح کړي، بیا به تاسو په روم باندې حمله وکړی هغه به هم الله تعالی فتح کړي. بیا به تاسو په دجال حمله وکړی الله به هغه هم فتح کړي، یعنې هغه ځای په کوم ځای کې چې له دجال سره جنګ کوی او د هغه په ملګرو به فتح ترلاسه کړی.

د باران او حاصل ورکیدل

حضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

د دجال له خروج څخه د مخه درې کلونه به ډیر سخت وي، خلک به په دې کلونو کې د خوراکي شیان له کمبود سره مخامخ شي، په اول کال به الله تعالی آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپله یوه برخه باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل یوه برخه پیداورا ودروي. بیا به په دویم کال کې آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپل دوه برخې باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل دوه برخې پیدا وار ودروي، په دریم کال به الله تعالی آسمان ته حکم وکړي چې هغه خپل ټول باران ودروي او زمکې ته به حکم وکړي چې هغه خپل ټول پیدا وار ودروي، نتیجه به دا شي چې له اسمان څخه به یوه قطره باران نه را وریږي او له زمکې څخه به هیڅ نباتات نه را زرغونیږي، د زمکې په سر چې کوم ساه لرونکی څناور وي لکه غوا، بزې او وغیره هلاک به شي، مګر کومو ته چې د الله تعالی خوښه وي هغه به بچ شي[1].

د فتنو ډیر والی، فتنه احلاس، فتنه سراء، فتنه دهمیاء او د خلکو په مینځ کې اختلاف

له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په اوږده حدیث مبارک کې فرمایلي:

[1] سنن ابن ماجه. الفتن. حدیث: ۴۰۷۷. وفي سنده مقال. وله شاهد من حدیث اسماء بنت یزید الانصاریة عند احمد وابي داؤد.

﴿ثم فتنة السراء دخنها من تحت قدمي رجل من أهل بيتي يزعم أنه مني وليس مني وإنما أوليائي المتقون ثم يصطلح الناس على رجل كورك على ضلع ثم فتنة الدهيماء (تصغير الدهماء) لا تدع أحدا من هذه الأمة إلا لطمته لطمة فإذا قيل انقضت تمادت يصبح الرجل فيها مؤمنا ويمسي كافرا حتى يصير الناس إلى فسطاطين (المدينة التي يجتمع فيها الناس) فسطاط إيمان لا نفاق فيه وفسطاط نفاق لا إيمان فيه فإذا كان ذاكم فانتظروا الدجال من يومه أو من غده﴾ ([1]).

ژباړه:

بیا به د خوشحالي فتنه ظاهره شي کومه به چې د يوه داسې سړي له قدمو څخه را پورته شي چې زمونږ له اهل بيت څخه به وي، هغه به په خپله زمونږ له خاندان څخه د ځان ګمان کوي که نه په اصل حقيقت کې به له مونږ سره هيڅ تعلق نلري، ځکه چې زما دوستان يواځې متقيان دي، بيا به خلک په داسې سړي باندې سره متفق شي کوم به چې داسې وي لکه په پښتۍ باندې دروند شی (خلک به د يوه داسې سړي په بادشاه جوړولو متفق شي کوم به چې د خپل جهالت له امله د بادشاهي لپاره په هيڅ صورت موزون نه وي او نه به هغه د امورو په ترتيبولو قدرت لري، لکه څرنګه چې پښتۍ د لوی وزندار شي وزن نشي برداشت کولای، نبي کريم ﷺ وويل: له دې وروسته به يوه ډيره دردناکه فتنه شروع شي د کومې ضرر به چې زما د امت هر کس ته ورسيږي، هيڅ کس به له هغې محفوظ پاتې نشي، کله هم چې څوک وواييي دا فتنه ختمه شوه نو هغه به له پخوا څخه هم شدت اختيار کړي. انسان به د صبا په وخت کې مؤمن وي او د ماښام په وخت کې به کافر شي حتی چې خلک به په دوو ډلو کې وويشل شي. يوه ايمان لرونکې کومه به

---

[1] سنن ابي داؤد. الفتن والملاحم. حديث. ۴۲۴۲.

چې له يوه مخه له نفاق څخه خالي وي او بله نفاق لرونکې کومه به چې له ايمان څخه خالي وي، کله چې داسې حالات راشي نو په دې وخت کې دجال ته انتظار کوی، په دغه ورځ به راځي يا به په بله ورځ کې راشي.

د ديرشو دجالانو او کذابو خروج

حضرت سمره بن جندب ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿وانه والله لا تقوم الساعة حتى يخرج ثلاثون كذابا آخرهم الأعور الدجال ممسوح العين اليسرى﴾ ([1]).

ژباړه:

په الله قسم! قيامت به تر هغه وخته قايم نشي تر څو چې ديرش دروغژن ظاهر نشي، په دوی کې به تر ټولو آخيرنی دجال ړوند وي د کوم به چې يوه سترګه چته وي.

دجال څنګه ظاهريږي؟

د حضرت تميم داري ﷺ د دجال او جساسه په حديث کې تير شول چې دجال دا وخت په سمندري جزيره کې قيد دی او هغه د نبي کريم ﷺ په زمانه کې ژوندی دی، دا يو عظيم الجثه شخص دی، تميم داري او د هغه ديرشو ملګرو هغه ليدلی چې هغه په زنځيرونو باندې تړل شوی وو، د دوی او د دجال تر مينځ خبرې هم شوې دي، هغه دوی ته ويلي دي چې دی دجال دی او عنقريب به د سختې غصې په عالم کې زنځيرونه مات کړي او له خپل قيد څخه به د باندې را ووځي ([2]).

---

[1] مسند احمد: ٥ / ١٢.

[2] تفصيل يې په تيرو صفحو کې تير شو.

د هغه د خروج سبب

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمایي چې زه د مدینې په یوه لاره باندې له ابن صیاد سره مخامخ شوم، ما هغه ته یوه داسې خبره وکړه د کومې له امله چې هغه په غصه شو او دومره وپړسید چې د هغه له وجود څخه ټوله لار ډکه شوه، ابن عمر د سیده حفصه بنت عمر رضی الله عنهما کور ته داخل شو نو ابن عمر ته د ابن صیاد د غصې خبر ورسید، سیده حفصه رضی الله عنها ووېل: الله دې په تا رحم وکړي، تا هغه ولې په غصه کاوه؟ آیا تا ته معلومه نه ده چې رسول الله ﷺ فرمایلي: ﴿انما یخرج من غضبة یغضبها﴾ ([1]).

ژباړه:

دجال یوائې هغه وخت له خپل قید څخه د باندې را ووځي کله چې هغه په سخته غصه کې راشي.

پر زمکه د هغه رفتار

له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه: د دجال به په زمکه باندې رفتار څنګه وي؟

نبي کریم ﷺ وفرمایل:

﴿کالغیث لستدبرته الریح﴾ ([2]).

ژباړه: د هغه باران په څیر به وي د کوم تر شا چې هوا وي.

مطلب دا چې هغه به په ډېره تیزي سره د زمکې په هره برخه وګرځي او ټولې زمکې ته به ورسیږي.

حضرت جابر رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

[1] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۲.

[2] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۷.

دجال هغه وخت راووځي کله چې په خلکو کې دين کم شي او علم ختم شي، هغه به په زمکه کې تر څلويښتو ورځو پورې وګرځي، په هغوی کې به يوه ورځ د يوه کال په څير، يوه ورځ د يوې مياشتې په څير او يوه ورځ د يوې هفتې په څير وي، له دې وروسته به پاتې نورې ورځې د ستاسو د عامو ورځو په څير وي، له هغه سره به يو خر وي په کوم به چې هغه سپور وي، د هغه د دواړو غوږونو په مينځ کې به د څلويښتو لاسونو برابر فاصله وي، هغه به د خلکو خوا ته راشي او وايي به: زه ستاسو رب يم، سره له دې چې هغه به په يوه سترګه ړوند وي او دستاسو رب هيڅکله داسې نه دی. د هغه د دواړو سترګو په مينځ کې به (ک) (ف) (ر) ليکل شوي وي. هر مؤمن به هغه لوستلی شي خواه هغه لوستل کولای شي او که نه. هغه به له هرې چينې او اوبو څخه تير شي مګر مکې او مدينې ته به داخل نشي، ځکه چې الله تعالی په هغه دغه دواړه ښارونه حرام کړي دي او فرښتې به د دغو ښارونو په دروازو کې پهره کوي [1].

هغه ځايونه چيرته چې دجال راځي

حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ليس من بلدة الا سيطوه الدجال الا مكة والمدينة﴾ ([2]).

ژباړه: له مکې او مدينې پرته دجال به د دنيا هر ملک وګوري.

رسول الله ﷺ فرمايي:

﴿على انقاب المدينة ملائكة لايدخلها الطاعون ولاالدجال﴾ ([3]).

---

[1] مسند احمد ۴/ ۱۸۱. والمستدرک للحاکم:۴/ ۵۳۸. وصححه. وقال الهيثمي في مجمع الزوائد: رواه احمد باسنادين رجال احدهما رجال الصحيح.

[2] صحيح البخاري. فضائل المدينة. حديث: ۱۸۸۱. وصحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۴۳.

[3] صحيح البخاري. الفتن. حديث: ۷۱۳۳. وصحيح مسلم. الحج. حديث: ۱۳۷۹.

ژباړه: د مدینې په دروازو به فرښتې متعینې وي، هغې ته به نه د طاعون مرض داخلیږي او نه دجال.

نبي کریم ﷺ فرمایلي:

مسیح دجال به د مشرق له لوري راځي، د هغه اراده به مدینې ته د داخلیدو وي، مګر کله چې هغه د جبل احد بیخ ته ورسیږي نو فرښتې به د هغه مخته ورشي او د هغه مخ به د شام پر لوري وګرځوي او هغه به هلته مړ شي[1].

په یوه بل روایت کې دي کوم چې له محجن بن ادرع ؓ څخه روایت شوی چې رسول الله ﷺ یوه ورځ خلکو ته د خطبې ویلو په وخت کې وفرمایل:

د نجات ورځ! څه ده د نجات ورځ؟ د نجات ورځ! څه ده د نجات ورځ؟ د نجات ورځ! څه ده د نجات ورځ؟ دا یې درې ځلې وویل، له نبي کریم ﷺ څخه وپوښتنی شول: د نجات له ورځې څه مراد دی؟ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: دجال به راشي: هغه به په جبل احد ودریږي او د مدینې لوري ته به ګوري او خپلو ملګرو ته به وایي: آیا تاسو دا سپین محل وینئ؟ دا د احمد مسجد دی، بیا چې کله د مدینې لوري ته راځي نو په هره لار کې به فرښته له اسلحې سره ولاړه وي او هغه به د شام د جرف مقام یوې شور دارې زمکې ته ولاړ شي او هلته به خیمه ودروي. له دې وروسته به مدینه درې ځلې ولړزیږي د کوم له اثر څخه به چې ټول منافقین او فاسقان ښځې او سړي به مدینه پریږدي او د دجال په لوري به راووځي، دا د نجات ورځ ده[2].

نبي کریم ﷺ فرمایلي:

---

[1] صحیح مسلم. الحج. حدیث: ۱۳۸۰، ومسند احمد: ۲/ ۴۵۷.

[2] مسند احمد: ۴/ ۳۳۸. وبعضه في الصحیحین.

﴿وَإِنَّهُ لاَ يَبْقَى شَيْءٌ مِنَ الأَرْضِ إِلاَّ وَطِئَهُ ، وَظَهَرَ عَلَيْهِ ، إِلاَّ مَكَّةَ ، وَالْمَدِينَةَ ، لاَ يَأْتِيهِمَا مِنْ نَقْبٍ مِنْ نِقَابِهِمَا إِلاَّ لَقِيَتْهُ الْمَلاَئِكَةُ بِالسُّيُوفِ صَلْتَةً﴾

ژباړه:

دجال به له مکې او مدينې پرته ټول ښارونه پايمال کړي او خپل تسلط به پرې راولي، خکه چې د دغو دواړو ښارونو په لارو کې به په تورو سمبالې فرښتې وي او حفاظت به يې کوي.

﴿حَتَّى يَنْزِلَ عِنْدَ الظُّرَيْبِ الأَحْمَرِ ، عِنْدَ مُنْقَطَعِ السَّبَخَةِ ، فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلاَثَ رَجَفَاتٍ ، فَلاَ يَبْقَى مُنَافِقٌ ، وَلاَ مُنَافِقَةٌ إِلاَّ خَرَجَ إِلَيْهِ﴾.

ژباړه:

بيا به دجال په داسې لوړ سور بخون ځای چيرته به چې ګيا نه وي هلته به پړاو واچوي. د مدينې زمکه به خپلو اوسيدونکو ته دری جټکې ورکړي د کومو له امله به چې هر منافق سړی او منافقه ښځه به له مدينې څخه باندې ووځي او د دجال لوري ته به ورشي (١).

د يوه بل رويت الفاظ داسې دي: ﴿فياتى سبحة الجرف فيضرب رواقه﴾.

ژباړه: کله چې هغه مدينې ته داخل نشي نو د (جرف) په مقام کې به په شاړه زمکه پړاو واچوي او هلته به خيمې ودروي (٢).

(الجرف) دا د مدينې د يوې ناحيې ځای دی کوم چې د مدينې شمال لوري ته د دريو ميلو په فاصله کې موقعيت لري. د جرف يو څه برخه داسې هم ده کومې ته چې نن صبا د (ازهري محله) ويل کيږي. ليکن کوم احاديث چې مونږ بيان کړل له هغو ځينې داسې معلوميږي چې جرف تر مرقناة پورې غځيدلی دی.

١- سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۷۷.

٢- صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۴۳.

قناة د حمض وادي ته ویل کیږي او دلته د سیلابونو اوبه سره جمع کیږي.
(تبع یماني) چې کله له خپل کور سره ویاله ولیدله نو له همدې امله یې دغه ټوله علاقه په جرف الارض سره ونوموله.

د تیرو تفصیلاتو خلاصه دا ده چې دجال به د جبل احد شا ته په شاړه زمکه کې کوزیږي، هغه به خپله خیمه یا قبه د جبل ثور په شمال کې په (صادقیه) کې لګوي. په دې علاقه کې واړه واړه سره غرونه دي چې لیدونکو ته یې د الله تعالی د رسول ﷺ احادیث ور په یاد کیږي.

له تمیم داري سره د جساسه او دجال په قیصه کې دي، چې دجال تمیم داري رضي الله عنه او د هغه ملګرو ته وویل: نږدې ده چې ما ته کوم وخت د راوتلو اجازه وشي، زه به را ووځم او په ټوله زمکه به وګرځم، له مکې او مدینې پرته د دنیا په ټوله زمکه به خپل ګشت په څلویښتو ورځو کې پوره کړم، ځکه چې دا دواړه ښارونه په ما حرام دي. زه چې کله هم هغوی ته د داخلیدو کوشش وکړم نو زما مخته به یوه فرښته راشي د کومې په لاسونو کې به چې اسلحه وي، هغه به ما دغو ښارونو ته له داخلیدو منعه کړي، د مکې او مدینې په ټولو لارو به هم فرښتې متعین شوې وي کومې به چې د هغو حفاظت کوي ([1]).

---

[1] صحیح مسلم. الفتن و اشراط الساعة. حدیث: ۲۹۴۲.

د دجال فتنې

اور او اوبه

حضرت خذیفة بن یمان ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿معه جنة ونار، فناره جنة وجنته نار﴾ ([1]).

ژباړه:

له هغه سره به جنت او اور وي، د هغه اور په اصل کې جنت دی او د هغه جنت په حقیقت کې اور دی.

نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿ان معه ماء ونار، فناره ماء بارد وماؤه نار﴾ ([2]).

ژباړه:

له هغه سره به اوبه او اور وي، د هغه اور په اصل کې یخې اوبه دي او د هغه اوبه په حقیقت کې اور دی.

نبي کریم ﷺ فرمايي: زه پوهیږم چې له دجال سره به څه وي، له هغه سره به دوه بهیدونکي نهرونه وي، د سترګو په لیدو به یو سپینې اوبه او بل اور ښکاري، که څوک په هغه کې ور غورځیدل غواړي نو په هغه کې دې ولویږي کوم چې اور ښکاري.

په یوه روایت کې دي:

کوم څوک چې د هغه اور ویني هغه ته دې ګوري، د هغه لور ته دې ور شي، سترګې دې پټې کړي، خپل سر دې په هغه کې ډوب کړي او له هغه څخه دې څښل شروع کړي، ځکه چې هغه اور نه دی بلکه تازه اوبه دي ([3]).

---

[1] صحیح مسلم. الفتن اشراط الساعة. حدیث: ۲۰۳۴.

[2] صحیح البخاري. الفتن. حدیث: ۷۱۳۰. وصحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۴.

[3] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۴.

په یوه بل روایت کې نبي کریم ﷺ فرمایي:

خلکو ته چې کومې اوبه په نظر ورځي هغه په اصل کې بلیدونکی اور دی او خلکو ته چې کوم اور په نظر ورځي هغه په حقیقت کې تازه او تېنګې اوبه دي، که په تاسو کې هر څوک د دجال په وخت کې ژوندي وی نو هغه ته پکار دي چې هغه په اور کې غوټه وخوري، ځکه چې هغه تازه او ښې اوبه دي [1].

په جماداتو او حیواناتو باندې اثر

حضرت نواس بن سمعان رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي؛

دجال به د یوه قوم لوري ته راشي او هغوی به د خپل ځان ته را وبولي هغه قوم به په ده ایمان راوړي، بیا به دجال آسمان ته حکم وکړي نو هغه به د باران ورول شروع کړي. زمکې ته به حکم وکړي نو هغه به د پیداوار ورکول شروع کړي، هغه میګې او بزې کومې چې د څریدا لپاره وتلې وي په داسې حال کې به بیرته راشي چې وینښتان به یې لوی شوي وي، تیونه به یې له شیدو ډک وي، خېټې به یې ډکې وي او د باندې به راوتلې وي، له دې وروسته به دجال یوه بل قوم ته ورشي، هغوی ته به دعوت ورکړي، مګر هغه قوم به له ده څخه انکار وکړي، دی به له دې خلکو څخه ولاړ شي، کله چې دغه خلک د صبا په وخت کې را پورته شي نو خپل فصلونه به ووینې چې برباد شوي دي. بیا به دجال له یوې بې خبره زمکې سره تیریږي، هغه به دې زمکې ته ووایي: خپلې خزانې را وباسه نو هغه به خپلې خزانې را وباسي او د شهدو مچیو په څیر به سره جمع شي او په ده پسې به تر شا رواني وي [2].

---

[1]. صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۴.

[2]. صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۷.

یوه بله فتنه

هغه به یوه بانډه چي (کوچي) سړي ته ووایي: که چیرته زه د ستا مړه شوي مور او پلار را ژوندي کړم نو بیا ما رب ومنه؟ هغه به ورته ووایي: سمه ده، نو به دوه شیطانان د هغه د مور او پلار په شکل کې راشي او کوچي ته به ووایي: زمونږ خوږه بچیه! د دغه تابعداري وکړه، دا د ستاسو رب دی [1].

یوه بله فتنه

هغه به یو داسې کس را وبلي کوم به چې په پوره ځواني کې وي او بیا به هغه په توره دوه ټوټې کړي. بیا به خلکو ته ووایي زما دې بنده ته وګورئ دا زه اوس را ژوندی کوم. خو دی به بیا هم له ما پرته بل څوک رب بولي، دجال به دې ځوان ته ووایي پورته شه! ژوندی شه ودریږه، هغه به ودریږي، په حقیقت کې به هغه الله تعالی ژوندی کړی وي نه دجال، د دغه مقتول ځوان دواړه ټوټې به سره پیوند شي. بیا به دجال خبیث ووایي: ووایه د ستا رب څوک دی؟ هغه ځوان به ووایي: زما رب الله دی، ته د الله دښمن یې، ته دجال یې.

د دجال په سلسله کې یو شمیر غلطې عقیدې

دا عقیده لرل غلط دي چې له هغه سره به د ډوډۍ او خوراکي شیانو یو غر وي کله چې په دې وخت کې قحط او فاقه وي.

حضرت مغیرة بن شعبه رضي الله عنه وایي:

د دجال په باره کې د الله له رسول ﷺ څخه چې ما څومره پوښتنې کړې یا بل چا څومره پوښتنې کړې نو رسول الله ﷺ مونږ ته فرمایلي:

زما بچیه! له تا سره د دجال څه ویره او خطر دی؟ هغه تاسو ته نقصان نشي رسولای، ما پوښتنه وکړه: خلک داسې وایي چې له هغه سره به د اوبو نهر او د ډوډۍ غر وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل:

﴿هو اهون على الله من ذالک﴾ (۱).

هغه د الله په نزد له دې څخه هم ډیر بې وسه دئ.

د دجال پیروان

په دې کې هیڅ شک نشته چې له دجال سره به ډیر طاقت او ډیرې فتنې وي، هغه به خلک له سمې لیارې کږوي او په خپل ځان پسې تر شا تلو لپاره به رنګا رنګ طریقې استعماله وي، هغه به ځان د خلکو رب بولي، په دې کې یوه زره شک نشته چې د هغه په خبرو سره به ډیر خلک په فتنو کې مبتلا شي، هغوی به له ده څخه د فایدې تر لاسه کولو لپاره، یا د هغه له سزا څخه د بچ کیدا لپاره یا هم له اسلام او مسلمانانو سره د جنګ کولو لپاره به د هغه پیروان جوړ شي، په هغوی کې لاندې خلک شامل دي.

یهود

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿یتبع الدجال من یهود اصبهان سبعون الفا، علیهم الطیالسة﴾ (۲).

ژباړه:

د اصفهان (۳) اویا زره (د وړو څادرونو په څیر) جبه پوش یهودیان به د دجال پیروان جوړ شي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لینزلن الدجال حوز وکرمان في سبعین الفا وجوههم کالمجان المطرقة﴾ (٤)

---

۱ - صحیح البخاري، الفتن، حدیث: ۷۱۲۲. وصحیح مسلم، کتاب الاداب، حدیث: ۲۱۵۲.

۲ - صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹٤٤.

۳ - اصفهان د ایران ښار دی کوم چې د ایران په مینځ کې واقع دی، دا د ایران له دارالحکومت تهران څخه جنوب لوري ته تقریبا (۳٤۰) کلومیتره لیری دی، د سرکاري اعلان مطابق په دې کې له پنځه ویښتو څخه نیولې تر دیرشو زرو پورې یهودیان اباد دي.

٤ - مسند احمد: ۲/ ۳۳۷، باسناد حسن.

ژباړه: دجال به په خوز [۱] او کرمان [۲] کې را ښکته شي، له هغه سره به اويا زره خلک وي، د کومو مخونه به چې د ګردو ډالو په څير وي.

(المجان المطرقة) د ګردو ډالونو په څير، يعنې د هغوی سرونه به واړه وي، مخونه به يې ګرد وي او د مخونو هډوکي او پوزې به يې د غوښو له امله چت تر سترګو کيږي

(المجان) د مجن جمع ده، د هغه معنا ده ډال او المطرقة چې څرمنه ورکړل شوي وي، دا د ډالونو صفت دی، يعنې د هغوی مخونه به واړه او له غوښې څخه به ډک وي

يوه پوښتنه

د دجال په پيروانو کې به زياتر يهوديان ولې وي؟

ځواب: له دې امله چې د هغوی دا عقيده ده چې دجال د يهودو مسيح منتظر دی.

د يهودو دا عقيده ده چې الله تعالى له هغوی سره د يوه بادشاه د ظهور وعده کړې کوم به چې د حضرت داؤد ﷺ له اولادې څخه وي، هغه به د يهودو مملکت قايم کړي، د دغه بادشاه نوم د هغوی په کتابونو کې (ميسياه) دی.

د يهودو په مذهبي رسوماتو کې يو شمير دعاګانې او لمنځونه هم شته په کومو کې چې هغوی د مسيح دجال د ظهور لپاره دعاګانې کوي. هغوی د (عيد فصح) شپه د همدا شان دعاګانو لپاره ځانګړې کړې.

د هغوی په مذهبي کتاب (تلمود) کې دي:

کله چې مسيح دجال راشي نو له زمکې څخه به تازه ډوډۍ، د اون جامې او غنم را ووځي، د هغو دانې به ډيرې غټې وي، په دغه زمانه کې به

---

[۱] خوز د مغربي ايران يو ښار دی کوم چې نن ورځ خوزستان ويل کيږي.

[۲] کرمان د ايران په جنوب مشرق کې يو صوبه (ايالت) دی

سلطنت د یهودو په لاس کې وي، د دنیا ټول قومونه به د دغه مسیح خدمت او فرمان برداري کوي، په دغه وخت کې به د هر یهودي په قبضه کې دوه زره اته سوه (۲۸۰۰) غلامان وي کوم به چې د دوی په خدمت باندې مامور وي او درې سوه لس (۳۱۰) کائنات به د هغوی تر تصرف لاندې وي، لیکن مسیح په هغه وخت کې راځي کله چې د شریرو خلکو حکومت ختم شي او د اسرائیلو په راتګ سره د یهودي امت منتظر امیدونه پوره شي او کله چې هغه راشي نو یهودي امت به د ټول عالم په قومونو اقتدار او حکومت تر لاسه کړي [1].

کفار او منافقین

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه بیان کوي چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ لَيْسَ لَهُ مِنْ نِقَابِهَا نَقْبٌ إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا ثُمَّ تَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ فَيُخْرِجُ اللَّهُ كُلَّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ﴾ ([2]).

ژباړه: له مکې او مدینې پرته هیڅ داسې ښار به نه وي کوم ته به چې دجال ور نشي، د مکې او مدینې هره لار به فرښتې څاري او د هغو حفاظت به کوي. کله چې هغه مدینې ته داخل نشي نو په یوه شورداره زمکه به پړاو واچوي، د مدینې زمکه به خپلو اوسیدونکو ته درې جټکې ورکړي او هر کافر او منافق به له مدینې څخه د باندې ووځي او د دجال لوري ته به ور شي.

---

[1] - دا عبارت له کتاب (الکنز المرصود في قواعد التلمود) فصل هفتم. (المسیح و سلطان الیهود) څخه نقل شوی.

[2] صحیح البخاري. فضائل المدینة. حدیث: ۱۸۸۱.

جاهل کوچی

حضرت ابو امامه باهلي ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ په یوه لوی حدیث کې داسې فرمایلي:

د دجال یوه فتنه به دا هم وي چې هغه به یوه کوچي ته ووایي: که چیرته زه د ستا مړه شوي مور او پلار ژوندي کړم ته بیا ما رب منې؟ هغه به ورته ووایي: هو، نو به دوه شیطانان د هغه د مور او پلار په شکل کې د هغه مخته به راشي او کوچي ته به ووایي: زمونږ خوږه زویه! د دغه اتباع وکړه، دا ستاسو رب دی [1].

هغه خلک د کومو مخونه به چې د ګردو ډالونو په څیر وي

حضرت ابو بکر صدیق ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي

﴿إن الدجال يخرج من أرض بالمشرق يقال لها خراسان يتبعه أقوام كأن وجوههم المجان المطرقة﴾ [2].

ژباړه:

دجال به د مشرق له یوې علاقې څخه را ووځي، کومې ته چې خراسان ویل کیږي، د هغه پیروان به داسې قومونه وي د کومو مخونه به چې د ګردو ډالونو په څیر وي.

---

[1] - سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۷۷.

[2] - مسند احمد: ۱/ ۴. وجامع الترمذي. الفتن. حديث: ۲۲۳۷. وحسنه. و سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۷۲. والحاكم: ۴/ ۵۲۷. وصححه ووافقه الذهبي وصححه الالبانی في صحيح ابن ماجه.

ښځې

نبي کريم ﷺ فرمايلي:

﴿ينزل الدجال في هذه السبخة بمر قناة فيكون أكثر من يخرج إليه النساء حتى ان الرجل ليرجع إلى حميمه والى أمه وابنته وأخته وعمته فيوثقها رباطا مخافة ان تخرج إليه﴾ ([1]).

ژباړه:

دجال به په شورداره زمکه د مرقناة په مقام باندې راکوز شي، د هغه لوري ته د تلونکو اکثريت به ښځې وي حتی چې يو انسان به خپل کوم رشته دار، مور، خوی، خور، ترور او ښځې له دې امله په کورونو کې بندې کړي چې هغه د دجال لوري ته ور نشي.

د دجال د اوسيدو موده

د الله تعالی له رسول ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې دجال به تر څومره مودې پورې اوسيږي؟ نو د الله تعالی رسول ﷺ وفرمايل:

﴿اربعون يوما، يوم كسنة، ويوم كشهر، ويوم كجمعة، وسائر ايامه كايامكم﴾ ([2]).

ژباړه: هغه به تر څلويښتو ورځو پورې په زمکه کې اوسيږي، د هغه لومړۍ ورځ به د کال سره برابره وي، دويمه ورځ به يې د يوې مياشتې برابره وي، دريمه ورځ به يې د يوې جمعې برابره وي، له دې وروسته ورځې به د ستاسو د عامو ورځو په څير وي

---

[1] - مسند احمد: ۲/ ۷۷. قال الشيخ الالباني في (قصة المسيح الدجال) ص: ۸۸. اسناده جسن لو لا عنعنة محمد بن اسحاق.

[2] - صحيح مسلم. الفتن. حديث: ۲۹۳۷.

صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ: اې د الله رسول! آیا له کال سره په برابرې ورځې کې پنځه لمنځونه مونږ ته کافي دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: نه! بلکه تاسو د هر لمانځه لپاره د وخت اندازه وکړی.

د دجال له فتنې څخه نجات څنګه کیدای شي؟

له هغه څخه لیرې اوسیدل

حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿من سمع بالدجال فلينا عنه، فوالله! ان الرجل لياتيه وهو يحسب انه مؤمن فيتبعه مما يبعث به من الشبهات﴾

ژباړه:

هر څوک چې د دجال په باره واوري نو له هغه څخه دې لیرې اوسي، په الله قسم! یو سړی کوم چې ځان مؤمن بولي، کله چې هغه ته نږدې ور شي نو د هغه له پیدا کړل شویو شبهاتو څخه به متاثر شي او د هغه په پیروانو کې به ور شامل شي.

د دې حدیث معنا دا ده چې یو چا ته د دجال د راوتلو معلومات وشي نو له هغه څخه دې لیرې اوسي او نږدې دې نه ورځي، یو سړی، کوم چې په ځان د قوي الایمان ګمان کوي کله چې هغه د دجال خوا ته ورشي نو د هغه په غوړیدلي جال کې به را ګیر شي، کله چې د هغه جادو او د مړیو را ژوندي کولو کار ویني نو د هغه په پیروانو کې به شامل شي.

سیده ام شریک رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿ليفرن الناس من الدجال في الجبال﴾ ([1]).

ژباړه: خلک به د دجال له فتنې څخه د بچ کیدا لپاره غرونو ته وتښتي او ځانونه به پټ کړي.

---

[1] - صحیح مسلم. الفتن وشرط الساعة. حدیث: ۲۹۴۵.

په دې زمانه کې به د مسلمانانو لپاره يو امام، يعنې خليفه هم وي او له دې څخه مراد خليفه عادل امام مهدي دی.

له الله تعالی څخه مرسته غوښتل

حضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿من ابتلى بناره فليستغث بالله﴾ ([1]).

ژباړه: څوک چې د هغه د اور په فتنه کې مبتلا شي نو له الله تعالی څخه دې مرسته وغواړي.

د الله تعالی د اسماؤ او صفاتو علم حاصول

دجال په يوه سترګه ړوند دی او الله تعالی هيڅ کله داسې نه دی، بلکه الله تعالی حسين، جميل او له تمامو نقائصو او عيوبو څخه پاک دی، هغه قدوس او له هر عيب څخه مبرا دی، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ ([2]).

ژباړه: نشته په شان د دغه (الله) هيڅ څيز (په هيڅ څيز کې) او همدغه الله دی ښه اوريدونکی د ټولو اقوالو ښه ليدونکی د ګردو اعمالو.

د سورت کهف د اولنيو لسو اياتونو تلاوت

حضرت ابو الدرداء بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿من حفظ عشر آيات من اول سورة الكهف عصم من فتنة الدجال﴾ ([3]).

ژباړه: چا چې د سورت کهف لومړني لس آياتونه په ياد کړل هغه به د دجال له فتنې څخه وساتل شي

هغه لس آياتونه دا دي:

---

[1] - سنن ابن ماجه. الفتن. حديث: ۴۰۷۷.

[2] - الشورى. آية: ۱۱.

[3] - صحيح مسلم. الصلوة. حديث: ۸۰۹.

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَ لَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۝ قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ وَ يُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا ۝ مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا ۝ وَّ يُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ۝ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ وَّ لَا لِاٰبَآئِهِمْ كَبُرَتْ كَلِمَةً تَخْرُجُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ اِنْ يَّقُوْلُوْنَ اِلَّا كَذِبًا ۝ فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَسَفًا ۝ اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ۝ وَ اِنَّا لَجٰعِلُوْنَ مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ۝ اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحٰبَ الْكَهْفِ وَ الرَّقِيْمِ كَانُوْا مِنْ اٰيٰتِنَا عَجَبًا ۝ اِذْ اَوَى الْفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَالُوْا رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً وَّ هَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ۝ ﴾ (۱).

ژباړه:

ټوله ثنا او ستاينه خاص الله لره ده هغه (الله) چې نازل كړى دى په بنده خپل (محمد ص) كتاب (قران) حال دا چې نه يې دى پيدا كړى په دې قران كې هيڅ كږوالى (نه په الفاظو او نه په معانيو كې) (حال دا چې سم برابر دى (افراط او تفريط له سره پكې نشته) او نازل كړى يې دى دپاره د دې چې وويروي (محمد) په دې كتاب سره كفار (له عذاب سخته چې راتلونكى دى) له جانبه د الله او زيرى وركړي (محمد) مؤمنانو هغو ته چې كړي دي دوى ښه عملونه چې بيشكه شته دوى ته اجر ښه (چې جنت دى) حال دا چې اوسيدونكي به وي په هغه جنت كې تل تر تله؛ او چې وويروي هغه كسان چې وايي له ډيره جهله نيولى دى الله ولد نشته دوى ته په دې خبره هيڅ علم

---

(۱) الكهف. آية: ۱ الى ۱۰.

(بلکه هسې له خپله وهمه یې وایي) او نه پلرونو د دویته (بلکه هسې له خپله وهمه یې وایي) ؛ او په ده هغه خبره (د دوی) چې راووځي له خوا د دوی څخه نه وایي دوی مګر دروغ (غټ) نو ښائي چې ته وژونکی یې د نفس خپل په دوی پسې که را نه وړي (دوی) ایمان په دې خبره (قران ، نو ته ځان وژنې) له ډیره غمه ؛ بیشکه مونږ ګرځولی مو دی هر هغه شی چې دی په ځمکه ښایست دپاره د دې (ځمکې او اهل د ځمکې) دپاره د دې چې وازمیو دوی چې کوم یو له دوی څخه ډیر غوره دی له جهته د عمله ؛ او بیشکه مونږ خامخا ګرځونکي یو د هر هغه شي چې دغه ځمکه دی (صاف پرې کړی شوی یعنې خاورې پرتې پر ځمکه ډاګ توتې توتې وچ کلک) ایا ګمان کوې ته (اې محمده !) د دې خبرې چې صاحبان د غار او د تختې وو د دوی (په اعتبار د قیصې) له دلایلو د (قدرت) زمونږ ډیره عجیبه (او نور نشته بلکه د الله تعالی د قدرتونو نور عجیبه دلایل هم شته) یاد کړه هغه وخت چې رجوع وکړه هغو ځلمیانو (د کفارو له ویرې) غار ته نو وویل دوی اې ربه زمونږ راکړه مونږ ته له خپلې خوا رحمت (چې پرې پټ شو له غلیمه) او تیار کړه مونږ ته له دې کاره زمونږ (چې له کافرانو نه جلا والی دی هدایت).

حضرت نواس بن سمعان ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿من ادرکه منکم فلیقرء علیه فوتح سورة الکهف﴾ (١).

ژباړه: په تاسو کې چې څوک دجال پیدا کړي نو هغه ته پکار دي چې د هغه په وړاندې د سورت کهف اولیني لس آیاتونه تلاوت کړي.

د هغه سبب دا دی چې د دغه سورت په شروع کې الله تعالی ذکر کړي چې په غار کې موجود ځوانان یې د هغه ظالم بادشاه له لاس څخه ساتلي کوم یې چې نیول غوښتل. د ځینو اهل علمو قول دی چې په دغو لسو آیاتونو کې په غار کې د موجودو ځوانانو د قیصې یو عجیب ذکر دی چې هغوی

١- صحیح مسلم. لفتن. حدیث: ٢٩٣٧.

څنګه نجات پیدا کړ، یوه مسلمان ته له دجال سره د مخامخ کیدو په وخت کې په دغو واقعاتو باندې نظر کول پکار دي.

د ټول سورت کهف تلاوت

حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿من قرء سورة الکهف کما انزلت، ثم ادرک الدجال، لم یسلط علیه او لم یکن له علیه سبیلا﴾ ([1]).

ژباړه: کوم سړی چې سورت کهف په هغې طریقې تلاوت کړي په کومه طریقه چې نازل شوی، بیا هغه له دجال سره مخامخ شي نو په هغه به مسلط نشي، یا دا چې په دغه مؤمن باندې به هیڅ غلبه تر لاسه نکړي.

د لمانځه په اخیر کې د دجال له فتنې پناه غوښتل

په اخیري تشهد کې له سلام ګرځولو د مخه د دې دعا لوستل پکار دي:

﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ [2] وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ﴾ ([3]).

ژباړه:

اې الله! زه په تا سره د دوزخ له اوره، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د دجال له فتنې پناه غواړم.

---

[1] - المستدرک للحاکم :۴/ ۵۱۱. وقال : حدیث صحیح الاسناد. سلسلة الاحادیث الصحیحة:۲/ ۳۱۲. حدیث:۲۲۵۱.

[2] (فتنة المحیا) هغه فتنه ده کومه چې د انسان په زندګي کې مخته راځي. لکه: دنیوي مال او د شهوتونو فتنه. که چیرته په دې کې یو انسان صبر له لاسه ورکړي نو دا یو ازمایښت دی او له (الممات) څخه مراد هغه فتنه ده کومه چې انسان ته د مرګ په وخت کې مخته راځي. یا له دې څخه مراد د قبر فتنه ده چې کله فرښتې راشي او پوښتنه کوي او په ډیره سختي سره پوښتنه کوي. د قبر عذاب هم په همدې فتنه کې داخل دی.

[3] - صحیح البخاري. الجنائز. حدیث: ۱۳۷۷. وصحیح مسلم. المسجد ومواضع الصلوة. حدیث: ۵۸۸.

خلک د دجال له فتنې خبر کړی تر څو چې هغه له دې څخه بچ شي

حضرت صعب بن جثامه رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿لايخرج الدجال حتى يذهل الناس عن ذكره﴾ (١).

ژباړه:

دجال تر هغه وخته نه راووځي تر څو چې خلک د هغه له یادولو څخه غافل نشي.

یعنې هر کله چې هیڅوک د هغه ذکر نکوي او نه د هغه په باره کې سوچ کوي، کله چې خلک هغه هیر کړي او د هغه صفات له ذهنونو وباسي او د فتنو د کثرت با وجود د هغه په باره کې احتیاط پریږدي نو په دې وخت کې دجال ظاهریږي.

د شریعت په علم ځان مسلح کول

په الله تعالی باندې له ایمان سره سره شرعي علم له هرې فتنې سره د مقابلې لپاره بهترینه اسلحه ده، له همدې فتنو څخه د دجال فتنه هم ده، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مدینې د یوه بهادر مؤمن ځوان قیصه بیان کړې کوم به چې له ایماني قوت او علم سره د دجال مختته ورشي، له دې قیصې څخه مونږ ته له فتنو څخه د ځان ساتلو په سلسله کې له ایمان سره د شرعي علم اهمیت ښکاره دی.

حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

دجال به راشي، مدینې ته داخلیدل په هغه حرام کړی شوي دي، ځکه خو به له مدینې سره نږدې په یوه شورداره زمکه کې پړاو واچوي، یو سړی به د هغه لوري ته راشي کوم به چې په دې وخت کې بهترین انسان وي، هغه به دجال ته ووایي: زه د دې خبرې ګواهي ورکوم چې ته هغه دجال یې د کوم په باره کې چې د الله رسول صلی الله علیه وسلم په خپل یوه حدیث کې مونږ ته فرمایلي:

---

(١) - مسند احمد: ۴/۷۱.

دجال به خپلو ملګرو ته ووايي که چیرته زه دا سړی قتل کړم او بیا يې دوباره ژوندی کړم آیا بیا به هم تاسو ته زما په باره کې کوم شک او شبه باقي پاتې شي؟

هغوی به وايي: بالکل نه.

دجال به هغه ووژني، بیا به يې ژوندی کړي، په روایت کې دي چې دجال به هغه ووژني او دوه ټوټې به يې کړي چې د مقتول جسم د دواړو ټوټو په مینځ کې به د یوه غیشي په اندازه لیرې والی وي، بیا به دجال هغه ژوندی کړي او را اوبه يې بلي، نو ځوان به داسې را روان وي چې څهره به يې ځلیږي او خاندې به، دا ځوان به ووايي: په الله قسم ! ستا د دجال او کذاب کیدلو په باره کې ما ته چې اوس څومره بصیرت حاصل شو هغه د مخه نه وو، په یوه روایت کې دي:

دجال به راشي، یو مؤمن ځوان به د هغه لوري ته ور روان شي، په لاره کې به د دجال له پهره دار سره مخامخ شي او له ځوان څخه به وپوښتي:

چیرته دې اراده کړې؟

ځوان به ورته ووايي: زه هغه لوري ته ځم کوم چې ظاهر شوی.

هغه به ورته ووايي: آیا ته زمونږ په رب ایمان نلرې؟

ځوان به ورته ووايي: زمونږ د رب صفات خو پټ نه دي، زه دجال وینم او هغه له صفاتو څخه پیژنم.

هغه به ووايي: دا قتل کړئ.

بیا به هغوی په خپل مینځ کې یوه بل ته ووايي: آیا دستاسو رب تاسو منعه کړي نه یاست چې د هغه له حکم پرته څوک مه وژنئ؟

بیا به هغوی ځوان ونیسي او دجال ته به يې ور ولي، هر کله چې دغه مؤمن ځوان دجال ووینې نو وبه وايي: اې خلکو ! دا هغه مسیح دجال دی د کوم ذکر چې رسول الله ﷺ کړی.

دجال به حکم وکړي چې دغه ځوان د وژلو لپاره څملوی.

د دغه ځوان په خیټه او شا باندې به سخت شدید ګزارونه وشي.
دجال به ترینه وپوښتي: آیا ته په ما ایمان راوړې؟
ځوان به ورته ووایي: ته مسیح کذاب یې.
بیا به د دجال په حکم یوه اره راوړل شي او د دغه ځوان په سر به کیښودل شي او ټول بدن یې په دوو برخو تقسیم کړل شي، دجال به د هغه د بدن د دواړو برخو په مینځ کې په فخر او تکبر سره ولاړ وي او هغه ته به ووایي: پورته شه! هغه ځوان به پورته شي او سم به ودریږي.
دجال به ورته ووایي: څنګه ته په ما ایمان راوړې؟
هغه به ورته ووایي: اوس خو ما ته د ستا په باره کې له پخوا څخه هم یقین زیات شو. بیا به هغه مؤمن ځوان ووایي: اې خلکو! له ما وروسته به دی له هیچا سره داسې نشي کولای.
دجال به د ذبح کولو لپاره هغه بیا ونیسي خو الله تعالی به هغه له غاړې څخه نیولې تر ښنګرو پورې پیتل جوړ کړي د کوم له امله به چې دجال هغه نشي قتل کولای. بالاخر به هغه له دواړو پښو او دواړو لاسونو څخه ونیول شي او په خپل اور کې به یې واچوي، خلک به دا ګمان کوي چې هغه په اور کې واچول شو. لیکن حقیقت دا دی چې هغه په جنت کې واچول شو.
بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل:
دغه ځوان به د الله تعالی په نزد له عظیم ترینو شهیدانو څخه وي (١).
دا حدیث د شرعي علم حاصلولو د اهمیت لپاره دلیل دی. که چیرته له دغه مؤمن ځوان سره د دجال د صفاتو په باره کې له پخوا څخه علم نه وای نو هیڅ کله دجال ته نشوای رسیدلای. لهذا هر هغه څوک چې له باطل سره مقابله کول غواړي هغه ته ضروري دي چې خپل ځان په شرعي علم سره مسلح کړي.

---

(١) صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۸.

د دغه ځوان يقين وو چې دجال له ده پرته بل څوک نشي قتل کولای، ځکه چې دغه ځوان ته په دې علم وو په حديث شريف کې چې د کوم ځوان ذکر راغلی له هغه څخه مراد بذات خود همدی ده.

له دجال سره د جنګ کولو لپاره دې اهل ايمان تياری وکړي

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿فبينما هم تعدون للقتال يسوون الصفوف، اذا اقيمت الصلاة فينزل عيسى ابن مريم﴾

ژباړه:

کله چې مسلمان د جنګ لپاره تياری کوي او صفونه برابر کړي او لمونځ ودوري نو په دې وخت کې به عيسى ابن مريم عليه السلام را نازل شي.

حضرت حذيفه بن اسيد رضي الله عنه بيان کوي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د خروج دجال په باره کې او د امام مهدي له خپلو ملګرو سره د دجال په خلاف د جهاد لپاره د تياري کولو په سلسله کې فرمايلي:

دجال به د مدينې لوري ته راشي او د هغې په بيروني برخه به قبضه وکړي او د مدينې خلک به د باندې له وتو څخه منع کوي، بيا به هغه په بيت المقدس کې د جبل ايلياء لوري ته راشي او هلته به د مسلمانانو يوه ډله محاصره کړي، مسلمانان به له سختو مشکلاتو سره مخ کړي، بيا به د مسلمانانو امراء ووايي: تاسو د کومې خبرې انتظار کوی؟ پورته شئ له دغه شيطان سره جنګ وکړی او د خپل رب لوري ته ورشی، يا فاتحين شی، هغوی به له دجال سره د جنګ کولو په باره کې مشوره کوي. کله چې صبا شي نو عيسى ابن مريم عليه السلام به هم تشريف راوړی وي [1].

---

[1] المستدرک للحاکم: ۴ / ۵۲۹. وصححه. وقال الذهبي: على شرط البخاري و مسلم.

له دجال سره د مخاخ کیدلو په صورت کې مسلمان ته څه کول پکار دي

حضرت ابو امامه باهلي ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

د هغه د سترګو په مینځ کې به (ک) (ف) (ر) لیکل شوي وي، هر مؤمن به هغه به په آساني سره لوستلای شي، په تاسو کې که یو څوک هغه پیدا کړي نو هغه ته پکار دي چې د هغه مخته ور وتوکی او د سورت کهف اولني لس آیاتونه تلاوت کړی، هغه به په یوه مؤمن انسان باندې تسلط پیدا کړي کوم به چې هغه قتل کړي او بیا به یې را ژوندی کړي [1].

حضرت ابو قلابه ﷺ یو صحابي له رسول الله ﷺ څخه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

له دنیا څخه د ستاسو له تلو وروسته به یو ګمراه کوونکی دجال ظاهر شي، د هغه د سر ویښتان به ډیر ګڼ او تاو شوي وي، هغه به وایي: زه دستاسو رب یم، څوک چې دا واوري او ووایي: زمونږ رب الله دی، مونږ په هغه باندې یقین کړی، د هغه لوري ته مونږ رجوع کړی او له تا څخه د بچ کیدا لپاره مونږ په الله تعالی سره پناه غواړو، نو په داسې خلکو به دجال هیڅ غلبه تر لاسه نکړي [2].

---

[1] المستدرک للحاکم: ۴ / ۵۸۰ . وقال: صحیح علی شرط مسلم.

[2] مسند احمد: ۵ / ۴۱۰ . باسناد حسن.

په شام کې د دجال وژل

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ياتى المسيح من قبل المشرق، همته المدينة، حتى ينزل دبر احد، ثم تصرف الملائكة وجهه قبل الشام، وهنالک يهلک﴾ (1).

ژباړه: دجال به د مشرق له لوري راشي، د هغه اراده به مدينې ته داخليدل وي مګر د جبل احد شا ته به پړاو واچوي، بيا به فرښتې د هغه مخ د شام لوري ته کړي، هلته به دی هلاک کړل شي.

د دجال مرګ به د حضرت عيسى ابن مريم عليه السلام د لاسه وي

حضرت مجمع بن جاريه ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿يقتل ابن مريم الدجال بباب لد﴾ (2).

ژباړه:

عيسى ابن مريم ﷺ به دجال په (باب لد) کې قتل کړي.

حضرت ابو هريرة ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

مسلمانان به د جنګ لپاره تياری کوي، کله چې صفونه برابر کړي نو د لمانځه وخت به وي چې عيسى ابن مريم عليه السلام به نزول وکړي، په يوه بل روايت کې دي:

حضرت عيسى ابن مريم عليه السلام به په مشرقي دمشق کې له يوه سپين مينار سره نږدې په دوه رنګه لرونکې جامه کې ملبوس، د دوو فرښتو په وزرو باندې له خپلې اسلحې سره نزول وکړي، کله چې هغه سر ښکته کړي نو له هغه څخه به د اوبو څاڅکي توی شي او کله چې سر مبارک پورته کړي نو له هغه څخه به د اوبو پړک وهونکې قطرې د دانو په څير باران وشي، په

---

1. صحيح مسلم. الحج. حديث: ۱۳۸۰.
2. (باب لد) د فلسطين په سيمو کې د واقع بيت المقدس يوه سيمه ده.

کوم کافر چې د حضرت عیسی ﷺ د اسویلي خوشبو ولګیږي نو په دې وخت کې به هغه مړ کیږي، د هغه د اسویلي خوشبو به د هغه د سترګو تر دیده پورې رسیږي، مطلب دا چې د حضرت عیسی ﷺ د سترګو تر دیده چې کوم کافر وي هغه به ژوندی نه پاتې کیږي.

نبي کریم ﷺ دا خبر هم ورکړی چې د نزول عیسی ﷺ په وخت کې به مسلمانان د لمانځه لپاره تیاری کوي، د هغوی مقتدا او امام به مهدي وي، امام مهدي به د امامت لپاره په مصلی باندې ولاړ وي چې عیسی به نزول وکړي، امام مهدي به فوراً له مصلی را وروسته شي (حضرت عیسی ﷺ له امام مهدي څخه غوره دی) له همدې امله به امام مهدي غواړي چې بهترین شخصیت د لمانځه امامت وکړي. لیکن حضرت عیسی ﷺ به خپل لاس د امام مهدي په دواړو اوږو کیږدي او ورته وبه وایي: ته مخته شه او امامت وکړه. دا اقامت دستا لپاره ویل شوی دی. دا د دغه امت لپاره د الله تعالی له لوري یو خاص اعزاز دی چې حضرت عیسی ﷺ یو جلیل القدر پیغمبر د دغه امت د یوه فرد په امامت کې لمونځ وکړي، امام مهدي به لمونځ ورکړي او چې کله له لمانځه فارغ شي نو عیسی ﷺ به ووایي: دروازه خلاصه کړی، کله چې دروازه خلاصه کړل شي نو د هغې شا ته به دجال له خپلو اویا زرو یهودیانو سره موجود وي، له هر یوه سره به منقش توره او په سرونو به یې تاج وي.

دجال چې کله حضرت عیسی ﷺ ته وګوري هغه به فوراً د تیښتې لپاره ودریږي، حضرت عیسی ﷺ به هغه له (باب لد) (دا په فلسطین کې یو مشهور ځای دی چیرته چې نن صبا یهودو فوځي اډه جوړه کړې) سره نږدې ونیسي، حضرت عیسی ﷺ به هغه نیولی وي او په نیزې سره به یې قتل کړي، حضرت عیسی ﷺ به خلکو ته د دجال په وینو سره نیزه ور ښکاره کړي.

بیا به الله تعالی یهودو ته شکست ورکړي او ذلت به یې یو په څلور شي، الله تعالی به په خپل مخلوق کې هر هغه شي ته د خبرو کولو قوت ورکړي د

کوم شا ته چې یهودي پټ وي پرته له غرقد څخه، ځکه چې د غرقد ونه د یهودو ملګرې ده (۱).

حضرت مجمع بن جاریه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

دجال به د مدینې لوري ته راشي او د هغې په بیروني برخه به قبضه وکړي او د مدینې خلک به د باندې له وتو څخه منع کوي. بیا به هغه په بیت المقدس کې د جبل ایلیاء لوري ته راشي او هلته به د مسلمانانو یوه ډله محاصره کړي، مسلمانان به له سختو مشکلاتو سره مخ کړي. بیا به د مسلمانانو امراء ووايي تاسو د کومې خبرې انتظار کوئ؟ پورته شئ له دغه شیطان سره جنګ وکړئ او د خپل رب لوري ته ورشئ. یا فاتحین شئ. هغوی به له دجال سره د جنګ کولو په باره کې مشوره کوي. کله چې صبا شي نو عیسی ابن مریم ﷺ به هم تشریف راوړی وي. کله چې دوی له رکوع څخه سر راپورته کړي نو وبه وايي: الله تعالی مسیح دجال هلاک کړ او مسلمانان غالب شول. حضرت عیسی ﷺ دجال قتل کړ او د هغه ملګرو ته یې شکست ورکړ، تر دې چې ونو، بوټو او ډبرو وئیل: دا زما تر شا یو یهودي پټ دی راشئ دا قتل کړئ (۲).

بیا به حضرت عیسی ﷺ د یوه داسې قوم لوري ته ور شي کوم به چې الله تعالی له دجال څخه بچ ساتلی وي. هغه به د هغوی دخونه بنکل کړي او هغوی ته به په جنت کې د هغوی د درجاتو په باره کې ووايي. بیا به الله تعالی حضرت عیسی ﷺ ته وحې وکړي چې ما خپل یو شمیر داسې بنده ګان پیدا کړي د کومو د مقابلې کولو په همت کې چې څوک نشته. ته زما له بندګانو څخه خپل ملګري له ځان سره کړه او د کوه طور په لوري ولاړ

(۱) سنن ابن ماجه، الفتن، حدیث: ۴۰۷۷، باسناد حسن.

(۲) صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۳۷

شه، یعنې په دې وخت کې به الله تعالی یاجوج ماجوج را ولیږي، تفصیلي بیان یې مخته را روان دی.

د دجال په مقابله کې تر ټولو ډیر سخت خلک

حضرت ابو هریرة ﷺ وایي: کله چې ما له نبي کریم ﷺ څخه د بنو تمیمو په باره کې درې خبرې واوریدلې نو زه له هغوی سره ډیر محبت لرم، ما له رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چې فرمایل یې

هغوی زما په امت کې د دجال په مقابل کې تر ټولو ډیر سخت دي، د هغه لوري ته د صدقې مال راوړل شو نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: دا زما د قوم صدقه ده، د بنو تمیم یوه مینځه له حضرت عائشة رضی الله عنها سره وه، نبي کریم ﷺ وویل: دا ازاده کړه، دا د اسماعیل له اولادې څخه ده[1].

یوه سړي د نبي کریم ﷺ په موجودیت کې د بنو تمیمو په باره کې نا مناسبه خبره وکړه نو نبي کریم ﷺ وفرمایل:

﴿لاتقل لبنی تمیم الا خیرا، فانهم اطول الناس رماحا علی الدجال﴾ ([2]).

ژباړه:

د بنو تمیمو په باره کې ښه خبره کوه، د دجال په مقابله کې د هغوی نیزې تر ټولو اوږدې دي.

له خروج دجال څخه انکار کوونکي

په پخوانی زمانه کې د خروج دجال له انکار کوونکو ډلو (معتزله او جهمیه) سره سره په نویو خلکو کې له دجال څخه انکار کوونکي په لاندې ډول دي:

---

[1] - صحیح البخاري، العتق، حدیث: ۲۵۴۳، وصحیح مسلم، فضائل الصحابة، حدیث: ۲۵۲۵.

[2] - مسند احمد: ۴ . وقال الهیثمي في مجمع الزوائد: رجاله رجال الصحیحین.

شیخ محمد عبده [۱]

دی وایي: د دجال هیڅ حقیقت نشته، دا یواځې خرافات، چل او فریب دی [۲].

محمد فهیم ابو عبیه [۳]

ده د کتاب الملاحم په (۱/ ۱۱۸- ۱۱۹) کې د دجال په احادیثو باندې د تبصرې کولو په وخت کې ویلي: له دې څخه مراد د شر او فساد خپرول دي.

ځینو ویلي : دجال به ظاهر شي، مګر له هغه سره فتنې، جنت او دوزخ وغیره نشته، په دې خلکو کې علامه رشید رضا [۴] هم شامل دی. دی د علم او فضل څښتن دی مګر په دې مسئله کې غلط شوی، د قیامت په نښانو کې له یوه شي څخه هم انکار کول ډېره سخته غلطي ده.

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمایي:

---

[۱] - د هغه نوم محمد عبده بن حسن خیر الله آل ترکمانی دی. دا په خپل وخت کې د مصر لوی مفتي وو. هغه په سنه (۱۹۰۵ عیسوي) کې په اسکندریه کې وفات شوی او په قاهره کې دفن شوی. د زیات تفصیل لپاره د الاعلام للزرکلی: ۲/ ۲۵۲ مخ وګورئ.

[۲] - د ده دا قول صاحب تفسیر المنار په (۳/ ۳۱۷) باندې را نقل کړی.

[۳] - دا د علامه ابن کثیر رحمه الله په زمانه کې د مشهور کتاب (النهایة في الفتن والملاحم) محقق دی.

[۴] - نوم او نسب یې داسې دی، محمد رشید بن علی رضا بن محمد شمس الدین بن محمد بهاؤ الدین بن منلا علی خلیفه قلمونی بغدادي حسیني. دا د شام د طرابلس سیمې په قلمون کې پیدا شوی، ابتدائي زده کړې یې په قلمون او طرابلس کې کړې دي. بیا په سنه (۱۳۱۵ هجري) کې مصر ته ولاړ او له شیخ محمد عبده سره یوځای شو او د هغه شاګرد شو. یوه ورځ په موټر کې له سویس څخه قاهره ته راتلو چې د سفر په دورن کې مړ شو. د هغه له مشهورو علمي خدماتو څخه (مجله المنار) ده کومه چې په (۳۴) جلدونو شایع شوې. له دې پرته په (۱۲) جلدونو کې د قرآن کریم یو تفسیر (تفسیر المنار) هم دی کوم یې چې مکمل نکړ. د زیات تفصیل لپاره وګورئ (الاعلام للزرکلی: ۲/ ۱۲۲) د مسیح دجال په باره کې د هغه خبره د (تفسیر المنار) په: ۹/ ۴۹۰. کې موجود ده.

حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه یو ځلې په خطبه کې د الله تعالی له حمد او ثناء ویلو وروسته وویل:

خبر دار! له تاسو وروسته یو شمیر داسې خلک راتلونکي دي کوم به چې له رجم، دجال، شفاعت او د قبر له عذاب څخه انکار کوي. هغه به د دې خبرې انتظار هم کوي چې الله تعالی به یو قوم له جهنم څخه را وباسي او جنت ته به یې داخل کړي.

له رجم به انکار کوي: یعنې د محسن زاني (چې ښځه یې وي) او د محسنې زانیه (چې میړه یې وي) په کاڼو (ډبرو) باندې د سنګاریدو له شرعي حکم څخه به انکار کوي.

او د خلکو له جهنم څخه له را ایستلو څخه به انکار کوي، یعنې د هغو موحدینو په حق کې له شفاعت څخه به انکار کوي کومو ته چې الله تعالی مناسبه سزا ورکړي او بیا یې له جهنم څخه را وباسي.

د دجال متعلق اخیري پنځه مسئلې

(۱) حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ ألا أخبركم بما هو أخوف عليكم من المسيح الدجال؟ قال : قلنا : بلى ، فقال : الشرك الخفي، ان يقوم الرجل يصلى فيزين صلاته لما يرى من نظر رجل﴾ ([1]).

ژباړه: آیا زه تاسو ته یوه داسې خبره بیان نکړم د کومې چې ما ته د ستاسو په باره کې له دجال څخه هم زیاته ویره ده؟ هغه شرک خفي دی، یعنې چې یو انسان د لمانځه لپاره ودریږي او بل څوک دی د لمانځه په کولو ووینې نو دی د لیدونکي لپاره خپل لمونځ په ډیرې ښې طریقې سره اداء کول شروع کړي.

[1] - مسند احمد :۳/ ۳۰، وسنن ابن ماجه، الزهد، حديث : ۴۲۰۴، وحسنه الالبانی في صحيح الترغيب والترهيب، حديث: ۲۷.

ريا كاري يو ډير خطرناک شی دی، ريا كاري دا ده چې يو انسان كوم نيک كار په دې ارادې سره كوي چې خلک د دغه كار له امله بيا د ده صفت وكړي، دا شرک خفي دی او د عملونو تباه كوونكی شی دی، د قيامت په ورځ به ريا كارو ته وويل شي: د هغو خلكو خوا ته ور شی د كومو لپاره مو چې په دنيا كې اعمال تر سره كول، وگوری آيا له هغو سره د ستاسو لپاره كومه جزا شته؟

(۲) حضرت ابو ذر رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿غيرالدجال اخوف على امتى من الدجال الائمة المضلون﴾ ([1]).

ژباړه:

د دجال پر فتنې بر سيره زما چې په خپل امت باندې كومه ويره ده هغه گمراه كوونكي پيشويان دي.

د گمراهي خپروونكي ائمه او قادين د امت لپاره د يوې غټې خطرې حيثيت لري، كله چې د ټولنې لوی او مؤثر خلک گمراه شي نو د هغوی ماتحت خلک هم يقيناً په گمراهي كې مبتلا كيږي، گمراه كوونكي مشران كله له دنيوي امورو سره تعلق لرونكي وي لكه: بادشاه، امراء، وزيران او كله يې تعلق له ديني امورو سره وي لكه: علماء، واعظين او دين ته را دعوتوونكي خلک، هر كله چې په خلكو باندې گمراه كوونكي مشران مسلط شي نو هغه ټول تباه او برباد كړی شي.

(۳) حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿لاتزال طائفة من امتى يقاتلون على الحق ظاهرين على من ناوءهم حتى يقاتل آخرهم المسيح الدجال﴾ ([1]).

---

[1] مسند احمد: ٥/ ١۴٥، وسلسلة الاحاديث الصحيحة: ۴/ ۲۲۴، حديث: ١٩٨٩.

ژباړه : زما د امت یوه ډله به همیشه د حق په خاطر له مخالفینو سره جنګ کوي او پر هغوی به بر لاسي کیږي، تر دې چې د دوی آخیرنی سړی به له مسیح دجال سره جنګ وکړي.

له دې حدیث څخه معلومیږي چې په دغه امت کې د جهاد تحریک یو مسلسل تحریک دی، د دغه تحریک د ابتدا او انتها خلک به له یوه بل سره تعلق لري، جهاد کله هم نه ختمیږي تر دې چې د امت آخیرنی سړی به له دجال سره جنګ وکړي.

(۴) په فتنو کې ثابت قدمه اوسیدل د شریعت یو بنیادي اصل دی، همدا وجه ده چې د خدای تعالی ﷻ رسول ﷺ د دجال فتنې ذکر کوي او فرمایي:

﴿یا عباد الله ! فاثبتوا﴾

د الله بنده ګانو ! ثابت قدم اوسی.

دا سوچ هم پکار دی چې د فتنو په باره کې راغلي حدیثونه مونږ د مایوسي او عدم خود اعتمادي ښکار نکړي، بلکه مونږ ته په ایمان کې په ثابت قدمي کې د زیاتوالي راوستل پکار دي.

(۵) د دجال له حدیث څخه دا هم واضحه کیږي چې په آخره زمانه کې به جنګ سفید په تورو سره وي، له سپینو اسلحو څخه غیشي او آسونه مراد دي (۲).

---

[1] - مسند احمد : ۴/ ۴۳۷ . و سنن ابي داؤد . الجهاد . حدیث : ۲۴۸۴ . وصححه الحاکم ووافقه الذهبي.

[2] - د دې بیان په علامه نمبر : ۱۰۹ کې تیر شو.

د حضرت عیسی علیه السلام نزول

حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی له اوالعزم او مقربو انبیاء کرامو او رسولانو څخه یو نبي او رسول دی، الله تعالی په دې خاصیت سره نازولی چې له پلار پرته یواځې له مور څخه یې پیدا کړی، د هغه والده ماجده حضرت سیده بي بي مریم علیها السلام د خپلې نیکي او زیات عبادت له امله یو ممتاز حیثیت لري.

الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۖ قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾ ﴾ (١).

ژباړه:

هر کله چې ننوت دیته زکریا په محراب (په عبادتخانه) کې نو موندل به یې له دې (مریمې) سره څه روزي (یعني میوې د ژمي په اوړي او میوې د اوړي په ژمي کې) وویل زکریا اې مریمې! له کومې راغلې ده تا ته دا میوه؟ وویل مریمې زکریا ته چې دا روزي له طرف د الله ده؛ بیشکه چې الله روزي ورکوي هغه چا ته چې اراده وفرمایي (د روزي ورکولو یې ډیره پریمانه) (بېحسابه).

١- آل عمران. آية: ٣٧.

حضرت زکریا ﷷ د بي بي مریم علیها السلام لپاره په مسجد کې یوه عمده برخه خاص کړه، کومې ته چې له بي بي مریم علیها السلام پرته بل چا ته د ننوتو اجازه نه وه، مریم علیها السلام شپه ورځ په دې حجره کې په عبادت کې مصروفه وه، کله به هم چې د خدای تعالی نبي زکریا ﷷ د عبادت دې ځای ته ورغی نو له بي بي مریم علیها السلام سره به بې موسمه میوې وې، هغه ورته وویل (اَنّٰى لَكِ هٰذَا) اې مریم! دا بې موسمه میوې له کومه راځي؟ سیده بي بي مریم علیها السلام په ځواب کې وویل (هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ) دا د الله له لوري څخه دي (اِنَّ اللّٰهَ یَرْزُقُ مَنْ یَّشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ) الله تعالی ﷻ چې چا ته وغواړي بې حسابه رزق ورکوي.

یو ځل داسې وشول چې فرښتې راغلې او بي بي مریم علیها السلام ته یې خوشخبري ورکړه، الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ یٰمَرْیَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِیْنَ ۝ یٰمَرْیَمُ اقْنُتِیْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِیْ وَارْكَعِیْ مَعَ الرّٰكِعِیْنَ ۝﴾ [1]

ژباړه:

او یاد کړه اې محمده! هغه وخت چې وویل فرښتو، یعنې (جبریل) اې مریم! بیشکه چې الله غوره کړې یې ته (په کرامت او عبادت) او پاکه کړې یې ته (له بدو اقوالو، افعالو او احوالو څخه) او غوره کړې یې ته په ګردو ښځو د عالمیانو (یعنې پر ښځو د زمانې خپلې)، اې مریمې فرمان برداره شه (ولاړه شه بندګي کوه) لپاره د رب خپل؛ او سجده کوه! او رکوع کوه! له نورو رکوع کوونکو سره (له نورو لمونځ کوونکو سره په جماعت لمونځ کوه).

---

[1] - آل عمران. آیة: ۴۲ - ۴۳.

الله تعالی بیان کړه چې فرښتو مریم علیها السلام ته د دې خبرې خوشخبري ورکړه چې الله تعالی دا وخت هغه د زماني له ټولو ښځو څخه په اعلی مقام باندې فائزه کړې ده او یو هلک به یې پیدا کیږي کوم به چې نبي وي او دا خوشخبري یې ورکړې ده:

﴿وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ ۝﴾ ([1])

ژباړه: او خبرې به کوي له خلکو سره په مهد (د مور په غیږ یا په زانګو یا په طفولیت کې) او په کهولت (پوره عمر) کې او له صالحانو څخه به وي.

یعنې هغه به په کوچنیوالي کې د الله وحده لا شریک لوري ته خلک دعوتوي، همدا شان په لوی والي کې به هم خلک د الله تعالی د عبادت لوري ته را بولي، حضرت سیده مریم علیها السلام ته د ډیر عبادت، اطاعت او د کثرت سجود حکم شوی وو تر څو چې د عزت مستحقه جوړه شي او د دې لوی نعمت شکر اداء کړي، الله تعالی ترینه راضي شو، په هغې یې رحم وکړ او د هغې په والدینو یې هم رحم کړی.

حضرت انس رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿حسبك من نساء العالمين مريم ابنة عمران و خديجة بنت خويلد و فاطمة بنت محمد﴾ ([2]).

ژباړه:

د ټولې دنیا په ښځو کې څلور ښځې بهترینې دي، (۱) مریم بنت عمران (۲) آسیه زوجه فرعون (۳) خدیجه بنت خویلدا (۴) فاطمه بنت محمد ﷺ، کله چې فرښتو حضرت مریم علیها السلام ته خوشخبري ورکړه چې الله تعالی غوره

[1] آل عمران. آیة: ۴۲.

[2] جامع الترمذي. المناقب. حدیث: ۳۸۷۸. وسلسلة الاحادیث الصحیحة: ۴/ ۱۳. حدیث: ۱۵۰۸.

کړي او هغه به یو داسې اولاد ورکړي کوم به چې د عزت څښتن، پاک، معزز او محترم نبي وي، همدا شان به یې په معجزاتو سره مرسته او تایید هم وکړي، د دې خبرې په اوریدو مریم ډیره په تعجب کې شوه او هغه دا چې له پلاره پرته څنګه اولاد پیدا کیدلای شي. د هغه میړه نشته نو اولاد به یې له کومه شي، فرښتو هغې ته وویل : الله تعالی په هر څه قادر دی، هغه چې کله کوم کار ته اراده وکړي نو فقط چې دومره ووایي چې شه نو هغه به کیږي.

مریم علیها السلام دې ته ځان تسلیم کړ، د الله تعالی لوري ته متوجه شوه او د هغه د حکم منلو ته سپر شوه، هغې ته اندازه لګیده چې په دې کار کې به هغه له لوی ازمایښت سره مخامخ شي، خلک به د هغې په باره کې رنګا رنګ خبرې کوي، ځکه چې هغوی له حقیقت څخه نا خبره دي او پرته له سوچ او فکر څخه د هغوی نظر به یواځې په ظاهري حالاتو باندې وي، مریم علیها السلام به له مسجد او د خپل عبادت له ځای څخه یواځې په خپلو ماهواري ورځو کې د باندې وتله یا به هغه وخت وتله کله به چې له مسجد څخه د باندې د اوبو او غذا راوړو کوم ضرورت پیښ شو.

یوه ورځ هغه د داسې کوم ضرورت په بنیاد له مسجد څخه ووتله، الله تعالی بیان کوي ﴿إِذِ انتَبَذَتْ﴾ کله چې په څنګ شوه (ولاړه) له کورنۍ خپلې هغه ځای ته چې د کور په شرقي ډډه کې ؤ، نو په عین همدې وخت کې الله تعالی د هغې لوري ته جبریل امین ولیږه ﴿ فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا﴾ نو ځان یې جوړ کړ دې ته سړی کامل، کله چې د مریم علیها السلام په هغه سترګې ولګیدې نو بې اختیاره یې وویل ﴿إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا﴾ بیشکه زه پناه غواړم په رحمن له تا نه که یې ته پرهیزګار (نو له ما څخه په ډډه شه) یعنې که ته له الله څخه ویره لرونکی او متقي انسان یې نو زه چې په څه ستا له شر څخه پناه غواړم، د هغه لحاظ وکړه او له دې ځای څخه ولاړ شه، فرښتې مریم علیها السلام مخاطب کړه او ورته وې ویل ﴿إِنَّمَا أَنَا

رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا﴾ بیشکه همدا خبره ده چې زه را لیږل شوی د رب ستا یم د پاره د دې چې وبښم تا ته (په امر د رب ستا) یو هلک صالح (له ګناهونو پاک) یعنې ونه ویریږې: زه کوم بشر نه یم، بلکه د الله فرښته یم، زه الله ستا لوري ته را لیږلې یم تا ته د یوه پاک هلک درکولو ته راغلې یم ﴿قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ﴾ وویل بي بي مریم علیها السلام (له ډیره تعجبه) څرنګه به پیدا شي ما ته زوی؟ یعنې د زوی پیدا کولو چې کوم ظاهري اسباب دي هغه خو له ما سره نشته ﴿وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا﴾ حال دا چې نه دی رسیدلی ما ته هیڅ بشر (په نکاح) او نه وم زه هیڅیرې بد کاره. یعنې نه واده شوې یم او نه زه د کومې بې حیایي مرتکب یم ﴿قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾ نو وویل جبریل مریمې ته کار همداسې دی لکه چې ته وایې، لیکن فرمایلي دي رب ستا دغه کار په ما باندې اسان دی، یعنې فرښتې د هغې د تعجب لیرې کولو لپاره وویل: دا د الله وعده ده چې له تا څخه یو هلک پیدا کوي﴿هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾ یعنې دغه کار د هغه لپاره ډیر اسان او معمولي دی، ځکه چې هغه په هر شي باندې قادر دی او فرمایي ﴿وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ﴾ او چې وګرځوو مونږ دغه (هلک) لویه علامه دلیل (د کامل قدرت) د پاره د خلکو. یعنې د دغه ماشوم پیدایش په انواعو او اقسامو سره د مخلوق په پیدا کولو کې په خپل قدرت باندې یو دلیل جوړه وي.

الله عز وجل:

- آدم علیه السلام له سړي او ښځې پرته پیدا کړی.
- حوا علیها السلام یې له ښځې پرته یواځې له سړي پیدا کړې.
- عیسی علیه السلام یې پرته له سړي له ښځې پیدا کړی.
- پاتې نور ټول انسانان یې له سړي او ښځې دواړو څخه پیدا کړي.

الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَنَ الَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا﴾ ([1]).

ژباړه :او په مثل بيان کړی دی الله د مريمې لور د عمران هغه چې ساتلی يې وه ځای د شهوت خپل (له نکاح او سفاح څخه) نو ومو پوکل په ګريوان د هغې کې له روح خپل څخه.

يعنې جبريل امين ﷺ د مريمې ؑ په ګريوان کې پوکړل په کوم سره چې هغه فورا حامله شوه. الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا﴾

ژباړه :

نو ومو پوکل په ګريوان د هغې کې له روح خپل څخه.

مخته الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ۝٢٢﴾ ([2]).

ژباړه :

پس حامله شوه مريمه په دغه (عيسی) سره نو په څنګ شوه سره له دغه عيسی يو ځای ليرې ته.

دا ځکه چې سيده مريم ؑ چې کله حامله شوه نو سخته پريشانه شوه، هغې ته علم وو چې خلک به د هغې په باره کې د بهتان خبرې کوي، کله چې په هغې باندې د حمل نښانې ظاهرې شوې نو هغه له خلکو پټه شوه او له هغوی څخه کناره شوه او په يوه ليرې ځای کې يې اوسيدل غوره کړل.

---

[1] التحريم. آية: ۱۲.
[2] مريم. آية: ۲۲.

د عیسی ﷺ پیدایښت

الله تعالی ﷻ فرمايي: ﴿فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ يٰلَيْتَنِىْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَ كُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ﴿٢٣﴾﴾ (١).

ژباړه: پس راوسته مريمه درد د زیږیدلو بيخ د ونې د خرما ته (دتکیې لپاره کله چې عیسی متولد شو) وویل مريمې له ډيرې حيا کاشکې! زه مړه وای زه پخوا له دې او وای زه هيره شوې بيخي له زړو وتلې.
يعنې د ولادت د سخت درد له امله هغه په بيت اللحم کې د کجورې د يوې ونې خوا ته راغله، په دې وخت بي بي مريم عليها السلام مذکوره الفاظ ویل، د دې لپاره چې هغې ته معلومه وه چې خلک به د هغې خبره رښتيا نه بولي بلکه هغه به دروغژنه بولي، بلکه کله چې هغوی د مريم عليها السلام په لاسونو کې نوی پيدا شوی ووينې نو په هغې به د بدکارۍ الزام ولګوي، حالانکه هغه له دوی سره په نږدې مسجد کې اوسيدونکې زاهده او عابده ښځه ده او د هغې تعلق د نبوت او دیانتدار خاندان سره ده. له همدې امله هغه دومره غمجنه وه چې تمنا يې وکړه چې اې کاش! هغه دې حالت ته له رسيدا د مخه مړه شوی وای یا دا پیدا شوی نه وای ﴿فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَا﴾ نو هغې ته د لاندې آواز وشو، يعنې فرښتې له لاندې څخه آواز وکړ ﴿اَلَّا تَحْزَنِىْ قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَ هُزِّىْۤ اِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِىْ وَ اشْرَبِىْ وَ قَرِّىْ عَيْنًا ۚ فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ فَقُوْلِىْۤ اِنِّىْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾﴾ (٢).

---

(١) مریم. آیة: ٢٣.
(٢) مریم. آیة: ٢٥، ٢٦.

ژباړه : او وخوځوه (وښنوه) خپل ځانته بیخ د خرما چې را توی کاندي پر تا خرما پخې تازه، پس خوره دا (خرما) او څښه دا (اوبه) او رڼې (یخې) کړه سترګې خپلې (په عیسی او خوشحاله شه) پس که ولید تا له خلکو څخه یو څوک (چې د عیسی د تولد پوښتنه یې در څخه کوله) نوووایه بیشکه ما نذر کړې مې ده په ځان رحمن ته روژه (له خبرو) پس له سره به خبرې ونکړم زه نن ورځ له هیڅ یوه انسان سره.

یعنې وخوره، وڅښه، بیا خپل ماشوم پورته کړه او د قوم لوري ته ولاړه شه، که چیرته تا ته کوم کس په نظر درشي نو هغه ته په اشاره سره وایه : ما نن د الله لپاره روژه نیولې، لهذا زه نن له هیچا سره خبرې نه کوم ﴿ فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ ۖ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه :

پس راغله (مریمه) سره له دغه (عیسی) قوم خپل ته چې اخیستی یې وو هغه عیسی په غیږ کې کله چې قوم یې ولیده نو وویل (جهودانو) اې مریمې ! په تحقیق را وړی دی (او کړی دی) تا یو عجیب کار مخالف له عادت څخه، اې خورې د هارون ! نه ؤ پلار ستا سړی د بدي او نه وه مور ستا بد کاره (نو دا ته ولې داسې شوې)

د (الفریه) معنا ده کوم ډیر بیکاره کار

[1] - مریم. آیة: ۲۷ – ۲۸.

عیسی ﷺ په غیږ کې خبرې کولې

کله چې مریم ﷺ ډیره ارزوده شوه او د قوم خبرو ډیر شدت اختیار کړ نو الله تعالی وویل ﴿فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ﴾ نو اشاره وکړه (مریمې) هغه ته (چې له دغه عیسی سره وغږیږئ) یعنې له ما څخه پوښتنه مه کوی بلکه له دغه ماشوم څخه وپوښتی، نو هغوی وویل ﴿قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِيًّا﴾ څرنګه خبرې وکړو مونږ له هغه چا سره چې دی هغه په زانګو (یا غیږ) کې وړوکی (تی رودونکی) یعنې تا ځواب دغه ماشوم ته وسپاره کوم چې په غیږ کې شیدې خورې او هیڅ نه پیژنې.

په دې وخت کې الله تعالی عیسی ﷺ ته د خبرو کولو قوت ور کړ:

﴿قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ۝ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا ۝ وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ۝ وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ۝﴾ ([1]).

ژباړه:

وویل عیسی چې بیشکه زه بنده د الله یم؛ راکړې یې دی ما ته کتاب او ګرځولی یې یم نبي: او ګرځولی یې یم برکتي په هر ځای کې چې یم او تاکید یې کړی دی ما ته په لمانځه سره او په زکاة سره تر څو چې زه به ژوندی: او ګرځولی یم الله نیکي کوونکی له مور خپلې سره او نه یې یم ګرځولی سر کشه او بد بخته: او (وویل عیسی) سلام دی په ما په هغه ورځ چې زیږولی شوی یم (د شیطان نه مس کولو او نورو بدیو او خرافاتو نه، او

[1] مریم. آیة: ۲۹ - تا ۳۳.

په هغه ورځ چې مرم به (د ځنکندن او د قبر له عذاب څخه) او په هغه ورځ چې پورته به کړی شم ژوندی (د قیامت له عذاب څخه).

تر ټولو د مخه چې د عیسی ﷺ له خولې کومه خبره ووته هغه دا وه ﴿إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ﴾ زه د الله بنده یم : او دا یې نه دي ویلي چې زه د الله زوی یم، ځکه چې الله یواځې دی ؛ هغه لره هیڅ شریک نشته. نه هغه څوک خپله ښځه جوړه کړې او نه یې څوک زوی جوړ کړی. پاک دی هغه ذات کوم چې ټول مخلوق پیدا کړی او هر یوه ته یې راهنمائي کړې.

دا د عیسی اصل حقیقت دی. الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿ذَٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ ۖ سُبْحَانَهُ ۚ إِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾﴾ ([1]).

ژباړه :دغه موصوف عیسی زوی د مریمې دی (الله د ده په شان کې ویلې ده) خبره حقه رښتیا هغه چې په دې کې سره جګړې کوي (خلق) نه ښایي الله ته دا چې ونیسي ولد (یو څوک) پاکي دد ده ته (له نیولو د ولد نه)؛ هر کله چې حکم وکړي دی د یوه کار پس بیشکه همدا خبره ده چې وایي هغه ته (موجود شه) پس موجودیږي.

الله تعالی ﷻ فرمایي ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾﴾ ([2]).

ژباړه :بیشکه مثال (صفت) د عیسی په نزد د الله په شان د مثال (صفت) د آدم دی: چې (الله) جوړ کړ هغه (آدم) له خاورو څخه بیا یې وویل آدم ته (بشر شه؛ پس بشر شو

---

[1] مریم. آیة: ٣٤ - ٣٥.

[2] آل عمران. آیة: ٥٩.

الله تعالی په عیسی ﷺ انعام کړی او فرمایي:

﴿ إِذْ قَالَ اللَّهُ يَٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَىٰةَ وَالْإِنجِيلَ ۖ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي ۖ وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي ۖ وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي ۖ وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِالْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّـۧنَ أَنْ ءَامِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓا ءَامَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ ﴾ (١).

ژباړه:

(یاد کړئ) هغه وخت چې وبه فرمایي الله اې عیسی زوی د مریمې یاد کړه احسان زما پر تا او په مور ستا (چې غوره کړې مې وه پر ښځو د زمانې خپلې) کله چې قوت مې درکړی ؤ تا ته (اې عیسی) په روح القدس (جبریل یا انجیل یا اسم اعظم یا عیسوي روح سره) چې خبرې به دې کولې له خلکو سره په مهد (د مور په غیږ یا په زانګو یا په طفولیت کې) او په حال د کهولت (پوره عمر) کې او کله چې، مې در زده کړ تا ته کتاب (لیکل) او حکمت د (شرعي احکامو او ژورو خبرو علم) او تورات او انجیل او کله چې جوړه به دې کړله له خټو ځینې په مثل د صورت د مارغه په اذن (حکم) زما پس پوکول به دې په هغه صورت کې پس شو به هغه (هیئت) مارغه په اذن (حکم) زما او روغول به دې مورزادي ړوند او برګ (پیس) په اذن (حکم) زما

---

(١) المائدة. آية: ١١٠-١١١.

او کله چې را ایستل به دې مړي (له قبرونو څخه او ژوندي کول به دې) په اذن (حکم) زما او کله چې مې بند کړ (شر) د بني اسرائیلو له تا نه (اې عیسی چې ستا د قتل اختیار یې کړی ؤ) کله چې راوړي ؤ تا دوی ته واضح دلایل نو وویل هغو کسانو چې کافران شوي وو له دوی څینې چې نه دي دغه معجزې ستا مګر سحر دی ښکاره (هر چا ته) او کله چې په زړونو کې مې ور واچول (او امر مې وکړ د عیسی په ژبه قوم د عیسی) حواریونو ته چې ایمان راوړئ تاسې په ما (چې ستاسې الله یم) او په رسول زما چې (عیسی دی) نو وویل حواریونو چې ایمان مو راوړی دی (په الله او عیسی) او شاهد اوسه (اې عیسی) په دې چې بیشکه مونږ مسلمانانو یو (غاړه ایښودونکي حکم د الله ته).

عیسی ﷺ د حضرت محمد ﷺ په باره کې زیری ورکړی

الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿ وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنۢ بَعْدِي اسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُم بِالْبَيِّنَٰتِ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝ ﴾ (١).

ژباړه:

او یاد کړه اې محمد! هغه وخت کله چې وویل عیسی زوی د مریمې داسې چې اې (بني اسرائیلو) (اولاده د یعقوب) بیشکه زه رسول لیږلی شوی د الله یم تاسې ته حال دا چې یم تصدیق کوونکی د هغه کتاب چې وړاندې څما دی له تورات څخه او زیری کوونکی یم په هغه رسول سره چې را به شي وروسته له ما څخه چې نوم د هغه احمد دی (بیا وایي الله) کله چې راغی

---

(١) الصف، آیه: ٦.

هغه رسول دوی ته په ښکاره ؤ معجزو سره وویل (بنی اسرائیلو) دا (قرآن) سحر کوډي دي ښکاره.

حضرت عیسی ﷺ د بني اسرائیلو په انبیاؤ کې اخیري نبي دی، ټولو انبیاؤ په خپل خپل قوم باندې د اتمام حجت لپاره او د الله له لوري څخه د انعام په توګه هغوی ته د خاتم النبیین محمد ﷺ زیری ورکړی، د هغه نام او صفات یې قوم ته ور ښودلي، کله یې هم چې ووینې نو پیژني به یې، نو سمدستي به ایمان راوړي او د هغه فرمان برداري به کوي.

الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلْأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه:

دا متقیان مؤمنان چې مقرر دي دوی ته رحمت هغه کسان دي چې متابعت کوي دوی د (دین) د هغه رسول چې نبي امي دی: هغه رسول چې مومي دوی (نوم او صفت) د هغه لیکلی شوی په نزد د دوی په تورات او په انجیل کې (هغه رسول چې حکم) امر کوي دوی ته په معروف (نیکي) سره او منع کوي دوی له منکر (بدي) څخه او حلالوي دوی ته ګرد طیبات (پاک شیونه چې حرام کړی شوي وو پر دوی باندې) او حراموي پر دوی باندې خبیث (پلیت) شیان او لیرې کوي له دوی څخه درانه بارونه د دوی او قیدونه د سختیو هغه چې وو پر دوی؛ پس هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په دغه (محمد) او عزت (تعظیم رفاقت) کوي د دغه (محمد) او مرسته

[1] الاعراف، آیة: ۱۵۷.

کوي له دغه (محمد) سره او متابعت کوي د هغه نور (رڼا) چې نازله کړې شوې ده سره له (متابعته) د دغه (محمد) نو دغه ستایل شوي کسان همدوی دي په مراد رسیدلي.

یوه ورځ د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ عرض وکړ: مونږ ته د خپل ځان په باره کې یو څه ووایه؟ رسول الله ﷺ وویل:

﴿دعوة ابی ابراهیم وبشارت عیسی بی، ورؤیاء امتی التی راءت) (١).

ژباړه:

زه د خپل پلار ابراهیم ﷺ د دعا نتیجه یم، زه د عیسی ﷺ زیری او د خپلې مور خوب یم.

د حضرت عیسی ﷺ اسمان ته پورته کیدل

الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿٥٤﴾ إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۖ﴾ (٢).

ژباړه:

او مکر وکړ (کفارو) په (عیسی) باندې او مکر وکړ الله (له دوی سره چې سزا يې دوی ته ورکړه) او الله خیر (بهتر) د ماکرینو دی (چې مکاران په سزا رسوي) یاد کړه اې محمد ' هغه وخت چې وویل الله اې عیسی بیشکه زه اخیستونکی یم ستا (له زمکې) او پورته بیونکی یم ستا طرف زما ته او پاکونکی (لیرې کوونکی) یم ستا له هغو کسانو څخه چې کافران (منکران)

---

١. مسند احمد: ۴ / ۱۲۷.

٢. آل عمران. آیة: ۵۴ - ۵۵.

شوي دي او ګرځوونکی یم د هغو کسانو چې متابعت یې کړی دی ستا د پاسه د هغو کسانو چې کافران (منکران) شوي دي تر ورځې د قیامته پورې.
الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ۗ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ۗ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴿١٥٧﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٥٨﴾ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿١٥٩﴾﴾ ([1]).

ژباړه:

او په سبب د ویلو د دوی (داسې چې) بیشکه وژلی دی مونږ مسیح عیسی زوی د مریمې رسول د الله (په ګمان خپل) حال دا چې نه ؤ وژلی دوی (عیسی) واقعاً) او نه پر دار کړی ؤ دغه (یقینا) لیکن مشتبه کړی شو (دغه وژلی شوی په دار وهلی شوی په عیسی سره) دوی ته؛ او بیشکه هغه کسان چې اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسی کې خامخا په شک کې دي په (شان) د ده کې: نشته دوی ته په (شان) د ده کې هیڅ علم مګر تش متابعت د ګمان (خپل) او نه ؤ وژلی دوی عیسی (په وژلو) یقیني سره، بلکه پورته کړی ؤ دی الله طرف خپل ته؛ او دی الله ښه قوي غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت کوي) او نشته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې یا په وخت د نزول د عیسی) پر دغه (عیسی) پخوا له

[1] - النساء، آیة: ۱۵۷ - ۱۵۸ - ۱۵۹.

مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کې به وي (عیسی) پر دوی باندې شاهد (چې جهودانو ونه منلم او نصرانیانو ((ابن الله)) وبللم).

الله تعالی په دې آیتونو کې د دې خبرې خبر ورکوي چې هغه په عیسی ﷺ خوب راوست او هغه یې خپل لوري ته پورته کړ او هغه یې د هغو یهودو له ایذا څخه بچ کړ کومو چې د دغې زمانې د یوه کافر بادشاه د غمازي کولو کوشش کاوه. بادشاه د حضرت عیسی ﷺ د وژلو او د هغه په دار باندې د ځړولو حکم کړی وو، د همدې لپاره یې هغه د بیت المقدس په یوه کور کې بندي کړی وو. کله چې هغه خلک په دغې بدې ارادې سره عیسی ﷺ ته ورسیدل نو الله تعالی د هغه مشابهت په هغو خلکو کې له یوه سره وکړ او عیسی ﷺ د یوه روښنداز څخه د آسمان لوري ته پورته کړی شو.

عسکر کور ته ور داخل شول نو هغوی هغه ځوان پیدا کړ په کوم چې د عیسی ﷺ مشابهت ور اچول شوی وو. هغوی دې ځوان ته عیسی وویل او هغه یې ونیو. هغه یې په دار باندې وځړاوه او د هغه د توهین لپاره یې دسختې سزا ورکولو یو تاج د هغه په سر کیښود، د یهودو دا دعوه عامو یهودیانو هم ومنله، سره له دې چې په هغوی کې یوه یې هم عیسی ﷺ په دار باندې ځړیدلی نه دی لیدلی. د دغې غلطې عقیدې له امله عیسایان په ښکاره ګمراهۍ کې مبتلا شول. الله تعالی په قرآن مجید کې خبر ورکړی

﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ ﴾ [1].

ژباړه:

او نشته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې یا په وخت د نزول د عیسی) پر

---

[1] - النساء. آیة: ۱۵۹.

دغه (عیسی) پخوا له مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کې به وي (عیسی) پر دوی باندې شاهد (چې جهودانو ونه منلم او نصرانیانو ((ابن الله)) وبللم).

یعنې په اخره زمانه کې د قیامت له راتلو د مخه کله چې هغه له اسمان څخه زمکې ته را نازل شي نو هغه به خنزیر قتل کړي، صلیب به ټوټې ټوټې کړي، جزیه به ختمه کړي او له اسلام پرته بل دین به قبول نکړي.

د مسیح وجه تسمیه

(مسیح) د فعیل په وزن دی، کله له هغه څخه فاعل یعنې (ماسح) لاس تیروونکی او کله مفعول یعنې (ممسوح) په کوم چې لاس تیر کړی شي مراد دی. عیسی ﷺ مسیح په معنا د ماسح سره دی او هغه ته له دې امله مسیح ویل کیږي چې هغه به د کوم رنځور یا معذور په بدن لاس را تیر کړ نو هغه به جوړیده، د هغه په وجه تسمیه کې دا خبره راجح ده.

یهودو حضرت عیسی ﷺ نه دی وژلی

حضرت عیسی ﷺ نه دی وفات شوی بلکه هغه الله تعالی خپل لوري ته پورته کړی، د قرآن کریم له دې موضوع سره تعلق لرونکي آیتونو په باره کې ځینې خلکو اشتباه کړې مثلاً: ﴿وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ اللّهُ وَاللّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ٥٤ إِذْ قَالَ اللّهُ يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُواْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾.

ژباړه:

او مکر وکړ (کفارو) په (عیسی) باندې او مکر وکړ الله (له دوی سره چې سزا یې دوی ته ورکړه) او الله خیر (بهتر) د ماکرینو دی (چې مکاران په سزا رسوي) یاد کړه اې محمد ! هغه وخت چې وویل الله اې عیسی بیشکه زه اخیستونکی یم ستا (له زمکې) او پورته بیونکی یم ستا طرف زما ته او پاکونکی (لیرې کوونکی) یم ستا له هغو کسانو څخه چې کافران (منکران)

شوي دي او ګرځوونکی یم د هغو کسانو چې متابعت یې کړی دی ستا د پاسه د هغو کسانو چې کافران (منکران) شوي دي تر ورځې د قیامته پورې.

په دې آیت کریمه کې ﴿إِنِّي مُتَوَفِّيكَ﴾ کې د (متوفي) معنا مرګ نه دی، بلکه خوب دی لکه چې الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا﴾ ([1]).

ژباړه: الله را کاږي (قبضوي) نفسونه په وخت د مرګ د دوی او هغه نفس چې نه وي مړ (هغه را کاږي) په خوب د هغه کې.

همدا شان الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ﴾ ([2]).

ژباړه:

او الله هغه (لوی ذات) دی چې وفاتوي (حصاروي او ویده کوي) تاسې په شپه کې؛ او دویم قول دا دی چې ﴿إِنِّي مُتَوَفِّيكَ﴾ یعنې زه تا خپل لوري ته را پورته کوونکی او په خپله قبضه کې اخستونکی یم.

عرب وایي (توفی فلان دینه من فلان) یعنې کله چې یو څوک خپل ورکړی شوی قرض پوره تر لاسه کړي او هغه په خپله قبضه کې واخلي نو ویل کیږي چې فلاني له فلاني څخه خپل ټول قرض تر لاسه کړ.

له همدې وجهې د پورته ذکر شویو دواړو معنا ګانو په جمع کولو کې هیڅ خرج نشته.

د الله تعالی ﷻ قول دی:

---

[1] - الزمر، آیة: ۴۲.

[2] - الانعام، آیة: ۶۰.

﴿وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا﴾ ([1]).

ژباړه: او نشته هيڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ايمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې يا په وخت د نزول د عيسی) پر دغه (عيسی) پخوا له مرګه د ده څخه او په ورځ د قيامت کې به وي (عيسی) پر دوی باندې شاهد (چې جهودانو ونه منلم او نصرانيانو ((ابن الله)) وبللم).

د الله تعالی د فرمان ﴿قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ معنا دا ده چې کله په اخره زمانه کې هغه دنيا ته نزول وکړي نو هيڅ اهل کتاب به داسې نه وي کوم به چې د عيسی ﷺ له وفات د مخه په هغه باندې ايمان را نه وړي، ځکه چې عيسی ﷺ له اسلام پرته هيڅ بل دين نه قبلوي، کوم کافر چې هغه ويني نو وژني به يې.

دا هم ويل شوي دي چې له ﴿قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ څخه مراد دا ده چې د اهل کتاب هر فرد به له خپل مرګ څخه د مخه په عيسی ﷺ باندې ايمان راوړي، په اهل کتابو کې چې هر چا ته مرګ راځي نو هغه ته به ښکاره شوې وي چې عيسی ﷺ د الله رسول او بنده دی، هغه بشر دی، الله يا رب نه دی، چونکه کتابي سړی به له خپل مرګ څخه د مخه د دغې سمې عقيدې اقرار وکړي مګر د هغه دا ايمان به هغه ته هيڅ فايده ور نکړي، ځکه چې د مرګ له شروع کيدو وروسته چې کومه توبه وکړی شي هغه قبوله نه وي.

[1] - النساء، آية: ۱۵۹.

یوه پوښتنه

د حضرت عیسی ﷺ په ژوند او د نورو انبیاء کرامو په ژوند کې څه فرق دی؟ آیا ټول انبیاء ژوندي نه دي؟ لکه چې د الله تعالی رسول ﷺ فرمایلي:

﴿الانبیاء احیاء في قبورهم﴾ ([1]).

ژباړه: انبیاء په خپلو قبرونو کې ژوندي دي.

ځواب

حضرت عیسی ﷺ دا وخت په آسمانو کې ژوندی دی، د هغه زندګي له جسم او روح سره حقیقي زندګي ده، لیکن د نور انبیاء کرامو زندګي یو خاص قسم برزخي زندګي ده، حضرت عیسی ﷺ تر اوسه پورې نه دی وفات شوی، ځکه خو هغه په عالم برزخ او قبر کې هم داخل نه دی، هغه د الله په نزد له جسم او روح سره په آسمانو کې موجود دی.

تر کومه ځایه چې د نورو انبیاء کرامو علیهم السلام معامله ده نو هغوی د مرګ له سکرات سره مخامخ شوي، د هغوی روحونه له جسمونو څخه جلا شوي او هغوی ته په خپلو قبرونو کې یو خاص قسم زندګي حاصله ده د کومې چې مونږ ته علم نشته.

د عیسی ﷺ د نزول په باره کې دلائل

دا خبره مخکې تیره شوه چې کله یهود د عیسی ﷺ د وژلو لپاره راغلل نو هغه الله تعالی خپل لوري ته پورته کړ. په شرعي دلایلو سره ثابته شوې چې په اخره زمانه کې به هغه را نازل شي او د هغه نزول د قیامت له نښانو څخه یوه نښانه ده، له قیامت سره په نږدې زمانه کې د هغه د نزول په باره کې ډیر دلایل شته دي چې یو شمیر یې دا دي:

---

[1] فتح الباري شرح صحیح البخاري. احادیث الانبیاء. حدیث: ۳۴۴۷. اخرجه البیهقي في کتاب حیاة الانبیاء في قبورهم وصححه.

لهٔ قران کريم څخه دلايل

الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿ وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ ﴿٥٧﴾ وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ ﴿٥٨﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٥٩﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ ﴿٦٠﴾ وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه:

او کله چې وګرځاوه شو زوی د مريمې مثل ؛ نا څاپه قوم ستا پر هغه (مثال) شور ماشور د خوشحالتيا (او خندا) کوي او وايي (دغه کفار) آيا معبودان زمونږ غوره دي او که هغه غوره دي (هر کله چې عيسی په دوزخ کې شو خو زمونږ بتان دې هم په دوزخ کې وي) نه دی تړلی دوی دغه مثال تا لره مګر محض د پاره د مجادلې خصومت جګړې بلکه دوی يو قوم جګړه کوونکی دی (په هر کار کې) نه دی دغه (عيسی) مګر يو بنده دی چې نعمت کړی وو مونږ پرې او ګرځولی مو وو دی يو مثل د پاره د بني اسرائيلو ؛ او که اراده فرمايلې وای مونږ نو خامخا ګرځولی به مو وی په ځای د ستاسې فرښتې په زمکه کې چې خليفګانې شوې به وې؛ او بيشکه دغه (عيسی) خامخا علامه ننبه ده د پاره د قيامت (په اعتبار د نزول سره) پس شک مه کوئ تاسې په (راتلو د) قيامت کې او متابعت وکوئ زما (په توحيد کې) دغه لياره ده سمه برابره (چې نه پرې ګمراه کيږي هيڅوک).

[1] الزخرف، آية: ۵۷ – تا ۶۱.

د آیت کریمه الفاظ ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ معنا ده چې عیسی ﷺ د قیامت له نښانو څخه یوه نښانه ده، او په یوه بل روایت کې داسې دي ﴿وَإِنَّهُ لَعَلَمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ د عین او لام په زور سره، یعنې د قیامت علامه او نښانه ده، دا د قیامت په راتلو او د هغه په نږدیوالي باندې دلالت کوي.

﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا﴾ هغه عیسی د قرب قیامت نښانه ده، تاسو په دې کې شک مکوئ ﴿وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾ او زما تابعداري وکړئ دغه سمه لیار ده.

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ د آیت کریمه په تفسیر کې فرمایي:

﴿وَإِنَّهُ لَعَلَمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ یعنې له قیامت څخه د مخه د عیسی ﷺ راتګ د قیامت نښانه ده [1].

امام طبري ﷺ فرمایلي: د دې معنا دا ده چې د عیسی ﷺ ظاهریدل یوه نښانه ده، په دې سره به خلکو ته ور معلومیږي چې قیامت زر راتلونکی دی، ځکه چې د هغه راتګ د قیامت له نښانو څخه دی [2].

الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ ۚ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ ۚ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾ وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ

---

[1] مسند احمد: ۱/ ۳۱۷، وصححه احمد شاکر.

[2] تفسیر طبري، الزخرف، آیة: ۲۱.

الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿١٥٩﴾ (١).

ژباړه:

او په سبب د ويلو د دوی (داسې چې) بېشکه وژلی دی مونږ مسیح عیسی زوی د مریمې رسول د الله (په ګمان خپل) حال دا چې نه ؤ وژلی دوی (عیسی، واقعاً) او نه پر دار کړی ؤ دغه (یقینا) لیکن مشتبه کړی شو (دغه وژلی شوی په دار وهلی شوی په عیسی سره) دوی ته؛ او بېشکه هغه کسان چې اختلاف کړی دی دوی په (حق د) عیسی کې خامخا په شک کې دي په (شان) د ده کې: نشته دوی ته په (شان) د ده کې هیڅ علم مګر تش متابعت د ګمان (خپل) او نه ؤ وژلی دوی عیسی (په وژلو) یقیني سره، بلکه پورته کړی ؤ دی الله طرف خپل ته؛ او دی الله ښه قوي غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت کوي) او نشته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرو مرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې یا په وخت د نزول د عیسی) پر دغه (عیسی) پخوا له مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کې به وي (عیسی) پر دوی باندې شاهد (چې جهودانو ونه منلم او نصرانیانو ((ابن الله)) وبللم).

د اکثرو مفسرینو په قول د (به) او (موته) له (ه) ضمیر څخه په دواړو ځایونو کې مراد عیسی عليه السلام دی.

ابو مالک رحمه الله د ﴿وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ﴾ په تفسیر کې فرمایي: دا به هغه وخت کیږي کله چې عیسی عليه السلام نزول وکړي، په دې وخت کې به د اهل کتابو هر سړی په هغه باندې ایمان راوړي (٢).

علامه ابن کثیر رحمه الله فرمایي:

---

(١) النساء، آیة: ۱۵۷ - ۱۵۸ - ۱۵۹.

(٢) تفسیر طبري، النساء، آیة: ۱۷۱.

الله تعالی خبر ورکړی چې د عیسی ﷺ معامله په هغه ډول نه ده، هغه د خلکو لپاره مشابهت پیدا کړی، هغوی ته هیڅ دا معلومه نشوه او له عیسی سره ورته شوی سړی یې وواژه، الله تعالی خبر ورکوي چې هغه عیسی ﷺ خپل لوري ته پورته کړ: هغه ژوندی سلامت دی او له قیامت څخه د مخه به نازل شي، په دې باندې هغه متواتر احادیث دلالت کوي کوم چې مونږ وړاندې بیانه وو. مسیح ﷺ به ګمراهي ختمه کړي، صلیب به ټوټه ټوټه کړي، خنزیر به قتل کړي، جزیه به ختمه کړي، یعنې له هیڅ غیر مسلم څخه به جزیه نه قبلوي او هغه ته به له اسلام څخه د وتو اجازه نه ورکوي، هغه به یوائې اسلام یا توره قبلوي، آیت کریمه خبر ورکوي چې په دې وخت کې به ټول اهل کتاب په عیسی ﷺ باندې ایمان راوړي او په هغوی کې به هیڅ داسې څوک نه وي کوم به چې د هغه تصدیق ونکړي [1].

له سنت څخه دلایل

حضرت خذیفه بن اسید غفاري رضی الله عنه بیان کوي چې یو ځل مونږ خلک ناست وو او د قیامت ذکر مو کاوه چې رسول الله ﷺ مونږ ولیدلو او وې فرمایل: تاسو خلک د کوم شي ذکر کوی؟ مونږ عرض وکړ: د قیامت ذکر کوو، رسول الله ﷺ وفرمایل:

﴿إنها لن تقوم حتى ترون قبلها عشر آيات فذكر الدخان والدجال والدابة وطلوع الشمس من مغربها ونزول عيسى ابن مريم صلى الله عليه و سلم ويأجوج ومأجوج وثلاثة خسوف خسف بالمشرق وخسف بالمغرب وخسف بجزيرة العرب وآخر ذلك نار تخرج من اليمن تطرد الناس إلى محشرهم﴾ [2].

ژباړه: بې له شکه هغه به تر هغه وخته قایم نشي تر څو چې تاسو له هغه څخه د مخه لس نښانې ووینی. بیا نبي کریم ﷺ د هغو ذکر وکړ: (۱) دود

[1] - تفسیر ابن کثیر، النساء، آیة: ۱۵۹.

[2] - صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۰۱.

(۲) دجال (۳) خروج دابه (۴) د لمر له مغرب څخه را پورته کيدل (۵) د عيسى ﷺ نزول (۶) د ياجوج ماجوج را وتل (۷) او په دريو ځايونو کې د زمکې د ننوتلو واقعات، په مشرق کې د زمکې ننوتل، په مغرب کې د زمکې ننوتل، په جزيره نمائي عرب کې د زمکې ننوتل، له ټولو څخه په اخير کې چې کومه نښانه ښکاره کيږي هغه په يمن کې د (عدن) له لوري راوتونکی يو اور دی کوم به چې خلک د محشر زمکې (شام) لوري ته بيايي.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنْ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا﴾ ([1]).

ژباړه:

په هغه ذات قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی! نږدې ده چې د ستاسو په مينځ کې عيسى ﷺ عادل واکمن جوړ شي او نزول وکړي، هغه به صليب مات کړي، خنزير به قتل کړي او جزيه به ختمه کړي، په دې وخت کې به مال دومره په کثرت سره وي چې هغه به هيڅوک نه غواړي، په دې زمانه کې به يوه سجده له دنيا او د هغې له ټولو خزانو څخه قيمتي وي.

په يوه بل روايت کې دي:

﴿والله لينزلن ابن مريم حكما عادلا فليكسرن الصليب وليقتلن الخنزير ولضعن الجزية ولتتركن القلاص فلا يسعى عليها ولتذهبن الشحناء والتباغض والتحاسد وليدعون (وليدعون) إلى المال فلا يقبله أحد﴾ ([2]).

---

[1] صحيح البخاري. احاديث الانبياء. حديث: ۳۴۴۸، وصحيح مسلم. الايمان. حديث: ۱۵۵.

[2] صحيح مسلم. الايمان. حديث ۱۵۵.

ژباړه : په الله قسم ! عیسی ابن مریم علیهما السلام به عادل واکمن جوړ شي او ضرور به را نازل شي، هغه به صلیب مات کړي، خنزیر به قتل کړي، جزیه به ختمه کړي، څوان اوښان به آزاد پریښودل شي، د هغوی د نیولو ډار به نه وي، خپل مینځي دښمني، له یوه بل سره بغض او حسد به ورک شي، خلک به د مال لوري ته غوښتل کیږي مګر هیڅوک به د هغه اخستو ته تیار نه وي.

د حدیث د معنا ګانو بیان

(یکسر الصلیب) صلیب مشهور شی دی، د عیسایانو دا عقیده ده چې عیسی علیه السلام په صلیب وځړول شو او قتل کړی شو، دا د هغوی مذهبي شعار دی، عیسی علیه السلام به د هغوی صلیب مات کړي.

(یقتل الخنزیر) خنزیر یو مشهور ځناور دی [1] اسلام د هغه خوراک حرام کړی.

[1] - خنزیر یو خبیث او سست ځناور دی، دی نباتاتي شیان، ځناور، مرداره او ګنګي خوري، له خپلو متیازو سره سره د نورو حیواناتو ګنګي هم خوري. عیسی علیه السلام به خنزیر قتل کړي: د دې معنا هیڅکله دا نه ده چې الله تعالی خنزیر هسې له کوم حکمت څخه خالي پیدا کړی، هر ځناور الله تعالی یوازې د دې لپاره نه ده پیدا کړی چې د هغه غوښه دې وخوړل شي. الله تعالی میګې، ماهیان او نور د دې لپاره نه دي پیدا کړي چې هغوی وخوړل شي، بلکه د دې شیانو په پیدا کولو کې د الله تعالی نور حکمتونه هم شته دي. همدا شان خنزیر هم الله تعالی د خپل کوم حکمت ما تحت پیدا کړی، مګر په ټولو اسماني مذاهبو کې د هغه د غوښې خوړل حرام کړی شوي دي.

د خنزير په باره کې اسلامي لار ښودنې

الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٧٣﴾﴾ ([1]).

ژباړه:

بيشکه دا خبره ده چې حرام کړي دي الله پر تاسې باندې (خوراک) د مردارې او حرام کړي دي الله (خوراک) د وينې (بهيدونکې) او حرام کړي دي الله (خوراک) د غوښې د خنزير او حرام کړي دي الله (خوراک) د هر هغه حلال کړی شوي چې آواز کړی شوي وي په هغه باندې په وخت د ذبحې کې بيله پاک الله نو هغه څوک چې اړ شي (د دې حرامو خوړلو ته) حال دا چې نه ظلم کوونکی او نه تجاوز کوونکی وي (له قدر د کفافه) نو نشته گناه په دې باندې؛ بيشکه چې الله لوی ښښونکی پوره رحم کونکی دی.

همدا شان الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٥﴾﴾ ([2]).

ژباړه:

بيشکه همدا خبره چې حرامه کړې ده الله پر تاسې باندې مرداره او بهيدونکې وينه او غوښه د خنزير او هغه حلال کړی شوی حيوان چې غږ کړی شوی دی د بل شي بې له الله نه (د نامه) په وخت د ذبحې د هغه: پس هغه څوک چې اړ شي خوړلو د دې حرامو ته) حال دا چې ظالم نه وي (په بل

---

[1] البقرة. آية: ۱۷۳.

[2] النحل. آية: ۱۱۵.

چا) او نه تجاوز کوي (د کفاف له اندازې) نو بیشکه الله ښښونکی د ګناهونو ډیر رحم والا دی (د اجر او ثواب په ورکولو).

د خنزیر په باره کې یهودي لارښودنې

په تورات کې دي: هغه د ستاسو لپاره نجس (مردار دی) تاسو نه د هغه غوښه وخورئ او نه د هغه په بدن لاس ولګوئ (١).

همدا شان خنزیر هم، هغه د ستاسو لپاره پلیت دی، د هغه غوښه تاسو ونه خورئ او نه د هغه د بدن اعضاؤ ته لاس ور وړئ، هغه د ستاسو لپاره ناپاک مردار دی (٢)

د خنزیر په باره کې عیسوي لارښودنې

په انجیل کې دي: پطرس وایي: هیڅکله نه ده، اې رب! ما کله هم کومه ګنګې یا ناپاک شی نه دی خوړلی (٣).

همدا شان وایم: هیڅکله نه ده، اې زما رب! ځکه چې زما خولې ته کله هم ګنګې یا ناپاک شی نه دی داخل شوی (٤).

هغه عیسایان هم د خنزیر غوښه نه خوري کوم چې دا عقیده لري چې عیسی علیه السلام به اسمان له ختو وروسته بیا را ښکته شي.

په هندو مذهب کې هم د خنزیر غوښې له خوړلو منع شوې، د پورته درجې هندوان د خنزیر غوښې خوړل عار بولي، یواځې بیکاره او د ټیټې درجې هندوان وغیره د خنزیر غوښه خوري

د زردشت مذهب خلک هم د خنزیر غوښې له خوړلو پرهیز کوي.

---

(١) استثناء: ۱۴: ۸.
(٢) احبار: ۱۱: ۷ – ۸
(٣) اعمال: ۱۰: ۱۴
(٤) اعمال: ۱۱: ۸.

بت پرست هم خنزير ته له لاس ور وړو مکمل ځان ساتي. ګمان کوي چې له خنزير څخه انسان ته ډيرې ناروغۍ سرايت کوي، په تيرو شلو کلونو کې محقيقينو د انسان خوراک، د هغه معاملات او د سوچ په مينځ کې د تعلق پيدا کولو کوشش وکړ، هغوی دې نتيجې ته ورسيدل چې کله هم مونږ د خپل خوراک نوعيت بدل کړو نو زمونږ په خويونو، عاداتو او معاملاتو کې هم بدلون راځي، هغوی د دې امر مشاهده وکړه چې کوم خلک صحت ته ضرر رسونکي شيان خوري هغوی له قانون څخه چپ کارونه ډير کوي، د ايمرجنسي مراکزو په پلټنه کې هغوی ته معلومه شوې چې کوم خلک ميوه او سبزي ډيره استعمالوي هغوی د قانون پابندي هم کوي.

خنزير يو داسې ځناور دی نه يواځې دا چې هغه ګنګي خوري، بلکه د دې کار هيڅ پروا هم نه وي ور سره چې د ده په موجوديت کې د ده له ښځې سره بل نر خنزير څه کوي، دا يو بې غيرته ځناور دی، بر عکس نور ځناوران له خپلې ښځې دفاع کونکي تر سترګو کيږي، لکه چې ليدل کيږي د خنزير غوښې خوړونکو خلکو غيرت هم ډير کمزوری وي او د دې خبرې هيڅ پروا نکوي چې د هغوی د ښځو معاملات، حرکات او سکنات څه دي.

د خنزير غوښې په باره کې الله تعالی ﷻ فرمايلي چې هغه (رجس) يعنې ګنګي ده، له خنزير څخه انسانانو ته د خطرناکو جراثيمو د ليږد ډيرې نمونې شته دي، له خنزيرانو څخه ډير وبائي مرضونه هم پيدا کيږي د کومو شمير چې کم از کم (۴۵۰) دی او دا ټول چې د کومو متعدي امراضو د خپريدا باعث دي د هغوی شمير له (۷۵) څخه زيات دی.

د خنزير له غوښې او له هغې څخه د جوړ شويو نورو شيانو له استعمال څخه له (۱۶) زياتې ناروغۍ له خنزير څخه انسان ته سرايت کوي، په هغوی کې مالټا پور، ټي بي، داء اليرقات الشريطة وغيره شامل دي

اته ويشت (۲۸) نور داسې مرضونه هم شته دي کوم چې د خوراک څنباک په شيانو کې د خنزير د استعمال له امله پيدا کيږي. د خنزير غوښې د

سخت حرمت له امله عيسى عليه السلام د هغه د وجود د ورکولو او په پوره ډول د هغه د ورکولو حکم کړی.

(ويضع الجزية) جزيه يو ټيکس دی کوم چې په اسلامي هيوادونو کې له اوسيدونکو اهل کتابو څخه د هغوی د حفاظت او د هغوی لپاره د مهيا شويو اسانيو په بدل کې اخيستل کيږي، دا انتهائي په عدل او انصاف بنا ټيکس دی، لکه چې په اسلامي هيوادونو کې له تاجرانو څخه زکاة اخيستل کيږي، عيسى عليه السلام چې کله نزول وکړي او د خلکو په مينځ کې حکومت کول شروع کړي نو هغه به له اسلام څخه پرته بل هيڅ دين نه مني، عيسايان کوم چې ځانونه د عيسى عليه السلام پيروان بولي، کله چې عيسى عليه السلام را نازل شي او له هغوی سره خبرې وکړي نو د هغوی له زړونو څخه به دا عقيده ختمه شي چې عيسى عليه السلام د الله زوی دی، دا خلک به په صحيح دين ايمان راوړي لکه چې الله تعالى جل جلاله په خپل کتاب کې خبر ورکړی:

﴿وَإِنْ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ﴾ ([1]).

ژباړه:

په اهل کتاب کې به يو هم داسې پاتې نشي کوم به چې د عيسى عليه السلام له مرګ څخه د مخه په هغه باندې ايمان را نه وړي.

يعنې د عيسى عليه السلام له نزول وروسته د هغه له وفات کيدا د مخه به ټول اهل کتاب په هغه ايمان راوړي او هر څوک چې له ايمان راوړو انکار کوي عيسى عليه السلام به له هغوی سره جنګ کوي.

په يوه روايت کې داسې الفاظ دي:

﴿وتكون الدعوة واحدة﴾ ([2]).

---

[1] النساء، آية: ۱۵۹.

[2] مسند احمد: ۲/ ۳۹۴. وحسنه الارنؤوط في تعليقه على المسند.

ژباړه: يعنې د عيسى عليه السلام په زمانه کې به دعوت يواځې د اسلام وي، هيڅ بل دين به د زمکې په سر باقي پاتې نشي. يعنې په دنيا کې به هيڅ هندو، بت پرست، يهودي، عيسائي او مجوسي نه وي.

﴿تكون السجدة الواحدة خيرا من الدنيا وما فيها﴾ يعنې په خلکو کې به د لمانځه او د نورو نيکيو رغبت او شوق ډير زيات شي، له دې امله چې د هغوی خواهشات به ډير کم شي، هغوی به له دنيا سره بې مينې شي او د قيامت په را نږدې کيدو به يې يقين شي: او له دې امله چې په دې وخت کې به د خلکو روزي ډيره فراخه شي او د معاش فکر به د هغوی لپاره د عبادت په لياره کې کوم خنډ نه وي.

﴿ولتتركن القلاص، فلا يسعى عليها﴾ (القلاص) هغو ځوانو اوښانو ته ويل کيږي کوم چې ډير غوره او قيمتي وي، د عربو په نزد دا تر ټولو غوره مال دی. په دې زمانه کې به خلک دا قيمتي څناور هم پريږدي، له هغوی څخه به بې پروا شي، هيڅوک به د هغوی په پالنه، څرولو او ساتلو کې کوشش نکوي او نه به يې په اخيستلو او خرڅولو کې دلچسپي لري.

حضرت جابر رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿فينزل عيسى بن مريم فيقول أميرهم تعال صل بنا فيقول لا إن بعضكم على بعض أمراء تكرمة الله هذه الأمة﴾ ([1]).

ژباړه: عيسى ابن مريم عليهما السلام به را نازل شي او د مسلمانانو امير به هغه ته وايي: راشه مونږ ته لمونځ راکړه، مګر عيسى عليه السلام به ووايي: نه! تاسو په خپله د يوه بل لپاره امام ياست. الله تعالى دغه امت ته دا عزت ورکړی.

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

﴿منا الذي يصلي عيسى ابن مرين خلفه﴾ ([2]).

---

[1] - صحيح مسلم. لايمان. حديث: ۱۵۲.

[2] - سلسلة الاحاديث الصحيحة: ۵/ ۳۷۱. حديث: ۲۲۹۳.

ژباړه: عیسی ابن مریم علیهما السلام چې په چا پسې تر شا لمونځ وکړي هغه له ما څخه دی.

د حضرت عیسی علیه السلام د نزول حدیثونه متواتر دي

د حضرت عیسی علیه السلام د نزول په باره کې مونږ ته چې له نبي کریم ﷺ څخه کوم حدیثونه رسیدلي هغه مواتر دي او د هغوی د تواتر په ذکر کوونکو کې امام احمد بن خنبل [۱] امام ابوالحسن اشعري [۲] امام طبري [۳] علامه ابن کثیر [۴] علامه سفاریني [۵] شامل دي، امام شوکاني رحمه الله هم په خپل کتاب (التوضیح في ما جاء في المنتظر والدجال والمسیح) کې دې حدیثونو ته متواتر ویلي دي.

امام ابن کثیر رحمه الله د نزول عیسی په باره کې د واردو حدیثونو په باره ویلي:

د رسول الله ﷺ دا حدیثونه متواتر دي، په هغوی کې د عیسی علیه السلام د نزول کیفیت او د نزول د ځای وضاحت هم موجود دی، د هغه نزول به په شام کې د دمشق مشرقي مینار سره په خوا کې وي او دا به په هغه وخت کې وي چې د لمانځه لپاره به اقامت ویل شوی وي، هغه به راشي خنزیر به قتل کړي، صلیب به مات کړي او جزیه به ختمه کړي، هغه به له اسلام پرته بل هیڅ دین نه مني لکه چې په صحیحینو کې دا خبره بیان شوی او دا خبرې ټولې له رسول الله ﷺ څخه منقولې دي، د اهل کتابو ټول اعتراضونه او شبهات به ختم شي او هغوی به له یوه مخه د عیسی علیه السلام تابعداري وکړي او په اسلام کې به داخل شي، الله تعالی جل جلاله فرمایي:

---

[۱] - طبقات الحنابلة: ۱/ ۲۴۱ - ۲۴۳.

[۲] - مقالات الاسلامیین و اختلاف المصلین: ۱/ ۳۴۵.

[۳] - تفسیر الطبري: ۳/ ۲۹۱.

[۴] - تفسیر ابن کثیر: ۷/ ۲۲۳.

[۵] - لوامع الانوار البهیة: ۱/ ۹۴ - ۹۵.

﴿وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ﴾ (١).

ژباړه:

په اهل کتاب کې به يو هم داسې پاتې نشي کوم به چې د عيسى ﷺ له مرګ څخه د مخه په هغه باندې ايمان را نه وړي.

دا آيت کريمه د هغه آيت کريمه په څير دى په کوم کې چې الله تعالى فرمايي ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ يعنې عيسى ﷺ د قيامت له نښانو څخه يوه نښانه ده، او په يوه بل روايت کې داسې دي ﴿وَإِنَّهُ لَعَلَمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ د عين او لام په زور سره، يعنې د قيامت يوه نښانه ده، دا د قيامت په راتلو او د هغه په نږديوالي باندې دلالت کوي، دا چې هغه به د مسيح دجال له ظهور وروسته تشريف راوړي نو دجال به د عيسى ﷺ په لاس قتل کړى شي، د عيسى ﷺ په زمانه کې به ياجوج ماجوج را ووځي او د عيسى ﷺ د دعا په برکت به الله تعالى هغوى هلاک کړي.

په امت کې په دې امر اجماع ده چې عيسى ﷺ د قيامت له نښانو څخه يوه نښانه ده، په دې امر کې د اهل علمو هيڅ اختلاف نشته پرته له هغو کمو خلکو د کومو خبره چې د التفات وړ نه ده او د کومو اختلاف چې هيڅ حيثيت نلري.

يوه پوښتنه

حضرت عيسى ﷺ چې کله نازل شي نو آيا هغه به د محمدي ﷺ شريعت مطابق حکومت کوي او که کوم نوى شريعت به راوړي؟

---

(١) النساء، آية: ١٥٩.

ځواب

د امام سفاریني قول

امام سفاریني رحمه الله په اخره زمانه کې د حضرت عیسی علیه السلام د نزول په باره کې لیکلي:

یواځې فلسیفانو او بې دینو خلکو د هغه له نزول څخه انکار کړی، مګر د هغوی اختلاف هیڅ اهمیت نلري، د امت په دې امر اجماع ده چې هغه به ضرور تشریف راوړي او د شریعت محمدي صلی الله علیه وسلم مطابق به فیصلې کوي، هغه به له آسمان څخه د را نازلیدو په وخت کې له ځان سره کوم نوی شریعت نه راوړي.

نواب صدیق حسن خان ویلي

د حضرت عیسی علیه السلام د نزول په باره کې حدیثونه ډیر زیات دي، امام شوکاني رحمه الله له دې حدیثونو څخه ۲۹ ذکر کړي کوم چې یا صحیح دي یا حسن، یا ځینې داسې دي چې ضعف پکې شته مګر د شواهدو په بنا د حسن درجې ته رسیږي، په هغو کې ځینې د مسیح دجال په باره کې دي او ځینې د مهدي منتظر په باره کې دي، له دې پرته له صحابه کرامو څخه هم د هغه متعلق داسې اثار منقول دي کوم چې د مرفوع احادیثو په حکم کې دي ځکه چې داسې خبرې په اجتهاد سره نشي کیدلای، د دې ټولو حدیثونو له ذکر کولو وروسته هغه وایي چې د علم په خاوندانو پټه نه ده چې وارد کړی شوي حدیثونه د تواتر درجې ته رسیږي (۱).

شیخ احمد شاکر لیکلي

په اخره زمانه کې د حضرت عیسی علیه السلام نزول د هغو مسایلو له جملې څخه دی په کومو کې چې د مسلمانانو هیڅ اختلاف نشته، ځکه چې په دې باره کې له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه ډیر صحیح احادیث وارد شوي، دا شی د

---

۱ - الاذاعة لما کان وما یکون بین یدی الساعة لصدیق حسن خان. ص: ۱۲۰.

دین له بنیادي عقایدو څخه دی او څوک چې له دې انکار وکړي هغه مؤمن نه دی [۱].

شیخ محمد ناصر الدین الباني بیان کوي

په ښې طریقې پوه شئ : د خروج دجال او نزول عیسی په باره کې وارد شوي حدیثونه متواتر دي، په هغو باندې ایمان راوړل واجب دي، تاسو باید د هغو خلکو په خبرو دوکه نشی کوم چې دا دعوه کوي چې دا حدیثونه خبر واحد دي، د داسې خبرو کوونکي په اصل کې په احادیثو نه پوهیږي، په دې خلکو کې یو هم داسې نشته کوم چې د دغو حدیثونو د سند تحقیق وکړي، که چیرته دوی تحقیق وکړي نو به ورته معلومه شي چې دا حدیثونه متواتر دي، لکه څرنګه چې ائمه وو مثلاً : حافظ ابن حجر رحمه الله او نورو ګواهي ورکړې، دا خبره یقینا ډیره د افسوس وړ ده چې یو شمیر خلک د همدې موضوع په باره کې په داسې ځایونو کې د خبرو کولو جرئت کوي کوم چې د همدې خبرو میدان نه وي، دا خبره بیا هغه وخت ډیره افسوسناکه ده کله چې د دې خبرې تعلق له دین او عقیدې سره دی [۲].

پوښتنه

څنګه حضرت عیسی علیه السلام په امت محمدي ﷺ کې شمار کیدلای شي؟

ځواب

حضرت عیسی علیه السلام اولوالعزم رسول دی، د الله تعالی په نزد هغه ته لوړ مقام حاصل دی. هغه ته د رسول الله ﷺ د صحابي شرف هم حاصل دی. هغه د معراج په شپه په نبي کریم ﷺ باندې د ایمان لرلو په حالت کې هغه ولید او په همدې ایمان کې به وفات کیږي.

---

[۱] تفسیر الطبري. آل عمران: ۳/ ۵۵. تعلیق الشیخ احمد شاکر.
[۲] شرح العقیدة الطحاویه. بتحقیق الشیخ الالباني. ص: ۵۲۵.

د معراج په حدیث کې ذکر دي، نبي کریم ﷺ فرمایي: بیا زه پورته وختلم حتی چې دویم آسمان ته ورسیدم، حضرت جبرئیل د آسمان پهره دارانو ته د دروازې خلاصولو خبره وکړه:

هغوی وویل: څوک یې؟

جبریل: زه جبریل یم.

درباریان: له تا سره بل څوک دي؟

جبریل: له ما سره محمد ﷺ دی.

درباریان: آیا هغه را بلل شوی دی؟

جبریل: هو.

درباریان: هغه دې په خیر راشي، هغه ډېره ښه تشریف راوړونکی دی! نو دروازه خلاصه کړی شوه، کله چې زه داخل شوم نو له حضرت یحی او حضرت عیسی علیهما السلام سره مې ولیدل، دا دواړه په خپل مینځ کې د خاله زامن دي.

جبریل امین وویل: دا یحیٰ او عیسی دي، دوی ته سلام ور واچوه، ما په هغوی سلام واچاوه او هغوی د سلام ځواب راکړ.

بیا هغوی دواړو وویل: زمونږ د نیک ورور او صالح نبي راتګ دې مبارک وي، هغه دې په خیر راشي[1].

د عیسی ؑ د نزول په باره کې د عیسایانو عقیدې

د هغوی عقیده دا ده چې عیسی ؑ د الله زوی دی، (د الله تعالی ذات له دې خبرې ډېر پورته، ارفع او اعلی دی چې د هغه لپاره کوم زوی شته دی) او هغه یې قتل کړ او زندی یې کړ، بیا یې درې ورځې وروسته هغه آسمان ته پورته کړ. او هغه د خپل پلار (رب) تر څنګ ناست دی، هغه به په آخره زمانه کې را نازل شي.

[1] - صحیح البخاري، احادیث الانبیاء، حدیث: ۳۴۳۰.

مخکې له دې چې د هغه د پورته کیدلو ذکر وشي او دا خبره هم چې هغه نه قتل شوی دی او نه زندۍ شوی دی بلکه یهودیانو محض شبه لیدلې کوم چې هغوی عیسی وباله او قتل یې کړ.

اهل کتاب د دوو مسیحیانو په اثبات باندې متفق دي

(۱) مسیح هدایت: هغه د حضرت داؤد ﷺ له اولادې څخه عیسی ﷺ دی.

(۲) مسیح ګمراه: په دې باره کې اهل کتابو ویلي چې دا د یوسف ﷺ له اولادې څخه دی[1] او هغه مسیح دجال دی

د عیسی ﷺ په باره کې د عیسایانو عقیده له مسلمانانو څخه په لاندې امورو کې بدله ده.

(۱) د عیسایانو دا عقیده ده چې عیسی ﷺ د الله تعالی زوی دی، د مسلمانانو دا عقیده ده چې هغه بشر دی، د الله تعالی بنده او رسول دی.

(۲) د عیسایانو دا عقیده ده چې عیسی ﷺ یهودیانو قتل کړ او هغه ته یې زندۍ ور واچوله، د مسلمانانو دا عقیده ده چې هغوی نه عیسی ﷺ قتل کړی او نه یې زندۍ ور اچولې، بلکه الله تعالی هغه صحیح سالم ژوندی آسمانو ته پورته کړی.

(۳) د عیسایانو دا عقیده ده چې عیسی ﷺ له زندۍ کیدو درې ورځې وروسته د آسمان لوري ته پورته شو، د مسلمانانو دا عقیده ده چې هغه له قتل او زندۍ کولو پرته د آسمان لوري ته پورته کړی شو.

د عیسایانو دا عقیدې سرا سر باطلې او له حقیقت څخه لیرې دي، حقیقت هغه دی کوم چې په قرآن کریم کې بیان شوی.

حضرت عیسی ﷺ به په کومو حالاتو کې نازلیږي؟

مسلمانان به په دې وخت کې له یوه لوی جنګ څخه را ستنیدونکي وي، هغوی به د قسطنطنیه ښار فتح کړي او د عیسایانو له لاس څخه به یې ازاد

[1] وګورئ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله کتاب (الجواب الصحیح لمن بدل دین المسیح).

کړي او دا خبره خو تیره شوه چې مسلمانان به د قسطنطنیه ښار د تورو په ذریعه نه بلکه د (لا اله الا الله) او تکبیر (الله اکبر) په ذریعه فتح کړي، یو نا څاپه به شیطان د هغوی په مینځ کې اعلان وکړي چې دجال د باندې راووت او راغی، د دې خبرې په اوریدو سره به مسلمانان قسطنطنیه پریږدي او د دمشق لورې ته به مخ کړي، ځکه چې د مسلمانانو مرکز به په دې وخت کې دمشق وي او په دې وخت کې به په ربنتیا مسیح دجال راغلی وي، هغه به په ټوله زمکه وګرځي او غټې فتنې به را بر سیره کړي (١).

په یوه بل مفصل روایت کې دي چې رسول الله ﷺ د دجال په باره کې د خبرو کولو په وخت کې وویل:

دجال به د مدینې ښارې زمکې ته راشي، مدینې ته داخلیدل به هغه حرام کړی شوي دي، مدینه به خپلو اوسیدونکو ته یوه یا دوه جټکې ورکړي، د هغو اثر به دا وي چې ټول منافق سړي او ښځې به له مدینې څخه ووځي او د دجال لورې ته به ورشي، بیا به دجال د شام لورې ته مخه وکړي او د هغه په ځینو غرونو به ودریږي او هغه به محاصره کړي، یو شمیر مسلمانان کوم به چې د غره په لاندې برخه کې موجود وي، دجال به د غره بیخ ته ولاړ شي او هغه به هم محاصره کړي، کله چې دا محاصره اوږده شي نو یو مسلمان به په غصه شي او خپلو ملګرو ته به ووایي: اې د مسلمانانو ټولیه! تاسو به تر څو په دې حالت کې اوسیږي، د الله دښمن دجال دستاسو په زمکه باندې ګیره اچولې، پورته شی د باندې را ووځی، تاسو په دوو خبرو کې یوه ضرور غوره کړی، الله تعالی به تاسو ته شهادت نصیب کړي یا به په هغه باندې غالب شی، هغه به ټول د زړه په اخلاص په مرګ بیعت وکړي، په دې وخت کې به یو

---

١ - د دجال په باره کې په تفصیل سره خبره تیره شوه. وګورئ په علامت کبری کې علامه نمبر (١).

تا څاپه ابن مریم علیها السلام تشریف راوړي، د مؤمنانو له سترګو به د ظلمت پردې لیرې شي، عیسی ﷺ به د هغوی په مینځ کې موجود وي[1].

خلک به ووایي: د الله بنده ! ته څوک یې؟ عیسي ﷺ به ووایي: زه د الله بنده او د هغه رسول یم، په دې موقع به عیسی ﷺ مؤمنانو ته ووایي: تاسو خلک له دجال څخه د نجات په پیدا کولو کې له دریو صورتونو څخه یو غوره کړی کوم چې تاسو ته ډیر خوښ وي، لومړی دا چې الله تعالی په دجال او د هغه په لښکر له آسمان څخه کوم عذاب را نازل کړي، دویم صورت دا دی چې الله تعالی هغه په زمکه کې ننه باسي او دریم صورت دا دی چې الله تعالی د ستاسو اسلحې په هغوی مسلطې کړي او د هغوی اسلحې له تاسو څخه بندې کړي، هغوی به ووایي: اې د الله نبي ! دا دریم صورت زمونږ لپاره تر ټولو ډیر اطمناني دی، رسول الله ﷺ خپلې جاري وساتلې او وې فرمایل: په دغه ورځ به تاسو ووینی چې یو قوي الجثه، ډیر ښڅونکی او خوړونکی یهودي به په دې حالت سره یو په څلور شي مګر د لړزیدو له امله به یې لاس تورې نه رسیږي، د ایمان خاوندان به د دجال په لوري ور شي او په هغه به فتح ترلاسه کړي، کله چې هغه ابن مریم ووینې نو د سیسې په څیر به تیښته شروع کړي، تر دې چې عیسی ﷺ به هغه را ګیر کړي او قتل به یې کړي[2].

د عیسی ﷺ په لاس د دجال وژلو قیصه په تفصیل سره په مخکنیو صفحو کې تیره شوه[3].

---

[1] مطلب دا دی چې کله مسلمانان په دې خبره متفق شي چې دوی به د سهار له لمانځه وروسته له دجال سره د جهاد کولو لپاره ووځي، نو د لمانځه لپاره به اقامت وویل شي. امام به د لمانځه د امامت لپاره وړاندې ولاړ وي چې عیسی ابن مریم به را نازل شي.

[2] المصنف لعبد الرزاق: ۱۱/ ۳۹۷.

[3] وګورئ په علامات کبرى کې علامه نمبر (۱).

عیسی ﷺ به څنګه او چیرته نازلیږي؟

د هغه نزول به د دمشق په مشرق کې د یوه سپین مینار سره نږدې وي، د هغه په بدن به د ورس [۱] او زعفرانو دوه رنګې دوه جامې وي او هغه به د دوو فرښتو په وزرو باندې له خپلې اسلحې سره تشریف راوړي.

علامه ابن کثیر رحمه الله ویلي دي چې مشهوره خبر دا ده چې هغه به په دمشق کې په سپین مشرقي مینار باندې را نازلیږي، په دې وخت کې به د لمانځه لپاره اقامت ویل شوی وي، د مسلمانانو امام به له هغه وغواړي: اې روح الله! راشه لمونځ ورکړه، مګر هغه به ووایي: ته په خپله امامت ورکړه ځکه دا اقامت د ستا لپاره ویل شوی دی.

او په یوه روایت کې دي چې په تاسو کې ځینې په ځینو باندې امیران یاست، دا د الله تعالی له لوري د دغه امت اعزاز دی.

د علامه ابن کثیر رحمه الله بیان دی چې د دغه مینار تعمیر زما په زمانه کې په سنه (۷۴۱ هجري) په سپینو تیږو (ډبرو) له نوي سره شوی، د دغه مینار تعمیر د هغو عیسایانو په مال شوی کومو چې په دې ځای باندې موجود پخوانی مینار وسوځاوه، غالباً دا هم شاید د نبي کریم ﷺ د نبوت له واضحو دلایلو څخه یو دلیل وي چې د دغه مینار تعمیر به د عیسایانو په مال سره کیږي، په کوم به چې عیسی ﷺ را نازل شي، خنزیر به ووژني، صلیب به مات کړي او له هغوی څخه به جزیه نه قبلوي [۲].

ما (مؤلف) په سنه (۱۴۱۲ هجري) کې په خپله د دمشق په مشرقي علاقه کې دغه سپین مینار ولید د کوم په باره کې چې د هغه ځای په خلکو کې دا مشهوره وه چې عیسی ﷺ به په دې مینار باندې را نازلیږي، ما د هغه عکس هم اخیستی، دا مینار په جومات کې نه دی بلکه د یوه بازار په مینځ

---

[۱] - تل کی مانند ایک قسم کی گھاس جس سی کپڑا رنگنی کا کام لیا جاتا هی (سیف).

[۲] - النهایة فی الفتن والملاحم: ۱/۱۹۲.

کې درول شوی، په کومه محله کې چې دا مینار دی د هغې اکثر اوسیدونکي عیسایان دي، ما په خپل کتاب کې دا عکس لګولی، اوس نو دا خبره الله تعالی ته معلومه ده چې عیسی ﷺ به په دې مینار باندې را نازلیږي او که په کوم بل مینار به تشریف راوړي.

دا هم ویل شوي دي چې د عیسی ﷺ نزول به د دمشق د جامع مسجد (اموی) په منارونو کې په کوم یوه مینار باندې وي، زه په دې باره کې په پوره وثوق سره کومه خبر نشم کولای (والله اعلم).

نبي کریم ﷺ د عیسی ﷺ ټول صفتونه د امت مخته وړاندې کړي او د هغو حالاتو تعین یې هم کړی په کومو کې به چې هغه تشریف راوړي تر څو چې د یوه مسلمان په معلوماتو کې کوم شک او شبه پاتې نشي.

نبي کریم ﷺ فرمایي: هغه به یو داسې سړی وي!

- درمیانه قد به یې وي، یعني نه به ډیر اوږد وي او نه لنډ.
- د هغه د مخ رنګ به سپین سوروالي ته به مایل وي.
- هغه به د پراخې سینې درلودونکی وي.
- د هغه ویښتان به سم وي، یعنې تاو شوي به نه وي، ګویا چې د هغه له سر څخه به د اوبو څاڅکي تویږي مګر ویښتان به یې نمجن نه وي.

په خلکو کې به د عروه بن مسعود ثقفي ؓ په شکل له هغه سره تر ټولو زیات ملاقي کیږي.

حضرت ابو هریرة ؓ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

کله چې ما اسمانونو ته تګ کاوه، زه له موسی ﷺ سره ملاقي شوم او له عیسی ﷺ سره مې هم ملاقات وشو، بیا نبي کریم ﷺ د هغه د حلیه بیانولو په وخت کې وفرمایل: د هغه درمیانه قد او سور بخون رنګ یې دی، ګویا که چې هغه له حمام څخه راوتلی را روان دی [1].

---

[1] - صحیح البخاري، احادیث الانبیاء، حدیث: ۳۴۳۷، وصحیح مسلم، الایمان، حدیث: ۱۲۸.

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان كوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

زه په حطيم كې ووم او قريشو له ما څخه زما د معراج سفر په باره كې پوښتنې كولې، هغوى له ما څخه د بيت المقدس متعلق د ځينو داسې شيانو پوښتنې وكړې د كومو متعلق چې ما ته په وثوق سره څه ياد نه وو، له هغوى څخه زه دومره تنګ شوم د كوم چې مثال نشته، نبي كريم ﷺ فرمايي: چې بيا الله تعالى بيت المقدس زما مخته داسې كړ لكه چې زه د هغه لوري ته ګورم او قريش چې له ما څخه د هغه په باره كومې پوښتنې كوي زه د هغوى په باره كې ځواب وركوم، ما د معراج په شپه د انبياؤ ټولى وليد. موسى عليه السلام ولاړ وو لمونځ يې كاوه، يو نا څاپه يو سړى زما مخته راغى ما چې كله ورته وكتل نو هغه عيسى عليه السلام وو كوم چې د لمانځه په حالت كې ولاړ وو. له هغه سره ډير مشابهت لرونكى عروه بن مسعود رضي الله عنه دى، يو نا څاپه مې په حضرت ابرهيم عليه السلام نظر پريوت هغه هم د لمانځه په حالت كې ولاړ وو. له هغه سره ډير مشابهت لرونكى دستاسو دغه ملګرى دى. يعنې په خپله نبي كريم ﷺ. د لمانځه وخت شو نو ما د هغوى ټولو امامت وكړ. كله چې زه له لمانځه څخه فارغ شوم نو يوه ويونكي وويل: اې محمد! دا د جهنم داروغه مالک دى. دې ته سلام وكړه. زه چې د هغه لوري ته متوجه شوم نو هغه په سلام كې له ما څخه مخته شو [1].

نبي كريم ﷺ دا هم فرمايلي:

ما په خوب كې په خپله كعبه له نږدې وليدله. يو نا څاپه زما نظر په يوه غنم رنګي باندې ولګيد. هغه غنم رنګى يو ښايسته سړى وو. د هغه اوږده ويښتان وو چې دواړو اوګو ته رسيدل. د هغه ويښتان نه بيخي تاو شوي او نه بالكل سم وو. بلكه د دواړو په ميځ كې وو. د هغه له سر څخه د اوبو څاڅكي څڅيدل. هغه د دوو سړيو په اوګو باندې خپل دواړه لاسونه ايښي وو

[1] صحيح مسلم. الايمان. حديث: ۱۶۹.

او د بيت الله طواف يې کاوه، ما پوښتنه وکړه: دا څوک دی؟ راته وويل شول: دا مسيح ابن مريم عليها السلام دی.

د هغه شا ته مې يو بل کس تلونکی وليد د کوم چې سخت تاو شوي ويښتان وو او په چپه سترګه ړوند وو، ما چې څومره خلک ليدلي په هغوی کې يې ډير ورته والی له (عبد العزی بن قطن بن عمرو خزاعی) سره درلود، هغه هم د دوو سړيو په اوګو لاسونه ايښي وو او د بيت الله طواف يې کاوه، ما وپوښتل: دا څوک دی؟ راته وويل شول: دا مسيح دجال دی[1].

يو اشکال

ځينو خلکو ته په دې خبره باندې په پوهيدلو کې سختي وي چې د حضرت عيسی ابن مريم عليها السلام او دجال له يوه ځای څخه را پورته کيدل څنګه ممکن دي، ځکه دجال چې کله عيسی ﷺ ويني نو تښتي به؟ او بيا د دجال د کعبې خوا ته تلل څنګه ممکن دي، کله چې په ده باندې مکې ته داخليدل هم حرام دي؟

ځواب

دا يو خوب دی کوم چې نبي کريم ﷺ ليدلی، په امر واقع کې داسې نه دی، خو پوښتنه دا ده چې آيا د انبياء کرامو خوب وحې نه ده؟ حافظ ابن حجر رحمه الله د دې ځواب داسې کړی چې د انبياء کرامو عليهم السلام خوب اګر چې وحې ده، ليکن په هغو کې ځينې خوبونه داسې دي د کومو چې تعبير نه دی او د ځينو نه، ځينو دا ځواب هم کړی چې دجال به مکې او مدينې ته داخل شي، مګر کله چې هغه د دجال او غتې فتنې په ډول را ښکاره شي نو په دې وخت کې به هغه بيا مکې او مدينې ته نشي داخليدلای، لهذا په دې کې اشکال نشته.

---

[1] صحيح البخاري، احاديث الانبياء، حديث: ۳۴۴۰، وصحيح مسلم، الايمان، حديث: ۱۲۹.

د حضرت عیسی ﷺ کار او د هغه د دور واقعات

حضرت عیسی ﷺ به له خپل نزول او د دجال له وژلو وروسته کله چې د مؤمنانو امور او معاملات سم کړي نو لاندني کارونه به تر سره کړي:

✿ د اسلامي حکومت قیام، خلک د شریعت تابع کول او د منحرفو مذاهبو له منځه وړل.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ﴾ ([1]).

ژباړه:

په هغه ذات قسم د کوم په قبضه کې چې زما روح دی، نږدې ده چې دستاسو په مینځ کې عیسی ابن مریم علیها السلام عادل واکمن جوړ شي او نزول وکړي، هغه به صلیب مات کړي، خنزیر به قتل کړي او جزیه به ختمه کړي (هغه به له هیڅ کافر څخه نه غوښتل کیږي).

✿ د الله تعالی د کلمې پورته کول، د یهود و او نصاری ؤ دغوت باطلول او د جزیې ختمول.

✿ د مسیح دجال وژل.

✿ د خلکو په مینځ کې حکومت کول، د عدل او سلامتي خپرول.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

ټول انبیاء د علاتي (پلار شریک) وروڼو په څیر دي، د هغوی میندې جلا جلا دي مګر د ټولو دین یو دی، زه عیسی ابن مریم علیها السلام ته تر ټولو ور نږدې یم، ځکه چې زما او د هغه په مینځ کې کوم نبي نشته، هغه به له شک پرته را نازلیږي، چې هغه وګورئ نو پوهیږئ به چې د درمیانه قد لرونکی، سپین سور والي ته مایل رنګ لرونکی دی، په هغه به له پاسه دوه

---

[1] صحیح البخاري، احادیث الانبیاء، حدیث: ۳۴۴۸، وصحیح مسلم، الایمان، حدیث: ۱۵۵.

رنګې جامې وي، د هغه له سر څخه به اوبه څڅېدونکې معلومېږي مګر د هغه ويښتان به نمجن نه وي، هغه به صليب ټوټې ټوټې کړي، خنزير به قتل کړي، جزيه به ختمه کړي او خلک به د اسلام لورې ته را دعوتوي، الله تعالى به د هغه په دور کې له اسلام پرته نور ټول مذاهب ختم کړي، د هغه په وخت کې به الله تعالى مسيح دجال هلاک کړي او پر زمکه به د امن او امان دوره وي تر دې چې زمرى به له اوښانو سره، لېوه به له مېږو سره يو ځاى څري،ماشومان به له مار سره مستي کوي مګر هغه به دوى ته هيڅ نقصان نه رسوي، د هغه حکومت به تر څلوېښتو (۴۰) کلونو پورې وي، بيا به هغه وفات شي او مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ وکړي (۱).

✿ د خوشحالي او امن عام کيدل.

✿ د قريشو د واکمني ختمول.

حضرت ابو امامه باهلي رضی الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

عيسى ابن مريم علیه السلام به زما په امت کې د عادل واکمن او انصاف کوونکي په څير تشريف راوړي، هغه به صليب ټوټې ټوټې کړي، خنزير به ووژني، جزيه به ختمه کړي او صدقه به پرېږدي (۲).

د مېږو او اوښانو زکاة به نه اخيستل کيږي، په خپل مينځ کې به دښمني او بغض پورته کړل شي، له هر زهر لرونکي ځناور څخه به زهر ليرې کړل شي (۳) تر دې چې يو ماشوم به د مار په خوله کې لاس ورکړي خو هغه به هيڅ نقصان نشي ورته رسولاى، واړه ماشومان به له زمريانو سره لوبې کوئ مګر هيڅ نقصان به نشي ورته رسولاى، لېوه به له مېږو سره داسې اوسيږي

---

۱ مسند احمد : ۲/ ۴۰۲. المستدرک للحتکم :۲/ ۵۹۵. وقال: صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي.

۲ - مطلب دا دى چې مال به په دومره کثرت سره وي چې هيڅوک به صدقه نه قبلوي. له دې امله چې هر څوک به غني وي.

۳ - يعنې زهر لرونکي ځناوران لکه مار وغيره. مار او وغيره به زهر نلري.

لکه چې د هغوی یو ساتونکی سپی وي، زمکه به له امن او سلامتیٍ څخه داسې ډکه شي لکه چې یو لوښې له اوبو څخه ډک وي، ټول خلک به په یوه کلمه باندې متفق وي او له الله تعالی پرته به د بل هیڅ شي او هیچا عبادت نه کیږي، جنګ او جدال به ختم شي، د قریشو حکومت به ختم شي، زمکه به د سپینو د یوه لوښي په څیر شي، هغه به خپل پیدا وار داسې ورکوي لکه څنګه یې چې د حضرت آدم ﷺ په وخت کې ورکاوه تر دې چې یو شمیر خلک به د انګور په یوه وښکالي سره را یو ځای شي او دا یو وښکالی به د هغوی ټولو خیټې ډکې کړي، همدا شان ډیر خلک به په یوه انار سره را یو ځای شي او دا یو انار به هغه ټول ماړه کړي، د میښ قیمت به ډیر کم وي او آس به په څو درهمو پیدا کیږي (۱)

۞ دښمنۍ بغض به ختم کړل شي، حسد او کینه به له زړونو لیرې کړل شي.

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

د مسیح ﷺ له راتګ وروسته ژوند کوونکو ته دې مبارک وي، آسمان ته به د باران ورولو او زمکې ته به د نباتاتو را زرغونولو عامه اجازه وکړی شي تر دې که تاسو په کومه صفا ستره ډبره (تیږه) باندې هم کوم تخم واچوی نو هغه به را زرغون شي، یو انسان به له زمري سره په خوا کې تیریږي هغه ته به هیڅ نقصان نشي رسولای، که په کوم مار پښه کیښودل شي نو هغه به هم کوم نقصان نشي رسولای، په دې وخت کې به په تاسو کې نه دښمني وي نه حسد او نه بغض (۲).

۞ د جنګونو او قتل ورکول.

له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

---

۱ - سنن ابن ماجه، الفتن، حدیث: ۴۰۷۷.

۲ - مسند الفردوس للدیلمي: ۲/ ۴۵۰، وسلسلة الاحادیث الصحیحة: ۴/ ۵۵۹.

عیسی علیه السلام به عادل امام او انصاف کوونکی واکمن به را نازل شي، هغه به صلیب ټوټې ټوټې کړي، خنزیر به قتل کړي، امن او سلامتي به راولي او له تورو څخه به درانتي [۱] (لرونه) جوړ کړي.

له هر زهرجن ځناور څخه به زهر لیرې کړل شي، آسمان به خپل رزق نازل کړي، زمکه به خپل برکات د باندې را وباسي، تر دې چې یو ماشوم به له مار سره لوبې کوي، لیوه به میګې څروي او هغوی ته به هیڅ نقصان نه رسوي. زمری به غواوې څروي او هغوی ته به هیڅ نقصان نه رسوي [۲].

د حضرت عیسی علیه السلام د ملګریو مقام

حضرت ثوبان رضی الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿عصابتان من امتي احرزهما الله من النار، عصابة تعزوالهند، وعصابة تكون مع عيسى ابن مريم عليهما السلام﴾

ژباړه:

زما په امت کې دوه ډلې داسې دي کومې چې الله تعالی له جهنم څخه بچ کړې دي، یوه هغه ډله ده کومه به چې په هند باندې حمله وکړي او دویمه ډله هغه ده کومه به چې له عیسی علیه السلام سره وي [۳].

په ټولو انبیاؤ علیهم السلام کې یواځې د عیسی علیه السلام په نازلیدو کې حکمت

شاید تاسو ته په ذهن کې دا پوښتنه پیدا شوې وي چې په اخره زمانه کې د نزول لپاره په ټولو انبیاء کرامو علیهم السلام کې د حضرت عیسی علیه السلام انتخاب څنګه وشو؟

---

[۱] درانتي: هغه اله ده په کومې سره چې د فصلونو لو کیږي لکه زمونږ په وخت کې مثلا (لور، لرۍ وغیره) (ژباړن) مطلب دا دی چې د کفر خاتمه، د جنګونو ورکول. هر لوري نه من او خوشحالي او د زړونو د سلامتي له امله به خلک تورو ته هیڅ ضرورت نلري او هغوی به له تورو څخه د لرونو کار اخلي او په هغه به فصلونه ریبي.

[۲] مسند احمد: ۲/۴۸۲، وقال الهیثمي في مجمع الزوائد: ورجاله رجال الصحیحین.

[۳] سنن نسائي، الجهاد، حدیث: ۳۱۷۵.

د حضرت عیسی علیه السلام په نزول کې حکمت څه دی؟ په دې باره کې د علم خاوندانو څو خبرې کړې دي چې په لاندې ډول ذکر کیږي:

✿ د یهودیانو د دې دعوې رد مقصود دی چې مونږ عیسی علیه السلام وژلی، الله تعالی د دوی دا دروغ ښکاره کوي، یهودو هغه نه دی وژلی، بلکه هغه به یهود او د هغوی رئیس دجال وژني، د حافظ ابن حجر رحمه الله په نزد دا قول له نورو څخه راجح دی (١).

✿ حضرت عیسی علیه السلام په انجیل کې د امت محمدي صلی الله علیه وسلم په باره کې ویلي لکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَىٰ عَلَىٰ سُوقِهِ﴾ (٢).

ژباړه:

دا اوصاف هغه اوصاف دي چې مثالونه یې په تورات کې بیان شوي دي او دا هغه اوصاف دي چې مثالونه یې په انجیل کې بیان شوي دي لکه هغه کښت چې را وباسي ځانګې خپلې بیا یې ملا خپله ټینګه کړي؛ بیا کلکه او پریړه شي دغه ځانګه او ودریږي دغه کښت پس له ضعیفي او نرمي نه په پنډیو او بیخونو خپلو باندې.

هغه له الله تعالی څخه دعا غوښتې چې هغه د دې امت یو فرد جوړ شي، الله تعالی د هغه دا دعا قبوله کړې او هغه یې پاتې کړی تر څو چې په آخره زمانه کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دین (اسلام) د شعائرو مجدد جوړ شي او تشریف راوړي.

✿ د حضرت عیسی علیه السلام زمکې ته را نازلیدل د هغه د مرګ د نږدیوالي باعث دی تر څو چې هغه په زمکه کې دفن کړای شي، ځکه چې له خاورې

---

(١) - فتح الباري، شرح صحیح البخاري، الجهاد . حدیث: ٣٤٤٩.
(٢) - الفتح، یة: ٢٩.

څخه پیدا شوي هر مخلوق لپاره دا لایقه ده چې په زمکه کې وفات شي او په هغې کې دفن کړای شي، د هغه نزول به د دجال په زمانه کې وي او هغه به دجال وژني.

✿ هغه به د عیسایانو د تکذیب لپاره را نازلیږي، د هغه په راتګ سره به د نصارئ ؤ دا دعوه دروغ ثابته شي چې هغه د الله زوی دی، الله تعالی به د هغه په زمانه کې له اسلام پرته نور ټول دینونه ختم کړي، هغه به صلیب مات کړي، خنزیر به قتل کړي او جزیه به ختمه کړي.

✿ د حضرت محمد ﷺ او حضرت عیسی علیه السلام په مینځ کې یو خاص قسم ربط دی:

د الله تعالی رسول ﷺ فرمایي:

﴿انا اول الناس بعیسی ابن مریم لیس بیني وبینه نبي﴾ ([1]).

ژباړه: زه عیسی علیه السلام ته تر ټولو ډیر نږدې یم، ځکه چې زما او د هغه په مینځ کې هیڅ نبي نشته.

رسول الله ﷺ په ټولو خلکو کې له حضرت عیسی علیه السلام سره یو خاص قسم ربط لرونکی او له هغوی څخه نږدې دی، حضرت عیسی علیه السلام خلکو ته د حضرت محمد ﷺ د راتلو خوشخبري ورکړې وه چې هغه به له ده څخه وروسته راشي، هغه خلکو ته د حضرت محمد ﷺ د تصدیق او په هغه ﷺ باندې د ایمان راوړو دعوت ورکړی وو لکه چې الله تعالی جل جلاله فرمایي:

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَٰذَا سِحْرٌ مُبِينٌ ﴿٦﴾﴾ ([2]).

---

[1] مسند احمد: ۲/ ٤٢٣. قال المناوي: اسناده حسن.

[2] الصف، آیة: ٦.

ژباړه: ياد کړه اې محمده! هغه وخت چې وويل عيسى زوى د مريمې داسې چې اې بني اسرائيلو (اولاده د يعقوب) بيشکه زه رسول ليږلى شوى د الله يم تاسې ته (حال دا چې تصديق کوونکى يم) د هغه کتاب چې وړاندې څما دى له توريت څخه او زيرى کونکى يم په هغه رسول سره چې را به شي وروسته له ما څخه چې نوم د هغه احمد دى بيا (وائي الله) کله چې راغى هغه رسول دويته په ښکاره ؤ معجزو سره وويل (بني اسرائيلو) دا (قران) سحر کوډې دي ښکاره.

په يوه حديث کې راغلي چې صحابه کرامو رضى الله عنهم عرض وکړ: اې د الله رسوله! مونږ ته د ځان په باره کې ووايه نو نبي کريم ﷺ ورته وويل: هو! زه ذ خپل پلار ابراهيم عليه السلام دعا او د خپل ورور عيسى عليه السلام زيرى يم ([1]).

زمونږ نبي حضرت محمد ﷺ مونږ ته حکم کړى چې مونږ عيسى عليه السلام ته د هغه ﷺ سلام ورسوو

حضرت ابو هريرة رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿يوشك المسيح عيسى بن مريم أن ينزل حكما قسطا وإماما عدلا فيقتل الخنزير ويكسر الصليب وتكون الدعوة واحدة فأقرئوه أو أقرئه السلام من رسول الله صلى الله عليه و سلم وأحدثه فيصدقني﴾ ([2]).

ژباړه: نږدې ده چې عيسى عليه السلام به انصاف کوونکى واکمن او عادل امام به تشريف راوړي، هغه به خنزير قتل کړي، صليب به ټوټې ټوټې کړي او په دې وخت کې به دعوت يواځې يو وي، تاسو د رسول الله ﷺ له لوري په هغه سلام ووايى، زه چې څه بيانوم هغه به د هغه تصديق کوي.

په يوه بل روايت کې دي:

---

[1] - مسند احمد: ۵/ ۲۶۲.

[2] - مسند احمد: ۲/ ۳۹۴ (حسن).

﴿انى لأرجو ان طال بي عمر أن ألقى عيسى بن مريم عليه السلام فإن عجل بي موت فمن لقيه منكم فليقرئه مني السلام﴾ ([1]).

ژباړه:

زما امید دی که زما عمر اوږد شو نو زه به له عیسی ﷺ سره ووینم: او که زه زر وفات شم نو په تاسو کې چې کوم یو هم له عیسی ابن مریم علیهما السلام سره ملاقي شی هغه دې زما له لوري په هغه باندې سلام ووایي.

له را نازلیدو وروسته به عیسی ﷺ څومره موده په ځمکه کې وي

عیسی ﷺ به په ځمکه کې تر څلویښت (۴۰) کلونو پورې ژوند کوي، د هغه په زمانه کې به خلک له خوشحالي، سلامتي او عدل سره اوسیږي، په دې باندې د حضرت ابو هریرة ﷺ هغه حدیث دلالت کوي کوم مو چې تر دې وړاندې بیان کړ چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

﴿الأنبياء إخوة لعلات أمهاتهم شتى ودينهم واحد وأنا أولى الناس بعيسى بن مريم لأنه لم يكن بيني وبينه نبي الى ان قال: فيمكث أربعين سنة ثم يتوفى ويصلي عليه المسلمون﴾ ([2]).

ژباړه: ټول انبیاء کرام علیهم السلام د علاتي (پلار شریک) ورونه دي، د هغوی میندې جلا جلا دي مګر دین د ټولو یو دی، زه له خلکو څخه ډیر حضرت عیسی ﷺ ته ور نږدې یم، ځکه چې د هغه او زما تر مینځ کوم نبي نشته.

تر دې چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغه به په ځمکه کې تر څلویښت (۴۰) کلونو اوسیږي، بیا به وفات شي او مسلمانان به د هغه د جنازې لمونځ وکړي.

حضرت ابوهریرة ﷺ د دې آیت کریمه ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ په تفسیر کې فرمایي:

---

[1] مسند احمد: ۲/ ۲۹۸. (اسناده صحیح).

[2] - مسند احمد: ۲/ ۴۰۲ (صحیح).

له دې څخه مراد د عیسی ﷺ خروج دی، هغه به په زمکه کې تر څلویښت (۴۰) کلونو پورې اوسیږي، دا څلویښت کلونه به د څلورو کلونو په څیر وي، هغه به حج او عمره هم کوي [1].

حضرت عیسی ﷺ به حج کوي

حضرت ابو هریرة رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿والذی نفسي بیده! لیهلن ابن مریم بفج الروحاء حاجا او معتمرا او لیثنینهما﴾ ([2]).

ژباړه:

په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې زما روح دی! عیسی ابن مریم علیهما السلام به ضرور له (فج روحاء) څخه د حج یا عمرې احرام وتړي یا به دا دواړه یو ځای اداء کړي.

مطلب دا دی چې عیسی ﷺ به د (فج روحاء) له مقام څخه تلبیه شروع کړي، دا ځای د مکې مکرمې او مدینې منورې په درمیانی لارې باندې واقع دی، د هغه احرام به د حج تمتع لپاره وي، یعنې اول به عمره وکړي احرام به خلاص کړي او بیا به د حج لپاره په دویم ځل احرام وتړي، یا بیا به حج قران وکړي، یعنې په یوه احرام سره به عمره او حج اداء کړي.

---

[1] - مسند عبد بن حمید. دا د اثر مرفوع حدیث په حکم کې دی. ځکه دا رنګه خبرې صحابي له خپلې رایه څخه نشي کولای.

[2] - صحیح مسلم. الحج. حدیث: ۱۲۵۲.

د یاجوج ماجوج را وتل

ضروري خبره

یاجوج ماجوج [١] د بني آدم دوه غټې شریرې قبیلې یا قومونه دي لکه د نبي کریم ﷺ په یوه حدیث سره چې ثابت شوي

د آدم په اولاده کې دي او انسانان دي، دا خلک د ذوالقرنین په زمانه کې د یوه فساد خپره وونکي قوم په څیر مخته راغلل، د هغوی ګاونډیانو له ذوالقرنین څخه وغوښتل چې د دوی او د یاجوج ماجوج تر مینځ دې دیوال جوړ کړي تر څو چې دوی د هغوی له شر او ضرر څخه خلاص شي او ذوالقرنین همدا دیوال جوړ کړ

نبي کریم ﷺ خبر ورکړی چې په آخره زمانه کې به د حضرت عیسی علیه السلام له نزول وروسته یاجوج ماجوج د خلکو لوري ته راووزي او په زمکه کې به خپاره (تیت) شي، هغوی به حضرت عیسی علیه السلام او د هغه مؤمن ملګري د

---

[١] کومه خبره چې د یاجوج ماجوج په باره کې مشهوره ده او ځینو غیر معتمدو کتابونو هم د هغې ذکر کړی چې په هغوی کې ځیني ډیر واړه او ځیني ډیر لوی دي تر دې چې په هغوی کې به یو کس خپل غوږ ځانته پر زمکه وغوړوي او بل غوږ به له خپل ټول بدن څخه را تاو کړي. دا او د بېته ورته نورې خبرې ټولې یې کوم اصل نلري.

بيت المقدس په غره کې محاصره کړي او مؤمنان به له سختو مشکلاتو سره مخ کړي!

په دې وخت کې به الله تعالی په ياجوج ماجوج باندې يو چينجی مسلط شي کوم به چې د هغوی غاړې خوري، په همدې سره به هغوی ټول يو ځای هلاک کړی شي او الله تعالی به عيسی ﷺ او د هغه ملګري د ياجوج ماجوج له شر څخه بچ وساتي، لاندې د هغوی واقعات په تفصيل سره بيانيږي:

په ياجوج ماجوج باندې د جوړ شوي ديوال قيصه

الله تعالی په خپل مقدس کتاب قرآن مجيد کې د يوه نيک بادشاه ذوالقرنين قيصه بيان کړې او فرمايي:

﴿ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ۝ قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ۝ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ۝ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ۭ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوْا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ۝ فَمَا اسْطَاعُوْٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ۝ ﴾ (١).

ژباړه:

بيا ونيوله ده بله لياره او تيار يې کړ نور اسباب تر هغې پورې چې ورسيد مينځ د دوو غرونو ته نو وې موند را وړاندې د دغو دواړو (غرونو) داسې قوم چې نه ؤ نږدې (اکثر د دوی) چې وپوهيږي په خبره (د ذوالقرنين)

---

١. الکهف. آية: ٩٢ - الی ٩٧.

باندې ؛ وويل دغو (ترجمانانو) اې ذوالقرنينه ! بيشکه چې ياجوج ماجوج فساد کونکي دي په زمکه کې پس آيا حکم کوې ته چې مقرر کړو تا ته څه خرج محصول په دې شرط چې جوړ کړې ته په مينځ زمونږ او په مينځ د دوی کې يو ديوال ؛ وويل ذوالقرنين هغه چې اقتدار راکړی دی ما ته په هغه شي کې رب زما خير ډير غوره دی (له ورکړې د ستاسې نه چې محصول دی) پس مرسته وکړی تاسې له ما سره په زيار زما کې ټول په انساني قوت او عمل نه په مال سره چې جوړ کړم په مينځ د ستاسې او په مينځ د دوی کې يو پلن او محکم ديوال ؛ راوړی تاسې ما ته تختې د اوسپنې؛ تر هغه پورې يې اينبودلې چې برابرې شوې دا تختې په مينځ د دوو څوکو د غرونو نو وويل (ذوالقرنين) چې پوکړئ !؛ (په دغو سکرو چې اچول شوي دي په مينځ د تختو د اوسپنې نو پو يې کړل) تر څو چې يې وګرځوله دغه (اوسپنه) اور وويل (ذوالقرنين) راوړئ ما ته چې توی يې کړم په دې ديوال ويلي شوي مس ؛ پس ونه کړای شول دوی چې وخيږي په هغه (او ښکاره شي پرې له جهته د لوړ والي او ښويوالي) او ونه کړای شول دوی دغه (غره) لره سوری کول (له جهته د سختوالي او پلنوالي).

د اهل علمو د يوه راجح قول مطابق هغه يو نيک بادشاه وو، نبي نه وو. هغه ته ذوالقرنين له دې امله ويل کيږي چې هغه د مشرق او مغرب سفر کړی او هغو ځايونو ته رسيدلی چيرته چې د شيطان د ښکرونو په مينځ کې د لمر را ختل (طلوع) او لويدل (غروب) کيږي. ذوالقرنين (سکندر مقدوني) نه دی بلکه له هغه پرته بل څوک دی. ځکه چې سکندر کافر وو او د هغه زمانه له ذوالقرنين څخه له دوه زره کلونو يو څه زياته وروسته وه (والله اعلم).

الله تعالی د هغه قيصه په قرآن کريم کې بيان کړې او فرمايلي يې دي چې هغه په ټوله زمکه باندې سفر کړی. مونږ دلته يواځې د هغو آياتونو مطلب ذکر کوو د کومو تعلق چې د ذوالقرنين او ياجوج ماجوج له قيصې سره دی.

﴿ثُمَّ اَتۡبَعَ سَبَبًا﴾ بیا وښودله ده (بله) لیاره او تیار یې کړ نور اسباب، یعني هغه د مشرق او مغرب په یوه بله لار ولاړ کومه چې د دغو لوړو غرونو په شمالي لوري کې ده.

﴿حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيۡنَ السَّدَّيۡنِ﴾ تر دې چې هغه یوه داسې ځای ته ورسید کوم چې د ترکو په زمکه کې د آرمینیا او ازربائجان له سرحد سره نږدې واقع دی:

(السدان) معنا یې ده دوه غرونه، د هغوی په مینځ کې خالي ځای دی، له کوم څخه چې یاجوج ماجوج را وځي، هغوی د ترکو په علاقه کې فساد کوي، فصلونه او نسلونه تباه کوي [۱].

کله چې ترکو له ذوالقرنین سره قوت ولید نو دوی ته اندازه وشوه چې دا بادشاه صاحب د اختیار او صلاحیت دی، هغوی ور څخه وغوښتل چې د دوی او د یاجوج او ماجوج تر مینځ د لارې بندولو لپاره یو دیوال ودروي تر څو چې یاجوج ماجوج پر دوی حمله ونکړي، د دغه کار لپاره ترکو بادشاه ته د مالي عوض خبره هم وکړه، لیکن دغه نیک بادشاه پرته له کومې معاوضې یواځې د خیر په بنیاد او له الله تعالی څخه د اجر او ثواب لپاره د دغه دیوال د جوړولو فیصله وکړه او هغه دې نتیجې ته ورسید چې د دې مسئلې آسان حل دا دی چې د دواړو غرونو په مینځ کې تیریدونکې لار په یوه مضبوط (کلک) دیوال سره بنده کړی شي او ترکو ته یې وویل چې د افرادو په قوت له ده سره مرسته وکړي:

﴿فَاَعِيۡنُوۡنِىۡ بِقُوَّةٍ اَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا﴾ پس مرسته وکړئ تاسې له ما سره په زیار زما کې ټول (په انساني قوت او عمل سره نه په مال) سره چې جوړ کړم په مینځ دستاسې او په مینځ د دوی کې یو پلن او محکم دیوال.

---

[۱] - تفسیر ابن کثیر. الکهف ۱۸: ۹۲ - ۹۳.

پادشاه د اوسپنې غټې ټوټې د دواړو غرونو په مینځ کې په ترتیب سره کېښودې او بیا یې وویل ﴿انْفُخُوْا﴾ پو کړئ (په دغو سکرو چې اچول شوي دي په مینځ د تختو د اوسپنې نو پو یې کړل) ﴿حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا﴾ تر څو چې یې وګرځوله دغه اوسپنه اور ﴿قَالَ اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾ وویل (ذوالقرنین) راوړئ ما ته چې تو یې کړم په دې دیوال ویلې شوي مس، په دې سره د اوسپنې ټوټې په ډېر مضبوط شکل کې له یوې بلې سره پیوند شوې او د یوه سخت غره په څېر جوړې شوې.

د دغه دیوال د لوړوالي له امله د یاجوج ماجوج لپاره په هغه باندې پورته ختل ممکن نه دي، د دیوال د مضبوطوالي او پلنوالي له امله په هغه کې سوری کول هم هغوی ته ممکن نه دي، د دغه مضبوط او محکم دیوال په ذریعه ذوالقرنین د یاجوج ماجوج لار بنده کړه.

یاجوج ماجوج څوک دي؟

یاجوج ماجوج د طالوت او جالوت په څېر یو عجمي نوم دی، دا د آدم علیه السلام له اولادې څخه دي او له بشري نوع سره تعلق لري، حافظ ابن حجر رحمه الله دې خبرې ته ترجیح ورکړې چې هغوی د یافث بن نوح له اولادې څخه دوه قبیلې دي ([1]).

د حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه له حدیث څخه هم د دې تایید کېږي. هغه روایت کړی چې:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځل په سفر کې وو چې د صحابه وو د ډلو په مینځ کې یو څه فاصله پیدا شوه، نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا دوه آیتونه په اوچت آواز سره تلاوت کړل:

---

[1] - فتح الباري. شرح صحیح البخاري. احادیث الانبیاء. حدیث: ۳۳۴۶، ۳۳۴۸ - ۱۳ / ۱۰۶

﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ۝ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ وَمَا هُم بِسُكَارَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ ۝﴾ (١).

ژباړه:

اې خلکو ځان وساتئ (وورېږئ) تاسې له عذاب د رب خپل؛ بيشکه زلزله د قيامت يو شی دی ډېر لوی ؛ په هغه ورځ چې ووينی تاسې هغه چې غافله به شي هره تی ورکونکې (د دې ورځې له هيبت څخه) له هغه وړوکي چې تی ورکوي هغه ته او وبه غورځوي هره ميرمن حامله (اميد واره) حمل (بچی) خپل او وبه وينې ته خلق بې سده (له هيبت نه) حال دا چې نه به وي په واقع سره دوی بې سده وليکن عذاب د الله دی ډېر سخت (نو د قيامت ورځې له ويرې به بې سده وي).

صحابه کرامو رضی الله عنهم چې آواز واورېد نو خپلو سپرليو ته يې حرکت ورکړ او پوه شول چې د الله رسول ﷺ هلته دی له کوم ځای څخه چې دا آواز راغی. کله چې هغوی له نبي کريم ﷺ څخه را جمع شول نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې خلکو ! تاسو پوهېږئ چې هغه ورځ به څنګه وي؟ په دغه ورځ به ادم عليه السلام ته آواز وشي او د هغه رب به هغه ته ووايي: اې آدم ! يوه ډله د اور لوري ته روانه کړه. هغه به پوښتنه وکړي : اې زما رب جل جلاله ! جهنم ته رسيدونکې ډله کومه ده؟ الله تعالی به وفرمايي: په هرو زرو کې نه سوه نه نوي (۹۹۹) به جهنم ته ځي او يو به جنت ته ځي. حضرت عمران رضي الله عنه فرمايي: چې د ويرې او حيرانتيا له امله د صحابه کرامو ژبې ګونګې شوې او له هغوی څخه خندا ورکه شوه. کله چې نبي عليه السلام د هغوی دا پريشاني وليده نو وې فرمايل: عمل کوی او خوشحاله اوسی. په هغه

---

(١) الحج آية ١ ٢.

ذات مې دې قسم وي د کوم په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، تاسو خلک له دوو داسې مخلوق سره يې چې کله هم هغوی د کوم شي په مقابله کې شي نو په کثرت سره به په هغوی غالب راځي، يو ياجوج ماجوج او بل د بنوآدم او بنو ابليس لخوا هلاک شوي، عمران رضي الله عنه وايي: په دې سره د صحابه کرامو پريشاني او ويره ليرې شوه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: عمل کوی او خوشحاله اوسی، په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، تاسو د خلکو په مينځ کې داسې ياست لکه د اوښ په مخ کې توره نښه (نشان) يا د کوم څناور په بازو کې يوه وړه دائره (١).

د هغوی جسماني کيفيت

حضرت خالد بن عبد الله بن حرمله له خپل خاله څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ يو ځل په داسې حال کې خطبه ورکوله او نبي کريم ﷺ خپل سر مبارک په تړوته تړلی وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل:

﴿انكم تقولون، لا عدو، وانكم لن تزالوا تقاتلون عدوا حتى ياتي ياجوج وماجوج عراض الوجوه، صغار العيون، صهب الشعاف، من كل حدب ينسلون، كان وجوههم المجان المطرفة﴾ (٢).

ژباړه: تاسو وايی چې هيڅ دښمن نشته، حالانکه تاسو به هميشه جنګيږی تر دې چې ياجوج ماجوج راشي، د پراخو تندو والا، د وړو وړو سترګو واله او سوروالي ته مايل د تورو ويښتانو والا، هغوی به له هر لوړ ځای څخه په منډه منډه راځي، مخونه د هغوی به داسې وي لکه ګرد ډالونه.

(صهب الشعاف) يعنې د هغوی د ويښتانو رنګ به تور وي په کومو کې به چې سوروالی هم وي.

---

١ مسند احمد: ۴/ ۴۳۵. جامع الترمذي. تفسير القرآن. حديث: ۳۱۲۹. وقال: حديث حسن صحيح

٢ مجمع الزوائد: ۸/ ۱۳. ومسند احمد: ۵/ ۲۷۱. والطبراني ورجاله رجال الصحيح

(كان وجوههم المجان المطرفة) (المجن) ډال ته ویل کیږي، د هغوی د څیرو تشبیه یې له ډال سره له دې وجهې ورکړه ځکه چې هغه به پراخ او ګرد وي او (المطرفة) له دې امله ورته ویل کیږي چې هغه به له غوښې ډک وي (من حدب ینسلون) یعني له هر لوري ځای څخه به هغه په تیزي سره راووزي او په ځمکه کې به خپاره (تیت) شي.

هغوی دیوال څنګه سوری کوي؟

دا خبره مخکې تیره شوه چې یاجوج ماجوج دوه قبیلې دي، هغوی په ځمکه کې په انواعو او اقسامو سره فسادونه او فتنې برپا کول چې ذوالقرنین د هغوی د بندولو لپاره دیوال جوړ کړ، دا دیوال د دوی او د عامو خلکو په مینځ کې حائل دی، د هغوی د ژوند کولو یوه ځانګړې طریقه ده، یاجوج ماجوج تل د دغه دیوال د ړنګولو په کوښښ کې مشغول دي او په هغه کې د سوري کولو کوشش جاري ساتي.

حضرت ابو هریرة ﷺ بیان کوي چې رسول الله ﷺ د دغه غار په باره کې فرمایلي:

یاجوج ماجوج هره ورځ هغه سوری کوي، کله چې په هغه کې سوري کولو ته نږدې شي نو د هغوی سردار (مشر) ووایي: راځئ صبا به د دې په ماتولو کې کامیاب شو، کله چې هغوی بیا راشي نو الله تعالی هغه له پخوا څخه هم ډیر مضبوط کړی وي، مګر کله چې د هغوی موده پوره شي او الله تعالی د خلکو لور ته د هغوی د رالیږلو اراده وکړي نو په دغه ورځ به د هغوی سردار ووایي: راځئ: انشاء الله تاسو به صبا ورځ په دې کې سوری وکړی (١) د هغوی سردار به له همدې ویلو سره انشاء الله هم ووایي، نبي کریم ﷺ فرمایلي: دوی به په دې ورځ هم بیرته راشي.

---

(١) یعني کله چې هغوی انشاء الله ووایي او خپل تصرف او خپلې فیصلې د خـ[illegible] په ځای الله تعالی ته وسپاري نو هغوی بیول به کامیاب شي.

صبا ورځ چې کله دوی راشي نو دیوال به د پخوا په څیر وي [1] نو هغوی به دیوال مات کړي او را وبه ووځي او په خلکو باندې به حملې شروع کړي، هغوی به د خلکو تږولې اوبه وڅښي، خلک به هغوی ویني او تښتي به. هغوی به خپل غیشي د آسمان لور ته وار کړي او د هغوی غیشي به په وینو لړلي بیرته واپس راشي [2].

له دې حدیث څخه درې خبرې ثابتیږي

۞ الله تعالی هغوی شپه او ورځ له کار کولو څخه منع کړي، که چیرته هغوی داسې وکړي نو ممکن ده چې هغوی سوری وکړي.

۞ الله تعالی هغوی ته دا توفیق هم نه دی ورکړی چې هغوی د کومې قوي آلې په ذریعه په دیوال باندې د کار کولو کوشش وکړي، الله تعالی د هغوی په خیال کې دا خبره نه ده ور اچولې او نه یې هغوی ته دا ور ښودلې ده. ممکن ده چې هغوی د داسې کولو په کوشش کې وي، مګر د دیوال د لوړ والي او پلنوالي له امله دوی له داسې کولو څخه عاجز دي.

۞ الله تعالی هغوی ته تر ټاکلي وخت او تر قرب قیامت پورې د انشاء الله ویلو توفیق نه دی ورکړی.

له حدیث پاک څخه دا هم معلومیږي چې په هغوی کې کاریګر، واکمن او بادشایان هم شته دي او د هغوی رعیت د یوه نظام او کنترول ماتحت کار کوي، دا هم معلومیږي چې په هغوی کې ځینې داسې هم دي کوم چې د الله تعالی ذات پیژني او د هغه په قدرت او مشیت باندې اعتراف کوي.

---

[1] - یعني څومره چې دوی ژور کړی وي، الله تعالی به بیرته نه وي مضبوط کړی او په هغه حال به پاتې وي.

[2] - مسند احمد :۲/ ۵۱۰، وجامع الترمذي، تفسیر القرآن، حدیث: ۳۱۵۳، والمستدرک للحاکم:۴/ ۴۸۸، وقال: صحیح علی شرط الشیخین، ووافقه الذهبي.

د دې امر هم امکان شته چې د هغوی د واکمن په ژبه به د (انشاء الله) کلمه د هغې په معنا له پوهیدلو پرته راشي او د هغې په برکت به دوی مقصد تر لاسه کړي (۱).

د یاجوج ماجوج په باره کې قراني ایاتونه

﴿ وَ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ ۗ قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ۝٨٣ اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِي الْاَرْضِ وَ اٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ۝٨٤ فَاَتْبَعَ سَبَبًا ۝٨٥ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّ وَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۬ؕ قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّاۤ اَنْ تُعَذِّبَ وَ اِمَّاۤ اَنْ تَتَّخِذَ فِيْهِمْ حُسْنًا ۝٨٦ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ۝٨٧ وَ اَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨالْحُسْنٰى ۚ وَ سَنَقُوْلُ لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ۝٨٨ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝٨٩ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ۝٩٠ كَذٰلِكَ ؕ وَ قَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ۝٩١ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝٩٢ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ۝٩٣ قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَ مَاْجُوْجَ مُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰۤى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَهُمْ سَدًّا ۝٩٤ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ رَدْمًا ۝٩٥ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ ؕ حَتّٰۤى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ

---

۱ - فتح الباري. شرح صحيح البخاري. الفتن. حديث: ۷۱۳۵.

انْفُخُوْا ۖ حَتّٰۤى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِیْۤ اُفْرِغْ عَلَیْهِ قِطْرًا ﴿۹۶﴾ فَمَا اسْطَاعُوْۤا
اَنْ یَّظْهَرُوْهُ وَ مَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ﴿۹۷﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه:

پوښتنه کوي يهودان په مشوره د مشرکانو له تا نه له قيصې د (ذوالقرنين) (ووايه اې محمده! دوی ته) اوس به زه ولولم په تاسې له هغه څه احوال؛ بيشکه چې مونږ قدرت ورکړی ؤ هغه ته په زمکه کې او ورکړی ؤ مونږ هغه ته له هر (ضروري) شي څخه سامان (مقصد ته رسونکی)؛ بيا ونيوله ده بله لياره او تيار يې کړ نور اسباب تر هغې پورې چې ورسيد مينځ د دوو غرونو ته نو وې موند را وړاندې د دغو دواړو (غرونو) داسې قوم چې نه ؤ نږدې (اکثر د دوی) چې وپوهيږي په خبره (د ذوالقرنين) باندې؛ وويل دغو (ترجمانانو) اې ذوالقرنينه! بيشکه چې ياجوج ماجوج فساد کونکي دي په زمکه کې پس آيا حکم کوې ته چې مقرر کړو تا ته څه خرج محصول په دې شرط چې جوړ کړې ته په مينځ زمونږ او په مينځ د دوی کې يو ديوال؛ وويل ذوالقرنين هغه چې اقتدار راکړی دی ما ته په هغه شي کې رب زما خير ډير غوره دی (له ورکړې د ستاسې نه چې محصول دی) پس مرسته وکړی تاسې له ما سره په زيار زما کې ټول په انساني قوت او عمل نه په مال سره چې جوړ کړم په مينځ د ستاسې او په مينځ د دوی کې يو پلن او محکم ديوال؛ راوړی تاسې ما ته تختې د اوسپنې؛ تر هغه پورې يې اينښودلې چې برابرې شوې دا تختې په مينځ د دوو څوکو د غرونو نو ووېل (ذوالقرنين) چې پوکړئ!؛ (په دغو سکرو چې اچول شوي دي په مينځ د تختو د اوسپنې نو پو يې کړل) تر څو چې يې وګرځوله دغه (اوسپنه) اور ووېل (ذوالقرنين) راوړئ ما ته چې توی

---

[1] - الکهف. آية ۸۳- الی ۹۷.

يې کړم په دې ديوال ويلي شوي مس ؛ پس ونه کړای شول دوی چې وخيژي په هغه (او ښکاره شي پرې له جهته د لوړ والي او ښويوالي) او ونه کړای شول دوی دغه (غره) لره سوری کول (له جهته د سختوالي او پلنوالي).

د الله تعالی د فرمان ﴿ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴾ معنا دا ده چې هغه خلک کوم ته چې خطاب کيده په خبره باندې په ډير مشکل او وروسته پوهيدل.

الله تعالی فرمايي: ﴿حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ﴾

ژباړه:

تر هغه پورې کله چې پرانستلی شي ياجوج او ماجوج (او ديوال يې له منځه ليرې شي) او دوی به له هرې لوړې څخه تيز (ګړندي) را کوزيږي.

د الهي فرمان ﴿مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ﴾ معنا دا ده چې هغه به له هر لوړ ځای څخه په تيزي سره را کوز شي او په زمکه کې به خپاره (تيت) شي.

احاديث مبارکه

✿ ام المؤمنين سيده زينب بنت جحش رضی الله عنها فرمايي چې نبي کريم ﷺ د هغو ډار شويو لور ته راغی او وې فرمايل:

﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدْ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا قَالَتْ زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ﴾ ([1]).

ژباړه:

له الله ﷻ پرته هيڅ بر حق معبود نشته، د عربو لپاره تباهي ده، له هغه شر څخه کوم چې نږدې راتلونکی دی، نن ياجوج ماجوج په ديوال کې دومره سوری

---

[1] - صحيح البخاري، احاديث الانبياء، حديث: ٣٣٤٢. وصحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ٢٨٨٠.

کړي، نبي کريم ﷺ خپلې ګوتې مبارکې سره ور وستې او حلقه يې ترينه جوړه کړه، سيده زينب رضی الله عنها وويل : اې رسول الله ! آيا مونږ دا وخت هلاکيږو؟ کله چې په مونږ کې نيک خلک موجود دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو ! کله چې خباثت ډير زيات شي.

✿ حضرت ابو هريرة رضي الله عنه ويلي دي:

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

الله تعالی به ووايي : اې آدم! هغه به ووايي : اې الله ! زه حاضر يم، ستا په اطاعت باندې قايم يم او ټول خير او نيکي د ستا په لاسونو کې ده، الله تعالی به ووايي: د جهنم خلک سره جلا کړه، هغه به ووايي: ياالله ! د جهنميانو ډله کومه ده؟ الله تعالی جل جلاله به ووايي : په هرو زرو کې نه سوه نه نوي (٩٩٩)، دا هغه وخت دی چې د (ويرې او غم له امله) به واړه سپين ږيري شي او حمل لرونکې به حمل وغورځوي او ته به ووينې چې خلک به مدهوش وي، سره له دې چې هغه به مدهوش نه وي، بلکه د الله تعالی عذاب به ډير سخت وي، صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ : اې د الله رسوله ! په مونږ کې هغه يو څوک دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : خوشحاله اوسئ : په تاسو کې يو سړی دی پاتې نور (يو کم زر) ټول له ياجوج ماجوج څخه دي، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : په هغه ذات قسم د کوم په لاسونو کې چې زما روح دی ! زه له الله تعالی څخه اميد لرم چې تاسو به د جنتيانو د ټول شمير يوه برخه ياست، مونږ خوشحاله شوو او په لوړ آواز سره مو وويل (الله اکبر) بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : زه اميد لرم چې تاسو به د جنتيانو يوه لويه برخه ياست، مونږ خوشحاله شوو او په لوړ آواز سره مو وويل (الله اکبر) بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : زه اميد لرم چې تاسو به د جنتيانو نيمايي ياست، مونږ بيا خوشحاله شوو او په لوړ آواز سره مو وويل (الله اکبر) بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل : تاسو په خلکو کې داسې ياست لکه

په یوه سپین حیوان کې تور ویښته یا لکه د تور حیوان په بدن کې چې سپین ویښته وي ([1]).

✿ حضرت عمران بن حصین رضي الله عنه فرمایي : چې یو ځل رسول الله ﷺ په یوه سفر کې وو چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم او د رسول الله ﷺ تر مینځ څه فاصله پیدا شوه، نبي کریم ﷺ په لوړ آواز سره دا دوه آیاتونه وویل:

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ۝ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ وَمَا هُمْ بِسُكَارَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ ۝ ﴾ ([2]).

ژباړه:

اې خلکو ځان وساتئ (ووېرېږئ) تاسې له عذاب د رب خپل؛ بیشکه زلزله د قیامت یو شی دی ډیر لوی ؛ په هغه ورځ چې ووینی تاسې هغه چې غافله به شي هره تی ورکونکی (د دې ورځې له هیبت څخه) له هغه ماشوم چې تی ورکوي هغه ته او وبه غورځوي هره میرمن حامله (امید واره) حمل (بچی) خپل او وبه وینې ته خلق بې سده (له هیبت نه) حال دا چې نه به وي په واقع سره دوی بې سده ولیکن عذاب د الله دی ډیر سخت (نو د قیامت ورځې له ویرې به بې سده وي).

صحابه کرامو چې کله آواز واورید نو خپلو سپرلیو ته یې حرکت ورکړ او یوه شول چې د الله رسول ﷺ په هغه ځای کې دی له کوم ځای څخه چې دا آواز راغی. کله چې هغوی د نبي کریم ﷺ شاو خوا سره را جمع شول نو نبي کریم ﷺ وفرمایل:

---

[1] - صحیح البخاري. احادیث الایمان. حدیث: ۳۳۴۸. وصحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۲۲۲.
[2] - الحج. آیة: ۱. ۲

اې خلکو ! تاسو پوهیږئ چې هغه ورځ به څنګه وي؟ په دغه ورځ به ادم ﷺ ته آواز وشي او د هغه رب به هغه ته ووايي: اې آدم ! یوه ډله د اور لورې ته روانه کړه، هغه به پوښتنه وکړي : اې زما رب ﷻ ! جهنم ته رسیدونکې ډله کومه ده؟ الله تعالی به وفرمايي : په هرو زرو کې نه سوه نه نوي (۹۹۹) به جهنم ته ځي او یو به جنت ته ځي، حضرت عمران ﷺ فرمايي: چې د ویرې او حیرانتیا له امله د صحابه کرامو ژبې ګونګې شوې او له هغوی څخه خندا ورکه شوه، کله چې نبي ﷺ د هغوی دا پریشاني ولیده نو وې فرمایل : عمل کوی او خوشحاله اوسی، په هغه ذات مې دې قسم وي د کوم په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، تاسو خلک له دوو داسې مخلوق سره یې چې کله هم هغوی د کوم شي په مقابله کې شي نو په کثرت سره به په هغوی غالب راځي، یو یاجوج ماجوج او بل د بنوآدم او بنو ابلیس لخوا هلاک شوي، عمران ﷺ وايي: په دې سره د صحابه کرامو پریشاني او ویره لیرې شوه، نبي کریم ﷺ وفرمایل : عمل کوی او خوشحاله اوسی، په هغه ذات قسم د کوم په لاس کې چې د محمد ﷺ روح دی، تاسو د خلکو په مینځ کې داسې یاست لکه د اوښ په مخ کې توره نښه (نشان) یا لکه د کوم حیوان په بازو کې چې یوه وړه دائره وي ([1]).

✿ نبي کریم ﷺ د قیامت نښانو او د عیسی ﷺ د نازلیدو او د حکومت کولو په باره کې خبرې کولې او وې فرمایل:

﴿فبینما هو کذلک اذ اوحی الله الی عیسی انی قد اخرجت عبادا لی، لا یدان لاحد بقتالهم فحرز عبادی الی الطور﴾ ([2]).

---

[1] مسند احمد: ۴/ ۴۳۵. وجامع الترمذي، حدیث: ۳۱۲۹. وقال: حدیث حسن صحیح.

[2] - صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۳۷.

ژباړه: دا به په هغه حال کې وي چې الله تعالی عیسی ﷺ ته وحې وکړي چې زه خپل یو شمیر داسې خلک را باسم له کومو سره به چې په جنګ کولو کې د هیڅا طاقت نه وي، ته زما بنده ګان در سره کړه او د کوه طور لوري ته ولاړ شه.

✿ له حضرت نواس بن سمعان ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي

﴿ویبعث الله یأجوج ومأجوج وهم من کل حدب ینسلون فیمر أوائلهم علی بحیرة طبریة فیشربون ما فیها ویمر آخرهم فیقولون لقد کان بهذه مرة ماء﴾ [1].

ژباړه: الله تعالی به یاجوج ماجوج را ولیږي، هغه به له هر لوري ځای څخه په منډه راځي، د هغوی لومړۍ ډله چې کله له جیل طبریه تیره شي نو هغه به ټولې اوبه وڅښي، کله چې د هغوی آخیرنۍ ډله دې ځای ته را ورسیږي نو وبه وایي: کله هم په دې ځای اوبه وې؟

(جیل طبریه) ته بحیره جلیل هم ویل کیږي، دا د مقبوضه فلسطین په شمال کې واقع ده، د هغه حجم څه په دا ډول دی، د بحریه طبریه اوږد والی (۲۳) کلومیتره او تر ټولو ډیر کموالی یې (۱۳) کلومیتره دی، د هغه ژور والی هم له (۴۴) میترو زیات نه دی، دا د سمندر له سطحې (۲۱۰) میتره لاندې واقع دی.

له دې وروسته نبي کریم ﷺ وویل:

بیا به یاجوج ماجوج ځي ځي (جبل خمر) ته به ورسیږي [2].

اوس هغه وایي: مونږ به په ځمکه کې اوسیدونکي قتل کړو، راځئ مونږ په آسمانو کې اوسیدونکي ووژنو. هغه به خپل غیشی د آسمان لوري ته وولي او الله تعالی به د هغوی غیشی په وینو سور بیرته واپس کړي، د الله

---

[1] صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۷.

[2] (خمر) خمر د (خ) او (م) په زور سره ګهنې ونې ته ویل کیږي. دا په اصل کې د بیت المقدس غر دی او په فلسطین کې واقع دی.

تعالی عیسی ﷺ به له خپلو ملګریو سره ماصره کړي حتی چې د غوایي سر به هم د هغوی لپاره ډیر قیمتي وي (١) لکه نن ورځ چې په تاسو کې چا ته سل دیناره ورکړی شي.

بیا به عیسی ﷺ او د هغه ملګري د الله تعالی لوري ته متوجه شي او الله تعالی به د یاجوج ماجوج په غاړو یو چینجی مسلط کړي (٢) د کوم له امله به چې هغوی ټول په آن واحد کې مړه شي، بیا به د الله تعالی نبي عیسی ﷺ او د هغه ملګري له غره ځخه زمکې ته را کوز شي نو په زمکه کې به یو بالشت ځای هم داسې نه وي کوم به چې د هغوی په چربي او بد بویي متعفن نه وي، حضرت عیسی ﷺ او د هغه ملګري به د الله تعالی لوري ته متوجه شي او الله تعالی به داسې مرغان را ولیږي د کومو غاړې به چې د اوښانو د غاړو په شیر وي، هغوی به دا جسدونه پورته کړي او هلته به یې وغورځوي چیرته چې د الله تعالی خوښه وي، بیا به الله تعالی یو داسې باران وو وروي په کوم سره به چې د ختو، اونو او ویښتانو سره جوړ شوي ټول کورونه به تباه شي، هغه باران به ټوله زمکه ومینځي او صفا به یې کړي، بیا به زمکې ته وویل شي: خپله میوه را وباسه او خپل برکت بیرته را واپس کړه، په دې وخت کې به داسې برکت وي چې یو انار به د پوره ډلې لپاره کافي وي، انار به دومره غټ وي چې هغه ډله به یې تر سیوري لاندې ناسته وي، په شیدو کې به داسې برکت وي چې یې ورکونکې اوښه به د یوه غټې ډلې لپاره کافي وي، یې ورکونکې غوا به د یوې بشپړې قبیلې لپاره کافي وي، یې ورکونکې بزه به د

---

١ - یعنې هغوی ته به دومره سختي، حاجت او لوږه پیدا شي که چیرته په هغوی کې یو چا ته د غوایه سر پیدا شي نو هغه به دومره ورته خوشحاله شي لکه نن ورځ چې څومره خوشحالي کوم صحابي ته د سلو دینارو په ورکړه تر لاسه کیږي.

٢ - (نغفه) په اصل کې یو چینجی دی کوم چې د اوښانو (بزو) او میګو په غاړو کې پیدا کیږي او هغوی وژني. الله تعالی به د یاجوج ماجوج په غاړو هم همدا چینجی مسلط کړي.

یوه کور لپاره کافي وي، په دې حال کې به الله تعالی یوه پاکه هوا را ولیږي، هغه به دوی د بغلونو له بیخ څخه ونیسي او د هر مؤمن او مسلمان روح به قبض کړي، په زمکه به په دې وخت کې یواځې شریر خلک باقي پاتې شي کوم به چې دمردار خو مارغه په څیر په ښکاره د خلکو په وړاندې بدکاري کوي، په همدې خلکو به قیامت قایم شي (۱).

په یوه بل روایت کې راغلي چې بیا به عیسی ﷺ او د هغه ملګري د الله تعالی لوري ته متوجه شي او الله تعالی به هغوی ته داسې مرغان را ولیږي د کومو غاړې به چې د اوښانو د غاړې په څیر وي، هغوی به د یاجوج ماجوج جسدونه پورته کړي او په یوه ژور ځای کې به یې واچوي، مسلمانان به له هغوی څخه په پاتې شونیو باندې تر اووو کلنو پورې اور بلوي (۲).

له حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی:

په کومه شپه چې رسول الله ﷺ معراج کاوه او هغه ﷺ له ابراهیم، موسی او عیسی علیهم السلام سره ولیدل نو هغوی د قیامت ذکر وکړ او ټولو دا خبره د حضرت عیسی ﷺ لوري ته را وګرځوله، هغه به دجال قتل کړي او بیا یې وویل: چې خلک به د خپلو ښارونو او کورونو په لور را وګرځي چې له یاجوج ماجوج سره به مخ شي (۳).

هغوی به له هر ځای څخه په منډه منډه راځي: له کومو اوبو سره چې تیریږي هغه به څښي او خلاصه وي به یې، کوم شی چېویني هغه به تباه کوي، خلک به له ما څخه د دعا غوښتنه وکړي، زه به له الله تعالی څخه دعا وغواړم نو الله تعالی به هغوی ټول هلاک کړي، د هغوی جسدونه به په

۱ صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۳۷.

۲ جامع الترمذي، الفتن، حدیث: ۲۲۴۰، وهو حدیث صحیح.

۳ یعنې کله چې هغوی له دجال څخه وتښتي او په غرونو کې پټ شي او حضرت عیسی ﷺ دجال قتل کړي او دا خبر دوی ته ورسیږي نو خلک به بیرته د خپلو ښارونو او کورونو په لور راځي مګر د راتلو په وخت کې به دوی له یاجوج ماجوج سره مخامخ کړی شي

زمکه باندې تعفن خپور کړي، مسلمانان به بیا له ما څخه د دعا غوښتنه وکړي، زه به له الله تعالی څخه دعا وغواړم نو الله تعالی به له اسمان څخه باران وو وروي، باران به د هغوی جسدونه پورته کړي او په سمندر کې به یې وغورځوي [1].

✿ له حضرت ابو هریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د یاجوج ماجوج په باره کې د خبرو کولو په وخت کې وفرمایل:

هغوی به په خلکو باندې راووزي او د هغوی ټولې اوبه به وڅښي، خلک به له هغوی څخه وورېږي او وبه تښتي، یاجوج ماجوج به خپل غیشی د آسمان لوري ته وولي نو هغه به په وینو رنګ واپس بیرته راشي، هغوی به وایي: مونږ په زمکه کې په اوسیدونکو هم برلاسي شوو او په آسمان کې په اوسیدونکو هم د خپل قوت او عظمت له امله غالب راغلو، الله تعالی به د هغوی په غاړو باندې یو چینجی مسلط کړي په کوم سره به چې هغوی ټول هلاک کړی شي، په هغه ذات قسم د کوم په قبضه کې چې د محمد ﷺ روح دی! د زمکې ځناوران به د هغوی د غوښو په خوړلو ماړه شي، مزي او تازه به شي [2].

د یاجوج ماجوج په باره کې وارد یو ضعیف حدیث

د یاجوج ماجوج په باره کې ډېر آیاتونه او حدیثونه موجود دي، لیکن د هغوی په باره کې ډېر ضعیف احادیث هم مشهور دي، په هغوی کې یو حدیث ډېر زیات ضعیف دی.

حضرت خذیفه بن یمان ﷺ ویلي: ما له نبي کریم ﷺ څخه د یاجوج ماجوج په باره کې پوښتنه وکړه؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل:

---

[1] - المستدرک للحاکم: ۴/ ۴۸۸ - ۴۸۹. وقال: صحیح الاسناد ولم یخرجاه. ووافقه الذهبي في تلخیصه واخرجه الامام في المسند: ۴/ ۱۸۲.

[2] - جامعالترمذي تفسیر القران. حدیث: ۳۱۵۳. وحسنه. وسنن ابن ماجه. الفتن. حدیث: ۴۰۸۰. والمستدرک للحاکم: ۴/ ۴۸۸. وصححه الالباني. ووافقه الذهبي في التلخیص.

یاجوج یو امت دی او ماجوج یو امت دی، په هغوی کې د هر امت لپاره څلور لکه امتونه دي، په هغوی کې به هیڅ یو سړی تر هغه وخته پورې مړ نشي تر څو چې هغه په خپل اولاد کې زر نفره په مسلح شکل کې او نه ویني، ما عرض وکړ: اې د الله رسوله ﷺ! مونږ ته د هغوی په باره کې څه ووایه؟ نبي کریم ﷺ وویل: د هغوی درې ډولونه دي، یو ډول یې د (ازر) په څیر دي،ما وویل: ازر څه دي؟ هغه ﷺ وویل: دا په شام کې یوه ونه ده د کومې لوړ والی چې د اسمان لوري ته یو سل او شل لاسونه دي، نبي کریم ﷺ وویل: دا هغه خلک دي د کومو په وړاندې چې هیڅ تدبیر یا چل کار نه ورکوي، د هغوی دویم ډول داسې دي کوم چې خپل یو غوږ پر زمکه باندې وغوړوي او دویم غوږ له خپل بدن څخه را تاو کړي، دوی چې د چا خوا ته تیر شي هغه خوري، خواه هغه فیل وي، وحشي ځناور وي، اوښ وي او که خنزیر وي، په یاجوج ماجوج کې چې کوم یو مړ شي دوی هغه هم خوري، د هغوی د لښکر یوه برخه به په شام کې وي او بله برخه به یې په خراسان کې وي، هغوی به د مشرق د ټولو دریابونو او د (بحریه طبریه) اوبه وڅښي (۱).

د یاجوج ماجوج هلاکت

د یاجوج ماجوج سړي، ښځې او ماشومان به په زمکه کې قتل او فساد کوي، د خلکو عزت به پایمالوي تر دې چې هغوی به په آسمان باندې د غیشو ویشتل شروع کړي لکه څنګه یې چې په زمکه باندې قبضه وي همدا ډول به یې په آسمان باندې هم وي، د زمکې په اوسیدونکو کې به هغه خلک د دوی له لاس څخه بچ پاتې وي کوم چې قلعه بند وي یا چیرته پټ شوي وي، په دې قلعه بندو خلکو کې به حضرت عیسی ﷺ او د هغه

۱- مجمع الزوائد للهیثمي:۸/ ۱۳.

مؤمن ملګري هم وي او له سختې لوږې، حاجت او د سختو مشکلاتو ښکار به وي:

په دې وخت کې به عیسی ﷺ او د هغه ملګري الله تعالی ته دعا وکړي لکه په مخکني حدیث کې چې تېر شول، د دعا په نتیجه کې به الله تعالی یو مهلک چینجی د هغوی په غاړو کې پیدا کړي د کوم له امله به چې هغوی ټول مړه شي، الله تعالی به د اوښانو د غړیو لرونکو مرغانو په څېر مرغان به را ولیږي کوم به چې د یاجوج ماجوج مړه شوي جسدونه پورته کړي او چیرته چې د الله تعالی خوښه وي هلته به یې وغورځوي، بیا به الله تعالی یو داسې باران وکړي کوم به چې زمکه پاکه، صفا ستره کړي، بیا به زمکې ته وویل شي: خپلې میوې را وباسه او خپل برکتونه را واپس کړه

له حضرت ابو سعید خدري ؓ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي:

یاجوج ماجوج به سوری وکړي، هغوی په به خلکو باندې له هرې خوا څخه راشي لکه چې فرمان باری تعالی دی ﴿مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ﴾ هغوی به له هر لوري خای څخه په منډه منډه راځي، په زمکه کې به فساد کوي، مسلمانان به په خپلو ښارونو او قلعه ګانو کې پناه اخلي او خپلې میګې به هم له ځان سره ساتي. یاجوج ماجوج به د زمکې ټولې اوبه وڅښي تر دې چې د هغوی یو لښکر به له یوه دریاب سره په خوا کې تیریږي نو د هغه ټولې اوبه به وڅښي تر دې هغه وچ شي. کله چې د هغوی دویم لښکر هلته ورسیږي نو وبه وایي: په دې ځای کې کله اوبه وې، بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل: د زمکې ټول خلک به په ښارونو او قلعه ګانو کې محصور وي نو په یاجوج ماجوج کې به یو کس ووایي: د زمکې له اوسیدونکو خو فارغ شوو، اوس د آسمان اوسیدونکو وار دی، بیا به یو کس د اسمان لوري ته خپل غیشی وار کړي او هغه به په وینو ککړ واپس بیرته راشي، دا به د الله تعالی له لوري د دوی لپاره یو ازمایښت او امتحان وي، په دې حالت کې به الله تعالی په دوی باندې یو چینجی مسلط کړي، کوم به چې د دوی په

غاړو کې پیدا شي، د هغه په اثر به دوی ټول مړه شي، مسلمانان به ووایي کوم داسې څوک شته چې زمونږ لپاره خپل ځان په خطر کې واچوي او دا معلومه کړي چې زمونږ د دښمن انجام څه شو؟ نبي کریم ﷺ فرمایي: بیا به له مسلمانانو څخه یو سړی مرګ ته تیار شي او پورته به شي، هغه به له خپلې قلعه څخه د باندې وګوري نو هغوی به ټول څټ مخ مړه پراته وي، هغه به له خوشحالي څخه نعره کړي: اې مسلمانانو! مبارک شه! الله تعالی د ستاسو دښمن صفا کړ، مسلمانان به له خپلو ښارونو او قلعه ګانو څخه د باندې راووزي، د هغوی مالونه او میګې به آزادې څري، د هغوی د څناور لپاره به په دې وخت کې د یاجوج ماجوج د غوښو له خوړلو پرته بله هیڅ چاره نه وي، هغه به وخوري او داسې به مزي (غټې) (څاربه) به شي لکه کوم څناور چې د یوې ښې سبزې په خوړلو غټیږي (١).

ابو سعید خدري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

یاجوج ماجوج به په زمکه کې ټول خلک هلاک کړي، یواځې هغه خلک به بچ پاتې شي کومو چې په قلعه ګانو کې پناه اخیستې وي، کله چې یاجوج ماجوج د زمکې د اسیدونکو له وژلو فارغ شي نو په خپل مینځ کې به یوه بل ته ووایي اوس یواځې هغه خلک بچ پاتې دي کوم چې په قلعه ګانو کې پټ شوي یا په آسمان کې اوسیږي، هغوی به خپل غیشی د اسمان لوري ته وار کړي، نو هغه به په وینو ککړ واپس بیرته راشي، هغوی به ووایي چې تاسو ته د آسمان له اوسیدونکو څخه هم راحت تر لاسه شو، اوس یواځې هغه پاتې شول کوم چې په قلعه ګانو کې پټ شوي دي، دوی به هغوی محاصره کړي تر دې چې د هغوی لپاره به محاصره ډیر مشکلات پیدا کړي، په دې وخت کې به هغوی ټول په دې سوچ کوي چې الله تعالی په

---

١. مسند احمد: ۳/ ۷۷، وسنن ابن ماجه، الفتن، حدیث: ۴۰۷۹، والمستدرک للحاکم: ۴/ ۴۸۹، وقال: حدیث صحیح علی شرط مسلم ولم یخرجاه.

هغوی چینجی مسلط کړي کوم به چې د دوی په غاړو کې پیدا کیږي او د هغوی غاړې به ماتوي او هغوی به په یوه بل باندې ور غورځي او مړه کیږي به. د حضرت عیسی ﷺ له ملګرو څخه به یو کس ووایي: د کعبې رب هغه قتل کړي، ځینې نور به ووایي: نه! نه! دا مونږ دوکه کوي تر څو چې مونږ د هغوی لوري ته ور ووځو او هغوی مونږ هم په هغه رنګه ووژني لکه څنګه یې چې زمونږ نور ورونه ووژل، هغه به ووایي: تاسو ما ته دقلعه دروازه خلاصه کړي تر څو چې زه د باندې ووځم او د هغوی خبر راوړم، هغوی به ووایي: مونږ یې نشو خلاصولای، هغه به ووایي: ما ته کومه رسۍ راکړی، هغه به د رسۍ په ذریعه لاندې کوز شي او هغوی به ټول مړه پیدا کړي [1].

له یاجوج ماجوج وروسته به هیڅ کوم جنګ نه وي

کله چې الله تعالی یاجوج ماجوج هلاک کړي نو په زمکه کې به پرته له مؤمنانو بل هیڅوک بچ پاتې نشي، برکتونه او خیراتونه به هر لوري ته خپاره شي، د هغوی زړونه به په خپلو مینځونو کې صفا وي او هیڅ رنګه قتال، جنګونه او شور به نه وي.

حضرت سلمه بن نفیل رضي الله عنه بیان کوي چې یو ځل له رسول الله ﷺ سره ناست وو چې یو کس راغی او عرض یې وکړ: اې د الله رسوله! آسونه به پریښودل شي، اسلحې به کیښودل شي، د خلکو خیال دا دی چې نور نو جنګونه نشته او جنګ ختمیدونکی دی، نبي ﷺ وفرمایل:

هغوی غلط ویلي: جنګونه خو به وي، زما په امت کې به یوه ډله داسې وي کومه به چې همیشه د حق لپاره د (خدای په لار) کې جنګیږي، دا ډله به د قیامت تر راتلو پورې جنګیږي، جنګ د یاجوج ماجوج تر راوتلو پورې نه دی موقوف [2].

---

[1] المطالب العالیة بزوائد المسانید الثمانیة: ۱۸/ ۴۴۳. حدیث: ۴۵۲۳.

[2] السنن الکبری للنسائي ک۵/ ۲۱۸. وسلسلة الاحادیث الصحیحة: ۴/ ۵۷۱. حدیث: ۱۹۳۵.

له یاجوج ماجوج وروسته به حج باقي وي

له حضرت ابو سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

﴿لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ﴾ ([1]).

ژباړه: د یاجوج ماجوج له خروج وروسته به هم د بیت الله حج او عمره کیږي.

د یاجوج ماجوج لپاره د ذوالقرنین لخوا جوړ شوی دیوال څوک لیدلای شي؟ یا یې د چا لپاره لیدل ممکن دي؟

په صحابه کرامو رضی الله عنهم کې یوه کس هغه لیدلای، امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کې داسې تعلیقا صیغه له جزم سره ذکر کړې چې یوه کس رسول الله ﷺ ته وویل: ما دغه دیوال لیدلای، هغه د خط لرونکي څادر په څیر دی، نبي کریم ﷺ د هغه د خبرې تصدیق وکړ او وې فرمایل: په رښتیا چې تا هغه لیدلای.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي:

دا حدیث ابن ابی عمر د مدینې والو له یوه کس څخه موصولاً روایت کړی چې هغه د نبي کریم ﷺ په خدمت کې عرض وکړ: یا رسول الله ﷺ! ما د یاجوج ماجوج دیوال لیدلای، نبي کریم ﷺ ترینه وپوښتل: هغه څنګه وو؟ هغه وویل: د خط لرونکي څادر په څیر، یو خط یې سور او یو خط یې تور دی، نبي کریم ﷺ د هغه تصدیق وکړ او وې فرمایل: په رښتیا چې تا هغه لیدلای([2]).

علامه ابن کثیر رحمه الله د دیوال او د ځینو بادشاهانو هغه ته د رسیدلو د کوشش قیصه ذکر کړې او وایي:

---

[1] - صحیح البخاري، الحج، حدیث: ۱۵۹۳.

[2] فتح الباري شرح صحیح البخاري، احادیث الانبیاء، حدیث: ۳۳۴۸.

خلیفه واثق باالله [۱] د خپل حکومت په دوران کې خپل یو شمیر امراء تیار کړل او له هغوی سره یې یو لښکر هم روان کړ ترڅو چې دوی له دې د دیوال څخه کتنه وکړي، هغه وګوري او په بیرته راتګ باندې خلیفه ته د هغه په هکله راپور ورکړي، دې لښکر له یوه ښار څخه بل ښار ته او له یوه هیواد څخه بل هیواد ته سفر کاوه تر دې چې دیوال ته ورسیدل، هغوی ولیدل چې دیوال له اوسپنې او مس څخه جوړ شوی، په راپور کې یې دا هم ولیکل چې په هغه کې یوه دروازه هم شته کومې ته چې دوه غټ غټ قلفونه اچول شوي وو، همدا شان یې ولیدل چې هلته د خاورو او ډبرو (تیږو) یو برج هم جوړ شوی، په هغه له پاسه د ګاونډیو هیوادونو د بادشاهانو له لوري یو شمیر پهره داران هم شته، دا دیوال ډیر لوړ او لوی دی، په هغه هیڅ شی نښتی ختلای او نه د هغه په شاو خوا غرونو باندې ختلای شي، دا خلک تقریباً تر دوو کلونو پورې په دې کار کې مشغول وو او د بیرته راتګ تر وخته یې عجیب او غریب شیان ولیدل [۲].

علامه ابن کثیر رحمه الله دا قیصه په کوم سند سره نه ده بیان کړې او نه یې د صحت او ضعف په اعتبار سره په هغې کومه تبصره کړې (والله اعلم).

---

[۱] خلیفه واثق باالله د عباسي دور په (۲۲۷ تا ۲۳۲ هجري مطابق ۸۴۲ تا ۸۴۷ عیسوي) کې حکومت کړی. په عباسي خلیفه ګانو کې په ترتیب سره دی په نهم نمبر کې دی.

[۲] - البدایة والنهایة: ۷/ ۱۲۲.

ایا د سد ذوالقرنین د چین [1] له دیوال سره څه تعلق شته؟

د سد ذوالقرنین او د چین په دیوال کې په څو اعتبارونو سره فرق شته:

(۱) ذوالقرنین دا دیوال د یاجوج ماجوج حملو د منع کولو لپاره جوړ کړی وو او د چین دیوال د هغه وخت واکمنانو د خپل هیواد د ساتلو لپاره جوړ کړی دی.

(۲) سد ذوالقرنین له اوسپنې او مسو څخه جوړ شوی او د چین دیوال له ډبرو او خښتو څخه جوړ شوی.

(۳) د یاجوج ماجوج دیوال د دوو غرونو په مینځ کې د هغوی د لارې بندولو لپاره جوړ شوی او د چین دیوال د مختلفو غرونو په څنډو څنډو کې جوړ شوی او له مشرقي چین څخه تر مغربي چین پورې په زرګونو میله فاصلې باندې ولاړ دی.

(۴) د یاجوج ماجوج دیوال به په اخره زمانه کې چې کله د الله خوښه شي نو مات به شي او د چین دیوال په ماضي کې له کوم لوري ماتیدلای شي.

---

[1] - د چین دغه لوی دیوال په انساني تاریخ کې داوږدو تعمیرونو یوه نادره نمونه ده. د هغه اوږ والی (۲۴۰۰) کلو میتره دی. په هغه باندې له مسیح څخه (۴) کاله د مخه کار شروع شو او تر (۱۷) عیسوي پورې شروع وو. دا دیوال چینایانو د شمال له لوري له حمله کوونکو څخه د ځان ساتنې لپاره جوړ کړی. دا دیوال د چین له شمال مشرقي ساحل څخه شروع دی او د چین تر وسط تللی. د میاشتو او کلونو په تیریدا د هغه څه برخې نړیږي. خو په وروسته کې هغه بیا جوړیږي. د هغه د بنیادي برخې اوږوالی (۳۴۲۰) کلو میتره دی. د دیوال لوړ والی (۵,۷) میتره دی او تر غتوالي د بنیاده (۵,۷) میترو کله چې پورته ځي نو دا (۲: ۴) تللی. په ټول دیوال کې د هر (۱۸۰) میترو په فاصله کې یو د څارنې برج جوړ شوی. په تیرو ... کې د دې دیوال یو شمیر برخې نړیدلې وې کومې چې چینایانو په (۱۹۴۹) عیسوي کې بیا دوباره جوړې کړې.

مصنوعي سپوږمکۍ یاجوج ماجوج ولې نشي لیدلای؟

د ځمکې د ټولو برخو پېژندل او هلته په موجود ټول مخلوق باندې احاطه کول یوازې د الله تعالی په اختیار کې دي او الله تعالي هر شی د خپل علم په احاطه کې راوستلي دي، که چیرته مونږ ته د یاجوج ماجوج دیوال، یا د دجال ځای یا نور مخلوقات معلوم نه دي نو د دې مطلب هیڅ کله دا نه دی چې هغه موجود نه دي، کیدای شي چې الله تعالی له خپل مخلوق څخه د یاجوج ماجوج دیوال پټ ساتلی وي، دا هم ممکنه ده چې الله تعالی د خلکو او د هغه په مینځ کې یو داسې شی حائل کړی وي د کوم له امله چې مخلوق هغه نشي لیدلای لکه له بني اسرائلو سره کله چې الله تعالی هغوی په میدان تیه [1] کې د ورکیدا لپاره پریښودل نو هغه په ځمکه کې په څو کلومیتره

---

[1] یعني کله چې بني اسرایل په میدان تیه کې ورک شول، نه هغوی ته لاره معلومیده او نه ورته اطمنان حاصلیده. د بني اسرایلو په ځمکه کې د ورکیدا قیصه داسې ده چې کله الله تعالی حضرت موسی ؑ او د هغه قوم له (آل فرعون) څخه نجات پیدا کړ نو موسی ؑ هغوی ته وویل ﴿ادْخُلُوا الأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللّهُ لَكُمْ﴾ ننوځئ تاسې ځمکې پاکې کړی شوې د (بیت المقدس. یا د شام. یا د ایلیا. یا د اریحا ته) هغه ځمکه چې مقرره کړې ده الله تعالی تاسې ته (په لوح محفوظ کې په شرط د ایمان ستاسې) دا ځمکه د بیت المقدس وه مګر هغوی هلته له ورتلو انکار وکړ او وې ویل ﴿إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىَ يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ﴾ په دې ځمکه کې یو قوم دی ډیر زورور (چې مونږ یې د مقابلې طاقت نلرو) یعنې ډیر قوي هیکل، میړني. پیا وړي او له رعبه ډک او ویروونکي دي: او بیشکه مونږ له سره نه ننوځو په دغې ځمکې کې تر هغې پورې چې ووځي دوی له دې ځمکې نه، نو که ووځي دوی له دې ځایه (بې له جنګه) نو بیشکه مونږ ننوتونکي یو. کله چې هغوی دې مقدسې خاورې ته له ننوتو انکار وکړ نو الله تعالی د هغوی په باره کې داسې فیصله وکړه لکه چې الله تعالی ﷻ فرمایي ﴿فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً يَتِيهُونَ فِي الأَرْضِ﴾ پس بیشکه دغه (مقدسه ځمکه) حرامه کړی شوې ده پر دوی باندې (ننوتل هغې ته) څلویښت کاله چې حیران سرګردان به ګرځي دوی په همدې ځمکه کې. دوی په یوه ځای کې وو، ټوله ورځ به ګرځیدل مګر کله به چې شپه شوه نو دوی به بیا په هغه ځای باندې وو چیرته به یې چې پرونۍ شپه تیره کړې وه. هغوی ته هیڅ نه معلومیده

سیمه کې تر ځلوېښتو کلونو ورک اوسېدل او خلکو ته د هغوی هیڅ معلومات نه وو تر دې چې هغه موده ختمه شوه، الله تعالی په هر شي باندې قدرت لرونکی دی، هغه د هر شي لپاره یو معین وخت او موده مقرر کړې دي، الله تعالی ﷻ فرمايي:

﴿وَكَذَّبَ بِهِۦ قَوْمُكَ وَهُوَ ٱلْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾﴾ ([1]).

ژباړه:

دروغ وباله دا (قران یا دغه عذاب) قوم ستا (یعني قریشو) حال دا چې دغه (قران یا عذاب) حق دی؛ ووایه اې محمده! دوی ته نه یم زه په تاسې وکیل (ساتونکی) هرې خبرې ته یو وخت مقرر دی او ژر به پرې وپوهیږئ تاسې.

د کوم شي له معلومولو څخه چې خلک پخوا بې وسه دي له دې وروسته هم هغه نشي معلومولای، ځکه چې د الله تعالی په نزد د هر شي لپاره خپل وخت مقرر دی ([2])

آخیري خبره دا چې قاضي عیاض رحمه الله وېلي:

چې چیرته روان دي. تړله ورځ به د خپلو سپرلیو په قدمونو باندې تلل مګر بیا به یې هم هیڅ مسافه نشوای طی کولای. بلکه په همدې وحشت ناکه صحرا کې تر ځلوېښتو کلونو پورې ورک وو. الله تعالی په هغوی باندې دا سزا له دې امله مقرره کړه چې هغوی په دې وخت کې د سرکشي مظاهره کړې وه. کله چې هغوی ته مقدسې خاورې ته د داخلیدو حکم شوی وو، د حکم منلو په ځای هغوی تر دې حده وویل (فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ) پس ځه ته او خپل رب ستا (یا ته او مشر ورور او مربي ستا چې هارون دی) نو جنګ وکړئ تاسې دواړه بیشکه مونږ دلته ناست یو له جنګه (په انتظار د برې ستا).

[1] الانعام. اية: ۶۶-۶۷.

[2] د دجال په باره کې مخکې په تفصیل سره خبره تیره شوه چې (برمودا مثلث) تر اوسه پورې یوه معما ده د کومې د حقیقت په معلومولو کې چې سائنسي ترقي او نوي وسایل تر دا مهاله پاتې راغلي او پوهان د حیرانتیا او پریشاني ښکار دي.

د یاجوج ماجوج په باره کې دا وارد حدیثونه په حقیقت بنا دي، په هغو ایمان لرل واجب دي، ځکه چې د یاجوج ماجوج خروج د قیامت له نښانو څخه دي، د هغوی په باره کې له واردو حدیثونو څخه دا ویل کیدای شي چې د هغوی د ډیر والي له امله به له هیچا سره د هغوی په مقابل کې د جنګ کولو طاقت نه وي، هغوی به د الله تعالی نبي عیسی ﷺ او له دجال څخه نجات غوښتونکي د هغه ملګري به محاصره کړي، عیسی ﷺ به د یاجوج ماجوج په خلاف الله تعالی ته سوال وکړي نو الله تعالی به د هغوی په غاړو کې یو چینجی پیدا کړي د کوم له اثر څخه به چې هغوی ټول هلاک کړی شي. له هلاکت وروسته به د هغوی د جسدونو له تعفن څخه خلک ډیر په تنګ شي، عیسی ﷺ او د هغه ملګري به بیا الله تعالی ته سوال وکړي نو الله تعالی به داسې مرغان را ولیږي کوم به چې د هغوی جسدونه پورته کړي او په هغه ځای کې به یې وغورځوي چیرته چې د الله تعالی خوښه وي (١).

اخیري خبر

ایا په مسلمانانو باندې د یاجوج ماجوج په مقابل کې جنګ فرض دی؟

ځواب

په هر چا باندې د هغوی په خلاف جنګ کول فرض نه دي لکه چې د حضرت عیسی ﷺ په قیصه کې تیر شول چې الله تعالی به عیسی ﷺ ته وفرمايي: ما خپل یو شمیر داسې بنده ګان را لیږلي له کومو سره چې د جنګ کولو همت په چا کې نشته. لهذا ته زما مؤمن بنده ګان در سره کړه او کوه طور ته ولاړ شه (٢).

---

١ د قاضي عیاض رحمه الله دا خبره ملا علي قاري د (مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح) په ۱۲/ ۲ کې ذکر کړې.

٢ صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۳۷.



د چین دغه لوی دیوال په انساني تاریخ کې داوږدو تعمیرونو یوه نادره نمونه ده

خسف

په زمکه کې د ننوتلو درې پیښې

د قیامت له لویو نښانو څخه په دریو ځایونو کې (خسف) یعنې په زمکه کې ننوتل هم دي د کومو په باره کې چې نبي کریم ﷺ خبر ورکړی. خلک به د دې پیښو له امله ډیر په ویره کې شي او د دې پیښو اثرات به ډیر دردناک وي.

د خسف معنا ده د زمکې چاودل او په هغې چې له پاسه څه وي د هغوی په زمکه کې لاندې ورکیدل.

په تیره او اوسنی زمانه کې ډیرې پیښې منځته راغلې دي کومې چې د قوت او حجم په لحاظ له یوې بلې جلا دي، د کومو ذکر چې په حدیثونو کې راغلی د هغوی یو خاص حیثیت دی او د هغوی خبر او شور به هر لوري ته خپور شي.

په دریو ځایونو کې هغه (خسف) د کومو ذکر چې په حدیثونو کې راغلی دا په اخره زمانه کې واقع کیدونکې دي. د قرآن او احادیثو ډیر نصوص په هغوی باندې دلالت کوي.

د خسف په باره کې وارد احادیث

له حضرت خذیفه ابن اسید غفاري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ زمونږ خوا ته تشریف راوړ کله چې مونږ د قیامت ذکر کاوه، رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د کوم شي ذکر کوی؟ مونږ عرض وکړ: مونږ د قیامت ذکر کاوه، رسول الله ﷺ وفرمایل:

﴿إنها لن تقوم حتى ترون قبلها عشر آيات فذكر الدخان والدجال والدابة وطلوع الشمس من مغربها ونزول عيسى ابن مريم صلى الله عليه وسلم ويأجوج ومأجوج وثلاثة خسوف خسف بالمشرق وخسف بالمغرب وخسف بجزيرة العرب وآخر ذلك نار تخرج من اليمن تطرد الناس إلى محشرهم﴾ ([1]).

ژباړه:

یقینا هغه قیامت تر هغه وخته پورې نه قایمیږي تر څو چې له هغه د مخه لس نښانې ونه لیدل شي، بیا نبي کریم ﷺ د هغوی ذکر وکړ: (۱) دود (۲) د دجال خروج (۳) د دابه خروج (۴) د لمر له مغرب څخه راختل (۵) د عیسی ابن مریم علیهما السلام نزول (۶) د یاجوج ماجوج خروج (۷) په مشرق، مغرب او جزیره نمائي عرب کې د ځمکې چاودل او له ټولو وروسته چې کومه نښانه ښکاره کیږي، هغه له یمن څخه د یوه داسې اور راوتل دي کوم به چې خلک د محشر (شام) لوري ته بوځي.

داسې حدیثونه په کومو کې چې په ځمکه کې د ننوتو د واقعاتو ذکر راغلی کوم چې د ګناهونو د سزا په ډول دي

✿ له حضرت ابو امامه باهلي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

زما په امت کې به یو شمیر خلک په خوړو، څښلو او په لهو لعب کې شپه تیره کړي، کله چې صبا شي نو ټول به خنزیران شوي وي، د دغه امت ځینې قبایل به له خپلو کورونو سره په ځمکه کې ننوځي، کله چې صبا شي نو خلک به وایي چې نن شپه بنو فلان په ځمکه کې ننوتلي دي، نن شپه د فلانی قبیلې کورونه په ځمکه کې ننوتلي دي، په هغوی به ډبرې (تیږې) او

---

[1] صحیح مسلم، الفتن و اشراط الساعة، حدیث: ۲۹۰۱.

وريږي او پر هغوی به بدې (منخوسې) هوا ګانې وچليږي کومې به چې هغوی داسې زره زره کړي لکه څنګه چې پخوانې قومونه د شرابو څښلو، سود کولو، سړيو ته د وريښمو اغوستلو، د سندرو ويونکو ښځو اختيارولو او د صله رحمې قطع کولو له امله بيخ او بنياد ويستل شوی، ابو امامه رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ د دې هلاکيدونکو يو خوی هم بيان کړ مګر له ما څخه هغه هير شو (١).

✿ له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿في امتي خسف ومسخ وقذف﴾ (٢).

ژباړه:

زما په امت کې به خسف، مسخ او د ډبرو (تيږو) باران وي.

✿ له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنْ الْخُيَلَاءِ خُسِفَ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ (٣).

ژباړه: يو کس به په تکبرانه انداز کې خپل څادر په ځمکه اچولی روان وي، دی به په ځمکه کې ننه باسل شي او تر قيامته پورې به ځمکه کې روان وي.

د (يتجلجل) معنا ده له آواز سره حرکت کول.

✿ له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل:

اې انس: خلکو په مختلفو ښارونو کې اوسيدل غوره کړي، په هغوی کې د يوه نام (بصره) يا (بصيره) ده، که چيرته ته په دې ځای تيريدلې يا اتفاقي

---

١ المستدرک للحاکم: ۴/ ۵۱۵. وقال: صحيح علی شرط مسلم.

٢ اجرجه الحاکم: ۴/ ۴۹۲. وقال: ان کان ابو الزبير سمع من عبد الله بن عمر فانه صحيح علی شرط مسلم ولم يخرجاه

٣ صحيح البخاري. احاديث الانبياء. حديث: ۳۴۸۵.

هلته ور داخل شوې نو د هغه له ښارو زمکو څخه، د هغه له زراعتي زمکو څخه، د هغه له بازارونو څخه او د هغه د امراؤ له دروازو څخه ځان ساته، ته د هغه په اطرافي سيمو کې اوسه، ځکه چې د دې ښار اوسيدونکي به په زمکه کې ننباسل شي، په هغوی به د ډبرو (تيږو) باران وشي او هلته به زلزلې راشي، يو شمير خلک به هلته شپه تيروي مګر له صبا کيدو د مخه به بيزوګان او خنزيران شوي وي (۱).

نبي کريم ﷺ په دې حديث کې خبر ورکړی چې خلک به په مختلفو ښارونو کې اوسيدل غوره کړي، په هغوی کې د يوه نام (بصره) هم ده، نبي کريم ﷺ حضرت انس رضي الله عنه خبر دار کړ چې هغه د دې ځای له ښارې زمکې ځان وساتي، هغه د دې ځای له نباتاتو او بازارونو څخه هم ځان وساتي او چيرته چې خلک سره را جمع وي خريد او فروخت کوي له هغه هم، نبي کريم ﷺ هغه د دې ځای د ظالمو واکمنو له دروازو څخه هم وويراوه، ځکه چې په ښار کې د زمکې چاودل، د ډبرو (تيږو) وريدل، د زلزلو راتلل او د شکلونو د بدليدو واقعات پښيږي.

نبي کريم ﷺ هغه ته د (بصره) په اطرافي سيمو کې د اوسيدا خبر وکړه تر څو چې له هلاکت څخه وساتل شي.

✿ له حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو کس د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو او وې ويل: چې فلان تا ته سلام وايي، ابن عمر رضي الله عنه وويل: ما ته معلومه شوه چې هغه کوم بدعت پيدا کړی، که چيرته همداسې وي نو هغه ته زما له لوري سلام مه وايه، ما له نبي کريم ﷺ دا اوريدلي چې فرمايل يې:

---

۱ سنن ابی داؤد: ملاحم، حديث: ۴۳۰۷. وصححه الالباني.

زما د امت د قدریه فرقې په خلکو به د شکلونو بدلیدل، په زمکه کې ننوتل او د ډبرو باران وریدل او نور واقعات به مخته راشي [۱].

خلاصه

په اخره زمانه کې د واقع کیدونکو دریو لویو خسفونو له جملې څخه د یوه ځای او سبب په مخکني حدیث کې بیان شو، تر کومه ځایه چې د پاتې نورو دوو خسفونو تعلق دی هغه به په اخره زمانه کې واقع کیږي، لیکن ما ته د هغوی په ځای او سبب باندې دلالت کوونکي کوم حدیثونه په لاس را نغلل (والله اعلم).

د دود پورته کیدل

د قیامت نښاني په مختلف نوعیت کې دي:

د ځینو تعلق له زمکې سره دی: خسف او وچ کالي، ځینې داسې دي د کومو تعلق چې له خلکو سره دی: لکه د ښځو کثرت او د سړیو قلت، د ځینو تعلق له انساني اخلاقو سره دی: لکه د زنا عام کیدل، ځینې هغه دي د کومو تعلق چې له آسمان سره دی، د هغوی له جملې څخه د دود پورته کیدل هم دي.

- له دود څخه څه مراد دي؟
- آیا دا نښانه واقع شوې؟
- په دې کې څه حکمت دی؟

دود د قیامت له نښانو څخه دی دلیل یې لاندې قول د الله تعالی ﷻ دی:

﴿ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ ۝ يَغْشَى النَّاسَ ۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٌ

---

[۱] سنن ابن ماجه، الفتن، حدیث: ۴۰۲۱، وجامع الترمذي، القدر، حدیث: ۲۱۵۲، وهو حدیث صحیح.

﴿ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ إِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ۝١٢ أَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ۝١٣ ﴾ ([1]).

ژباړه:

پس منتظر اوسه اې محمده! دوی ته په هغه ورځ چې راشي دا اسمان په لوګي ښکاره سره؛ چې پټ به کړي ټول مخلوق (وبه وايي دوی) دغه عذاب ډېر دردناک دی؛ اې ربه زمونږ لیرې کړه له مونږ دغه عذاب بیشکه مونږ ایمان راوړونکي یو؛ چیرته به نفع ورسوي دوی ته پند اخیستل (پس د عذاب له نزوله) حال دا چې په تحقیق راغلی ؤ دوی ته رسول ښکاره بیانوونکی.

په ایت کې د ذکر شوي دخان په باره کې د علماؤ دوه قولونه

(۱) ځینې د علم خاوندان وايي چې له دې دود څخه هغه دود مراد دی کوم چې قریشو ته د سختې لوږې په حالت کې هغه وخت ورسید کله چې نبي کریم ﷺ د هغوی لپاره د دعوت نه قبلولو له امله بد دعا وکړه، هغوی به خپلې سترګې د اسمان لور ته پورته کړې او ورته کتل به یې نو هغوی ته به د لوږې او قحط له وجهې له دود پرته بل هیڅ په نظر نه ورتلل. حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه او د سلف صالحینو یوې ډلې دې قول ته ترجیح ورکړې او ابن جریر طبري رحمه الله هم همدې قول ته ترجیح ورکړې ([2]).

له حضرت مسروق بن اجدع څخه روایت دی:

مونږ یو ځل د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په خدمت کې حاضر وو چې یو کس هلته ته راغی او وې ویل: اې ابو عبد الرحمن! یوه قیصه کوونکي قیصه بیانوله او داسې یې ویل: د اور ښنبانه چې کله ښکاره شي نو د کفارو

---

[1] الدخان، آیة: ۱۰ـ ۱۳.

[2] اضواء البیان للشنقیني. النحل ۱۲/ ۱۱۲.

ساګاني به بندې شي او په مؤمنانو به يواځې د زکام قدرې تکليف راشي، حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ سم شو او کيناست او د غصې په حالت کې يې وويل: خلکو ! له الله څخه ووېرېږئ، په تاسو کې چې يو چا ته په کوم شي علم وي نو يواځې هغه دې د خپل علم مطابق بيان کړي او د کوم شي چې علم نه وي نو هغه دې (الله اعلم) ووايي، دا تاسو ته د دې تعليم درکوي چې کله يو څوک په څه علم نلري نو د هغه په باره کې دې (الله اعلم) وايي ﴿قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُتَكَلِّفِينَ ۝٨٦﴾ ([1]).

ژباړه: ووايه اې محمده ! دوی ته نه غواړم زه له تاسې په دې (قران يا تبليغ) ځانته هيڅ اجر او نه يم زه له تکليف کونکيو نه (په جوړولو د قران کې له ځانه).

رسول الله ﷺ چې کله وليدل چې خلک د هغه خبرې نه قبلوي نو له الله تعالی څخه يې د هغوی په باره بد دعا وکړه ﴿اللهم سبعاً کسبع يوسف﴾.

ژباړه:

اې الله ! په هغوی باندې اوه کاله قحط راوله لکه څنګه دې چې د يوسف ؑ په قوم باندې راوستلی وو ([2]).

ابن مسعود ﷺ وايي: په هغوی داسې قحط سالي راغله کومې چې هر شی ختم کړل، تر دې چې د لوږې او افلاس له امله هغوی د څرمنو او مردارو خوړو ته مجبور شول، په هغوی کې به چې کوم کس پورته د آسمان لور ته کتل نو د لوږې له امله به دود دود په نظر ورته ([3]).

---

[1] ص، آية: ۸۶.

[2] يعنې نبي کريم ﷺ هغوی ته بد دعا وکړه چې هغوی هماغسې په مصيبت کې واچاوه لکه څنګه دې چې د مصر خلک پکې اچولي وو. هغوی اوه کاله په خشک سالي او قحط کې تير کړل.

[3] - صحيح البخاري، الاستسقاء، حديث: ۱۰۰۷، وصحيح مسلم، صفة القيامة والجنة والنار، حديث: ۲۷۹۸.

د حضرت ابن مسعود ﷺ قول دا هم دی چې پنځه شیان تیر شول:
(اللزام) ([1]) (الروم) ([2]) (البطشة) ([3]) (القمر) ([4]) (الدخان) ([5]).

✿ ډیر علماء په دې لوري کې دي چې (الدخان) د قیامت له هغو نښانو څخه دی کومې ته چې دا مهال انتظار کیږي، تر دا مهاله ښکاره شوې نه ده او هغه د قربَ قیامت په وخت کې واقع کیږي، دا قول د حضرت علي بن ابی طالب، عبد الله بن عباس او د ابو سعید دی.

حافظ ابن کثیر رحمه الله د دې ایت کریمه سره متعلق مخکې له دې په بیان شویو حدیثونو سره استدلال کړی او د دوی قول ته یې ترجیح ورکړې.

ځینو نورو د علم خاوندانو د دوی قولونو ته د تطبیق ورکولو په کوشش کې دي، د هغوی موقف دا دی چې (دخان) دوه دي، یو د رسول الله ﷺ په زمانه کې ظاهر شوی او بل به د قرب قیامت په وخت کې ظاهر شي

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ ویلي: (دخان) دوه دي؛ یو هغه ده کوم چې تیر شو ([6]) او دویم هغه ده کوم به چې د زمکې او آسمان خلاء ډکه کړي،

---

[1] - له (اللزام) څخه هغه عذاب مراد دی کوم چې په دې آیت کریمه کې ذکر شوی (فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا) (الفرقان. آیة: ۷۷).

[2] - اشاره ده دې آیت کریمه ته (الم ۱ غُلِبَتِ الرُّومُ ۲ فِي أَدْنَى الأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ) (الروم. آیة: ۱- ۳).

[3] - اشاره ده دې قول د الله تعالی ته (يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرَى إِنَّا مُنتَقِمُونَ) (الدخان. آیة: ۱۶) او له (البطشة الکبری) څخه مراد د بدر غزا ده.

[4] - اشاره ده دې قول د الله تعالی ته (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ) (القمر. آیة: ۱) د پوړمې د دوه ټوټې کیدو خبره په علامه نمبر (۳) کې تیره شوه.

[5] - صحیح البخاري. التفسیر. حدیث: ۴۸۲۵. وصحیح مسلم. صفات المنافقین احکامهم. حدیث: ۲۷۹۸.

[6] یعنې کوم دود چې قریشو لیدلی.

په مؤمن باندې به د هغه اثر د زکام په څير وي مګر د کافرو پوزې به له هغه څخه ډکې وي (۱).

راجح قول دا دی کوم (دخان) چې دلته ذکر دی هغه تر دا مهاله نه دی ظاهر شوی، هغه به د قرب قيامت په وخت کې ظاهر شي، د قرآن کريم آيت هم د دې تاييد کوي:

﴿فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِينٍ﴾ (۲).

ژباړه:

پس منتظر اوسه اې محمده! دوی ته په هغه ورځ چې راشي دا اسمان په لوګي ښکاره سره.

مطلب دا دی چې آسمان به يو داسې ښکاره او واضح دود ښکاره کړي کوم به چې هر څوک ويني.

د دخان (دود) په باره کې وارد احاديث

✿ حضرت خذيفة رضي الله عنه بيان کوي چې يو ځل نبي کريم ﷺ زمونږ خوا ته تشريف راوړ کله چې مونږ په خپل مينځ کې د قيامت ذکر کاوه نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو څه خبرې کوي؟ مونږ عرض وکړ: د قيامت ذکر کوو. نبي کريم ﷺ وفرمايل:

﴿انها لن تقوم حتى تروا قبلها عشر آيات، .فذكر الدخان، والدجال ......الحديث﴾ (۳).

ژباړه:

بلا شبه هغه قيامت هيڅ کله نه قايميږي تر څو چې تاسو له هغه څخه د مخه لس نښانې ووينی او هغه ﷺ دخان او دجال ذکر کړ ......الحديث.

---

۱ - التذكرة للقرطبي: ۲۵۵.

۲ - الدخان. آية: ۱۰.

۳ - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ۲۹۰۱.

﴿بادروا بالاعمال ستا، طلوع الشمس من مغربها، اوالدخان، اوالدجال، اوالدابة، او خاصة احدكم او امر العامة﴾ (۱).

ژباړه:

د شپږو شیانو له واقع کیدو مخته مخته د نیکو اعمالو په کولو کې تلوار وکړی، د لمر له مغرب څخه راختل، یا د دود ظاهریدل، یا د دجال ظاهریدل، یا خروج د دابه، یا تاسو ته په کوم خاص وخت کې د مرګ راتلل، یا د ټولو لپاره واقع کیدونکې معامله (د قیامت قایمیدل).

✿ حضرت عبد الله بن ابی ملیکه وایي:

یوه ورځ زه حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته ورغلم نو هغه وویل: ما ټوله شپه خوب ونکړ تر دې چې صبا شو، ما وویل: ولې؟ هغه وویل: خلکو ویل چې لکۍ دار ستوری را ختلی، ما ته ویره پیدا شوه چې دود نه وي را پورته شوی، د همدې خیال له امله مې ټوله شپه خوب ونکړ.

په دې اثر کې اشاره دیته ده چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه له دخان څخه له دې امله وورید چې هغه د قیامت له نښانو څخه دی.

۱- صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۴۷.

خروج دابه

(د عجیب الخلقت ځناور را وتل)

په اخره زمانه کې به د فساد خپریدو، د بدو کارونو د ښکاره کیدو او د خلکو له هغوی سره د عادي کیدو له امله به ښه او بد خلک ګډ وډ شي تر دې چې د مؤمن، منافق، مسلمان او کافر پیژندل به مشکل شي، په دې حالت کې به الله تعالی یو ځناور ظاهر کړي.

- دابه څه شی دی؟
- هغه چیرته او کله ظاهریږي؟
- د هغې په ذمه به څه کار وي؟

د دابه ذکر په قران مجید کې

الله تعالی ﷻ فرمایي: ﴿ وَ إِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه: او کله چې واقع ثابت شي خبر د عذاب په دغو بني آدمانو او نږدې شي قیامت په دوی نو را وبه باسو مونږ دوی ته یوه دابه (ژوندی خوځیدونکې تلونکې) له زمکې چې خبرې کوي دغه (دابه) له دوی سره چې بیشکه دا خلک وو چې په دلائلو (د قدرت، الوهیت) زمونږ به یې یقین نه کاوه.

د (تُكَلِّمُهُمْ) یوه معنا دا هم بیان شوې چې هغه به دوی ته مخاطب شي او دویمه معنا یې دا ده چې هغه به دوی زخمي کړي، سعید بن جبیر، عاصم

---

[1] النمل، آیة: ۸۲.

جحدري او ابو رجاء عطاردی رحمه الله د قرئت (تُكَلِّمُهُمْ) معنا ده تجرحمهم، يعنې هغه به دوی زخمي کړي، د دې دابه د اوصافو په باره کې کوم صحيح حديث ثابت نه دی، علامه ماوردي او ثعلبي د دې د اوصافو په باره کې داسې عجيبه او غريبې خبرې کړې د کومو لپاره چې هيڅ دليل نشته. هغه دا چې د هغې سر د غوايي د سر په څير دی او د هغه غوږ د فيل د غوږ په څير دی وغيره.

ليکن مونږ چې د هغې کوم صفات پيژنو هغه دا دي

- هغه په حقيقت کې يو ځناور دی.
- هغه به له خلکو سره خبرې کوي
- هغه به له زمکې راووزي

هغه به له کوم ځای څخه راووځي؟

د هغې د راوتلو د ځای په باره کې کوم صحيح حديث ثابت نه دی. مونږ په دې خبره ايمان لرو چې هغه به په داسې طريقې راووزي څنګه چې الله تعالی خبر ورکړی، ليکن مونږ په دې نه پوهيږو چې هغه به له کوم ځای څخه راووزي.

دابه به څه کوي؟

دا ځناور به خلکو ته وايي: خلک د الله تعالی په آيتونو ايمان نه راوړي. دا خبره د خدای تعالی په دې فرمان کې بيان شوې ﴿وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾ ([1]).

ژباړه: او کله چې واقع ثابت شي خبر د عذاب په دغو بني آدمانو او نږدې شي قيامت په دوی نو را وبه باسو مونږ دوی ته يوه دابه ژوندی خوځيدونکې

---

[1] - النمل، آية: ۸۲.

تلونکې، له زمکې چې خبرې کوي دغه (دابه) له دوی سره چې بیشکه دا خلک وو چې په دلائلو (د قدرت، الوهیت) زمونږ به یې یقین نه کاوه.

هغه به خلک په اور سره داغي

له حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي:

هغه ځناور به راووزي او د خلکو پوزو ته به داغ ورکوي، بیا به هغه له تاسو ټولو سره پیدا کړي تر دې چې یو سړی به اوښ واخلي او څوک به له هغه څخه پوښتنه وکړي دا اوښ تا له چا څخه واخیست؟ هغه به ووایي: له یوه داسې سړي څخه د کوم پوزې ته چې په اور سره داغ ورکړی شوی وو.[1]

✿ د هغې د داغلو کیفیت به څه وي او دا صورتحال به تر څه وخته پورې جاري وي؟

✿ آیا په راتلونکو نسلونو کې به هم د دې نښه باقي پاتې وي؟

✿ کله چې دابه خلک داغي نو حق به د باطل په مقابله کې واضح شي او مؤمن به له کافر څخه ممتاز شي، له دې وروسته به څه کیږي؟

خلک به تر یو څه مودې پورې په همدې حال کې اوسي، څه موده وروسته به خلک یوه بل ته داسې نعرې وهي: اې مؤمن، یا اې کافر

کله چې الله تعالی د قیامت قایمول وغواړي نو یوه پاکه هوا به راولیږي کومه به چې د مؤمنانو روحونه قبض کړي، څکه چې قیامت یواځې په شریرو خلکو قایمیږي.

له حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: دجال به زما په امت کې ظاهر شي او د څلویښتو موده به پوره کړي، زه نه پوهیږم چې دا څلویښت ورځې دي، څلویښت میاشتې دي او که څلویښت کلونه دي، بیا به الله تعالی حضرت عیسی علیه السلام را ولیږي، د هغه شکل به له عروه بن مسعود ثقفي رضي الله عنه سره ورته والی لري، حضرت عیسی

---

[1] - مجمع الزوائد للهیثمي: ۸/ ۱۴. ومسند احمد: ۵/ ۲۶۸.

ﷺ به دجال ووژني، بیا به خلک اوه کاله داسې تیر کړي چې د دوو کسانو په مینځ کې به هیڅ رنګه دښمني نه وي، بیا به الله تعالی د شام له لوري تازه هوا را ولیږي کومه به چې د هر هغه سړي روح قبض کړي د کوم په زړه کې چې د زرې برابر ایمان یا خیر موجود وي، که په تاسو کې یو څوک په غره کې کوم غار ته هم داخل شي نو دا هوا به هغه ته ورسیږي او روح به یې قبض کړي، له دې وروسته به په زمکه کې یواځې هغه خلک اوسیږي کوم به چې د شر په خپرولو کې د مرغیو په څیر تیز وي، هغوی به نه نیکي پیژني نه بدي، هغوی ته به شیطان د انسان په شکل کې راشي او ورته وبه وایي آیا تاسو زما خبره نه منئ؟ هغوی به ورته ووایي ته څه وایي شیطان به هغوی ته د بتانو لور ته د دعوت خبره وکړي، هغوی به د شیطان خبره ومني، له هغوی سره به د رزق پراخي وي، زندګي به په ډیرو مزو کې تیره وي، چې یو ناڅاپه به شپیلۍ پوکړل شي، چا ته هم چې دا آواز ورسیږي، هغه به غاړه یوې خوا ته کوي او د آواز د اوریدو کوشش به کوي، هغه به په آوریدو سره بې هوش شي او را وبه غورځیږي او نور خلک به هم بې هوشه شي (١).

له حضرت ابو هریرة ﷺ څخه په روایت شوي یوه بل حدیث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي: ﴿ان الله یبعث ریحا من الیمن الین من الحریر، فلا تدع احد في قلبه مثقال حبة، او قال مثقال ذرة، من ایمان الا قبضته﴾ (٢).

ژباړه: الله تعالی به د یمن له لوري یوه هوا را ولیږي کومه به چې له وریښمو هم نرمه وي، د چا په زړه کې چې د دانې برابر. یا نبي کریم ﷺ وویل د یوې ذرې برابر ایمان وي، دا به د هغه روح قبض کړي.

د دې هوا له چلیدو وروسته به نیک خلک ختم شي. په زمکه به یواځې شریر خلک اوسیږي او په هغوی به قیامت قایم شي.

١- صحیح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حدیث: ۲۹۴۰.

٢- صحیح مسلم. الایمان. حدیث: ۱۱۷.

له مغرب څخه د لمر راختل

خلک به یو سهار د مشرق له لوري د لمر راختلو ته انتظار کوي، کله چې الله تعالی لمر پیدا کړی نو هغه تل (همیشه) د مشرق له لوري را پورته کیږي، مګر په دې ورځ به یو ناڅاپه لمر د مغرب له لوري را پورته شي او چې کله داسې وشي نو د توبې دروازه به بنده کړی شي.

د لمر له مغرب څخه د راختو ذکر په قران کې

﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَـٰتِ رَبِّكَ ۗ يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَـٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَـٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَـٰنِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾ ([1]).

ژباړه: نه کوي انتظار دوی د هیڅ شي مګر د دې چې راشي دوی ته ملائکې (فرښتې د مرګ یا د عذاب) یا راشي عذاب د رب ستا یا راشي ځینې دلائل د قدرت د رب ستا (چې علامې د قیامت دي) په هغه ورځ کې چې راشي ځینې دلائل (د قدرت) درب ستا نه به رسوي فایده (نفع) هیڅ نفس ته ایمان راوړل د ده چې نه وي دا نفس چې ایمان یې راوړی وي پخوا له دې نه؛ یا نه وي چې کسب یې کړی وي په ایمان خپل کې څه خیر

[1] - الانعام، آیة: ۱۵۸.

(نیکي) ؛ ووایه اې محمده ! دوی ته چې انتظار کوی تاسې بیشکه مونږ هم انتظار کونکي یو.

د لمر له مغرب څخه د راختو په باره کې احادیث

له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ثلاث إذا خرجن لا ينفع نفسا إيمانها لم تكن آمنت من قبل أو كسبت في إيمانها خيرا طلوع الشمس من مغربها والدجال ودابة الأرض﴾ ([1]).

ژباړه: کله چې درې نښانې ښکاره شي نو هیڅ هغه کس ته د هغه ایمان فایده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ایمان نه وي راوړی یا یې په خپل ایمان کې کوم د خیر کار نه وي کړی، (۱) د لمر له مغرب څخه راختل (۲) د دجال ظاهریدل (۳) له زمکې د یوه ځناور راوتل.

په دې موقع د توبې د دروازې په بندیدو کې حکمت دا دی چې د ایمان ډیره برخه له ایمان بالغیب سره تعلق لري، مګر کله چې لمر له مغرب څخه را پورته شي نو بیا دا ایمان بالغیب نه دی، بلکه دا د فرعون د هغه ایمان په څیر دی کله چې د هغه په غرقیدلو یقین پیدا شو نو بیا یې ایمان راوړلو.

✿ له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

تر هغه وخته قیامت نه قایمیږي تر څو چې لمر له مغرب څخه را پورته نشي، کله چې هغه له مغرب څخه را پورته شي او ټول خلک یې ووینې نو ټول به ایمان راوړي، مګر په دې وخت کې هیڅ هغه کس ته ایمان فایده نشي رسولای کوم چې له پخوا څخه ایمان نه وي راوړی، یا هغه په خپل ایمان کې کوم د خیر کار نه وي کړی، قیامت به په هغه حال کې قایم شي چې دوو سړیو خپلې جامې غوړولې وي، هغوی به خرید او فروخت نه وي کړي او نه به یې خپلې جامې راټولې کړې وي چې قیامت به برپا شي، یوه

---

[1] صحیح مسلم، الایمان، حدیث: ۱۵۸.

سړي به له خپل څناور څخه شيدې را لوشلې وي او هغه به يې استعمال کړې نه وي چې قيامت به راشي، يوه سړي به خپل حوض ډک کړی وي، هغه به په دې کې خپلو څناورانو ته اوبه ور نکړي چې قيامت به راشي او يوه سړي به د ډوډۍ ګوله د خولې لور ته پورته کړې وي، هغه به ونه خوري چې قيامت به راشي [1].

✿ له حضرت ابو ذر ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي آيا تاسو پوهيږۍ چې دا لمر به چيرته ځي؟ هغوی وويل : الله تعالی او د هغه رسول ﷺ ته ډير علم دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل : دا لمر ځي تر دې چې د عرش لاندې خپل ځای ته ورسيږي، بيا دی په سجده پريوځي او په همدې حال کې وي چې ورته وويل شي: پورته شه! له کوم ځای څخه چې ته راغلی يې هلته بيرته ولاړ شه، هغه بيرته ولاړ شي او د خپل معمول مطابق طلوع کوي، بيا د ورځې او شپې په تلو تلو کې د عرش لاندې خپل ځای ته ورسيږي او د سجدې په حالت کې پريوځي، دی په همدې حالت کې وي چې ورته وويل شي : پورته شه او له کوم ځای څخه چې ته راغلی يې هلته بيرته ولاړ شه، هغه ولاړ شي او د خپل معمول مطابق طلوع کوي، يوه ورځ به هغه ولاړ شي، خلک به په ده کې هيڅ نوی شی وو نه ويني تر دې چې هغه به د عرش لاندې خپل ځای ته ورسيږي او هغه ته به وويل شي: پورته شه نن له مغرب څخه طلوع وکړه، نو هغه به د صبا په وخت کې له مغرب څخه طلوع وکړي، نبي کريم ﷺ وويل: تاسو پوهيږۍ دا به کله وي؟ دا به په هغه وخت کې وي چې هيڅ داسې کس ته به ايمان فايده نه رسوي کوم چې له پخوا څخه ايمان نه وي راوړی، يا يې د خپل ايمان په حالت کې کوم نيک عمل نه وي کړی [2].

---

[1] - صحيح البخاري، الرقاق، حديث: ۶۵۰۶.
[2] - صحيح مسلم، الايمان، حديث: ۱۵۹.

✿ له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿إن أول الآيات خروجا طلوع الشمس من مغربها وخروج الدابة على الناس ضحى وأيهما ما كانت قبل صاحبتها فالأخرى على أثرها قريبا﴾ ([1]).

ژباړه: تر ټولو د مخه چې کومې نښانې ښکاره کيږي هغه د لمر له مغرب څخه را پورته کيدل دي او د څاښت په وخت کې د خلکو لپاره د دابه راوتل دي، کله هم چې په دوی کې کومه يوه ښکاره شي نو هغه بله فوراً له هغې وروسته ښکاره کيږي.

يو اشکال او د هغه ازاله

ځينو خلکو دا اشکال پيدا کړی چې په دې حديث کې نبي کريم ﷺ فرمايلي چې تر ټولو د مخه چې کومې نښانې ښکاره کيږي هغه د لمر له مغرب څخه را پورته کيدل او د څاښت په وخت کې د دابه راوتل دي: او په نورو رواياتو کې د دجال ظهور او د امام مهدي ظهور د قيامت له لومړنيو نښانو څخه شمارل شوې دي، نو د دې دواړو حديثونو په مينځ کې تطبيق څه دی؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي:

کومه خبره چې د ټولو روايتونو په رڼايي کې تر سترګو کيږي دا ده: چې هغه دوه غټې نښانې کومې چې په زمکه کې د اوسيدونکو احوال بدلوي په هغوی کې تر ټولو لومړی نښانه د دجال خروج دی او دا نښانه د حضرت عيسى عليه السلام له وفات سره ختميږي، هغه نښانې د کومو تعلق چې د پورته نظام له بدليدو سره دي: په هغو کې تر ټولو لومړی نښانه د لمر له مغرب څخه راختل دي، د دې نښانې اختتام د قيامت په قايميدو سره کيږي،

[1] - صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ٢٩٤١.

غالباً د دابه خروج به هم په همدې ورځ وي په کومه ورځ چې لمر له مغرب څخه را پورته شي.

امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه دا روایت بیان کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿ان اول الایات خروجا، طلوع الشمس من مغربها، وخروج الدابة على الناس ضحى، وایهما ما کانت قبل صاحبتها فالاخرى على اثرها قریبا﴾ ([1]).

ژباړه:

تر ټولو د مخه چې کومې نښانې ظاهرېږي، هغه د لمر له مغرب څخه راختل او د څاښت په وخت کې د خلکو لپاره د دابه راوتل دي، په دوی کې چې کومه هم مخکې ښکاره شي نو دویمه فوراً له هغې وروسته ښکاره کیږي.

د قیامت له نښانو مخکې د نیکو اعمالو کولو حکم

له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

﴿بادروا بالأعمال ستا الدجال والدخان ودابة الأرض وطلوع الشمس من مغربها وأمر العامة وخويصة أحدكم﴾ ([2]).

ژباړه: د شپږو شیانو له واقع کیدو مخکې مخکې د نیکو اعمالو په کولو کې تلوار وکړئ (۱) د لمر له مغرب څخه راپورته کیدل (۲) د دود ظاهریدل (۳) یا د دجال ظاهریدل (۴) یا تاسو ته په کوم خاص وخت کې د مرګ راتلل (۵) خروج دابه (۶) یا د ستاسو ټولو لپاره واقع کیدونکې معامله (د قیامت قایمیدل).

---

[1] - فتح الباري شرح صحیح البخاري، الرقاق، حدیث: ۶۵۰۲، ۱۱/ ۴۲۹.

[2] - صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۴۷.



یوه ورځ به ورته وویل شي ! پورته شه نن له مغرب څخه طلوع وکړه

اور
کوم به چې خلک د میدان حشر لوري ته بیایي

د قیامت تر ټولو اخیري نښانه دا ده چې د یمن له لوري به یو اور راووزي کوم به چې خلک ارض محشر (شام) لوري ته ور وړي او دوی به هلته سره جمع کوي.

- دا اور به څنګه وي؟
- دا به څنګه راووزي؟
- له کوم ځای څخه به راووزي؟
- او له هغه وروسته به څه واقعات وي؟

د دغه اور په باره کې وارد احادیث

له حضرت حذیفه بن اسید غفاري ﷺ څخه روایت دی چې یو ځل نبي کریم ﷺ زمونږ خوا ته تشریف راووړ کله چې مونږ د قیامت ذکر کاوه. نبي کریم ﷺ وویل: تاسو د کوم شي ذکر کوی؟ مونږ عرض وکړ: مونږ د قیامت ذکر کاوه، نبي کریم ﷺ وویل:

﴿إنها لن تقوم حتى ترون قبلها عشر آيات فذكر الدخان والدجال والدابة وطلوع الشمس من مغربها ونزول عيسى ابن مريم صلى الله عليه و سلم ويأجوج ومأجوج وثلاثة خسوف خسف بالمشرق وخسف بالمغرب وخسف بجزيرة العرب وآخر ذلك نار تخرج من اليمن تطرد الناس إلى محشرهم﴾ ([1]).

---

[1] - صحیح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حدیث: ۲۹۰۱

ژباړه: بلا شبه قيامت نه قايميږي تر څو چې تاسو له هغه څخه د مخه لس نښانې ووينى، نبي کريم ﷺ ذکر کړى (١) دود (٢) دجال (٣) خروج دابه (۴) د لمر له مغرب څخه را پورته کيدل (۵) د حضرت عيسى عليه السلام نزول (۶) د ياجوج ماجوج خروج (٧) درى ځايه د زمکې چاودلو واقعات، يعنې په مشرق کې د زمکې چاودل، په مغرب کې د زمکې چاودل او په جزيرة العرب کې د زمکې چاودل، له ټولو په اخير کې چې کومه نښانه ظاهريږي هغه د يمن له لوري راوتونکى اور دى کوم به چې خلک د ميدان محشر لوري ته بيا يې.

او په يوه بل روايت کې داسې دي:

﴿نار تخرج من قعرة عدن ترحل الناس﴾ ([1]).

ژباړه: يو اور به د عدن له ليرې علاقې څخه را ووزي کوم به چې خلک روان کړي.

له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿ستخرج نار قبل يوم القيامة من بحر حضرموت أو من حضرموت تحشر الناس قالوا فبم تأمرنا يا رسول الله قال عليكم بالشام﴾ ([2]).

ژباړه:

د قيامت له ورځې د مخه به له بحيره حضرموت څخه يا له حضرموت څخه يو اور راووزي کوم به چې خلک پورته کړي، صحابه کرامو رضى الله عنهم عرض وکړ: په دې حالاتو کې ته مونږ ته د کومې خبرې حکم کوې؟ رسول الله ﷺ ورته وويل: تاسو په شام کې اوسيدل غوره کړى.

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې عبد الله بن سلام رضي الله عنه چې کله د نبي کريم ﷺ مدينې ته په تشريف راوړو خبر شو نو هغه د نبي کريم ﷺ په

---

[1] - صحيح مسلم. الفتن واشراط الساعة. حديث: ٢٩٠١.

[2] مسند احمد: ٢/ ٥٣. وهو حديث صحيح.

خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړ: زه له تا څخه د دريو شيانو په باره کې پوښتنه کول غواړم! په کومو چې له نبي پرته بل څوک نه پوهيږي: د قيامت لومړۍ نښانه څه ده؟ د جنتيانو تر ټولو لومړی خوراک څه دی؟ د دې سبب څه دی چې ماشوم له پلار يا له مور سره مشابه کيږي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: اوس ما ته جبريل ﷺ د دې شيانو په باره کې وويل! عبد الله بن سلام ﷺ وويل: دا فرښته د يهودو دښمنه ده [1] نبي کريم ﷺ وفرمايل: د قيامت لومړۍ نښانه يو اور دی کوم به چې خلک له مشرق څخه د مغرب لوري ته بيايي، د جنتيانو لومړی خوراک د ماهي د ځيګر ځنډه ده، تر کومه ځايه چې د ماشوم د مشابهت خبره ده نو کله چې سړی او ښځه کور والی کوي او د سړي اوبه د ښځې په اوبو باندې سبقت وکړي نو ماشوم پلار ته ورته کيږي او که د ښځې اوبه د سړي په اوبو سبقت وکړي نو ماشوم مور ته ورته کيږي، عبد الله بن سلام ﷺ وويل: زه ګواهي ورکوم چې ته د الله رسول يې.

يو اشکال او د هغه ازاله

حضرت عبد الله بن عمر ﷺ بيان کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

﴿إن أول الآيات خروجا طلوع الشمس من مغربها، وخروج الدابة على الناس ضحى، فأيهما خرجت قبل الاخرى فالاخرى منها قريب﴾ ([2]).

---

[1] - يو ځل يهودو رسول الله ﷺ ته وويل: هر نبي ته يوه فرښته له اسمان څخه خبرې راوړي، مونږ ته ووايه تا ته څوک راځي؟ رسول الله ﷺ وويل: جبريل. هغوی وويل: هغه جبريل کوم چې عذاب او جنګونه له ځان سره راوړي، هغه خو زمونږ دښمنه ده، که چيرته تا ميکائيل ويلی وای نو دا به ښه وای، ځکه چې هغه رحمت، نباتات او باران له ځان سره راوړي، په دې موقع الله تعالی دا آيت کريمه نازل کړ (قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ ٩٧ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ).

[2] - صحيح مسلم، الفتن واشراط الساعة، حديث: ٢٩٤١.

ژباړه: تر ټولو د مخه چې کومه نښانه ښکاره کیږي، هغه د لمر له مغرب څخه را پورته کیدل او د څاښت په وخت کې د خلکو لپاره د دابه را وتل دي، په دوی کې چې هره یوه اول ظاهره شي نو هغه بله هم دیته نږدې ظاهریږي.

د قیامت د نښانو په سلسله کې چې کوم ترتیب مخکې تیر شو د هغه له دې حدیث سره موافقت څنګه دی؟

له دې حدیث څخه مراد د قیام قیامت نښانې دي او د دې تایید د بخاري د یوه روایت په دې الفاظو سره هم کیږي (ما اول امر الساعة) یعنې قیام قیامت څنګه دی؟

تنبیه

دا اور کوم به چې خلک د محشر لوري ته را پورته کړي له هغه اور څخه جلا دی د کوم په باره کې چې ویل شوي چې هغه به د حجاز په ځمکه ظاهر شي کوم به چې د بصره د اوښانو غاړې روښانه کړي، هغه اور په اومه هجري صدۍ کې ظاهر شوی او هغه د قیامت له وړو نښانو څخه دی.

اور به خلک څنګه را پورته کړي

له حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی:

خلک به د میدان حشر لور ته په دریو طریقو سره راځي، یو شمیر به په خوف سره راځي، یو شمیر به په یوه اوښ دوه دوه، درې درې، څلور څلور یا لس لس راځي، پاتې خلک به اور پورته کړي. چیرته چې دوی قیلوله کوي اور به هم هلته له دوی سره دریږي او چیرته چې دوی شپه تیروي اور به هم هلته شپه تیروي، چیرته چې دوی صبا کوي اور به هم هلته صبا کوي او چیرته چې ماښام کوي اور به هم هلته ماښام کوي [1].

---

[1] - دا خ ... ه علامه نمبر (۱۳) تیره شوه.

مطلب دا دی چې د دې اور مقصد به د خلکو سوځل نه وي بلکه مقصد به يې محض په شام کې د ارض محشر لوري ته د هغوی بيول وي، کله چې خلک ستړي شي، د قيلولې يا خوب لپاره ودريږي نو اور به هم ور سره دريږي، ليکن کله چې له قيلولې څخه را بيدار شي نو اور به هغوی مخ پر وړاندې روانه وي تر دې چې هغوی شام ته ورسوي

له حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:

خلک به د قيامت په ورځ د دريو ډلو په شکل کې را پورته شي، يوې ډلې به پر اميد جامې اغوستې او په سپرليو به سپاره وي، دويمه ډله به داسې وي کومه به چې کله روانيږي او کله به دريږي او دريمه ډله به داسې وي د کومو مخته به چې فرښتې رواني وي، په هغوی کې به يو ويونکی ووايي هغه دوه ډلې خو مونږ معلومې کړې، ليکن دا ډله څوک دي کوم چې کله ځي او کله دريږي؟ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله تعالی به په سپرليو داسې آفت را نازل کړي چې هيڅ سپرلی به باقي پاته نشي تر دې که يوه سړي ته د کوم به چې يو ښايسته باغ وي، يو د کجاوې واله په عمر رسيدلې اوښ ورکړی شي نو هغه به په هغه سپور نشي [1].

[1] - مسند احمد: ۵/ ۱۲۴. وسنن النسائي: ۲۰۸۸. وهو حديث صحيح

خاتمه

زه د الله تعالی حمد او ثناء بیانه وم چې زه یې د دې کتاب د تکمیل لپاره په اسانتیا او اعانت سره سرفراز کړم، زه د الله تعالی په حضور کې لاس په دعا یم چې هغه دا کتاب نافع وګرځوي او د دې کتاب په باره کې زما نیت یواځې د خپل ذات لپاره خالص کړي.

زما کوشش دی چې زه د قیامت نښانې په نوي اسلوب کې وړاندې کړم تر څو ګران قدرمند لوستونکي ترینه ګټه واخلي، امید ده چې زما تمنا پوره شوې وي.

د دې کتاب د لوستونکو لپاره دا ډېره ښکلې خبره ده چې د دې کتاب له مطالعه کولو وروسته خپلې رایې یا ملاحظات یا خپله نقطه نظر ولیکي او ما ته یې د اې میل په ادرس یا د SMS په ذریعه را ولیږي، زه به د هغوی ډیر ممنون او په غائبانه ډول لاس په دعا یم.

زه له الله تعالی ﷻ څخه غواړم چې مونږ ټولو ته توفیق راکړي - آمین!

دکتور محمد بن عبد الرحمن العریفي
استاذ عقیده ومعاصر ادیان ومذاهب شاه سعود یونیورستي، ریاض
رکن سپریم کمیټی برای سلامي ذرائع ابلاغ